# مفتاح الخطابة

ملا عبدالحکیم مستغفر صاحب حفظہ اللہ
2023-6-3

بیانات

## مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ علامہ ٹاؤن چمن



بسم اللہ الرحمن الرحیم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ (الآیہ)

# مِفْتَاحُ الْخِطَابَۃ

## (بیانات)

مولوی **اطیع اللہ** صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

جلد: (۲)


حنفی شافعی

بسم اللہ الرحمن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب وغیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

حنبلی مالکی

## د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:

- د کتاب نوم:........................مفتاحُ الخطابة
- بیانات:.......................مولانا اطیع اللہ صاحب
- کره کتنه:...........مولوی مفتی عبدالمنان، مولوی محمد طاہر، مولوی عبداللہ
- کمپوز:.......................شبیر احمد (متعلم)
- تعداد:...............................۱۱۰۰
- ضخامت:...........................۴۱۸
- سنه طباعت:..........................جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ
- ناشر:.......................مکتبه سلطانیه الهاشمیه

---

### د ملاوېدو ځایونه:

۱. مکتبه اشرفیه:.....................اباسین روډ چمن
۲. اسلامي کتب خانه:..............تاج میر خان روډ چمن
۳. مکتبه ایوبیه:........................سپین بولدک
۴. مکتبه عمریه:..................ارګ بازار قندهار
۵. مکتبه غفاریه:..................ارګ بازار قندهار
۶. جامع مسجد حاجي عبدالودود:.....................چمن

## د عنواناتو اجمالي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | د بسم الله ویلو فضیلت: | ۱۹ |
| ۲. | د صبر بیان، (اوله حصه): | ۴۱ |
| ۳. | د صبر بیان، (دوهمه حصه): | ۶۱ |
| ۴. | د رجب د میاشتي فضیلت: | ۸۱ |
| ۵. | د پیغمبر ﷺ بعثت، (اوله حصه): | ۹۹ |
| ۶. | د پیغمبر ﷺ بعثت، (دوهمه حصه): | ۱۲۱ |
| ۷. | د ایمان عظمت، (اوله حصه): | ۱۳۹ |
| ۸. | د ایمان عظمت، (دوهمه حصه): | ۱۵۷ |
| ۹. | د روژې فضیلت، (اوله حصه): | ۱۷۷ |
| ۱۰. | د روژې فضیلت، (دویمه حصه): | ۱۹۷ |
| ۱۱. | د روژې فضیلت، (دریمه حصه): | ۲۱۹ |
| ۱۲. | د روژې فضیلت، (څلورمه حصه): | ۲۴۳ |
| ۱۳. | د مرگ یاد، (اوله حصه): | ۲۶۳ |
| ۱۴. | د مرگ یاد، (دوهمه حصه): | ۲۸۳ |
| ۱۵. | دنیا دار العمل دی، (اوله حصه): | ۳۰۱ |
| ۱۶. | دنیا دار العمل دی، (دوهمه حصه): | ۳۱۹ |
| ۱۷. | د مسنونو دعاگانو اهمیت، (اوله حصه): | ۳۳۹ |
| ۱۸. | د مسنونو دعاگانو اهمیت (دوهمه حصه): | ۳۵۹ |
| ۱۹. | قیامت او میدان محشر، (اوله حصه): | ۳۷۹ |
| ۲۰. | قیامت او میدان محشر، (دوهمه حصه): | ۳۹۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه: .................................... | ۱۷ |
| | ﴿د بسم الله ويلو فضيلت﴾ | |
| ۲. | تمهيد: .................................... | ۲۱ |
| ۳. | په اوداسه کي نيت کول: ........................ | ۲۲ |
| ۴. | د اوداسه څخه مخکي "بسم الله" ويل: ............ | ۲۲ |
| ۵. | اودس د گناهونو د صفائي ذريعه هم ده: ........... | ۲۳ |
| ۶. | گناه يو قسم نجاست دی: ......................... | ۲۴ |
| ۷. | د گناه بدبوئي: ................................ | ۲۴ |
| ۸. | نيک اعمال خوشبوئي ده: ........................ | ۲۵ |
| ۹. | د خواجه مشکي رحمة الله عليه واقعه: ............. | ۲۷ |
| ۱۰. | د هر نيک کار څخه مخکي بسم الله ويل: .......... | ۳۰ |
| ۱۱. | د "بسم الله" متعلق يو څو حکايات: ................ | ۳۳ |
| ۱۲. | د "بسم الله" فضيلت، او يو واقعه: ................ | ۳۳ |
| ۱۳. | د خالد بن وليد مضبوطه عقيده: ................... | ۳۴ |
| ۱۴. | په "بسم الله" کي د الله تعالى نومونه: ............ | ۳۵ |
| ۱۵. | د حضرت بشر حافي رح واقعه، او د "بسم الله" برکت: ...... | ۳۶ |
| ۱۶. | د الله تعالى لطرفه د بشر حافي قدرداني: .......... | ۳۸ |
| ۱۷. | د احمد بن جنبل رح په زړه کي د بشر حافي رح قدر: ........ | ۳۸ |
| | ﴿د صبر بيان، اوله حصه﴾ | |
| ۱۸. | تمهيد: .................................... | ۴۳ |
| ۱۹. | بلا حسابه جنت ته داخلېدل: ..................... | ۴۴ |
| ۲۰. | د الله تعالى لطرفه معذرت: ...................... | ۴۵ |
| ۲۱. | د صبر معنى: ................................ | ۴۵ |
| ۲۲. | صبر على الطاعة: ............................. | ۴۶ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳. | صبر عن المعصية: | ۴۶ |
| ۲۴. | صبر على المصيبة: | ۴۶ |
| ۲۵. | د صبر ثواب: | ۴۷ |
| ۲۶. | بې صبري د جهنم ذريعه ده: | ۴۸ |
| ۲۷. | د پيغمبر ﷺ عمل: | ۵۰ |
| ۲۸. | صبر د الله تعالى د معيت ذريعه ده: | ۵۲ |
| ۲۹. | د بخښني عجيبه بهانه: | ۵۳ |
| ۳۰. | د مصيبت زده انسانانو په ليدلو زړه ته صبر ور کول: | ۵۴ |
| ۳۱. | د يو زناني عجيبه صبر: | ۵۵ |
| ۳۲. | د بهادر شاه ظفر غم او مصيبت: | ۵۶ |
| ۳۳. | د صبر درې (۳) صفات: | ۵۷ |
| ۳۴. | د انبياء كرامو صبر: | ۵۸ |
| | **«د صبر بيان، دويمه حصه»** | |
| ۳۵. | تمهيد: | ۶۳ |
| ۳۶. | صبر څه ته وايي؟: | ۶۴ |
| ۳۷. | د صبر درجات: | ۶۵ |
| ۳۸. | د تائبينو صبر: | ۶۵ |
| ۳۹. | د زاهدينو صبر: | ۶۶ |
| ۴۰. | د حضرت زكريا عليه السلام واقعه: | ۶۶ |
| ۴۱. | زموږ د اكابرو وينا: | ۶۷ |
| ۴۲. | د صديقينو صبر: | ۶۸ |
| ۴۳. | د صحابه كرامو حالت: | ۷۰ |
| ۴۴. | د عيش او عشرت د الله تعالى څخه غوښتنه: | ۷۰ |
| ۴۵. | تكليف د الله تعالى د محبت علامه ده: | ۷۱ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۷۲ | د نيکو انسانانو په پرېشاني او خوشحالي کي کيفيت: ......... | ۴٦. |
| ۷۳ | د صحابه کرامو مزاج: ........................ | ۴۷. |
| ۷۳ | د گناهونو کفاره: ........................ | ۴۸. |
| ۷۴ | د يو صحابيه زناني رضي الله عنها سبق اموزه واقعه: ......... | ۴۹. |
| ۷۸ | د فکر وړ خبره: ........................ | ۵۰. |
| ۷۹ | د حضرت ابوبکر رضي الله عنه فرمان: ........................ | ۵۱. |
| ۷۹ | د حضرت عمر رضي الله عنه فرمان: ........................ | ۵۲. |
| ۷۹ | د حضرت عثمان رضي الله عنه فرمان: ........................ | ۵۳. |
| | ﴿د رجب د مياشتي فضيلت﴾ | |
| ۸۳ | تمهيد: ........................ | ۵۴. |
| ۸۴ | د رجب، شعبان، او رمضان د مياشتو فضائل: ........ | ۵۵. |
| ۸۹ | د ابرهيم بن ادهم رحمة الله عليه د گناهگار سره مکالمه: ........ | ۵٦. |
| ۹۲ | د يو مسئلې حل، او عجيبه وينا: ........................ | ۵۷. |
| ۹۳ | د عبرته ډکه واقعه: ........................ | ۵۸. |
| ۹۷ | د خبرو خلاصه: ........................ | ۵۹. |
| | ﴿د پيغمبر صلى الله عليه وسلم بعثت، اوله حصه﴾ | |
| ۱۰۱ | تمهيد: ........................ | ٦۰. |
| ۱۰۲ | دوه(۲) بې مثاله نعمتونه: ........................ | ٦۱. |
| ۱۰۴ | د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په راتګ سره د شيطانانو او جناتو حالت: ....... | ٦۲. |
| ۱۰۵ | د جناتو په اسلام مشرف کېدل: ........................ | ٦۳. |
| ۱۰۷ | سهار د برکت وخت وي: ........................ | ٦۴. |
| ۱۰۸ | د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دوې(۲) روحاني معجزې: ........................ | ٦۵. |
| ۱۱۰ | د نجاشي بادشاه د اسلام راوړلو واقعه: ........................ | ٦٦. |
| ۱۱۱ | د قرآن کريم تأثير: ........................ | ٦۷. |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۸. | مقصد ته اعاده :............ | ۱۱۲ |
| ۶۹. | د جهالت په دور کي د عربو حالت:............ | ۱۱۶ |
| ۷۰. | د جهالت انتهاء:............ | ۱۱۶ |
| ۷۱. | د پیغمبر ﷺ د صحبت اثر :............ | ۱۱۷ |
| ۷۲. | د حضرت ابو ریحانه رضي الله عنه واقعه:............ | ۱۱۸ |
| | ﴿د پیغمبر ﷺ بعثت ، دویمه حصه﴾ | |
| ۷۳. | تمهید :............ | ۱۲۳ |
| ۷۴. | عجیبه مقدمه:............ | ۱۲۴ |
| ۷۵. | په هر کار کي د امت لپاره رحمت:............ | ۱۲۵ |
| ۷۶. | د پیغمبر ﷺ خوب هم رحمت وو :............ | ۱۲۶ |
| ۷۷. | د پیغمبر ﷺ بعثت:............ | ۱۲۷ |
| ۷۸. | د عربو د جاهلیت داستان:............ | ۱۲۸ |
| ۷۹. | د پیغمبر ﷺ دعلم او عمل محافظین:............ | ۱۳۳ |
| ۸۰. | د نبي او امتي په مابین کي حیرانونکی مماثلت:............ | ۱۳۳ |
| ۸۱. | د پیغمبر ﷺ د خبري لحاظ:............ | ۱۳۴ |
| ۸۲. | د حضرت بلال حبشي رضي الله عنه د الله تعالی په دربار کي قدر:............ | ۱۳۵ |
| ۸۳. | د حضرت خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها واقعه:............ | ۱۳۶ |
| | ﴿د ایمان عظمت، اوله حصه﴾ | |
| ۸۴. | تمهید:............ | ۱۴۱ |
| ۸۵. | د تقوی معنی:............ | ۱۴۲ |
| ۸۶. | اقرار لساني او تصدیق قلبي:............ | ۱۴۲ |
| ۸۷. | دایمان ښکاره والی:............ | ۱۴۳ |
| ۸۸. | د صحابه وو د خاموش تبلیغ ثمره:............ | ۱۴۳ |
| ۸۹. | د فکر وړ خبره:............ | ۱۴۴ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۹۰ | د ايمان مقام:........................ | ۱۴۵ |
| .۹۱ | د ايمان څخه محرومه کونکي ګناهونه:........ | ۱۴۶ |
| .۹۲ | د حضرت سعدي رحمة الله عليه واقعه:........ | ۱۴۸ |
| .۹۳ | دايمان او د مشاهدې فرق:........ | ۱۴۸ |
| .۹۴ | يو عجيبه حکايت:........ | ۱۴۹ |
| .۹۵ | د ټولو څخه زيات عجيبه ايمان:........ | ۱۵۲ |
| .۹۶ | د استقامت اهميت:........ | ۱۵۵ |
| | ﴿د ايمان عظمت، دويمه حصه﴾ | |
| .۹۷ | تمهيد:........ | ۱۵۹ |
| .۹۸ | د ژوند تېرولو دوې(۲) طريقې:........ | ۱۶۰ |
| .۹۹ | اول مثال:........ | ۱۶۰ |
| .۱۰۰ | دوهم مثال:........ | ۱۶۱ |
| .۱۰۱ | دريم مثال:........ | ۱۶۲ |
| .۱۰۲ | د الله تعالى پر حکمونو استقامت کول:........ | ۱۶۳ |
| .۱۰۳ | انسان او امتحان:........ | ۱۶۴ |
| .۱۰۴ | د دنيا د زندګۍ ترتيب:........ | ۱۶۵ |
| .۱۰۵ | د يو بوډا واقعه:........ | ۱۶۵ |
| .۱۰۶ | د ازمائش راتللو مطلب:........ | ۱۶۶ |
| .۱۰۷ | د حضرت موسىٰ عليه السلام د مور د صبر واقعه:........ | ۱۶۷ |
| .۱۰۸ | دوچنده انعام:........ | ۱۷۲ |
| .۱۰۹ | د ايمان حفاظت:........ | ۱۷۳ |
| .۱۱۰ | د استقامت عجيبه واقعه:........ | ۱۷۳ |
| | ﴿د روژې فضيلت، اوله حصه﴾ | |
| .۱۱۱ | تمهيد:........ | ۱۷۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۲. | د اسلام پنځه(۵) ارکان: ............ | ۱۸۰ |
| ۱۱۳. | روژه دعبادت مياشته ده: ............ | ۱۸۰ |
| ۱۱۴. | د روژې په مياشته کي د الله تعالی رحمت او برکت: ............ | ۱۸۱ |
| ۱۱۵. | د روژه نيونکي خوب او خاموشي عبادت دی: ............ | ۱۸۱ |
| ۱۱۶. | د سلطان محمود بن سبکتگين واقعه: ............ | ۱۸۳ |
| ۱۱۷. | د روژه نيونکي لپاره دسترخوان هوارېدل: ............ | ۱۸۴ |
| ۱۱۸. | د روژې متعلق د دې امت پنځه(۵) خصوصيات: ............ | ۱۸۵ |
| ۱۱۹. | د روژې قدر، او د مجوسي اسلام راوړل: ............ | ۱۸۷ |
| ۱۲۰. | د روژې مقصد تقوی ده: ............ | ۱۸۷ |
| ۱۲۱. | يوه مياشته بغير د ګناه تېرېدل: ............ | ۱۸۸ |
| ۱۲۲. | د غصې نه کولو عجيبه واقعه: ............ | ۱۹۱ |
| ۱۲۳. | د صبر پيمانه ډکېدل: ............ | ۱۹۳ |
| ۱۲۴. | د خپل وخت حليم انسان: ............ | ۱۹۴ |
| ۱۲۵. | د غصې قابو کولو طريقې: ............ | ۱۹۵ |
| | **﴿د روژې فضيلت، دويمه حصه﴾** | |
| ۱۲۶. | تمهيد: ............ | ۱۹۹ |
| ۱۲۷. | د صوم لغوي معنٰی: ............ | ۱۹۹ |
| ۱۲۸. | د صوم شرعي معنٰی: ............ | ۲۰۱ |
| ۱۲۹. | د ټوله کال زړه: ............ | ۲۰۲ |
| ۱۳۰. | د جهنم څخه د آزادۍ مياشته ده: ............ | ۲۰۲ |
| ۱۳۱. | دعبادت معنٰی: ............ | ۲۰۴ |
| ۱۳۲. | په روژه کي تقوی کول: ............ | ۲۰۴ |
| ۱۳۳. | تقوی کول تر هر څه مقدم وي: ............ | ۲۰۴ |
| ۱۳۴. | د نيکو اعمالو سيزن: ............ | ۲۰۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۵. | د مغفرت موسم: | ۲۰۶ |
| ۱۳۶. | د روژې د مياشتي عجيب فضيلت: | ۲۰۶ |
| ۱۳۷. | د حضرت عمر رضی الله عنه وينا: | ۲۰۷ |
| ۱۳۸. | د دې مياشتي عظمت چاته معلوميږي: | ۲۰۸ |
| ۱۳۹. | مږي د دوو (۲) شيانو تمڼی کوي: | ۲۰۸ |
| ۱۴۰. | د روژې دمياشتي متعلق د پيغمبر صلی الله علیه وسلم وينا: | ۲۰۹ |
| ۱۴۱. | د صبر قسمونه: | ۲۱۰ |
| ۱۴۲. | زموږ د اکابرو احتياط: | ۲۱۲ |
| ۱۴۳. | د ابراهيم بن ادهم رحمة الله علیه احتياط: | ۲۱۳ |
| ۱۴۴. | د ابراهيم علیه السلام د خليل جوړيدلو وجه: | ۲۱۶ |
| | ﴿د روژې فضيلت، دريمه حصه﴾ | |
| ۱۴۵. | تمهيد: | ۲۲۱ |
| ۱۴۶. | د روژې د مياشتي اهتمام: | ۲۲۲ |
| ۱۴۷. | د روژې مياشته او آسماني کتابونه: | ۲۲۳ |
| ۱۴۸. | د روژې فرضيت: | ۲۲۴ |
| ۱۴۹. | د روژې حکمتونه: | ۲۲۷ |
| ۱۵۰. | د ښه صحت اصول: | ۲۲۸ |
| ۱۵۱. | دوهم حکمت: | ۲۲۹ |
| ۱۵۲. | دريم حکمت: | ۲۳۰ |
| ۱۵۳. | د يو ګلاس اوبو حقيقت: | ۲۳۰ |
| ۱۵۴. | د روژې فضائل: | ۲۳۱ |
| ۱۵۵. | د جنتي حوري ښائست: | ۲۳۲ |
| ۱۵۶. | د جبرائيل علیه السلام په جنت کي سجده: | ۲۳۳ |
| ۱۵۷. | او د جنت کور: | ۲۳۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۸. | تراویح د زنانه او نارینه لپاره سنت دي: | ۲۳۵ |
| ۱۵۹. | په روژه کي بنیادي شرائط پر ځای کول: | ۲۳۷ |
| ۱۶۰. | د شرابي سزا: | ۲۴۱ |
| | ﴿د روژې فضیلت، څلورمه حصه﴾ | |
| ۱۶۱. | تمهید: | ۲۴۵ |
| ۱۶۲. | زموږ نیکبختي: | ۲۴۶ |
| ۱۶۳. | د روژې د میاشتي قدر او احترام: | ۲۴۷ |
| ۱۶۴. | د بزرګۍ معیار: | ۲۴۷ |
| ۱۶۵. | د پیغمبر ﷺ ترغیب: | ۲۴۸ |
| ۱۶۶. | په روژه کي د پیغمبر ﷺ معمول: | ۲۴۸ |
| ۱۶۷. | د الله تعالی په عشق کي ژړا کول: | ۲۴۹ |
| ۱۶۸. | د حضرت عمر رضی الله عنه واقعه: | ۲۵۳ |
| ۱۶۹. | د صدقې په برکت دعاګاني قبلیږي: | ۲۵۴ |
| ۱۷۰. | د استغفار په ذریعه دعا قبلېدل: | ۲۵۸ |
| ۱۷۱. | اعتکاف درې (۳) قسمه دی: | ۲۶۰ |
| ۱۷۲. | د اعتکاف فضائل: | ۲۶۱ |
| ۱۷۳. | د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د اعتکاف واقعه: | ۲۶۲ |
| | ﴿د مرګ یاد، اوله حصه﴾ | |
| ۱۷۴. | تمهید: | ۲۶۵ |
| ۱۷۵. | مرګ یقیني راتلونکی دی: | ۲۶۵ |
| ۱۷۶. | د مرګ وخت نه دی معلوم: | ۲۶۷ |
| ۱۷۷. | د حضرت مریم علیها السلام وفات: | ۲۶۹ |
| ۱۷۸. | د یو صحابی رضی الله عنه د زکندن حالت: | ۲۷۲ |
| ۱۷۹. | د زکندن د وخت تکلیف: | ۲۷۳ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۲۷۴ | د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها جنازه: | ۱۸۰. |
| ۲۷۵ | د حضرت عثمان رضي الله عنه واقعه: | ۱۸۱. |
| ۲۷۷ | د حضرت يوسف عليه السلام عجيبه واقعه: | ۱۸۲. |
| | ﴿د مرګ ياد، دويمه حصه﴾ | |
| ۲۸۵ | تمهيد: | ۱۸۳. |
| ۲۸۶ | د آخرت د ژوندګۍ مثال: | ۱۸۴. |
| ۲۸۷ | د قيامت وېره: | ۱۸۵. |
| ۲۸۸ | د نعمتونو واپسي: | ۱۸۶. |
| ۲۸۹ | د نعمتونو قدرداني: | ۱۸۷. |
| ۲۹۱ | يقيني خبره: | ۱۸۸. |
| ۲۹۲ | د مرګ ياد، او د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه واقعه: | ۱۸۹. |
| ۲۹۴ | د سکندر باچا عجيبه واقعه: | ۱۹۰. |
| ۲۹۶ | د حضرت دانيال عليه السلام واقعه: | ۱۹۱. |
| ۲۹۸ | د غافله انسان په پرېشانيو کي اضافه: | ۱۹۲. |
| ۲۹۸ | د ژوندګۍ قدر: | ۱۹۳. |
| ۲۹۹ | د پنځو (۵) شيانو قدر: | ۱۹۴. |
| | ﴿دنيا دار العمل دی، اوله حصه﴾ | |
| ۳۰۳ | تمهيد: | ۱۹۵. |
| ۳۰۴ | اول قدر مشترک: | ۱۹۶. |
| ۳۰۴ | د دنيا مکر: | ۱۹۷. |
| ۳۰۵ | دويم قدر مشترک: | ۱۹۸. |
| ۳۰۵ | علمي نکته: | ۱۹۹. |
| ۳۰۶ | دريم قدر مشترک: | ۲۰۰. |
| ۳۰۷ | د بحرين ښځه د مال راتلل: | ۲۰۱. |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۲. | د صحابه وو د زماني حالت: ........................ | ۳۰۸ |
| ۲۰۳. | د جنت دسمال د دې څخه ښه دی: ........................ | ۳۱۰ |
| ۲۰۴. | د شام والی حضرت عبیده بن جراح رضی الله عنه: ........................ | ۳۱۲ |
| ۲۰۵. | د شام د والي کور: ........................ | ۳۱۳ |
| ۲۰۶. | د حضرت داؤد طائي رحمة الله علیه زهد: ........................ | ۳۱۵ |
| ۲۰۷. | د حضرت داؤد طائي رحمة الله علیه بله واقعه: ........................ | ۳۱۶ |
| | ﴿دنیا دار العمل دی، دویمه حصه﴾ | |
| ۲۰۸. | تمهید: ........................ | ۳۲۱ |
| ۲۰۹. | اوله وجه: ........................ | ۳۲۲ |
| ۲۱۰. | دویمه وجه: ........................ | ۳۲۳ |
| ۲۱۱. | ددنیا مثال: ........................ | ۳۲۴ |
| ۲۱۲. | ددنیا نتیجه دوکه ده: ........................ | ۳۲۵ |
| ۲۱۳. | دنیا دخواهشاتو پوره کولو ځای نه دی: ........................ | ۳۳۰ |
| ۲۱۴. | د خواجه ابو الحسن خرقاني رحمة الله علیه استغناء: ........................ | ۳۳۱ |
| ۲۱۵. | د سومنات بت فتحه: ........................ | ۳۳۳ |
| ۲۱۶. | د خانقاه د خاورو ادب: ........................ | ۳۳۵ |
| ۲۱۷. | د حضرت سالم رحمة الله علیه استغناء: ........................ | ۳۳۵ |
| ۲۱۸. | د اعتدال طریقه: ........................ | ۳۶۳ |
| | ﴿د مسنونو دعاګانو اهمیت، اوله حصه﴾ | |
| ۲۱۹. | تمهید: ........................ | ۳۴۱ |
| ۲۲۰. | د زیات ذکر کولو حکم: ........................ | ۳۴۲ |
| ۲۲۱. | الله زموږ ذکر ته ضرورت نه لري: ........................ | ۳۴۳ |
| ۲۲۲. | دالله تعالی په ذکر کولو کې زموږ فائده ده: ........................ | ۳۴۴ |
| ۲۲۳. | ډیر ذکر به انسان ځنګه کوي؟: ........................ | ۳۴۵ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲۴. | دغه دُعاګاني د پیغمبر ﷺ معجزه وه: | ۳۴۵ |
| ۲۲۵. | حضرت آدم علیه السلام ته دُعا ور ښوول: | ۳۴۶ |
| ۲۲۶. | د هارون رشید بادشاه د زمانې یوه واقعه: | ۳۴۷ |
| ۲۲۷. | د یو بزرګ واقعه: | ۳۴۹ |
| ۲۲۸. | د مسنونو دُعاګانو حیثیت د یو فارم دی: | ۳۵۰ |
| ۲۲۹. | د بنده په غوښتنه الله تعالی ډېر خوشحاله کیږي: | ۳۵۱ |
| ۲۳۰. | د وربځو آوازونه، عجیبه واقعه: | ۳۵۱ |
| ۲۳۱. | د خوب څخه د راپورته کېدو دُعا: | ۳۵۵ |
| ۲۳۲. | د فرشتې او د شیطان مقابله: | ۳۵۶ |
| ۲۳۳. | د سهار دُعا: | ۳۵۷ |
| | **﴿د مسنونو دُعاګانو اهمیت، دویمه حصه﴾** | |
| ۲۳۴. | تمهید: | ۳۶۱ |
| ۲۳۵. | هر وخت غوښتنه کول: | ۳۶۲ |
| ۲۳۶. | د مسنونو دُعاګانو لپاره څه شرط او قید نسته: | ۳۶۳ |
| ۲۳۷. | د تابعینو د دور یو واقعه: | ۳۶۵ |
| ۲۳۸. | د الله تعالی سره د تعلق مطلب: | ۳۶۷ |
| ۲۳۹. | د حضرت مالک بن دینار رحمة الله علیه واقعه: | ۳۶۸ |
| ۲۴۰. | د اُمِّ سعد رضی الله عنها د الله تعالی سره تعلق: | ۳۶۹ |
| ۲۴۱. | د یو صحابي د الله تعالی سره تعلق: | ۳۷۱ |
| ۲۴۲. | مقصد ته اعاده: | ۳۷۳ |
| ۲۴۳. | د خپلو مخلوقاتو څخه د پناه غوښتلو حکمت: | ۳۷۴ |
| ۲۴۴. | د شیطانانو جسماني نقصان رسول: | ۳۷۴ |
| ۲۴۵. | روحاني نقصان رسول: | ۳۷۵ |
| ۲۴۶. | د دُعا دویمه فائده: | ۳۷۵ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۷. | چپه پښه د مخه کول: | ۳۷۵ |
| ۲۴۸. | د بیت الخلاء څخه د راوتلو د وخت دُعا: | ۳۷۶ |
| ۲۴۹. | د الله تعالی د نعمتونو قیمت: | ۳۷۶ |
| | ﴿قیامت او میدان محشر، اوله حصه﴾ | |
| ۲۵۰. | تمهید: | ۳۸۱ |
| ۲۵۱. | میزان عدل او سوال او جواب: | ۳۸۲ |
| ۲۵۲. | په میدان محشر کي د لمر گرمي: | ۳۸۳ |
| ۲۵۳. | د عرش تر سایه لاندي به څوک وي؟: | ۳۸۴ |
| ۲۵۴. | "اَلْاِمَامُ الْعَادِلُ"، حاکم عادل: | ۳۸۵ |
| ۲۵۵. | د حضرت عمر رضي الله عنه عدالت: | ۳۸۵ |
| ۲۵۶. | واقعه نمبر (۱): | ۳۸۵ |
| ۲۵۷. | واقعه نمبر (۲): | ۳۸۶ |
| ۲۵۸. | د اسلام (۲) عادل حاکم: عمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه: | ۳۸۷ |
| ۲۵۹. | واقعه نمبر (۱): | ۳۸۸ |
| ۲۶۰. | واقعه نمبر (۲): | ۳۸۸ |
| ۲۶۱. | واقعه نمبر (۳): | ۳۸۹ |
| ۲۶۲. | واقعه نمبر (۴): | ۳۹۰ |
| ۲۶۳. | عادل حاکم د شیطان دښمن وي: | ۳۹۰ |
| ۲۶۴. | ظالم حاکم د شیطان دوست وي: | ۳۹۱ |
| ۲۶۵. | د نیک او بد حاکم پېژندل: | ۳۹۲ |
| ۲۶۶. | (۲) "شَابٌ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ": | ۳۹۲ |
| ۲۶۷. | د یو مجاهد نوجوان واقعه: | ۳۹۳ |
| ۲۶۸. | د صالح انسان څلور علامې: | ۳۹۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۶۹. | (۳) "...ُقٌ فِي المَسَاجِدِ": ........ | ۳۹۵ |
| ۲۷۰. | په تیاره کي د مسجد پر تللو بشارت: ........ | ۳۹۷ |
| ۲۷۱. | خلاصه: ........ | ۳۹۸ |
| | ﴿قیامت او میدان محشر، دویمه حصه﴾ | |
| ۲۷۲. | تمهید: ........ | ۴۰۱ |
| ۲۷۳. | (۴) "وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ": ........ | ۴۰۲ |
| ۲۷۴. | چي د کم چا سره دي دوستي وي، هغه ته ويل: ........ | ۴۰۲ |
| ۲۷۵. | ښه دوست، او بد دوست: ........ | ۴۰۳ |
| ۲۷۶. | انسان د قيامت په ميدان کي د چا سره وي؟ ........ | ۴۰۴ |
| ۲۷۷. | د قيامت په ميدان کي د نور پر منبرونو: ........ | ۴۰۵ |
| ۲۷۸. | (۵) "رَجُلٌ طَلَبَتْهُ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَجَمَالٍ": ........ | ۴۰۶ |
| ۲۷۹. | د انبياؤ صفت: ........ | ۴۰۶ |
| ۲۸۰. | د کِفل واقعه: ........ | ۴۰۷ |
| ۲۸۱. | د يو نوجوان د بدن د خوشبوئي واقعه: ........ | ۵۰۸ |
| ۲۸۲. | د ګناه څخه د توبه کولو عجيبه طريقه: ........ | ۴۱۰ |
| ۲۸۳. | د کم عمره هلکانو سره اختلاط نه کول: ........ | ۴۱۱ |
| ۲۸۴. | (۶) "رَجُلٌ تَصَدَّقَ إِخْفَاءً": ........ | ۴۱۲ |
| ۲۸۵. | د مرګ څخه بعد صدقه جاريه: ........ | ۴۱۲ |
| ۲۸۶. | الله تعالى ته دري انسانان خوښ، او دري انسانان ناخوښه دي: | ۴۱۳ |
| ۲۸۷. | (۷) "رَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا": ........ | ۴۱۵ |
| ۲۸۸. | پر دريو (۳) سترګو جهنم حرام دی: ........ | ۴۱۶ |
| ۲۸۹. | الله ته محبوب دوه (۲) څاڅکي، او دوه (۲) اثره: ........ | ۴۱۷ |

# سریزه

اَلْحَمْدُللهِ وَ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰى.

امابعد: یو څه زمانه مخکي د بنده د تقریرونو یو مسوّده د زادالخطباء په نامه چي حجم ئې پنځه جلده ته رسېدلی وو، تر چاپ ووتله.

د هغه دزیات چاپېدلو په وجه بنده ته دا معلومه سوه: چي ان شاء الله د دغه څخه په معاشره کي یو څه کسان استفاده اخلي، او هم ضرورت ورته لري، نو د هغه په وجه بنده د خپلو تقریرونو را جمعه کولو و سلسلې ته دوام ور کړی، پدې نیت باندي: چي زه به لږ محنت وکړم، او ان شاء الله زما دغه محنت به د یو څه انسانانو لپاره د نفعي ذریعه وګرځي.

اوس فی الحاله! یوه بله مسوّده هم د بنده د راجمعه سوو تقریرونو په نامه ده: "مفتاح الخطابة" سزه و چاپ ته سپارل کیږي، او ډېر ژر به د شائقینو لاس ته ورسیږي، الله تعالی دي ئې د عامو مسلمانانو لپاره د نفعي او فائدې ذریعه وګرځوي.

د مفتاح الخطابة د مطالعې په وخت کي باید دا خبره د مطالعه کونکو په ذهن کي پرته وي: چي دا څه با قاعده تصنیف نه دی، بلکه د لیکل سوو تقریرو یوه خلاصه ده.

او د دې کتاب طریقه تحریري نه ده، بلکه تقریري او خطابي ده، که چیري یو مسلمان د دې څخه فائده واخلي، دا محض د الله تعالی کرم او مهرباني ده: چي پر دې باندي به زه بنده د الله تعالی شکر ادا کوم.

او که یو خبره په دې تقریرو کي غیر محتاطه او غیره مفیده وي، نو یقینا دا به زما د غلطۍ او کوتاهۍ په وجه وي، ځکه زه په دې خبره اقرار کوم: چي په ما کي ډیري کمزوریاني دي، شاید هغه کمزوریاني به په دې تقریرو کي هم راغلي وي.

لېکن بیا هم زه د احبابو علماء کرامو او طلباء عظامو څخه درد مندانه خواهش کوم چي یوه قاعده ده:

........مَا لَا يُدْرَكُ كُلُّهُ لَا يُتْرَكُ كُلُّهُ﴾.

کېدلای سي: چي په دې موادو کي ستاسو په کار يو شی درسي نو تاسو په خير او خوبي په دې کي نظر وکړی، او د کمزوريانو څخه يې خپل نظر را وګرځوی:

........وَالْعَفْوَ عِنْدَ كِرَامِ النَّاسِ مَأْمُوْلٌ﴾.

الله تعالی دي په خپل فضل او کرم سره دا يو څو مختصر تقريرونه خپله زما بنده او د ټولو ويونکو لپاره د اصلاح ذريعه وګرځوي، او هم دي ئې د آخرت د نجات ذريعه وګرځوي، او چي کومو کسانو د دې تقريرو په برابرولو کي هر قسم خدمت کړی دی، الله تعالی دي دوی ته د خپل خدمت بهترينه صله او بدله ور کړي.

﴿وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ﴾

وَ صَلَّى اللهُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ وَ صَحْبِهِ اَجْمَعِيْن

اطیع اللہ عفی عنہ

بن حاجی ملا عبدالعزیز (مرحوم)

خادم التدریس جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

جمادی الاولی ۱۴۴۴ ہجری بمطابق ۲۰۲۲

بسم اللہ الرحمن الرحیم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایہ)

# د بسم اللّٰہ ویلو فضیلت

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الھاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ ؁ ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿كُلُّ كَلَامٍ، أَوْ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَا يُفْتَحُ بِذِكْرِ اللهِ، فَهُوَ أَبْتَرُ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! د تېرو څو جمعو څخه د ادعيه مأثوره و ذكر روان دى، لكه څنګه چي مخكي هم ما ستاسو په حضور كي دا خبره عرض كړېوه: چي يو د اوداسه ظاهر دى، او بل د اوداسه باطن دى.

د اوداسه ظاهر صرف د اندامونو صفا كول دي، او د اوداسه باطن هغه يو قسم نورانيت او بركت دى، چي د انسان په زړه او روح كي پيدا كيږي، او مقصود هم د اوداسه څخه دا وي: چي انسان ظاهري و باطني صفائي او پاكي دواړي حاصلي كړي.

ځكه كچيري يو سړى مسلمان نوي،هغه د اوداسه ټوله اندامونه پرېمنځي، مخ او لاسونه او پښي صفا كړي، او هم د سر مسحه وكړي، نو اندامونه خو به ئې صفا سي، ليكن د اوداسه چي كم نور او روحاني بركات دي، هغه نسي پيدا كولاى.

(۱) سورة البقره: آيت نمبر ۲۲۲

(۲) مسند احمد : حديث نمبر ۸۷۱۱

نو د اوداسه څخه مقصد صرف ظاهري صفائي نوي، بلکه مسلمان به اودس د الله تعالی يو حکم بولي، او د هغه په ذريعه به پخپلو اندامو کي د ظاهري او باطني صفائی دواړو پيدا کولو کوشش کوي.

## په اوداسه کي نيت کول:

او د دغه دواړه قسمه پاکي پيدا کولو لپاره ضروري داده: چي انسان د اوداسه کولو څخه مخکي دا نيت وکړي: چي د دغه اوداسه په ذريعه د الله تعالی حکم پر ځای کوم، او د پيغمبر ﷺ د سنت طريقې متابعت کوم.

ځکه که يو سړی د اوداسه نيت نه وکړي، نو بعضي فقهاء خو بالکل د هغه اودس کول صحيح نه بولي، لکه: د امام شافعي رحمة الله عليه په مذهب کي د اوداسه لپاره نيت کول شرط او ضروري عمل دی.

زموږ فقهاء که څه هم د اوداسه لپاره نيت شرط نه بولي، کچيري يو څوک د نيت څخه بغير لاس او پښې او د اوداسه اندامونه پرېمنځي، نو اودس خو به ئې وسي، ليکن د اوداسه چي کوم انوار او باطني برکات دي د هغه څخه دی محروم او بې نصيبه کيږي، نو د ټولو څخه مخکي د نيت کول ضروري دي.

## د اوداسه څخه مخکي بسم الله ويل:

د دې سره دا هم ضروري ده: چي د نيت کولو څخه وروسته د اوداسه په ابتداء کي "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" وويل سي، پيغمبر ﷺ د دې تاکيد کړی دی.

په يو حديث پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: چي کم سړی په بسم الله سره اودس شروع کړي، نو د هغه د بدن ټوله اندامونه صفا کيږي، او که يو سړی د بسم الله ويلو بغير اودس وکړي، نو د هغه صرف د اوداسه اندامونه پاکيږي، چي په اداسه کي ده پرېمنځلي دي.[1]

د دې حديث څخه دا معلومه سوه: چي د اوداسه څخه مخکي چي بسم الله ويل سنت بلل سوي دي، هغه پدې وجه: چي د اوداسه څخه انسان پوره فائده واخلي.

[1] مشکوة شريف: صفحه نمبر ۳۷

تاسو دې ته ګورئ! چې يو سړی که د اوداسه څخه مخکې بسم الله ووايي، نو دا خو يو معمولي او آسانه عمل دي، ليکن د هغه برکات ډېر زيات دي، چې د هغه په وجه د انسان ظاهر او باطن دواړه صفا او نوراني ګرځي.
بعضي اوقات انسان د غفلت او يا بې پرواهۍ په وجه د دغه قسم برکاتو څخه محرومه او بې نصيبه وګرځي، نو د اوداسه شروع کولو څخه مخکې بايد انسان د بسم الله ويلو اهتمام وکړي.

## اودس د ګناهونو د صفائي ذريعه هم ده:

په يو حديث شريف کې راځي: چې کله يو سړی په بسم الله سره اودس شروع کړي، نو د بدن د اندامونو ګناهونه الله تعالى په اوداسه کې صفا کوي، مثلاً که يو څوک مخ مينځي، چې په مخ کې کم اندامونه دي او هغوی ګنهګاره وي، نو دغه ګناه ئې د اوداسه په اوبو کې صفا کيږي.
اوس ظاهراً چې کم شی موږ ته رامعلوميږي، هغه د مخ خيره او خاوره په اوداسه کې صفا کېدل دي، چې کم شی موږ ته نه رامعلوميږي، پېغمبر ﷺ هغه بيان کړی دی، چې زه وينم: چې تاسو کله پر مخ باندي اوبه تېروئ، نو د هغه سره د مخ ګناه ليري کيږي، او چيکله لاسونه او پښې مينځئ، يا پر سر باندي مسح کوئ، نو د دغه اندامونو ګناهونه هم د اوداسه په ذريعه باندي ختم کيږي، تر دې حده پوري: چې پېغمبر ﷺ فرمايلي دي: چيکله انسان د اوداسه څخه فارغه کيږي، نو هغه مکمل پاک او صاف وګرځي، او ټوله ګناهونه د ده د اندامونو څخه پاک سي.
لکه الله تعالى د قرآن کريم په يو آيت کې فرمايي:
............إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾.(۱)
بې شکه نيک اعمال د انسان ګناه صفا کوي، مثلاً د يو چا څخه ګناه وسوه، د هغه څخه وروسته هغه سړي اودس وکړی، نو هغه ګناه ئې معاف سوه، او بيا د مسجد و طرفته ولاړی، نو الله تعالى پر هر قدم باندي يوه ګناه ور معافوي.

(۱) سورة هود: آيت نمبر ۱۱۴

## ګناه یو قسم نجاست دی:

ګناه کول په باطني اعتبار سره د نجاست په مثل دی، چې د انسان په کم اندام سره هم ګناه وسي، نو هغه اندام باطني طور ناپاکه سي.

- سترګي که غلط نظر وکړي، نو هغه ناپاکه سي.
- ژبه که درواغ ووايي، هغه هم ناپاکه سي.
- غوږ که غیبت واوري، نو ناپاکه ګرځي.
- لاس که غلا وکړي، نو هم ناپاکه کیږي.
- پښې که دغلط عمل لپاره تګ وکړي، نو هغه هم ناپاکه سي.
- او په شرمګاه سره انسان زنا وکړي، نو هغه ناپاکه کیږي.

## د ګناه بدبوئي:

اوس چیکله ګناه په باطني اعتبار سره یو نجاست بلل کیږي، نو د نجاست لازمي خاصیت بد بوئي ده، نو چې د انسان کم اندامونه ګناه وکړي، هغه اندامونه په باطني طور بد بویه وي، د دې دلیل په حدیث شریف کي هم راغلی دی.

لکه په یو حدیث شریف کي راغلي دي: چې انسان کله دروا غ ووايي، نو د ده د خولې څخه بد بوئي راوزي، چنانچه فرشتې هغه بدبوئي محسوسه وي، او د هغه بنده څخه ډېري لیري ځي.

په یو بل حدیث کي لا دا هم راغلي دي: چې کله د انسان د وفات وخت راسي، نو عزرائیل علیه السلام د فرشتو سره د ده د روح قبض کولو لپاره ده ته راحاضر سي، نو بیا هغه فرشتې د ده اندامونه بوئیوي، چې په کمو اندامو سره ده ګناه کړې وي، نو د هغه اندامو څخه بدبوئي راپورته کیږي.

لکه تاسو به زموږ او ستاسو په کورو کي لیدلي وي: چې کله د مابنام سالن پاته سي، نو سهار ئې د کور زنانه بوی ګوري: چې ایا دا سالم دی، او که خراب سوی، کچیري د هغه سالن څخه بوی راپورته سي، نو دستي ئې دا خراب بولي، او پر انبار ئې غورځوي، او که چیري د هغه بدبوئي نوي، نو بیا ئې دا په ښه طریقه ګرموي، او پخپلو بچیانو باندي ئې خوري.

بعينه داغه رنګه: فرښتې د مرګ په وخت کي د انسان د اندامونو بوی ګوري، که چيري د هغه څخه د ګناهونو بد بوئي راپورته سوي، نو فرښتې د هغه بنده څخه نفرت کوي، او د ده سره ډېره د سختۍ معامله کوي، او کچيري هغه بنده نيک عمله وي، او د ده اندامونه د ګناه د بدبوئي څخه پاک وي، نو بيا د ده اکرام او عزت کوي، او د ده سره د آسانۍ معامله کوي.

او ډېرو انسانانو ته په دنيا کي هم الله تعالی د انسانانو د ګناه حالت بطور کرامت ور ښکاره کوي: لکه د امام ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ په باره کي راځي: چي هغه به کله د يو چا د اوداسه اوبه وليدلې، نو ده ته به دستي د هغه ګناهونو معلومات کيدی: چي دغه اودس کونکی په کومه ګناه باندي اخته دی؟

د حضرت عثمان غنی رضی اللہ عنہ حضور ته يو سړی راغلی، ده چي کله هغه ته وکتل: نو ئې وفرمايل: دې خلکو ته څه ور پېښه ده: چي زموږ مجلسو لره د شتر بې مهار غوندي راځي؟ او د هغوی د سترګو څخه د بدنظرۍ او د زنا څاڅکي تو يېږي.

او بيا دغه د ګناه بدبوئي صرف د دنيا په زندګي کي نه، او نه صرف د مرګ په وخت کي انسان ته محسوسيږي، بلکه په جهنم کي د لوېدلو څخه وروسته هم د دغه اندامو څخه بد بوئي راپورته کيږي.

لکه په يو حديث شريف کي راځي: چي زناکاره انسان چيکله په جهنم کي واچول سي، د هغه د شرمګاه څخه داسي بدبوئي را ولاړيږي: چي ټول جهنميان به د هغه څخه په پرېشاني کي مبتلا وي، او هغه به ډېر زيات د غصې په شکل دغه جهنمي ته ګوري، او ورته وايي به: چي ستا د بدن څخه دا څنګه بدبوئي راپورته کيږي؟ چي هغه په جهنم کي هم زموږ تکليف نور را زيات او اضافه کړی؟

## نيک اعمال خوشبوئي ده:

په نيکو اعمالو کي خوشبوئي وي، لکه څنګه چي د بد عمله انسانانو د اندامو څخه بد بوئي راپورته کيږي، دغه رنګه د نيک عمله انسانانو د اندامو څخه بيا خوشبوئي را ولاړيږي.

کچيري موږ په دنيا کي خپله زندګي په نيکو اعمالو کي تېره کړو، بيا خو به زموږ د جسم څخه هم باطني طور خوشبوئي راپورته کيږي.

الله تعالی په بعضو انسانانو کي خوشبوئي دومره زياته پيدا کړېده: چي هغه ظاهراً هم انسانانو ته محسوسېدله، د مثال په ډول:

پخپله د پېغمبر ﷺ د بدن څخه دومره خوشبوئي را پورته کېدله: چي ام سليم رضی الله عنها به بچيان ور استول، او هغوی به په شيشو کي د پېغمبر ﷺ خوله مبارکه را جمعه کوله. پېغمبر ﷺ يو ځل د امّ سُليم څخه پوښتنه وکړه: ته زما خوله څه په کوې؟ هغې په جواب کي ورته وويل: اې د الله تعالی رسوله! موږ دغه مبارکه خوله د خوشبوئي سره ګډوو، نو د هغه خوشبوئي ډېره زياتيږي، بيا چيکله په مدينه کي زنانه وديږي، د هغه د خوشبوئي لپاره دغه خوله مبارکه بطور خوشبو استعمالوي.

په "مدينه منوره" کي د يو صحابي لور ودېدله، د هغه سره دومره څه نه وو: چي د خپلي بچي د خوشبوئي بندوبست وکړي، نو پېغمبر ﷺ هغه ته د خپلي خولې يو څو څاڅکي ور کړل، نو هغه زناني د خوشبوئي په شکل پر خپل لباس ولګول، بلکه هغې يو څه څاڅکي پخپل کور کي کښېښوول، چي آخر دهغه کور څخه هم خوشبوئي را ولاړېدله، حتی: چي په "مدينه منوره" کي هغه کور په "دار الطيبين" باندي مشهوره سو.

په بعضو رواياتو کي راځي: چي پېغمبر ﷺ په کمه لار کي تېرېدی، نو هغه لار به تېوله خوشبويه سوه، او د مدينې خلګو ته به د پېغمبر ﷺ تېرېدل، د ده د خوشبوئي څخه ور معلومېدل.

د صديق اکبر رضي الله عنه زندګي الله تعالی د ګناهونو څخه محفوظه کړې وه، چي د هغه په وجه به د ده د جسم څخه هم خوشبوئي را ولاړېدله، چي حضرت عمر رضي الله عنه يو روايت رانقل کوي:

..........لقد كان رِيحُ أَبِي بَكْرٍ أَطْيَبُ مِنْ رِيحِ الْمِسكِ﴾.(۱)

د ابوبکر صديق د جسم څخه به داسي خوشبوئي راولاړېدله: چي د مشکو د خوشبوئي څخه به هم زياته وه.

(۱) تاريخ الخلفاء، باب الخليفة الاول: ابوبكر الصديق رضي الله عنه، صفحه نمبر ۴۹

امام عاصم رحمۃ اللہ علیہ به چیکله مسجد نبوي ته راغلی. هلته به ئې د قرآن کریم تلاوت کاوی، د ده د خولې څخه به داسي خوشبوئي را ولاړېدله: چي په ټوله مسجد نبوي کي به محسوسېدله.

یو ځل یې چا د ده څخه پوښتنه وکړه: حضرت! ته په خوله کي یو خوشبوئي ایږدې، او که څه وجه ده: چي ستا د خولې څخه دومره خوشبوئي را ولاړېږي، چي موږ هیڅکله بل ځای داسي خوشبوئي نده لیدلې؟

ده په جواب کي ورته وویل: چي زه په خوله کي هیڅ خوشبوئي نه ایږدم، بلکه خبره داسي ده: چي یو ځل ما د قرآن کریم تلاوت کاوی، او پر ما باندي خوب غلبه کړې وه: چي په هغه خوب کي ما ته پیغمبر ﷺ را حاضر سو، نو ئې راته وویل: چي اې عاصمه! ته په دومره محبت سره د قرآن کریم تلاوت کوې، چي زما زړه دا غواړي: چي تا پر خوله باندي مچ کړم، نو بیا زه پیغمبر ﷺ پر خوله باندي مچ کړم، نو د هغه وخت څخه زما د خولې څخه دغه خوشبوئي محسوسیږي.

شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا رحمۃ اللہ علیہ په فضائل درود کي یوه خبره لیکلېده: چي یو سړي به همېشه د شپې د بیدېدلو څخه مخکي پر پیغمبر ﷺ درود شریف وایي، یوه شپه په خوب کي د پیغمبر ﷺ زیارت ئې په نصیب سو، نو هغه ورته وویل: چي ته ماته خپله خوله رانژدې کړه، چي په کومه خوله باندي ته پر ما باندي درود وایي، نو زه به تا پر دغه مچ کړم.

ده خپل مخ و پیغمبر ﷺ ته ور نژدې کړی، او هغه مبارک دی، پر مخ باندي مچ کړی، چي کله دده سترګي را روښي سوې، نو ټوله کور ئې د خوشبوئي څخه ډک دی، او د کور څخه ئې خوشبوئي ولاړېږي، بیا تر ډېرو ورځو پوري د ده د مخ څخه هغه خوشبوئي را پورته کېدله، او عامو انسانانو به محسوسوله.

## د خواجه مشکي رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

په هندوستان کي یو بزرګ دی، چي اوس ئې هم قبر موجود دی، د دغه بزرګ نوم: خواجه مشکي رحمۃ اللہ علیہ دی، چي د ده د بدن څخه به د مشکو غوندي خوشبوئي راولاړېدله، نو ځکه خلګو دی په دغه نامه باندي مشهوره کړی وو.

عام خلک به ده ته ډېر حيران وو، او پوښتني به ئې ځني کولې: چي ته ښنګه خوشبوئي لګوې؟ چي هر وخت دي د لباس څخه بهترينه خوشبوئي را ولاړېږي، چيکله خلګو ډېر تنګ کړی، نو ده ورته وويل: چي زه خو خوشبوئي هيڅکله نه لګوم، نو بيا هغه خلک ډېر ورته حيران ول، چي ستا د جامو څخه دغه خوشبوئي ښنګه را پورته کيږي؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي زما د خوشبوئي يو پس منظر دی، او هغه يوه واقعه ده، چي زه به ئې تاسو ته بيان کړم.

هغه دا: چي يو ځل زما د ځوانۍ او د طالب العلمۍ زمانه وه، زه په يو لاره کي روان وم، چي دخپل سبق ويلو لپاره مدرسې ته تلم، نو هلته يو مکان وو، چي د هغه په دروازه کي يو بوډۍ زنانه ولاړه وه، هغې ماته وويل: چي دننه په کور کي يو بنده زيات بيمار دی، او ته نيک انسان ئې يو ځل زما سره ورسه، چي پر هغه باندي به يو دم وکړې، کيدای سي: الله تعالی به هغه ته ستا په برکت شفا ورکړي.

ما د هغه زناني پر خبره اعتماد وکړی، او کورته دننه ور سره ولاړم، چي ښنګه زه په دروازه ننوتلم، هغې ددننه خوا څخه هغه دروازې ته قلف ور واچاوی، چي دهغه څخه وروسته دهغه کور مالکه چي ځوانه زنانه وه، زما مخته راغله، او د هغې نيت زما په باره کي خراب وو، او راته وئې ويل: زه همېشه تا پر دغه لار وينم، چي روان ئې، او زما زړه ستا سره ډيره مينه او محبت لري، او هم مي زړه ستا سره غواړي، او نن مي د دغه بوډۍ زناني په ذريعه ته کور ته رادننه کړې، لهذا زه اوس ستا څخه هغه څه غواړم: چي يو زنانه ئې د نارينه څخه غواړي.

هغه زناني چيکله ماته د خپل غلط نيت اظهار وکړی، نو زه ډېر زيات پرېشانه سوم، او د دې د غوښتني د منلو څخه مي انکار وکړی، او د دباندي راوتلو مي زيات کوشش وکړی، ليکن: هلته ډېر غټ قلف لګېدلی وو، چي ما هيڅ نسو کولای.

زه په دې وخت کي خپل رب ته متوجه سوم، او په دغه الفاظو مي:

............اللَّهُمَّ خِرْ لِي وَاخْتَرْ لِي﴾.(¹) د الله تعالی څخه دنجات لپاره د يو طريقې استخاره وغوښته.

(¹) سنن ترمذي: حديث نمبر ۳۵۱۶

لکه دا الفاظ ويل: د پيغمبر ﷺ مختصره استخاره ده، چيکله يو څوک يو ځای په مشکل کي مبتلا سي، او پر هغه ځای باندي فيصله نسي کولای، او د تفصيلي استخارې کولو موقع هم نوي، نو بيا خو پيغمبر ﷺ د انسانانو لپاره دغه الفاظ د استخارې ويلي دي، چي دغه الفاظ دي ووايي، او خپل رب ته دي متوجه سي، چي الله تعالی کومه خبره په زړه کي ورواچوله، په هغه دي عمل وکړي.

نو هغه زناني ورته وويل: کچيري ته زما خبره نه منې، نو زه شور جوړوم، او پر تا بهتان لګوم، او په خلګو دي په ډبرو سنګسار کوم، اوس ته د دوو لارو څخه د يوې انتخاب وکړه، يا سنګسارېدل د ځان لپاره انتخاب کړه، يا زما سره ګناه کولو ته تيار سه.

دی وايي: چي د هغه دعا په برکت الله تعالی زما په ذهن کي دا خبره راواچوله: چي ما هغې ته وويل: چي زما د "بيت الخلا" تللو ته ضرورت دی، چي زه کله د هغه ځای څخه رافارغه سم، بيا به ستا سره خبره کوم.

هغه زناني په دماغ کي دا راغله: چي دی خو ګناه کولو ته تيار سو، نو ماته ئې د "بيت الخلا" دروازه را وښووله، زه چيکله "بيت الخلا" ته ورغلم، نو هلته ګندګي او نجاست پروت وو، هغه نجاست مي پخپلو لاسو پر خپل بدن او جامو باندي ولګاوی، چيکله زه دباندي راووتلم، نو زما د بدن څخه سخته بدبوئي ولاړېدله.

چيکله هغه زناني ماته وکتل، د دې په زړه کي زما څخه نفرت پيدا سو، نو هغه بوډۍ ته وايي: چي دا خو ليونی دی، زما د کور څخه ئې وباسه، په دغه ما خپل ايمان محفوظه کړی، او د هغه کور څخه راووتلم.

د هغه څخه وروسته زه پرېشانه سوم، چي زما دبدن او جامو څخه زياته بدبوئي ده، نو ژر د مدرسې غسل خانې ته راغلم، پر خپل بدن او جامو مي اوبه واچولې، او څه ناڅه مي پاک کړل.

چيکله مي هغه نودې کپړې واغوستلې او په صحيح طريقه مي بدن هم نکړی صفا، او په منډه درسګاه ته راغلم، چي زه راننوتم، نو ټولو شاګردانو ماته وکتل، او استاد سبق ودراوی، او ماته ئې ويل: چي نږدې راسه! نو زه نږدې ورغلم، هغه ماته ويل: د دې جسم څخه دي په کم شکل ښه خوشبوئي را ولاړېږي؟

زما ګمان داسو: چي زما دبدن څخه به بدبوئي ولاړيږي، او استاد زما سره مذاق کوي، نو ځکه خوشبوئي رايادوي، نو په تنهائي کي مي د هغه بدبوئي څخه د شرمندګی په خاطر هغه خپله ټوله واقعه استاد ته بيان کړه.
نو استاد راته وويل: چي تا د خپل ايمان د حفاظت لپاره پر ځان باندي نجاست او بدبوئي لګولې ده، نو الله تعالی بيا ډېر کريم ذات دی، چي هغه بدبوئي ئې په خوشبوئي دربدله کړېده.
نو دا يو اصول دي: چي دنيکو اعمالو په وجه د بدن څخه خوشبوئي راپورته کيږي، او د ګناه کولو په وجه د انسان بدن بدبويه ګرځي.

## د هر نيک کار څخه مخکي بسم الله ويل:

اسلام و موږ ته دا تعليم را کوي: چي تاسو به هر نيک کار د الله تعالی په نامه سره شروع کوئ، چي د انسان د زندګی توجه ټوله د الله تعالی و ذات ته ور واوړي، چي قدم پر قدم او لمحه به لمحه خپل حقيقي خالق ياد وساتي، او پر زړه او دماغ ئې هر وخت د هغه مبارک نوم نقش وي، نو ځکه پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:
......... ﴿كُلُّ كَلَامٍ، أَوْ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَا يُفْتَحُ بِذِكْرِ اللهِ، فَهُوَ أَبْتَرُ﴾.(۱)
هر مهم او نيک کار چي په بسم الله سره شروع نسي، هغه بې برکته وي، مثلاً د خورک کولو څخه مخکي بسم الله د خوب کولو څخه مخکي بسم الله، د جامو اغوستلو څخه مخکي بسم الله، او د خط ليکلو يا د سبق ويلو څخه مخکي بسم الله، غرض دا: چي مؤمن به دهر عمل څخه مخکي بسم الله وايي، نو پدې شکل به دی د ايمان کمال ته رسيږي.
ځکه د بسم الله ويونکي دا عقيده وي: چي د عالم په دغه کارخانه کي هر کار د الله تعالی د مبارک نامه سره تړلی دی، خورک هم د الله تعالی په نامه سره، تګ هم د الله تعالی په نامه سره، نو په هر عمل کي به دی د الله تعالی په نامه سره برکت او مدد حاصلوي.

---

(۱) مسند احمد: حديث نمبر ۸۷۱۱

پدې وجه پيغمبرﷺ حضرت ابو هريرهؓ ته فرمايل: چې کله ته اودس کوې. نو بسم الله وايه، چې تر څو پورې داوداسه څخه فارغه سوى نه ئې، تر هغه وخته پوري ستا محافظي فرشتې ستا نيکياني ليکي.

چيکله ته د خپلي زناني سره همبستري کوي، نو هم مخکي بسم الله وايه، نو تر غسل جنابت پوري به فرشتې ستا نيکياني ليکي، د دغه صحبت په نتيجه کي که چيري يو بچى پيدا سي، نو د هغه او د هغه د اولاد د ساه اخيستلو په مقدار ستا په عملنامه کي نيکياني ليکل کيږي.

اې ابو هريره! چيکله ته پر سوارلي باندي سپرېږې، نو "بِسْمِ اللهِ والحَمْدُلله" وايه، پر هر قدم به ستا لپاره يوه نيکي ليکل کيږي، او چي ته کله په کښتۍ کي سپرېږې، نو "بِسْمِ اللهِ والحَمْدُ لله" وايه، چي تر څو پوري د کښتۍ څخه دباندي نه ئې راوتلى، نو به هم ستا په عملنامه کي مسلسل نيکياني ليکل کيږي.(۱)

په يو روايت کي حضرت انسؓ فرمايي: چي پيغمبرﷺ به فرمايل: چي کله انسان لباس د ځان څخه ليري کړي، نو د ده د شرمگاه او د شيطان د نظر په مابين کي صرف يوه پرده وي، هغه ده: چي انسان "بِسْمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْمِ" ووايي.(۲)

او حضرت عائشه مبارک يو روايت رانقل کوي: چي پيغمبرﷺ به فرمايل: چي په تاسو کي يو څوک خورک کوي، نو اول دي بسم الله وايي، که ئې په اول کي هېره سوه، نو بيا دي په آخر کي صرف دا رنگه وايي: "بِسْمِ اللهِ اوَّلَه و آخِرَه".(۳)

يعني د خورک کولو څخه مخکي که د يو چا څخه هېره سوه، نو د خورک په مابين کي يا د خورک کولو په آخر کي حتى: که يو څوک د لوښي د څښلو په وخت کي بسم الله ووايي، نو هم ئې هغه برکت په نصيب کيږي.

حضرت عائشې مبارکې په يو روايت کي رانقل کړي دي: چي يو ځل پيغمبرﷺ د خپلو شپږو ملگرو سره خورک کوى، په دغه دوران کي يو اعرابي سړى راغلى، او په

(۱) تفسير کبير بحواله: علمي تقريرونه: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۳۸
(۲) تفسير کبير: جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۲۴۲
(۳) جامع الاصول: جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۳۴۲

دوو ګولو کي ئې هغه خوړکه ټوله څني پورته کړه، پیغمبر ﷺ وفرمایل: کچیري دغه سړي بسم الله ویلې وای، بیا خو دغه خوړکې ستاسو د ټولو لپاره کفایت کاوی.

دغه رنګه په یو بل روایت کي راځي: چي صحابه وو د پیغمبر ﷺ څخه غوښتنه وکړه: چي اې دالله تعالی رسوله! موږ همېشه خوړک کوو، خو نه په مړېږو، پیغمبر ﷺ پوښتنه څني وکړه: چي شاید تاسو به خوړک جلا جلا کوئ، هغه صحابي ورته وویل: چي هو، زموږ خوړک جلا جلا وي، نو پیغمبر ﷺ ورته وویل: تاسو خوړک پر یو ځای سره کوئ، او په ابتدا کي ئې بسم الله وایاست، الله تعالی په هغه خوړکه کي ستاسو لپاره برکت واچوي، او هم به په هغه خوړکه سره ستاسو د ټولو کفایت وسي.

حضرت امیه بن مخشی رضي الله عنه یو روایت رانقل کوي: چي یو ځل پیغمبر ﷺ ناست وو، او یو سړي خوړک کوی، لیکن په ابتدا کي ئې بسم الله نه وویله، تر دې حده: چي کله د خوړکې یوه ګوله پاته وه، نو هغه چي هغه ګوله پورته کوله، "بِسْمِ اللّٰهِ اوَّلُه و آخِرِه" ئې ووایي، پیغمبر ﷺ وخندل، او بیا ئې وویل: چي شیطان مسلسل د دغه سړي سره خوړک کاوی، لیکن چي ده کله په آخر کي بسم الله وویله، نو شیطان چي څه خوړلي وو، نو هغه ئې ټوله قی کړو.

په روایت کي حضرت جابر رضي الله عنه فرمایي: چي ما د پیغمبر ﷺ څخه اورېدلي دي: چي ده به فرمایل: چي په تاسو کي یو څوک کورته ننوزي، او بسم الله ووایي، او بیا چي خوړک کوي، هم بسم الله ووایي، نو شیطان خپلو ملګرو ته وایي: چي ستاسو لپاره نن پدې کور کي نده شپې تېرولو ځای سته، او نه د خوړک کولو بندوبست سته.

او کچیري هغه سړی وکورته د ننوتلو په وخت کي بسم الله ووایي، لیکن د خوړک کولو په وخت کي ئې هېره سي، نو شیطان وایي: چي خوړک خو پدې کور کي سته، لیکن د شپې تېرولو ځای نسته.

او که د کور ننوتلو په وخت کي بسم الله څني هېره سي، او هم د خوړک کولو په خت کي څني هېره سي، نو شیطان خپلو ملګرو ته وایي: چي راځي: نن زموږ او ستاسو لپاره پدې کور کي هم د خوړک او هم د شپې تېرولو موقع ده. (۱)

(۱) جامع الاصول: جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۳۴۲

## د بسم الله متعلق یو څو حکایات:

حضرت حذیفه ﷜ فرمایي: چیکله به موږ د پیغمبر ﷺ سره خورک کولو ته حاضر سو، چي تر څو به پیغمبر ﷺ شروع نوه کړې، تر هغه وخته پوري به موږ خورک نه کوی.

یو ځل موږ ټوله پر خورک کولو باندي حاضر وو، چي یو دم یو مینځه داسي بې اختیاره په منډه باندي را روانه ده، ګویا: یو څوک د شا د خوا ځخه دا راپوري وهي، هغې یو دم خورک ته لاس وراچوی، لیکن پیغمبر ﷺ د هغې لاس ونیوی.

د دې څخه وروسته بیا یو اعرابي سړی هم داغه رنګه په منډه باندي راځغاستی، لکه یو څوک چي ئې را پري وهي، هغه هم خپل لاس دوډۍ ته رسول غوښتل، پیغمبر ﷺ د هغه لاس هم ونیوی.

وروسته پیغمبر ﷺ وفرمایل: چي شیطان غوښتل چي د ځان لپاره په دغه شکل نفقه برابره کړي، چي یو څوک د بسم الله ویلو بغیر خورک شروع کړي، نو ده اول ځل دغه مینځه راځغلوله، نو ما د هغې لاس ونیوی، بیا شیطان دغه اعرابي سړی را ځغلاوی، چي د هغه لاس مي هم ونیوی، د الله تعالی په ذات دي مي قسم وي: چي د شیطان لاس د دوی دواړو لاسو سره ما پخپل لاس نیولی دی. (1)

## د بسم الله فضیلت، یو واقعه:

د روم قیصر امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق ﷜ ته یو خط ولیکی، چي زما پر سر باندي همېشه درد وي، ته ماته یو دوا را واستوه.

حضرت عمر ﷜ هغه ته یو خولۍ ور واستوله، چیکله هغه قیصرِروم پر سر کښېښووله، نو د ده د سر درد به ختم سو، لیکن چیکله به ئې هغه خولۍ د سر څخه لیري کړله، نو درد به بیا شروع سو.

(1) جامع الاصول: جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۳۴۲

د روم بادشاه دې خبره ته ډېر په تعجب کې وو، خو بالآخر ئې هغه خولۍ سره وسپوخوله، خو د هغې دمابين څخه د کاغذ يو ټکړه راووتله، چې پر هغه باندي "بسم الله الرّحمن الرحيم" ليکلی وو.(١)

## د خالد ابن وليد مضبوط عقيده:

د پېغمبرﷺ د وفات څخه وروسته يو ځل د صحابه وو يو لښکر پر يو قلعه باندي محاصره واچوله، چې کله محاصره ډېره اوږده سوه، او په قلعه کې محصور خلګ زيات تنګ راغلل، نو هغوی خپل يو مشر د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه سره د خبرو کولو لپاره د هغه خيمې ته راواستوی.

چيکله د حضرت خالد بن وليد د هغه سره ملاقات وسو، او خبري کاميابه سوې، نو هغه د قبيلې مشر چې واپس تلی، نو د هغه سره يو چيښنه ښکاره سوه، حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه پوښتنه ځني وکړه: چې دا چيښنه د څش ده؟ هغه ورته وويل: چې پدي کې زهر قاتل دي، او د دې لپاره مې را وړې ول: کچيري زما او ستا خبري کاميابۍ ته رسېدلي نوای.

نو ما بيا هيڅکله هغه قوم ته خپل رنګ ور ښکاره کولای نسو، نو دا مې فيصله کړې وه: چې زه به دغه زهر چيښم، او خپل ځان به پخپله باندي قتل کوم.

حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه هغه چيښنه ځني واخيستله، او ورته وئې ويل: چې پر دې زهرو باندي ستا څومره يقين دی: هغه ورته وايي: چې دا دومره تيز زهر دي: که صرف يو څا د دې بوی وکاتی، نو زما عقيده ده: چې پر هغه ځای باندي به مړ سي، او بيا به ژوند ونه کړي.

حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه سر ور خلاص کړی، او هغه سړي ته ئې وويل: چې ته اوس و ماته ګوره: نو هغه د زهرو چيښنه ئې پر سر پورته کړه، او:

.........بسم الله الّذي لَا يضر مَعَ اسْمه شَيْء فِي الأَرْض وَلَا فِي السَّمَاء وَهُوَ السَّمِيع الْعَلِيم﴾.(٢) ئې وويله، او هغه زهر ئې ټول وچيښل.

---

(١) تفسير کبير: جلد نمبر١، صفحه نمبر ١٧١

(٢) سمط النجوم العوالی فی انباء الاوائل: صفحه نمبر ٣٠۴

چیکله پر ده باندي د هغه زهرو اثر را نغلی، نو هغه د قبیلې مشر ډېر حیران ورته پاته سو، او د څه حیرانتیا څخه وروسته ئې کلمه وویله، او پر هغه ځای باندي مسلمان سو، چي د هغه په وجه الله تعالی هغه ټوله قبیله په اسلام باندي مشرفه کړله.

## په بسم الله کي د الله تعالی نمونه:

تاسو گورئ! په "بسم الله الرّحمٰن الرحیم" کي د الله تعالی درې نمونه راغلي دي، اول نوم: الله دی، دا د الله تعالی اسم ذاتي او اسم محضه او خاص نوم دی، د دې څخه علاوه چي د الله تعالی څومره نمونه دي، هغه ټوله اسماء صفتي دي، یعني: د الله تعالی د صفاتو څخه د یو صفت مظهر وي، لکه: خالق، مالک، او نور نومونه.
او لفظ د الله په قرآن کریم کي دوه زره درې سوه شپیته(۲۳۶۰) واره مکرر راغلی دی، او دا د اسم اعظم بنیاد دی، چي تر څو پوري دغه نوم په دنیا کي د یو چا پر ژبه باندي باقي پاته وي، نو قیامت نه راځي، او چي لکه د دنیا څخه دغه نوم پورته سي، او یو ځای هم د الله، الله ویلو والا پاته نوي، نو قیامت په قائم کیږي.
د دې څخه وروسته لفظ د رحمن دی، دا د الله تعالی اسم صفتي دی، د دې تعلق د دنیا د لوی لوی امورو سره دی، او داد الله تعالی د رحمت د صفت مظهر دی، چي ټولي دنیا او ټولو کائناتو ته شامل دی، او په حدیث شریف کي راځي:
چي د الله تعالی سل(۱۰۰) رحمتونه دي، په دنیا کي د هغوی څخه صرف د یو رحمت ظهور سوی دی، چي د هغه په برکت سره ټوله انسانان او جنات او حیوانان پخپل مابین کي د الفت او شفقت اظهار کوي، دا ټوله د هغه صفت اثر دی، او د هغه صفت په وجه باران او رزق الله تعالی عامو مخلوقاتو ته ور کوي، هم سمعه او بصر او تکلم او فهم ټولو انسانانو ته الله تعالی عام کړځولی دی، چي په هغه کي د مسلمان او کافر هیڅ امتیاز نسته، لکه یو شاعر وایي:

اے کریم! کہ از خزانہ غیب
گبر وترسا را وظیفہ خور داری

د هغه څخه وروسته رحيم لفظ دی، دا هم د الله تعالی اسم صفتي دی. ليکن د دې تعلق د آخرت د امورو سره دی، په دنيا کي انسانيت ته ايمان او تقوی او د آخرت اعمال آسانه کيدل دا د دغه صفت مظهر دی.

او بيا به ددې صفت ظهور په ميدان محشر کي وي، چيکله د ښه او بد د تميز عام اعلان وسي، نو بيا به د دغه صفت په برکت د الله تعالی پر نيکو بندګانو باندي د ده رحمت په کامله طريقه ښکاره سي، چي پر دوی باندي به د الله تعالی د نعمتونو يو قسم باران راځي.

پدې وجه باندي په بعضو رواياتو کي راغلي دي:

............يَارَحْمٰنَ الدُّنْيَا وَ يَا رَحِيْمَ الْآخِرَةِ﴾.

اې د دنيا رحمانه! او د آخرت رحيمه دا په اصل کي د دغه حقيقت ته اشاره ده.

دوستان را کجا کنی محروم
توکه با دشمنان نظر داری

حضرت علي ﷺ يو سړي ته ګوري، چي هغه "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" ليکي، نو ده ورته وويل: ته بسم الله خوشخطه ليکه، ځکه يو سړي بسم الله خوشخطه ليکلې وه، نو الله تعالی د ده د مغفرت ذريعه وګرځوله.

په يو روايت کي راځي: چي يو سړي بسم الله پر يو کاغذ باندي ليکلې وليدله، نو هغه ئې مچ کړله، او پر سترګو باندي ئې کښېښووله، نو د دې عمل په وجه الله تعالی ده ته بخښنه وکړه.(۱)

## د حضرت بشر حافي رح واقعه، او د بسم الله برکت:

زموږ په تېرو بزرګانو کي داسي ډېر پيښې سوي دي، چي د بسم الله د عزت کولو په برکت الله تعالی د ډېري کښتي درجې انسانان په ډېر لږ وخت کي د ډېرو لوړو درجو پيدا کولو مالکان ګرځولي دي.

(۱) تفسير قرطبي: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۹۱

د دې امت د عظیم محدث امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه چې د فقه حنبلي امام وو، په زمانه کې یو سړی وو، چې د هغه نوم بشر حافي وو. هغه به همېشه شراب چیښل او شپه او ورځ به د شرابو په نشه کې مست وو، او آزاده زندګي به ئې تېرو له.
یوه ورځ د شرابو د نشې په حالت کې پر یو لار باندې را روان دی، که ګوري: نو مخته یو کاغذ پروت دی، چې پر هغه باندې بسم الله شریفه لیکلې وه.
او هغه کاغذ د انسانانو تر پښو لاندې کېدی، او د هغه ډېره بې احترامي کېدله، نو ده هغه کاغذ را پورته کړی، او هم ئې صفا کړی، او پر هغه باندې ئې د خپل وسع مطابق خوشبوئي ولګوله، او په ډېر قدر او احترام سره ئې د دیوال په یو چاک کې یعني په یو خوندي ځای کې کېښېښووی.
چیکله کورته راغلی، ماښام بېده سو، نو په خوب کې د الله تعالی لطرفه یو هاتفي آواز ور باندې کوي: او ورته وایي:
......... یَا بِشْرُ , طَیَّبْتَ اِسْمِيْ لَأُطَیِّبَنَّ اِسْمَكَ فِي الدُّنْیَا وَالْآخِرَةِ﴾.
اې بشره! تا زما نوم خوشبویه کړی، او هم دې د هغه قدر او احترام وکړی، زه به ستا نوم په دنیا او آخرت کې ضرور خوشبویه کوم، نو د هغه ځخه وروسته بیا الله تعالی بشر حافي ته د توبې کښلو توفیق ور کړی، او په ډېر لنډ وخت کې ئې د ولایت کبری مقام ته ور ساوی.
د ده په حالاتو کې لیکلي دي: چې یوه ورځ پر یو لار باندې روان وو: نو خلګو به د ده په باره کې ویل: چې دا هغه سړی دی: چې ټوله شپه نه بیدیږي، یعني عبادت کوي، او په درې(۳) ورځې کې یو ځل روژه ماتوي، یعني: ځه خوري.
ده چیکله دا واورېدل، نو ئې وویل: چې زه خو داسي نه یم: چې ټوله شپه نه بیدېږم، بلکه ټوله شپه ویښ هیڅکله نه یم پاته سوی، او ما چې کله روژه نیولې ده، نو د هغه ورځې په شپه کې مې ضرور ماته کړېده، لیکن دا د الله تعالی فضل او کرم دی: چې د انسان په زړو کې ئې زما متعلق داسي فکرونه ور اچوي: چې هغه ما په زندګي کې کړي نوي.
د ده و مخته یو ځل د قرآن کریم دا آیت یو چا تلاوت کړی:

..........﴿أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا﴾.(۱)
ایا ما ستاسو لپاره دغه ځمکه فرش نده جوړه کړې، ده چیکله دا واورېدل، چي ځمکه زموږ لپاره زموږ د رب فرش دی، نو ئې دستي د پښو څخه چوټي ویستلې، او پر ځمکه به یبلي پښې ګرځېدی، او دا به ئې ویل: چي یا الله! زه هیڅ کله ستا پر فرش باندي د چوټو سره نه ګرځم، بیا ئې تر مرګه پوري ژوند دغسي تېر کړی، لیکن پدې سر خلاصول: دا مسئله نده: بس دا د هغه یو حال وو، چي پر ده باندي ئې غلبه کړېوه.(۲)

## د الله تعالی لطرفه د بشر حافي قدر داني:

چیکله بشرحافي رحمة الله علیه د ځان سره دا فیصله وکړله: چي د الله تعالی پر فرش به د چوټو سره نه ګرځم، د الله تعالی سره د هغه د دغه فیصلې دومره قدر وو: چي الله تعالی ځمکي ته دا حکم وکړی: چي پر کمه لار بشر حافي تېرېږي: کچیري په هغه کي نجاست پروت وي، نو بیا به ته هغه نجاست تېروې، چي زما د یو محبوب بنده پښې په هغه نجاست خرابي نسي.
بیا چي به کله پر کمه لار حضرت بشرحافي په لڅو پښو تېرېدی: که به چیري پر هغه ځمکه باندي نجاست یا نور مضر څه پراته ول، نو ځمکه به سره چاودله، او هغه نجاست به په ځمکه باندي دننه سو.

## د احمد بن حنبل رح په زړه کي د بشرحافي رح قدر:

امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه به د خپل مشهور کتاب "مسند امام احمد" روایات طالبانو ته پیشول، او د حدیثو د درس به ئې ډېر لوی مجلس روان وو، او په هغه کي به ده ته په زورنو شاګردان او محدثین ناست ول.

(۱) سورة النبأ: آیت نمبر ۶
(۲) الرسالة القشیریه: باب فی ذکر مشایخ هذه الطریقه و ما یدل: صفحه نمبر ۴۸،،، تجلیات جذب: حصه نمبر ۳، صفحه نمبر ۲۸

کله به داسي وسول: چي په هغه لار کي به بشرحافي رحمۃاللہعلیہ را روان وو، امام احمد بن حنبل رحمۃاللہعلیہ به چي کله وليدی، نو د حديثو د درس په مابين کي به د هغه د قدر او احترام پخاطر ولاړېدی، حالانکه حضرت بشرحافي رحمۃاللہعلیہ عالم نه وو.

يو ځل د ده شاګردانو د ده څخه پوښتنه وکړه: چي حضرت! ته خو دخپل وخت لوی محدث ئې، او الله تعالی د ېر زيات علم در نصيب کړی دی.
او دغه صاحب چي پدې لاره کي تيرېږي، دا خو عالم ندی، بيا ته ولي د هغه د قدر او احترام لپاره ولاړېږې؟ او د هغه دومره زيات قدر او احترام لرې؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي زما او د ده په مابين کي دا فرق دی: چي زه د کتاب عالم يم، او دغه حضرت چي پدې لاره کي تيرېږي، زما په الله تعالی قسم! دا د الله تعالی د ذات عالم دی.
يعني: زما سره صرف د کتاب علم دی، او د ده سره د خپل رب او الله تعالی علم دی، تاسو ته څه معلومه ده: چي د الله تعالی په دربار کي د ده څومره قدر او احترام دی، او هلته د ده کم مقام دی.

نو حضرت بشرحافي رحمۃاللہعلیہ ته چي الله تعالی کم مقام ور کړی وو، هغه هم ابتدا ئې د دې ځای څخه سوېوه: چي ده د الله تعالی د نامه چي هغه په "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" کي وو، قدر او احترام کړی وو.

نو الله تعالی دي زموږ او ستاسو په زړو کي د بسم الله او د الله تعالی د نامه قدر او احترام پيدا کړي.

او هم دي په ژوند کي دا عادت رانصيب کړي، چي د هر عمل ابتدا مي د الله تعالى په پاک نامه يعني: په "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيْمِ" سره وکړئي.
الله تعالى دي داڅو خبري قبولي او مقبولي وکړئوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د صبر بیان، اوله حصه

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسي روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْـــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿قِيلَ: أَيُّ الْمُؤْمِنِينَ أَكْيَسُ؟ قَالَ: أَكْثَرُهُمْ لِلْمَوْتِ ذِكْرًا، وَأَحْسَنُهُمْ لها اسْتِعْدَادًا﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرینو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي امتحاني زندګي ور کړېده، د انسان د دنیا زندګي د مختلفو امتحاناتو او مشکلاتو یو خزانه ده، کله به انسان ته د صحت په حواله مشکلات وي، کله به د مال او دولت په حواله مشکلات وي، کله به خپل مینځي اختلافات او نوري پرېشانۍ وي، خو د دغه ټولو مشکلاتو د حل یو ازنۍ لار الله تعالی د انسان لپاره په صبر کي ایښې ده.

ځکه د صبر کونکي انسان سره د الله تعالی د ملګرتیا او معیت وعده ده، لکه الله تعالی دغه وعده په قرآن کریم کي په مختلفو ځایو کي به تکرار سره راګرځه ښې ده، چي:

............إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾.(۳)

---

(۱) سورة الاعراف: آیت نمبر ۲۵

(۲) الزهد و الرقائق لابن المبارک: حدیث نمبر ۲۷۲

(۳) سورة البقره: آیت نمبر ۱۵۳

الله تعالی د صابرینو ملګری دی.
نو په دنیا کي چي پر انسانانو باندي مشکلات راځي، الله تعالی به د خپلي ملګرتیا پخاطر د انسان سره په هغه مشکلاتو کي د آسانۍ معامله کوي.
او چیکله زندګي په صبر کي تېره سي، نو د مرګ څخه وروسته هم الله تعالی د دغه صبر په خاطر انسان ته ډېر لوی اجر او ثواب ورکوي.

## بلا حسابه جنت ته داخلېدل:

په یو روایت کي راځي: چي د قیامت په میدان کي به د عدل ترازو قائم سوی لا نوي، چي یو فرښته به اعلان وکړي، چي صبر کونکي انسانان چیري دي؟ نو چي کوم چا په دنیا کي پر تکلیفونو باندي صبر کړی وي، نو هغه به ولاړ سي.
او هغه فرښته به دوی ټوله د جنت پر طرف روان کړي، چیکله د جنت دروازې ته ورسیږي، نو د جنت د خازن چي د هغې نوم: "رضوان" دی، څخه به د دروازې د خلاصولو مطالبه وکړي.
نو هغه فرښته به حیرانه سي، چي یا الله! تر اوسه پوري خو هغه میزان د عدل قائم سوی لا ندی، چي ستا دغه بندګان بیا و جنت ته د داخلېدلو تمنی لري.
نو د الله تعالی څخه به غوښتنه وکړي: چي یا الله! اوس زما لپاره څه حکم دی؟ چي زه څه وکړم؟ الله تعالی به ورته وایي: چي دا کوم خلګ دي؟ پر کوم عمل د جنت داخلېدل د حساب شروع کېدو څخه مخکي غواړي؟ هغه فرښته چي کله د دوی څخه پوښتنه وکړي، نو دوی به ورته وایي: چي موږ صابرین یو، الله تعالی زموږ سره په قرآن کریم کي د جنت وعده کړې ده.
فرښته به دا حال د الله تعالی و حضور ته پیش کړي، نو د الله تعالی لطرفه به حکم ورته وسي: چي ما د دې انسانانو سره پخپل کتاب کي پدې الفاظو چي:
..........﴿إنما يُوفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾.(١) چي زما هغه بندګان چي په دنیا کي ئې د صبر زندګي تېره کړېوي، زما معامله به د دوی سره بلا حسابه وي، نو د جنت

---

(١) ... ١٠

رضوان فرشته به و دوی ته دروازه ور خلاصه کړي، او دوی به د حساب او کتاب شروع کېدلو څخه مخکي بيا جنت ته ځان ورسوي.

## د الله تعالی لطرفه معذرت:

بعضي روايات داسي راځي: چي د قيامت په ورځ به الله تعالی يو بنده خپل ځان ته را طلب کړي، دا به هغه بنده وي: چي هغه ته په دنيا کي کم رزق ور کول سوی وي، او هغه پر دغه خپل کم رزق باندي د صبر او شکر په شکل ژوند تېر کړی وي، الله تعالی به د هغه بنده څخه دا رنګه معذرت غواړي: لکه يو دوست چي د بل دوست څخه معذرت غواړي.

او الله تعالی به ورته وايي: اې زما بنده! ما تاته په دنيا کي رزق کم در کړی وو، د هغه وجه دا نه وه: چي تا پر ما باندي قدر نه درلودی، او نه دا وجه وه: چي زما په خزانو کي کمی وو، ما صرف ستا لپاره: دغه نعمتونو تيار کړي وو، چي هغه ته تا پخپل عمل باندي ځان نسو رسولای، نو چيکله ما دغه حالات پر تا راوستل، نو ته مي د دغه نعمتو مستحق جوړ کړې.

په حديث شريف کي راځي: چي هلته دوی ته کوم نعمتونه ور کول کيږي، نو:

.............﴿يَوَدُّ أَهْلُ العَافِيَةِ يَوْمَ القِيَامَةِ حِينَ يُعْطَى أَهْلُ البَلَاءِ الثَّوَابَ لَوْ أَنَّ جُلُودَهُمْ كَانَتْ قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالمَقَارِيضِ﴾.(١)

چي کومو خلګو په دنيا کي مشقت او تکليف نوي ليدلی، او دغه نعمتونو ته ګوري، نو دوی به دا تمنی کوي: کاشکي! زموږ بدنونه په دنيا کي په غچيانو باندي پرې سوي وای، خو نن دغه نعمتونه زموږ په نصيب او قسمت کي ولای.

## د صبر معنی:

خو زموږ او ستاسو په ماحول کي د صبر معنی ډېره محدوده ده، بس هغه دا: چي پر انسان باندي کله يو مصيبت راسي، نو د ژړا او فرياد پر ځای خاموشه پاته کيدل، دې ته صبر وايي.

---

(١) سنن ترمذ.: حديث نمبر ٢٤٠٢

حالانکه د شریعت په اصطلاح کې د صبر مفهوم او معنی ډېره عامه او وسیع ده، د هغه د واضح کولو لپاره د صبر اقسام او درجات مقرر سوي دي.

۱. صبر علی الطاعة.
۲. صبر عن المعصية.
۳. صبر علی المصيبة.

## صبر علی الطاعة:

د صبر علی الطاعة معنی دا ده: چې د الله تعالی د احکامو په پر ځای کولو او د الله تعالی د فرمانبرداری کولو لپاره خپل نفس مجبوره کول، که څه هم هغه کار پر نفس باندي ډېر زیات مشقت راولي، مګر بیا هم انسان خپل نفس د هغه کار و کولو ته مجبوره کړي.

لکه یو صحابي میدان جنګ ته ور شوه کیږي، لیکن نفس ئې پر شا شا کیږي، دی دې خپل نفس ته وایي:

............اَقسَمْتُ يَا نَفس! لَتَنزِلَنَّه كَارِهَةً اَوْ لِتَطَاوِعَنَّه﴾.

زما دي په الله تعالی قسم وي: اې نفسه! چې ته به او س دغه میدان جنګ ته ورشوه کیږې، که دي خوښه وي، او که ناخوښه، ته به په دغه جنګ کې حصه اخلې.

## صبر عن المعصية:

ډېر خله داسي وي: چې د انسان نفس د یو ګناه غوښتنه او تمنی کوي، مګر انسان دغه نفس د دغه ګناه کولو څخه راګرځوي.

لکه یو ځای انسان د بدنظری پر ځای راسي، نو د انسان نفس پدې وخت کې د بد نظری کولو تمنی او تقاضا کوي، لیکن انسان دا خپل نفس را قابو کړي، او نظر مځکې ته کښته کړي، او تر هغه ځای ځان تېر کړي.

## صبر علی المصيبة:

چېکله پر انسان یو مصیبت یا پرېشاني راسي، نو دی پر هغه باندي هیڅ شکوه او شکایت و نه کړي، بلکه د الله تعالی په فیصله باندي راضي وي.

اول دوه قسمونه د صبر مختصراً پدې الفاظو هم انسان ښوک په پوه کولای سي، چي خپل نفس د الله تعالی د حکمونو پابنده کول، او خپل خواهشات د الله تعالی د حکم په مقابل کي شاته غورځول، بيا هغه که د يو ګناه څخه د بچاوېدولو لپاره وي، يا د يو نيک عمل د کولو لپاره وي، بس انسان دا اراده ولري: چي زما ارمانونه دي ټول ضائع سي، او زما خواهشات دي ټول تر پښو لاندي سي، خو زه به د الله تعالی د حکم خلاف هيڅ کله عمل نه کوم، الله تعالی دي پخپل فضل او کرم سره موږ ټولو ته "صبر عن المعصية"، او "صبر على الطاعة" رانصيب کړي.

د صبر دريم قسم: چي "صبر على المصيبة" دی، د هغه يو څه بيان بقدر ضرورت ستاسو و مخته پيشوم، الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

## د صبر ثواب:

کچيري پر انسان باندي يو مشکل يا پرېشاني راسي، او دی پر هغه باندي صبر وکړي، نو پر دې باندي هم د الله تعالی لطرفه څخه بې شماره د اجر او ثواب وعدې سوي دي.

پدې باره کي زه ستاسو و حضور ته د پيغمبرﷺ د يو حديث مبارک مفهوم پيشوم: چي دی مبارک فرمايي: چيکله يو بنده ناجوړه سي، نو الله تعالی د ده د حالت معلومولو لپاره دوې(۲) فرښتې مقرري کړي، چي هغه دا معلومه کړي: چي دغه بنده په دغه ناجوړي او مصيبت کي صبر کوي، او که د الله تعالی نافرماني کوي.

چي کله هغه بنده صبر وکړي، نو فرښتې الله تعالی ته دا پيغام رسوي، چي يا الله! ستا فلان بنده په حالت د ناجوړۍ او مصيبت کي ستا څخه د ثواب او د اجر طلبګاره وو، او هم ئې ستا څخه نيک او ښه اميدونه درلودل.

الله تعالی فرشتو ته وايي: زه تاسو ګواه جوړوم: او د دې بنده په باره کي دا وايم: چي زه به ده ته د دغه بيمارۍ څخه وروسته:

- داسي وينه ور کوم: چي د مخکني ويني څخه بهتره وي.
- او هم به داسي غوښه ور کوم، چي د مخکني غوښي څخه بهتره وي.

- او د دغه صبر په وجه به د ده ګناه معاف کوم.
- او که پدې بيماري کې د ده د مرګ فيصله وي، نو ده ته به د سيده د جنت لار ور ښکاره کوم.

او په يو بل حديث کې لا داسي هم راځي: چي د دغه بيمارۍ په وخت کي الله تعالى فرشتو ته حکم کوي: چي د دغه بيمار د خولې څخه چي کم ځګېروى را پورته کيږي، نو پر هر ځل ئې د سبحان الله ثواب ليکئ.
او کچيري د درد په وجه د ده د خولې څخه آه يا اُوه فرياد راوزي، نو د هغه په عوض کي ده ته د "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" ويلو اجر د ده په عملنامه کي ور ليکئ.
او چي کله هغه مريض ساه اخلي، نو د هري ساه اخيستلو په بدله کي د الله تعالى په لار کي د صدقه کولو اجر د ده په عملنامه کي وليکی.
چي کله هغه مريض پر بستره پروت وي، نو هغه ښتره د ده لپاره د تهجد د لمانځه مسئله جوړه سي، بيا د ده ورځ او شپه او سهار او ماښام د تهجدګزاره په عمل ور ليکل کيږي.
او کچيري هغه انسان د درد او تکليف په وجه پر يو او بل اړخ اوړي، نو تاسو ده ته د هغه مجاهدينو: چي هغه پر دښمن باندي د حملې کولو تياری نيسي ثواب ور وليکئ.

## بې صبري د جهنم ذريعه ده:

کچيري هغه ناجوړه انسان د الله تعالى پر تقدير باندي شکايت او ګيلې کوي، اُو غم او فرياد کوي، او چپه او راسته خبري کوي، نو الله تعالى فرمايي: کچيري زه د ده ناجوړي ليري کړم، نو پدې حالت کي به د اولو وينو څخه بدترينې ويني، او د اولنيو غوښو څخه به بدترينې غوښې ور کوم.
او د دغه بې صبرۍ سزا به هم ور کوم، او د داغه بې صبرۍ په حالت کي به که ده ته مرګ راغلی، نو بيا به ئې د جهنم پر لار برابروم، خو ما مخکي هم دا خبره ښکاره کړه: چي زموږ په معاشره کي د صبر په باره کي د خلګو په ذهنو کي عجيب او غريب قسم خبري راګرځي، بعضي خلګ صبر دې ته وايي: چي د تکليف اظهار به بالکل انسان نه

کوي، نه به ژړا کوي، او نه به اوښکي تويوي، او کچيري بې اختياره د ده څخه وژړل سي، نو دوی بيا دا د ده بې صبري بولي.

حالانکه الله تعالی پر بنده باندي هيڅکله داسي کار ضروري کړی ندی: چي د بنده په اختيار کي نوي، نو کچيري پر يو موقع باندي بلا اختياره د انسان تر سترګو اوښکي راسي، نو دې ته بې صبري نه ويل کيږي، ځکه بې صبري د الله تعالی پر تقدير او فيصله باندي د شکوې او شکايت کولو نوم دی.

مثلاً: که پر يو سړي باندي مصيبت راسي، او د ده تر خوله دا خبري را وزي: چي د دغه مصيبت لپاره يوازي زه پاته سوم، زما څخه علاوه الله تعالی ته بل څوک په نظر نه ورغلی، چي دغه مصيبت ئې پر ما باندي کنښېنووی، نو ګويا: دی دا اعتراض کوي: چي زما سره ولي دا سي وسول؟ چي د بل چا سره نه وسول؟ نو دا د بې صبرۍ بدترينه جمله ده، چي د ده د خولې څخه راوزي.

يا مثلاً د يو چا قريب وفات سو، نو دی دا وايي: چي دا مرګ ئې ډېر بې وخته دی، او بې وخته ده ته مرګ راغلی، لکه عام طور: زموږ او ستاسو په معاشره کي چي يو څوک د ځوانۍ په حالت کي وفات سي، نو د ډېرو خلګو پر ژبو باندي دغه جمله اوربدل کيږي.

حالانکه په حقيقت کي دا ډېره درنه جمله وي، د دې معنی خو دا ده: چي الله تعالی ته د خپل بنده د مرګ صحيح وخت معلوم نه دی، ګورئ! په دنيا کي هيڅ کار بې وخته نه کيږي، الله تعالی په هر څه باندي ډېر ښه پوهيږي، چي کوم کار بايد په کوم وخت کي وسي، او پدې کي څه حکمت او خوبي ده، نو الله تعالی د هغه مطابق فيصلې کوي.

خو په يوه اصولي خبره ځان پوه کول: چي د تکليف او غم په وخت کي د تکليف په اظهار کي هيڅ حرج نسته، خو پدې شرط چي د تکليف په اظهار کي به اعتراض نوي، مثلاً چي يو څوک د "ولي" لفظ استعمال کړي، چي زما سره ولي دا سي وسو، او د بل چا سره ولي داسي نه کيږي، نو دا د اعتراض معنٰی وي.

او کچيري داغه د تکليف اظهار انسان په پدې شکل باندي وکړي: چي اې الله! حکم او اراده خو به ستا چليږي، اې الله! ته هغه کوې: چي زما په حق کي فائده مند وي،

ليکن زه ډېر کمزوری بنده يم، د دغه مصيبت په وجه پر ما ډېر بوج دی، او سترګي مي اوښکي تويوي.
او دغه د سترګو د اوښکو تويېدل مي ستا پر فيصله د ناراضۍ په وجه باندي نه دي، بلکه: پر خپله بې وسي او کمزوري باندي اوښکي تويوم، نو بيا خو دا الفاظ د صبر الفاظ وي، او پدي کي هيڅ نقصان نوي، او دا عمل پېغمبر ﷺ پخپله هم کړی دی، او دې ته صبر ويل کيږي.

## د پېغمبر ﷺ عمل:

پېغمبر ﷺ ته الله تعالی د څلورو (۴) لوښو څخه وروسته يو ېچی د ابراهيم په نامه باندي ور کړی وو، د پېغمبر ﷺ به د هغه بچي سره ډېر مينه او محبت وو، په مدينه منوره کي پر يو ډېر لوړه او صفا علاقه باندي د هغه د ښه روزني په خاطر د ده او د مور لپاره د استوګني بندوبست برابر کړی وو.
پېغمبر ﷺ به هره ورځ د ماپښين د لمانځه څخه بعد د هغه بچي د ليدلو لپاره هلته ورتلی، او يو ساعت به ئې د هغه بچي په ناسته او په ليدلو باندي خپل زړه خوشحاله کوی.
يو ځل حال ورته راغلی: چي ابراهيم په ډېر سخت حالت کي دی، پېغمبر ﷺ د مسجد نبوي څخه هغه ځای لره په داسي تلوار او منډه ځان ورسوی: چي کوم صحابه کرام ور پسي دي، د هغوی د وړو څخه پڼوګان ولوېدل، خو دوی دومره موقع پيدا نه سوه کولای: چي خپل پڼوګان راواخلي.
پېغمبر ﷺ چي کله هلته ورغلی، نو د هغه بچي ساه په غوټو غوټو راځي، او يو ساعت بعد هغه بچي وفات سو، د هغه د وفات پخاطر پېغمبر ﷺ ډېر زيات د بې قرارۍ په حالت کي دی، حضرت عائشه مبارکه ور پسي راغله، چي کله ئې د پېغمبر ﷺ هغه بې قراري وليدله، نو دا مبارکه ورته وايي: اې د الله رسوله! هر نبي ته الله تعالی يو قبوله دعا ور کړېده: چي په هغه سره به دی خپل حاجت غواړي، او ټولو انبياؤ هغه دعا په دنيا کي غوښتې ده، ته هم هغه دعا وغواړه، چي الله تعالی دا بچی بيرته را ژوندی کړي.

دی په جواب کي ورته وايي: چي اې عائشې! هغه دُعا د قيامت په ميدان کي د خپل امت د گنهگارانو د شفاعت لپاره ما خوندي کړې ده.

چيکله هغه بچی قبر ته راوړل سو، نو د شريعت مسئله دا ده: چي هر قريب به خپل قريب په قبر کي ايږدي، او د دې څخه مخکي د پيغمبر ﷺ لوڼي مبارکي وفات سوي وې، هم پيغمبر ﷺ هغه په قبرو کي پخپل لاس ايښې وې.

چيکله پيغمبر ﷺ هغه بچی پر خپل لاسو راواخيستی، چي په قبر کي ئې کښېږدي، نو يو ځل ئې هغه بچي ته وکتل، او بيا ئې دغه تورو خاورو او قبر ته وکتل، نو صحابه کرامو ته ئې وويل: زه دغه بچی پخپل لاس په دغه تورو و خاورو کي نسم ايښوولای، تاسو ئې کي کښېږدئ.

نو هغه بچی ئې نورو صحابه کرامو ته ور کړی، او دی پخپله و شاته کښېناستی، چي کله هغوی هغه بچی په قبر کي کښېښوی، نو دی بيا راغلی، او د قبر پر غاړه ورته ودرېدی، او پدې حالت کي ئې تر سترگو مبارکو اوښکي تويېږي، او دا وايي:

........تَدْمَعُ الْعَيْنُ، وَيَحْزَنُ الْقَلْبُ، وَلَا نَقُولُ إِلَّا مَا يُرْضِي رَبَّنَا، وَإِنَّا بِكَ يَا إِبْرَاهِيمَ لَمَحْزُونُونَ﴾.(١)

سترگي مي اوښکي تويوي، او زړه مي غم کوي، او د الله تعالی د رضا څخه ما سوا نور څه نه وايو، خو اې ابراهيمه! نن موږ ستا د فراق او جدائي په وجه د ډېر زيات غم سره مخامخ يو.

نو پدې وخت کي هم د پيغمبر ﷺ تر سترگو اوښکي تويېدلې، ليکن په خوله باندي ئې د الله تعالی د ناراضگۍ خبره نه کوله.

نو زه دا وايم: چي د غم په حالت کي اوښکي تويول، خو په دې شرط: چي انسان به د الله تعالی د ناراضۍ عمل نه کوي، بې صبري نه: بلکه د الله تعالی د پيغمبر ﷺ سنت عمل بلل کيږي.

په يو بل روايت کي راځي: د پيغمبر ﷺ د ټولو څخه مشره لور حضرت زينب رضي الله عنها د هغې يو نو مولود بچی وو، چي کله پر هغه باندي د زکندن حالت راغلی، نو دې

(١) مصنف ابن ابي شيبه: حديث نمبر ١٢١٢٦

مبارکي پېغمبرﷺ ته حال ور واستوی، چي اې د الله تعالی رسوله! زما بچی ډېر ناجوړه دی، ته یو ګړی د ده د لیدلو لپاره راسه.

پېغمبرﷺ چیکله راغلی، نو د بچي د زکندن حالت دی، او پدې حالت کي هغه وفات سو، بیا خو هغه صرف عام بچی نه وو، بلکه د پېغمبرﷺ لمسی وو، نو پېغمبرﷺ چي هغه منظر ولیدی، نو د ده د سترګو مبارکو څخه اوښکي را رواني سوې.

یو صحابي ورته وایي: اې د الله تعالی رسوله! ایا ته هم ژړا کوې؟ پېغمبرﷺ په جواب کي ورته وویل: چي هو، دغه زما ژړا د هغه رحمت اثر دی: چي الله تعالی د خپلو بندګانو په زړو کي ایښی دی.

نو چیکله پر یو چا باندي غم راسي، هغه که یا د یو قریب فراق او جدائي وي، دی پر هغه باندي غم وکړي، او یا ژړا وکړي، او د سترګو څخه ئې اوښکي راتوی سي، نو دا بې صبري نوي، بلکه دا هغه رحمت وي: چي الله تعالی د انسان په زړه کي پیدا کړی وي، او دا بې صبري نه بلل کیږي.

بلکه بې صبري دا ده: ګریبان څیرل، ماتم کول، یا د الله تعالی پر تقدیر او فیصله باندي شکوې او شکایتونه کول.

## صبر د الله تعالی د معیت ذریعه ده:

خو بهر حال: دا پخه خبره ده: باید انسان ئې پر خپل زړه باندي ولیکي، چي الله تعالی د صبر کونکو انسانانو سره محبت لري.

په قرآن کي الله تعالی فرمایي:

.........إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾.(۱)

بېشکه الله تعالی د صبر کونکو ملګری دی، هغه د صبر کونکو سره محبت لري، او د هغوی نصرت او مرسته کوي.

نو کچیري انسان د مصیبت په وخت کي څه خبره کوي، نو فقد د خپل رب و مخته دي ئې کوي، ځکه چي کوم حالات پر انسان باندي راځي: دا ټوله د الله تعالی په قبضه کي وي.

(۱) سورة البقره: آیت نمبر ۱۵۳

نو چي کوم ذات حالات را استوي، د هغه حالاتو بدلول او د هغه حالاتو آسانه کول هم د هغه ذات په قدرت کي وي.
نو پدې جذبه باندي دغه حالات برداشت کول، او پر هغه باندي صبر کول، او دا امید درلودل: چي الله تعالی به د دغه حالاتو په وجه زما گناهونه را معافوي، او هم به ماته لوی اجر او ثواب راکوي، چي هغه به زما د لوړو درجاتو سبب گرځي.

## دبخښني عجيبه بهانه:

چنانچه د يو بزرگ په باره کي راغلي دي: چي هغه ته الله تعالی زنانه ډېره بداخلاقه ور نصيب کړېوه، چي د ده ژوند ډېر ور سره تريخ وو، او همېشه به ئې د هغې دلاس څخه تکليفونه او نقصانونه برداشت کول.
هغه بزرگ لره غصه خو ډېره ورتله، ډېر ځله به ئې په دماغ کي د طلاق کولو فکر هم کوی، ليکن بيا به ئې د ځان سره دا سوچ کوی: کچيري زه و دغه زنانه ته طلاق ور کړم، نو بيا خو به دا غريبه پرېشانه سي، اوس خو ئې لا زه تکليف او مشقت برداشت کوم، بيا خو هيڅ څوک د دې و تکليف او مشقت برداشت کولو ته نه تياريږي.
بس دلې به ئې پرېږدم، چي دا هر څنگه زندگي تېروي، زه به هم گذاره کوم، او چي دا څومره غلطي کوي، زه به هغه معافوم، د الله تعالی يو بنده دی، زه به د دې پر غلطي باندي دې ته معافي کوم، الله تعالی ډېره مهربانه ذات دی، هغه به زما غلطي را معاف کړي.
هغه بزرگ تر مرگه پوري د هغه زناني سره ژوند تېر کړی، د مرگ څخه بعد يو چا په خوب کي وليدی، نو پوښتنه ئې څني وکړه: چي الله تعالی څه در سره وکړه؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي کله د الله تعالی حضور ته پيش سوم، نو الله تعالی راته وفرمايل: اې زما بنده! تا خپله زنانه زما يو کمزوری مخلوق و بللی، او د هغه غلطۍ دي ور معافه ولې، نن زه هم تا يو خپل کمزوری بنده بونم، او ستا ټولي غلطۍ او گناهونه در معافه وم.
نو تاسو گورئ! چي الله تعالی رب العزت د مسلمان پر غلطيو باندي په صبر کولو سره پر انسان څومره مهرباني کوي، نو بايد انسان پر تکليفونو باندي صبر کوي، او

پرېشانه نسي، ځکه دا د ژوند يو حصه ده، په ژوند کي که خوشحالی همېشه د انسان سره بقا نه کوي، نو بيا غم هم همېشتوب او دوام نه لري.

## د مصيبت زده انسانانو په ليدلو زړه ته تسلي ورکول:

بايد انسان د مصيبت په وخت کي خپل راسته او چپه طرفته وګوري، هر طرفته مصيبت او غم انسان ته ور ښکاره کيږي، په هر کور کي پرېشاني ده، او هره سترګه د اوښکو ډکه ده، او دنيا ټوله د مصيبتونو سره روانه ده.
نو انسان ته به دا ور ښکاره سي: چي په مصيبت کي يوازي زه نه يم، بلکه د نورو انسانانو د مصيبتو په مقابل کي زما مصيبت اوس هم کم دی.
ځومره انسانان به مريضان په کلونو کلونو پر بسترو پراته دي، او د دردونو څخه چيغي وهي، او هيڅ شفا ئې نه په نصيب کيږي.
او ځومره انسانان به په جيلو او عقوبت خانو کي بند وي، چي په کلونو کلونو هغوی د لمر رڼا ليدلې نوي، چي د جيل خانې څخه بغير نور هيڅ نه پيژني.
ځومره زنانه به وي، چي د هغوی د زړه ټکړې يعني: اولادونه خاص د ځوانی په وخت کي د هغوی څخه واخيستل سي، نو چي کوم ځوک پرېشانه او مقروضه او په مصيبت کي وي، هغوی ته کتل د هغوی په ليدلو سره زړه ته تسلي ورکول.
او دا يقيني خبره ده: چي دنيا د مؤمن لپاره قيد خانه ده، د غمو او آفتو ځای دی، او په جيل خانه کي هيڅ چا همېشه د خوشحالی او راحت زندګي نه ده کړې.
نو انسان بايد د خپلو پرېشانيو او مصبتو راتللو سره خپل ځان داسي عادي کړي، لکه اوښ چي په صحرا کي د تګ کو عادي وي، د ژوند په سفر کي خپل توازن قرار وساتي.
او خپل د شا او خوا او د مخکنيو خلګو نقشې مخته کښېږدي، او د هغوی په مابين کي د خپلي زندګی موازنه وکړي، نو دا به ور معلومه سي: چي زه د هغوی په نسبت ډېر ښه يم، نو به پر خپله زندګي د الله تعالی شکر ادا کړي.

## د يو زناني عجيبه صبر:

حضرت مولانا پير ذوالفقار نقشبندي صاحب پخپلو اصلاحي مجالسو كي يو واقعه رانقل كړېده: چي يو بزرګ فرمايي: چي زه د بيت الله په طواف كي روان وم، زما و څنګ ته يو زنانه روانه وه، هغې د ځان سره بار بار دا الفاظ راګرځول: اې الله! زه په دغه حال كي هم ستا څخه راضي يم.

هغه بزرګ فرمايي: چي زه ډېر حيران سوم: چي دا زنانه څومره ډېر دغه الفاظ راګرځوي، نو د طواف پوره كولو څخه وروسته مي د هغه زناني څخه پوښتنه وكړه، چي اې زناني! ستا سره څه سوي دي؟ او ته د څنګه حالاتو سره مخامخ ئې؟ چي بار بار دا وايي: اې الله! زه په دغه حال كي هم ستا څخه راضي يم؟

هغه زناني ماته خپله واقعه په داسي شكل بيان كړه: چي زه د درو (٣) بچيانو مور وم، يوه ورځ مي په كور كي ډوډۍ پخوله، د ټولو څخه كوچنی بچی ماته شا او خوا پر څلورو ګرځېدی، او بازۍ ئې كولې.

هغه نورو دوو بچيانو په بله خونه كي بازۍ كولې، چي يو دم زما تر غوږ د يو بچي سختي چيغي سوې، ما چي ور منډي كړې، چي ورغلم، نو كه ګورم: هغه لوی بچي مي هغه كوچنی بچی په چاړه باندي حلال كړی دی.

هغه ځكه: چي د دې څخه يوه ورځ دمخه زما خاوند په كور كي پسه حلال كړی وو، او هغه چاړه پرته وه، نو هغه هلكانو را اخيستې وه، مشر و كشر ته ويل: ته پرېوزه! چي پروند كا كا پسه څنګه حلال كړی، زه به هغه رنګه تا حلال كړم، نو هغه كشر بچی ورته پرېوتلی وو، او هغه مشر د خپلي كم عمرۍ په وجه په دا نه پوهېدی، نو ئې د هغه بچي پر غاړه چاړه ور تېره كړېوه، نو هغه په وينو كي لت پت پروت وو، نو ما هغه بچی را واخيستی، او پر چار پائي مي د غولي په مينځ كي كښېښووی، هغه پر دغه ځای باندي وفات سو.

هغه مشر چي دا كيفيت وليدی، نو د خپل ځان د خلاصونه په خاطر ئې منډي كړلې، په كور كي بوټي پراته وه، د هغه وشاته پټ سو، ما چي د هغه مشر بچي تلاش شروع كړی، چي ورغلم، د بوټو و شاته دی پټ دی، خو هلته په بوټو كي يو اژدها مار پروت وو، چي هغه دی په نيښ باندي وهلی وو، او دی پر هغه ځای باندي مړ وو.

ما هغه بچي هم په غیږ کي را واخیستی، د اول بچي سره مي پر چارپائي باندي کښېښوولی، اوس زه د هغه خپل زیات کوچني ماشوم په تلاش کي سوم، هغه د خوني په یو کونج کي نه را معلومیږي، چي ورغلم، هغه د ډوډيو پخولو په تنور کي لوېدلی دی، او مکمل کباب سوی دی، دتنور څخه د راکښلو څخه وروسته مي هغه هم د هغه نورو دوو بچیانو پر څنگ کښېښوولی، بیا مي ټولو ته غسل ور کړی، او په قبرونو کي مي دفن کړل، د هغه څخه وروسته زه د بیت الله طواف ته راغلم.

نو اوس خپل رب ته دا وایم: چي یا الله! زه په دغه حال کي هم ستا څخه راضي یم، نو چي انسان د دغه قسم حالاتو تصور کوي، چي د الله تعالی سختري هره یوه تر بل بتره وي، نو بیا به د مصیبت په وخت کي د انسان زړه ته تسلي راځي.(١)

## د بهادر شاه ظفر غم او مصیبت:

بهادر شاه ظفر چي کله فرنگیانو قید کړی، نو د ده دوولس(١٢) زامن وو، یوه ورځ فرنگیانو ده ته وویل: چي نن موږ ستا دعوت او میلمستیا کوو، نو ئې دَی د میلمستیا په نیت دسترخوان ته راوستی.

پر دسترخوان باندي سبزي میوې هر څه پراته دي، خو د دسترخوان په مابین کي یو څه لوښي داسي پراته دي: چي سرونه ئې بند دي، لکه د سالن لوښي چي عام طور خلک ایږدي، دی چي کله ورته کښېناستی، نو یو فرنگي د ده و مخته د هغه لوښي څخه سر پورته کړی، ده چي ورته وکتل، نو د ده د یو ځوان زوی سر پرې سوی په هغه کي پروت وو.

د دوهم لوښي سر چي ئې پورته کړی، نو د بل زوی سر ئې پکښي پروت وو، دوولس(١٢) لوښي پراته وو، په دوولس(١٢) سره وو کي د ده د زامنو پرې سوي سرونه پراته وه.

ستاسو څه خیال دی؟ چي د هغه پلار به کوم حالت وي، چي هغه په خپل زړه کي دغه غم برداشت کړی، او پر دا موقع باندي ئې د ځان سره دا اشعار ویل:

نہ کسی کی آنکھ کا نور ہو نہ کسی کے دل کا قرار ہو

---

(١) اصلاحي مجالس: جلد نمبر٢٨، صفحه نمبر ٩٢

جو کسی کی کام نہ آسکے میں وہ اِک مُشت غبار ہو

نو پر انسانانو باندي رنګا رنګ حالات راځي، موږ باید د ځان سره د هغه فکر وکړو، او د الله تعالی په حضور کي شکر ادا کړو: چي اې الله! موږ ته خو تا دومره سهولت آساني او خوشحالي راکړېده: چي موږ ستا شکر نسو ادا کولای. او پر کوچنیو کوچنیو خبرو باندي ځان پرېشانه نه کړو.

مصیبت باید انسان د الله تعالی څخه نه وغواړي، ځکه موږ عاجزه بندګان یو. د مصیبت تاب نه لرو، لیکن کچیري د غوښتلو بغیر الله تعالی راباندي راوستی، نو باید بیا صبر وکړو.

او په دې سوچ باندي ئې برداشت کړو: چي شاید دا به د الله تعالی رضا وه، او په دې کي به د الله تعالی حکمت وي، نو په دغه جذبه برداشت کول. (1)

## د صبر درې صفات:

په صبر کي یو څه صفات وي:

۱. .....صَبر بِاللهِ﴾.
۲. .....صَبر لِلّهِ﴾.
۳. .....صَبر مَعَ اللهِ﴾.

د "صَبر بِاللهِ" مثال دا دی:

...........وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ﴾.(2) صبر کوه، او ستا صبر کول، د الله تعالی په توفیق سره دي.

د "صبر لِلّه" په باره کي فرمایل سوي دي:

..............وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾.(3) او د خپل رب لپاره صبر کوه.

او "صَبر مَعَ الله "داسي وي:

(1) اصلاحي مجالس: جلد نمبر ۲۸، صفحه نمبر ۹۴
(2) سورة النحل: آیت نمبر ۱۲۷
(3) سورة المدثر: آیت نمبر ۷

..............إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾.(۱) الله تعالی د صبر کونکو ملګری دی.

## د انبیاء کرامو صبر:

د صبر انتهاء دا ده: چې د مصیبت په وخت کې انسان د مخلوق و مخته د خپل خالق شکوه او شکایت نه کوي.

البته که یو مصیبت تنګي یا تکلیف پېښ سي، نو د خپل مالک و مخته خپل فریاد وړاندي کړي، انبیاء کرام علیهم السلام عادت دا وو: چې کله به یو تکلیف ور باندي راغلی، نو د الله تعالی و طرفته به ئې رجوع کوله، د مثال په طور:

حضرت یعقوب علیه السلام د خپل مصیبت په وخت کې صبر وکړی، او د خپل رب و حضور ته ئې خپل فریاد په دغه شکل پیش کړی:

............إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللّٰهِ﴾.(۲)

زه د خپل غم او پرېشانی اظهار د خپل رب و حضور ته پیشوم.

د حضرت ایوب علیه السلام د صبر تذکره هم په قرآن کریم کې راغلې ده: چې کله د الله تعالی لطرفه پر ده باندي امتحان راغلی، نو ده پر هغه باندي صبر وکړی، او خپل فریاد ئې د خپل رب و مخته دا سې پیش کړی:

............أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾.(۳)

یا الله! زه په تکلیف کې مبتلا یم، ته د ټولو رحم کونکو څخه زیات رحم کونکی ئې، الله تعالی ته د ده دغه صبر دومره خوښ سو، چې په قرآن کریم کې د ده تعریف په داشان بیانوي:

..........إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ﴾.(۴)

(۱) سورة البقرة: آی نمبر ۱۵۳
(۲) سورة یوسف: آیت نمبر ۸۶
(۳) سورة الانبیاء: آیت نمبر ۸۳
(۴) سورة ص: آیت نمبر ۴۴

موږ دی صبر کونکی پیدا کړی، څومره ښه بنده وو، چي زما طرفته رجوع کونکی وو،
سبحان الله: د الله رب العزت لطرفه چي د یو بنده په باره کي دغه شان تعریفي الفاظ
ادا سي، دا د هغه لپاره د څومره لوړ مقام او مرتبې دلیل وي.
پر پیغمبر ﷺ هم مصیبتونه راغلل، خو ده به پر هغه باندي صبر کاوی، چي کله ده ته د
طائف په غرو کي د هغه ځای د انسانانو څخه تکلیف ورسېدی، نو دی د عتبه او د
شیبه د باغ و مخته کښېناستی، او الله تعالی ته د خپل ضعف او کمزوری شکایت
پېشوي، او وایي:

.........﴿اللَّهُمَّ إِلَيْكَ أَشْكُو ضَعْفَ قُوَّتِي وقِلَّةَ حِيلَتِي وَهَوانِي على النَّاسِ﴾.(۱)

اې الله! زه تاته د خپلي کمزوری او بې کسی شکایت کوم، او په خلکو کي د رسوائی
خپل فریاد تاته پېشوم.
ده خپل فریاد د الله رب العزت و حضورته پیش کړی، او هم ئې صبر وکړی، د هغه صبر
نتیجه دا راغله: چي کله دی د طائف د سفر څخه واپس راغلی، نو الله رب العزت خپل
حضورته د معراج د سفر په شکل را بولی.
نو دا یو حقیقت دی: چي کوم سړی پر مصیبتو باندي صبر کوي، الله تعالی ده ته
روحاني معراج ور نصیب کوي.
سبحان الله! الله تعالی ده ته دومره ترقي او بلندي ور کوي: چي الله تعالی پخپله خپل
محبوب ته دا پیغام را استوي:

.........﴿وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا﴾.(۲)

اې محبوبه! ته صبر کوه، ته زموږ تر نظر لاندي ئې.
چي کله دا آیت راغلی، نو پر پیغمبر ﷺ عجیبه د جذب کیفیت وو، ام المؤمنین سیده
عائشه صدیقه رضي الله عنها چي کله دا آیت اوری، نو ډېره په تلوار ر ولاړه سوه، او د
پیغمبر ﷺ لاسونه مبارک ئې ور مچ کړل، او ورته وئې ویل: اې د الله تعالی
محبوب ﷺ! ستا د الله تعالی په حضور کي دومره لویه مرتبه ده، چي الله تعالی
پخپله تاته فرمایي: چي اې محبوبه! ته زما په نظر کي ئې، او زه ستا حالات څارم.

---

(۱) جامع الاحادیث لجلالدین السیوطي: حدیث نمبر ۴۹۱۷
(۲) سورة الطور: آیت نمبر ۴۸

چي کله محب ته دا معلومه سي: چي زما محبوب ماته ګوري، نو بیا د هغه لپاره هیڅ تکلیف نوي.

په رساله قشیریه کي لیکلي دي: چي یو مجرم په یو میدان کي په دُرو باندي وهل کیدی، ده به پر هره دُره باندي رقص اواتڼ کاوی، د هغې وجه دا وه: چي ده ته دا معلومه سوه، چي په تماشا کونکو کي د ده محبوب هم موجود دی، او ده ته ګوري، او دا منظر ویني.

کچیري د دنیاوي محبوب په لیدلو محب او عاشق د دُرو خوړلو سره رقص او خوشحالي کوي، نو کچیري یو بنده ته دا احساس وي: چي د: "فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا" زیری پر صبر کولو باندي بنده ته ور کول کیږي، نو بیا به بنده څومره صبر و کړي.

زموږ د بعضي بزرګانو په باره کي راځي: چي هغوی به دغه آیت: "فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا" لیکلی د خپل ځان سره ساتی، چي کله به پر دوی باندي تنګي یا تکلیف راغلی، نو دغه آیت به ئې و خپل مخته کښېښووی، او ډېر به ئې تلاوت کاوی، نو هغه تنګي او تکلیف به د دوی لپاره په خوشحالي باندي بدلېدی.

نو مشکلات د انساني زندګۍ یو حصه ده، دا به پر انسان باندي ضرور راځي، خو د دې د حل لپاره بهترینه لار هغه صبر کول دي، چي د صبر کولو په ذریعه به دغه مشکلات الله تعالی آسانه کوي، او هم به دغه پرېشاني الله تعالی په خوشحالي باندي بدلوي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته اولاً د عافیت او سلامتیا زندګي را نصیب کړي، که به مو چیري په نصیب کي مشکلات او تکالیف لیکلي وي، الله تعالی دي پر هغه باندي د صبر کولو توفیق را نصیب کړي.

او الله تعالی دي دغه مذاکره پخپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْن.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د صبر بیان، دویمه حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، ومَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللّٰهُ، وَلَنْ تُعْطَوْا عَطَاءً خَيْرًا، وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! په تېره جمعه کې ستاسو و مخته ماد دې خبري تذکره کړېوه: چي د انسان زندګي په دنيا کي ډېره مختصره عارضي فاني او ژر ختمېدونکې ده.

علماؤ د انسان د زندګۍ مثال داسي ليکلی دی: لکه يو څراغ چي د هوا په څپو کي کښېږدې، کله يوه څپه ور باندي راسي، خو هغه څراغ ډېر کمزوری کړی، خو بيا هم دغسي رڼا کونکی پاته سي، او کله دوهمه څپه ور باندي راسي، تر هغه اول حالت ئې ډېر کمزوری کړی، آخر د هوا يو داسي څپه ور باندي راځي: چي د څراغ هغه روښانه زندګي په تاريکي باندي ور بدله کړي.

داغه رنګه د انسان زندګي د دنيا په حادثاتو او واقعاتو کي پرته زندګي ده، کله يوه حادثه ور باندي راسي، خو بيا هم انسان خلاص سي، او کله دوهمه حادثه ور باندي راسي، آخر يو داسي حادثه ور باندي راځي، چي د انسان هغه روانه زندګي د خاورو سره خاوري کړي.

---

(١) سورة ال عمران: آيت نمبر ١٤٦

(٢) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ٢٠٠١٤

نو د انسان زندګي الله تعالى د دنيا په واقعاتو او حادثاتو کي ايښې ده، خو د هغه حادثاتو مقابله انسان ته الله تعالى د صبر کولو په شکل ور ښوولې ده، چي دى به د حادثاتو او واقعاتو او مشکلاتو او پرېشانيو مقابله په صبر کوي.
چي کم چاته الله تعالى د زمانې د حادثاتو په مقابل کي د صبر او برداشت توفيق ور کړي، نو هغه بيا د الله تعالى د خوښو بندګانو څخه بلل کيږي، او هم د صبر په ذريعه الله تعالى هغه حالات او واقعات ور باندي آسانه کوي.

## صبر څه ته وايي؟

د صبر معنى دا ده: چي کله پر انسان باندي يو د تکليفه ډکه حادثه او واقعه راسي، نو دى په ژبه باندي د شريعت خلاف يو خبره نه وکړي، نه د بدن په نورو اندامونو د شريعت خلاف يو عمل وکړي، خپل ځان په قابو کي وساتي، نه په ژبه د خپل رب څخه شکوه او شکايت وکړي، نه په اعمالو سره د خپل رب نافرماني وکړي، نو که چيري د غم او مصيبت، بيمارۍ او پرېشانۍ باوجود د انسان دغه کيفيت وي، نو دغه انسان ته صبر کونکى ويل کيږي، او د ده دغه عمل ته صبر ويل کيږي.
او ما مخکي درته وويل: چي د صبر کونکو سره الله تعالى محبت لري، او هم ئې الله تعالى په خپلو مقربو بندګانو کي شماري، لکه د الله تعالى فرمان دى:

...﴿وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ﴾.(۱)

الله تعالى د صبر کونکو سره محبت لري، ما په تېره جمعه کي دا خبره کړې وه: چي صبر څو قسمونه لري:

۱. کله د انسان پر نفس باندي يو عبادت درونه وي، نو خپل نفس د هغه عبادت پر کولو را صبر کول، دې ته وايي: "صبر على الطاعة"
۲. کله بيا د انسان نفس د يو ګناه سره عادت نيولى وي، او نفس ته هغه ګناه پرېښوول ډېر سخت وي، نو نفس د هغه ګناه څخه راصبر کول، دې ته: "صبر عن المعصية" وايي.

(۱) سورة ال عمران: آيت نمبر ۱۴۶

۳. کله بیا پر انسان باندي يو مصيبت او تکليف راسي، او نفس ډېر زيات فرياد او شکايت کوي، نو خپل نفس د هغه شکايتونو څخه راګرځول دې ته "صبر على المصيبة" وايي.

چي کم سړی د الله تعالی د اطاعت په سلسله کي صبر وکړي، نو الله تعالی به د قيامت په ورځ ده ته د جنت درې سوه(۳۰۰) درجې ور کوي، چي د هري درجې مسافت به د مځکي څخه تر اول آسمانه پوري وي.

او که يو سړی د ګناهونو څخه د راګرځولو په خاطر خپل نفس صبر کړي، الله تعالی به ده ته د قيامت په ورځ شپږ سوه(۶۰۰) درجې ور کوي، چي د هري درجې مسافت به د مځکي څخه تر اووم آسمانه پوري وي.

او چي کم څوک پر مصيبت باندي صبر وکړي، نو الله تعالی به دقيامت په ورځ اوه سوه(۷۰۰) درجې ور کوي، چي د هري درجې فاصله به د "تحت الثرٰی" څخه د الله تعالی تر عرشه پوري وي.(۱)

## د صبر درجات:

زموږ په کتابو کي علماؤ د صبر مختلفي درجې ليکلي دي:

## د تائبينو صبر:

اوله درجه د تائبينو ده، د هغې مطلب دا دی: چي د مصيبت په وخت کي انسان خپل غم او پرېشاني نورو انسانانو ته نه ښکاره کوي، د دې مطلب دا ندی: چي زنانه به خپل خاوند ته تکليف نه ښکاره کوي، او يا به ئې اولاد مور او پلار ته نه ښکاره کوي، او نه به ئې مريض و طبيب ته ښکاره کوي، ځکه دا د انسان ضروريات دي، بلکه: د نه ښکاره کولو مقصد دا: چي د حالاتو د تذکرې په خاطر په هر ځای کي تکليف بيانول او تکليف ښکاره کول، او په هر مجلس کي د خپل تکليف شکايتونه کول، د غه مناسب نوي.

(۱) مکاشفة القلوب: صفحه نمبر ۲۱

زنانه که خپل خاوند ته تکلیف ښکاره نکړي، نو آخر چاته به ئې ښکاره کوي؟ بچی که ئې خپل مور او پلار ته ښکاره نکړي، نو به ئې چاته ښکاره کوي؟

چي د کم شي څخه انسان منعه سوی دی، هغه دا: چي دبعضو انسانانو عادت داسي جوړ سوی دی: چي په کم ځای کي کښېني: بس دا بیان راواخلي: چي په عجیبه تکلیفو او مصیبتو کي راګیر سوی یم، دعاګاني کوم، الله تعالی زما دعا نه اوري، په دغه رنګه خبرو کولو کي همېشه د ده شکایتونه ور سره شامل وي، ګویا: دغه سړی په زړه کي دا ګیله لري: چي الله تعالی زما سره ښه ندي کړي.

## دزاهدينو صبر:

دوهمه درجه د زاهدینو ده، هغه دا: چیکله پر انسان یو مصیبت راسي: نو دی په هغه مصیبت باندي راضي وي، او د هغه مصیبت حل د الله تعالی څخه سوا د بل هیڅ چا څخه نه غواړي، که ښه حالات وي، او که بد حالات، د ده مکمله توجه د خپل رب و طرفته وي، او د خپل رب د راضي کولو په جذبه باندي ئې برداشت کوي.

## د حضرت زکریا علیه السلام واقعه:

په کتابو کي لیکلي دي: چي حضرت زکریا علیه السلام ته الله تعالی نبوت ور کړی وو، او ډېره زمانه ئې د "بیت المقدس" امامت وکړی، او یهودو ته به ئې د الله تعالی د دین دعوت ور کوی، چیکله یهود د ده د عوت څخه تنګ راغلل، نو هغوی د ده د دقتل اراده وکړه.

حضرت زکریا علیه السلام چیکله د دوی په اراده باندي خبر سو، نو د دوی څخه د یو ځنګل پر طرف ووتی، او ذوی پسي روان سول، چي کله دوی حضرت زکریا علیه السلام ته نژدې سول، نو هغه په ځنګله کي د یو درختي څخه پناه وغوښته، نو هغه درختي ده ته ځای ور کړی، دی ئې پخپله تنه کي پټ کړی، او د درختی تنه پر ده شاو خوا راوغوړېدله.

د یهودو په ډله کي شیطان هم ور سره وو، هغه یهودو ته دا مشوره ور کړه: چي تاسو په اَره باندي دغه درخته پر مابین دوې ټکړې کړئ، چي دی هم پکښي دوې ټکړې سي، او دالته ختم سي، نو د یهودو د شیطان دغه مشوره خوښه سوه، او په هغه باندي ئې د عمل کولو قصد وکړی.

دا ځکه چې حضرت زکریا علیه السلام د زاهدینو انسانانو څخه وو، او د مصیبت په وخت کي ئې د الله تعالی پر ځای د درختي څخه پناه وغوښته، د هغه نتیجه دا سوه: چي په اَره سره په هغه درخته کي دننه دوې ټکړې سو.

لکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو روایت هم دی، او ده مبارک فرمایل: چي د الله تعالی وینا ده: چي پر کم بنده باندي مصیبت راسي، او زما څخه پناه وغواړي، د هغه د غوښتلو څخه مخکي ده ته پناه ورکوم، او د هغه د آواز کولو څخه مخکي د ده آواز اورم.

او کچیري د مصیبت په وخت کي زما بنده زما د یو مخلوق څخه پناه وغواړي، نو زه دی هغه مخلوق ته ور حواله کړم، او د آسمان دروازې پر ده باندي بندي کړم.

چیکله یهودو پر درخته باندي اَره ولګوله او هغه اره د حضرت زکریا علیه السلام تر سر پوري ور سېدله، نو ده فریاد او چیغي شروع کړې، نو الله تعالی یو آواز کونکی ورته راواستاوی، چي اې زکریا! الله تعالی فرمایي: چي یو ځل خو دي فریاد او چیغه وکړه، که دي دوهم ځل دغه فریاد بیا وکړي، زه به ستا نوم د انبیاؤو د لست څخه وباسم.

حضرت زکریا علیه السلام خپل شونډان په خپلو غاښو سره ونیول، او پر داغه حالت ئې صبر وکړی، چي هغه خلګو دی دوې ټکړې پر مابین پرې کړی.(۱)

نو د زاهدینو عادت داوي: چي هغه پر مصیبت صبر کوي، او پر خپله ژبه باندي شکایت نه راوړي، او نه خپله توجه د خپل رب څخه سوا بل طرفته ګرځوي، او پدې حوصله دغه مصیبت برداشت کوي، چي زما به د دنیا او آخرت د عذابو څخه د نجات ذریعه وګرځي، ار هم به ئې دا فکر وي: چي زیات مصیبتونه او تکلیفونه پر اولیاؤو او انبیاؤو باندي راځي.

## **زموږ د اکابرو وینا**:

حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه به ویل:

- مصیبت د عارفینو لپاره څراغ دی.
- او د حق د طالبینو لپاره بیداري ده.

(۱) مکاشفة القلوب: صفحه نمبر ۲۲

- د مؤمنانو لپاره اصلاح ده.
- او د غافلينو لپاره د هلاکت ذريعه ده.

د ايمان حلاوت به هغه څوک محسوس کولای سي: چي پر هغه مصيبت راسي، دی د الله تعالی په رضا راضي وګرځي، او پر هغه مصيبت باندي صبر وکړي.
او د پيغمبرﷺ وينا ده: چي کم سړی يوه شپه ناجوړه سي، او دی د خپل رب څخه راضي وي، نو هغه د ګناهونو څخه الله تعالی داسي پاک کړي: لکه په دغه شپه چي دی د مور څخه پيدا سوی وي، نو ځکه ده مبارک به فرمايل: چي کله پر تاسو بيماري راسي، نو د صحت تمنّی مه کوئ.
حضرت ضحاک رحمه الله عليه به فرمايل: چي کم څوک په څلويښت شپو کي يوه شپه هم په غم او مصيبت کي مبتلا نسي، نو الله تعالی د ده په ژوندګي کي هيڅ نيکي او خير نه دی ايښی.
د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی: چي پيغمبرﷺ به فرمايل: چي کله الله تعالی پر خپل مؤمن بنده باندي ناجوړي راواستوي، نو ده د چپه طرف ملائکي ته دا حکم وکړي: چي د ده ګناه ليکل بند کړه.
او د راسته طرف ملائکي ته بيا دا امر وکړي: چي زما د بنده لپاره هغه تر ټولو ښه عمل ليکه، چي ده به د صحت په زمانه کي کاوی.

## د صديقينو صبر:

د صبر يو دريمه درجه ده: چي هغه ته د صديقينو صبر وايي، هغه دا ده: چيکله پر بنده باندي يو مصيبت او تکليف راسي، نو دی په هغه باندي خوشحاله وي، او د ده دا عقيده وي: چي زما رب زما څخه راضي دی.
ځکه د الله تعالی عادت داسي دی: چي څومره مقرب بندګان دي، او د هغوی سره د الله تعالی محبت وي، نو پر هغوی باندي تنګي، مسکنت او مصيبت راولي، او دا د الله تعالی د محبت علامه بلل کيږي.
لکه په حديث شريف کي راځي:
............يَقُوْلُ البلاءُ كُلَّ يوم اين اتوجّهُ يا ربِّ﴾.

مصيبت هر سهار د الله تعالى څخه اجازت غواړي: يا الله! زه د چا كور ته ورسم، څوک په غم او مصيبت باندي اخته كړم، الله تعالى ورته وايي:

............إِلَى اَحِبَّائِي وَ اُوْلِي طَاعَتِي﴾.

زما د دوستانو كورته ورسه، او چي كم څوک زما اطاعت كوي، او زما سره محبت لري، د هغوی كورته ورسه، هغه په مصيبت باندي اخته كړه.

- ............كَيْ اَبْلُوْ بِكَ اَخْبَارُهُم﴾. چي ستا په ذريعه زه د دوی د خبرو امتحان واخلم.
- ............وَ اخْتَبِرُ بِكَ صَبْرُهُم﴾. او د دوی د صبر امتحان واخلم.
- ............وَامْحَ بِكَ ذُنُوْبُهُم﴾. چي ستا په ذريعه زه دوی د ګناهونه څخه پاک كړم.
- ............وَارْفَع بِكَ دَرَجَاتُهُم﴾. چي د مصيبت په وجه دوی ته لوړ درجات وركړم.

په دنيا كي چي كمو خلګو ته الله تعالى ددين د پيغام رسولو ذمه واري ور كړه، نو هغوی خپل ضرورتونه قربان كړل، او هم ئې تكليفونه برداشت كړل، او ټوله زندګي ئې د دين په خدمتونو كي تېره كړه.

چيكله د قيامت په ميدان كي دوی راپورته سي، نو الله تعالى به دوی ته د دنيا د تكليفونو بدله د آخرت د نعمتونو په شكل وركوي، چيكله دوی هغه نعمتونهويني، نو په حديث شريف كي راځي:

............يَوَدُّ أَهْلُ الْبَلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَّ جُلُودَهُمْ كَانَتْ تُقْرَضُ بِالْمَقَارِيضِ﴾.(١)

چي دغه مصيبت زده خلګ به ډېر دا تمنى وكړي: چي كاش! په دنيا كي زموږ بدنونه په غچيانو پرې سوی وای، او زموږ په دغه نعمتو كي نوره هم اضافه وای.

(١) مصنف ابن ابي شيبه: حديث نمبر ٣٥٦٠١

## د صحابه کرامو حالت:

يو ځل اصحاب صُفه چي د پېغمبرﷺ خاص طالبان وو، د پېغمبرﷺ تر شا د جماعت لمونځ کوي، چيکله پېغمبرﷺ سلام وګرځوی، نو دوی تهوله پرمخي غوځار سوي دي، د لوږي څخه، يعني: چي يوه هم په دوی کي د ولاړي طاقت نه در لودی، چي په صف کي درېدلی وای.

حالانکه صحابه داسي طاقت ور خلک ول: چي پنځه(۵) سيره او سپينه د ډال په شکل او شپږ(۶) سيره او سپينه د توري په شکل او اته(۸) سير او سپينه د زغري په شکل به د دوی پر بدن وله، او سهار به ميدان جنګ ته ور شوه سوه، تر ما بنامه پوري به ئې د معرکې ميدان ګرم ساتی.

پېغمبرﷺ به د لمانځه کولو څخه وروسته دوی هر يو را پورته کول، او بيا به ئې دوی ته دا تسلي ور کوله: او ورته ويل به ئې: کچيري تاسو ته معلومات وسي، چي الله تعالی ستاسو لپاره په جنت کي کم نعمتونه تيار کړي دي، نو تاسو به دا تمنٰی وکړئ: چي په دنيا کي دي يو څه نور لا هم تکليف پر موږ باندي راسي.

## د عيش او عشرت د الله تعالی څخه غوښتنه:

او داغه رنګه په حديث شريف کي دا هم راځي:

............يَقُوْلُ الرَّخَاء كُلَّ يَوْمٍ اَيْنَ اَتَوَجَّهُ يَارَبِّ﴾.

پراخي او آساني هم هر سهار د الله تعالی څخه اجازت غواړي، چي زه د چا کورته ورسم.؟

الله تعالی ورته وايي:

............اِلٰى اَعْدَائِىْ وَ اُوْلِىْ مَعْصِيَتِىْ﴾.

زما دښمنانو او زما د نافرمانه انسانانو کورته ورسه، يعني: چي د کم چا ژوند زما په نافرمانۍ کي تېرېږي، نو پر هغوی باندي پراخي او آساني راوله.

- ............كَیْ اَزِيْدَ بِکَ طُغْيَانُهُمْ﴾. چي ستا په ذريعه زه د دوی سرکښي نوره ور زياته کړم.

- ..............وَ اُضَاعِفُ بِکَ عَذَابَهُمْ﴾. چي ستا په ذريعه د دوی په عذاب کي اضافه راولم.
- ..............وَ اَکْسِيْرُبِکَ عَلٰی غَفْلَتِهِمْ﴾. چي ستا په ذريعه د دوی د غفلت پردې پر دماغو نوري ور خورې کړم.
- ..............وَ اَعْجَلُ بِکَ لَهُمْ﴾. او د دوی د نيکو اعمالو بدله دلته په دنيا کي لا دوی ته ورکړم، چي زما حضور ته راسي، هلته د دوی سره هيڅ نيک عمل پاته نوي.

## تکليف د الله تعالی د محبت علامه ده:

په حديث شريف کي راځي: چي د کوم بنده د الله تعالی او د رسول سره محبت وي، پر هغه باندي پرېشانۍ او تکليفونه داسي راځي: لکه د غره د سر څخه چي اوبه د غره پای ته ځان را رسوي، لکه په حديث شريف کي راځي:

..........قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ ﷺ: يَا رَسُولَ اللهِ وَاللهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ﴾..

يو سړی د پېغمبر ﷺ حضور ته راغلی، ورته وايي: اې د الله تعالی رسوله! زه ستا سره محبت لرم.

..........فَقَالَ لَهُ: انْظُرْ مَاذَا تَقُولُ:﴾.

پېغمبر ﷺ هغه سړي ته وايي: ته پدې خپله خبره کي لږ فکر وکړه، چي ته څه وايې؟

..........قَالَ: وَاللهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ﴾.

هغه سړي درې (۳) ځله دا خپله خبره را وګرځوله: چي زه ستاسره محبت لرم، او پر دې خبره ئې ډېر ټينګار کوی، پېغمبر ﷺ ورته فرمايي:

..........إِنْ كُنْتَ تُحِبُّنِي فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافًا، فَإِنَّ الفَقْرَ أَسْرَعُ إِلَى مَنْ يُحِبُّنِي مِنَ السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ﴾.(۱)

کچيري ته پدې خپله خبره کي صادق ئې، او ته رښتيا زما سره محبت لرې نو بيا خو د داسي فقر لپاره تيار سه: چي هغه د انسان هر څه ختموي.

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۳۵۰

او کوم څوک چي زما سره محبت لري، نو هغه ته فقر دومره په تلوار را رسيږي: لکه د سيلاب اوبه د لوړ طرفه چي لاندي طرفته څومره په تلوار ځان را رسوي.
د نيکۍ او ديندارۍ په زندګي کي پر انسان باندي پرېشانياني خو راځي، ليکن دا پرېشانياني کمي دي، ځکه: چي په اويا (۷۰) اتيا کاله زندګي کي دوې او درې ورځي پرېشاني به څه حيثيت لري، چيکله انسان د دنيا څخه رخصت سي، نو همېشه اجر او ثواب ده ته رسيږي.
نو د زاهدينو خلګو نظر پر دې باندي وي: چي کچيري زموږ درجه د الله تعالى په حضور کي لوړه وي، نو پر موږ باندي ازمائش او امتحانات راځي، نو رادي سي، بيا ئې دوى هيڅ پرواه نه لري.

## د نيکو انسانانو په پرېشاني او خوشحالي کي کيفيت:

د الله تعالى نيک بندګان د دغسي پرېشانۍ په حالت کي د زياتي خوشحالۍ اظهار کوي، هغه د ځان سره دا وايي: چي يا الله! ستا لطرفه راکول سوى غم هم موږ ته عزيز دى، ځکه چي د دې را کونکى ستا ذات دى، هغه دې ته نه ګوري: چي پرېشانى ده، يا خوشحالي، بلکه د هغه نظر پر دې باندي وي: چي د غه حالت پر موږ را وستلى چا دى.
حضرت داؤد طائى رحمۃ اللہ علیہ ته الله تعالى په زړه کي الهام کوي: چي اې داؤده! کچيري تاته يو وخت د خورک کولو يو کمزرې خورکه هم ورسيږي، نو زړه مه تنګوه، بلکه د دې خبري فکر کوه: چي کله ما رزقونه تقسيم کول، نو ته زما په ياد وې، چي ما ستا وطرفته دغه رزق در استولى دى، چيکله استونکى زه يم، نو د دې بدله به هم زه در کوم، نو پر داسي خبرو باندي د پرېشانه کېدلو ضرورت نسته.
د الله تعالى پر دوستانو چي به کله يو پرېشاني او غم نه راغلى، نو دېر ځله به هغه په خوف او بېره کي وو، چي دا خو پر موږ باندي دالله تعالى لطرفه يو ازمائش نه وى، هغه به بېرېدل، او هغه به بلګېدل، چي ايا دا خو د الله تعالى لطرفه امتحان ندى.

بلکه د هغوی به دا حال وو: که به چیري د دوی سره د دوی تر امید او توقع زیاته آساني وسوه، نو دوی به همېشه په ژړا ول، چي هسي نه: زموږ د نیکو اعمالو اجر په دنیا کي موږ ته را کول نسي، او دا به د صحابه کرامو مزاج وو.

## د صحابه کرامو مزاج:

یو ځل حضرت عمر رضي الله عنه او به طلب کړې، نو دوی شربت ورته پیش کړل. د ده په سترګو کي اوښکي راغلې، او ویل به ئې: چي هسي نه: عمره! د نیکو اعمالو بدله په دنیا کي در کول سي، او د قیامت په ورځ دا در ته ونه ویل سي:

.............أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا﴾.

تاسو خو خپل نعمتونه په دنیا کي لا لاس ته ورسول، او د هغه څخه مي په دنیا کي لا نفعه واخیستله، او ستاسو لپاره په آخرت کي اوس څه نسته.

حضرت ابو هریره رضي الله عنه یو ځل خپل غلام ته وویل: چي د پزي پاکولو لپاره یو شی راکړه، هغه ده ته د قیمتي کپړې ټکړه ور کړله، حضرت ابو هریره رضي الله عنه چي ورته وکتل، نو په ژړا سو، چي هسي نه: زما د اعمالو بدله ما ته په دغه دنیا کي را کول سي.

نو دا ښکاره خبره ده: چي د الله تعالی پر نیکو بندګانو چي به کله په دنیا کي خوشحالي راغله، نو هغه به پرېشانه کېدل، چي هسي نه: پدې سره الله تعالی زموږ امتحان اخلي.

او که به غم ور باندي راغلی، نو هغه به خوشحاله کېدل، ځکه چي د الله تعالی دا وعده ده: چي کم بنده ته زه په دنیا کي غم ور کړم، نو هغه ته په آخرت کي خوشحالي ور نصیب کوم، او چي کم چا ته په دنیا کي خوشحالي ور کول سوه، د هغه په بدله کي په آخرت کي غم ور کوم.

## د ګناهونو کفاره:

ځکه دا یو حیقیت دی: چي دوې خوشحالیاني او دوه غمونه نه سره یو ځای کیږي، چي په دنیا کي دي هم غم وي، او په آخرت کي دي هم غم وي، یا دي په دنیا کي هم خوشحالي او په آخرت کي دي هم خوشحالي وي.

په یو ځای کي که انسان د غم سره مخامخ سي، نو بل ځای بیا انسان ته خوشحالي نصیب کیږي.

نو په دنیا کي که غم راسي، نو ایا دا بهتره نده، ځکه چي د ډېر کم وخت لپاره وي، او د دې په عوض کي که الله تعالی په آخرت کي انسان ته خوشحالي ور کړي، نو هغه بیا د ډېر دراز او اوږده وخت لپاره وي، نو که په دنیا کي پر انسان باندي غم او پرېشاني راسي، نو هغه دی د خپلو ګناهونو کفاره بولي، او په دماغ کي دي دا کښېنوي: چي زما کومي غلطیاني او کوتاهیاني دي، ماته په دنیا کي د هغه بدله را کول کیږي، او انشاء الله په آخرت کي به الله تعالی زما سره د رحمت او اسانۍ معامله کوي.

## د یو صحابي زناني سبق اموزه واقعه:

د سیرت په کتابونو کي یو واقعه لیکلې ده: چي یو صحابیه زنانه وه، د هغې واده وسو، الله تعالی دې ته ډېر زیات حسن او جمال ور کړی وو، او واده ئې هم د یو لوی او امیر او مالداره صحابي سره وسو، چي هغه ته الله تعالی فراخ رزق ور کړی وو، او د هغه سره هر قسم د عیش او آرام اسباب وو.

د خاوند او زناني ژوند په ډېر محبت او په ډېره خوشحالي کي سره تېرېدی، او هغه زناني به د خپل خاوند خدمت په ډېر محبت سره کاوی، او هغه به ئې همېشه خوشحاله ساتی، حتی: چي د دواړو ژوند د جنت د ژوند په مثل په خوشحالي کي سره روان وو.

یوه شپه خاوند د خوب په حالت کي تږی وو، چیکله ئې سترګي راروښي کړې، نو خپلي زناني ته ئې وویل: چي ماته اوبه راکړه، هغه زنانه په ډېره تلوار ور ولاړه سوه، او اوبه ئې ورته راوړې، چیکله دې اوبه راوړلې، نو د خاوند بیرته سترګي سره تیري سوي وې. او خوب ور باندي غالبه سوی وو.

هغه زناني د اوبو پیاله په لاس کي ورته ولاړه ده، او د خاوند بیرته رابېداره کېدلو انتظار کوي. او د خپل طرفه پر هغه باندي ږغ نه کوي، چي هسي نه: د خاوند خوب خراب نسي. نو دا د اوبو د پیالې سره د غسي د خاوند وسر ته ولاړه ده.

څه ساعت بعد چي کله د خاوند سترګي راروښي سوې، نو که ګوري: هغه زنانه او به په لاس کي د ډېري فرمانبرداری په شکل ورته ولاړه ده، دی ډېر زيات ځني خوشحاله سو، او هغه او به ئې ځني راونيولې، او وئې چيښلې.

او زناني ته ئې وويل: اې زناني! ما چيکله نن ستا دومره ښه سلوک وليدی، او ستا د اوبو پياله دومره ډېر ساعت په لاس کي ولاړه وې، او زما انتظار دي کاوی، زه ستا څخه دومره خوشحاله يم، او ته ماته دومره ګرانه ئې، نن چي ته کوم شی زما څخه غواړې، او زما په وسع کي وي، زه به ستا هغه فرمائش پوره کوم.

چيکله خاوند دا وويل، نو هغه زناني ورته وويل: اې سړيه! ايا پر دا خپله خبره ولاړ ئې، چي څه در څخه غواړم، هغه ماته را پوره کوې، هغه خاوند ورته وويل: چي بالکل! پر خپله خبره پوخ ولاړيم، ته په ما امتحان وکړه.

هغه زناني ورته وويل: که ته پخپله خبره کي رشتونی ئې، نو ماته طلاق راکړه، او ما فارغه کړه، اوس چيکله د طلاق خبره وسوه، نو هغه صحابي ډېر زيات پرېشانه سو، چي دومره خوبصورته او خوب سيرته، وفاداره او خدمتګاره زنانه ده، او دا ماته وايي: ماته طلاق راکړه.

نو د هغه زناني څخه ئې پوښتنه وکړه: بي بي! ايا تاته زما لطرفه څه تکليف رسېدلی دی؟ هغه زناني ورته وويل: بالکل نه! بيا ورته وايي: ايا ما ستا بې قدري کړېده، ايا ما ستا يو اميد خراب کړی دی، يا مي ستا قدر ندی کړی؟ ايا ته زما څخه خفه او پرېشانه ئې؟

هغه زناني په جواب کي ورته وويل: هرګز نه! نو ده بيا پوښتنه ځني وکړه: نو بيا ولي ته زما څخه طلاق غواړې، ايا ستا زه خوښ نه يم، او زما سره دي محبت نسته، نو هغه زناني ورته وويل: خبره دا نده: ته زما خوښ ئې، او هم زما ستا سره محبت دی، نو ځکه زه دي په دومره شوق سره خدمت کوم، خو تا زما سره وعده وکړه: چي ستا هره خبره پوره کوم، نو بس ته اوس ماته طلاق راکړه، او ما فارغه کړه.

هغه صحابي حيران دی، چي ماخو وعده هم ور سره کړېده، نو ئې ورته وويل: زناني! چيکله سهار سو، نو ما او تا به د پيغمبر ﷺ خدمت ته ورسو، او پيغمبر ﷺ ته به دا

خپله مسئله پيش کړو، چې هغه کومه فيصله راوکړه، نو زما او ستا دواړو به قبوله وي، زنانه ورته وايي: ډېره ښه خبره ده، نو دواړو داغه شپه تېره کړله. او پر هغه صحابي باندي شپه ټوله په پرېشاني او په فکرو او په سوچو کي تېره سوه.

چيکله سهار سو، نو زنانه ورته وايي: چي درځه! تلوار کوه! چي د حضور ﷺ خدمت ته ورسو، چنانچه خاوند او زنانه دواړه د کور ښځه راووتل، او د پيغمبر ﷺ خدمت ته را روان دي، او د هغه ښځه د خپلي مسئلې متعلق معلومات غواړي.

په لاره کي چونکه خاوند ډېر پرېشانه دی، او په سوچو او فکرو کي غرق دی، نو يو ځای ئې د پښې نوک وواهی، او پر مځکه باندي غوځار سو، او بدن ئې زخمي سو، چي د هغه ښځه وينه روانه سوه.

هغه زناني فوراً خپل پړونی ورته څيرې کړی، او د خاوند زخم ئې ور وتړی، د هغه ښځه وروسته ئې هغه ته کومک ور کړی، او راپورته ئې کړی، او ورته وئې ويل: چي درځه کورته واپس ځو، زه ستا ښځه طلاق نه غواړم.

هغه صحابي حيران سو، چيکله تا زما ښځه د طلاق مطالبه وکړه، نه په هغه وخت کي زما په خبره سر خلاصېدی، چي ولې؟ او اوس چي ته ماته وايي: زه طلاق نه غواړم، نه مي اوس په خبره سر خلاصيږي، زناني ورته وويل: چي تر کور به ولاړ سو، هلته به بيا زه تاته د خبري حقيقت ښکاره کړم.

چيکله کورته راغلل، او کښېنستل، نو خاوند پوښتنه ځني کوي، چي زناني! آخر څه پېښه وه؟ چي يو ځل دي د طلاق غوښتنه وکړه، او بيا بيرته د خپلي خبري ځخه انکاري سوې، نو زنانه ورته وايي: چي يو څو ورځي مخکي د پيغمبر ﷺ په مجلس کي ما د هغه يو حديث مبارک واورېدی: چي کوم بنده سره الله تعالی محبت کوي، پر

هغه بنده باندي پرېشاني دا رنګه راځي: لکه او به چي د لوړي خوا ښخه کښته طرفته په ښو مره تلوار باندي راځي.

ما چيکله د پېغمبر ﷺ دغه حديث واورېدی، نو په زړه کي مي دا فکر پيدا سو: چي ما خو ستا په کور کي تر اوسه پوري هيڅ پرېشاني نده ليدلې، او نه مي ښه غم او مصيبت ليدلی دی، نو په زړه کي مي دا خيال راغلی.

چي د پېغمبر ﷺ خبره خو رښتيا ده، هسي نه: چي زما د خاوند په ايمان کي فرق وي، او زما د خاوند په اعمالو کي فرق وي، او زما د خاوند سره د الله تعالی محبت نوي، نو زه ولي د دغسي انسان په خدمت کولو کي خپل عمر ضائع کړم.

نو چيکله تا راته وويل: چي زه به ستا خبره پوره کوم، نو ما وويل: چي زما لپاره ښه خبره دا ده: چي زه به د دغسي خاوند ښخه طلاق غواړم: چي د هغه سره زما د رب محبت نوي.
بيا چيکله ما او تا د پېغمبر ﷺ حضور ته د يو مسئلې د معلومات لپاره تلل، نو دا د علم لار وه، نو ما او تا د علم په تلاش کي روان ول، او دا د الله تعالی د دين لار وه، او ته غوځار سوې، او د بدن ښخه دي وينه راووتله.

نو زما په دماغ کي فوراً دا خبره راغله: چي تا ته د الله تعالی د دين په لار کي غم او مصيبت او تکليف ورسېدی، نو يقينا د الله ستا سره محبت دی.

او ستا په کور کي چي کوم راحت او آساني ده، دا د الله تعالی د ناراضګی وجه نده، بلکه دا د الله تعالی د محبت وجه ده، چي الله تعالی ستا سره دومره آساني کړي

دي، نو ځکه ماته اوس د طلاق د مطالبې کولو ضرورت نسته، بلکه به تر ټوله ژوند ستا په خدمت کي تېروم، او ستا د خادمي په شکل به ستا په کور کي اوسېږم.(۱)

## د فکر وړ خبره:

انسان چي کله د هغه انسانانو حالات اوري، نو ډېر حیران پاته سي، چي د هغه حضراتو نظر تر کومه ځایه رسېدی، یو زنانه چي د هغې نن سبا دغه شان فکر په دماغ کي الله تعالی پیدا کړي، او یو نارینه چي هغه ته الله تعالی دغه عقیده ور کړي، نو بیا به د پرېشانیو حال څومره آسانه وي.

نن سبا څو موږ د معمولي پرېشانۍ په وخت کي ډېر صحیح العقیده بندګان وي، چي د هغوی د کور حالات ځان ته معلوم کړي، نو بیا به انسان پرېشانه سي، دستي د مشرکانو او بدعتیانو او عیسایانو اوهندوانو د کورو طوافونه کوي، او دا سي انسانانو ته ور ځغلي، چي: هغه په خپله هم جاهلان وي، او د جهالت په خاطر نور انسانان هم د ایمان څخه فارغه کړي.
هغه قسما قسم فرمائشونه کړي، او دوی هغه فرمائشونه ور پوره کوي، حالانکه دا ډېري درنې خبري وي.

په ډېرو کورو کي ماحول داسي جوړ وي: چي معمولي خبره پیښه سي، نو زنانې دستي د خپلو تعویزونو د طلب لپاره عاملینو ته ورځغلي، کله وایي: په ما جادو سوی دی. کله وایي: زما د خاوند کاروبار بند دی، او کله وایي: چي زما د بچیانو د رشتو بند ښ دی، نو بیا چي هغه خلک دوی ته هر قسم فرمائشونه پیشوي، دوی د هغه پوره کولو ته تیار وي.

(۱) خطبات فقیر: جلد نمبر ۵، صفحه نمبر ۷۸

## د حضرت ابوبکر ﷜ فرمان:

حضرت ابوبکر ﷜ به فرمايل: چي کوم سړي د مصيبت په وخت کي د بې صبرۍ خبري کولې، يا ئې کېړې څيرلې، يا پر بې دينه انسانانو باندي ئې طوافونه کول، الله تعالی به دې سړي ته په عملنامه کي دومره ګناهونه ور جمعه کړي: چي د ده د ټولي زندګۍ د ساهونو سره به برابر وي.

## د حضرت عمر ﷜ فرمان:

حضرت عمر ﷜ به ويل: چي کم سړي د مصيبت پر راتللو ده بې صبري کوله، يا ئې خپل حاجت نورو انسانانو ته پېشوی، او د خپل مصيبت حل ئې د هغوی څخه تلاش کوی، نو الله تعالی به ئې په عملنامه کي دومره ګناهونه وليکي: لکه د درياب نيل د اوبو څاڅکي.

## د حضرت عثمان ﷜ فرمان:

حضرت عثمان ﷜ به فرمايل: چي کم سړي د الله تعالی لطرفه پر را استول سوي مصيبت باندي بې صبري کوله، او پر عاملانو ګرځېدی، او يا ئې پر غم باندي خپلي کېړې څيرلې، او جذع او فزع ئې کوله، الله تعالی رب العزت به د ده په عملنامه کي دومره ګناهونه وليکي، لکه د ټولي دنيا چي څومره ورځي او شپې شمارل کيږي.
نو پر بې صبري باندي او پر عاملانو ګرځېدلو باندي پر غم چي کوم اجر وي، هغه هم ضائع کيږي، او د هغه پر ځای د انسان په عملنامه کي ګناهونه ليکل کيږي.

نو په دنيا کي زندګي نه بغير د غم او مصيبته چا کړېده، او نه ئې کولای سي، نو د غم او مصيبت په وخت کي د يو مسلمان شان بايد دا وي: چي هغه د خپلو ګناهونو د مغفرت ذريعه و بولي، او د الله تعالی و حضور ته پر هغه باندي صبر وکړي، او په دې طمعه ئې برداشت کړي.

چي الله تعالی به د دې اجر او ثواب ماته په آخرت کي راکوي، الله تعالی موږ او تاسو ته په هر قسم حالاتو کي د صبر او برداشت توفيق رانصيب کړي، او الله تعالی دي دغه څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د رجب د مياشتي فضيلت

(بيان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذالحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : ﴿اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ، وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! د "رجب المرجب" میاشته روانه ده، دې میاشتي ته الله تعالی ډېر زیات فضیلت او عظمت ور کړی دی.

د دې میاشتي نوم: "رجب" دی، علماؤ لیکلي دي: چي "رجب" د ترجیب څخه دی، ترجیب معنی: عظمت او لوي، چونکه دا میاشته هم د الله تعالی په دربار کي ډېره عظیمه او لویه میاشته ده، نو ځکه دې ته نوم: د رجب ور کول سوی دی.

او په بعضو کتابونو کي د دې میاشتي نوم: "رصب" راغلی دی، د "رصب" معنی: رسېدل، چونکه په دې میاشته کي پر توبه کونکو انسانانو د الله تعالی رحمت د باران غوندي را رسیږي، او هم نیک عمله انسانانو ته د قبولیت د انوارو فیض را رسیږي، نو ځکه دې ته "رصب" وایي.

(۱) سورة التوبه: آیت نمبر ۳۶

(۲) الدعا للطبراني: حدیث نمبر ۹۱۱

او ددې میاشتي نوم: "اصم" هم راغلی دی، "اصم" کاڼه ته وايي، چونکه په دې میاشته کي هم عام طور د جنګ او جدل آوازونه به نه اورېدل کېدل، او خاموشي به وه. ځکه دا د "اشهر الحروم" څخه ده.

او بعضي علماؤو بیا لیکلي دي: چي "رجب" په جنت کي یو نهر دی، چي: ............﴿مَائُهُ اَحْلَى مِنَ العَسَلِ اَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ﴾. چي د هغه اوبه تر عسلو زیاتي خوږي دي، او هم تر شیدو زیاتي سپیني دي، او تر واوره زیاتي یخي دي، د هغه نهر څخه هغه چاته اوبه ور کول کیږي: چي کوم چا د رجب په میاشته کي روژه نیولې وي.

او د رجب د لفظ رموز هم دا ښکاره کوي: چي په "رجب" کي درې حروفه دي: را، جیم، با، په "را" کي اشاره د الله تعالی ورحمت ته ده، او په "جیم" کي د بنده جرم او ګناه ته اشاره ده، او "با" عبارت ده د بِر او نیکی څخه.

ګویا: الله تعالی فرمایي: چي زه به د خپل بنده جرم او ګناه د خپل رحمت او نیکی په مابین کي محفوظه کړم، او هم به ئې د ده د عملنامې څخه لیري کړم.(۱)

## د رجب، شعبان، او رمضان د میاشتو فضائل:

د الله تعالی دستور او قانون دی: چي هغه کله کله یو څه اوقات او یو څه مقامات او یو څه اشخاص داسي مقرر کړي وي: چي د هغه په موجودګي کي د الله تعالی رب العزت په حضور کي دعاګاني قبلیږي.

په هغه اوقاتو کي یو وقت د "رجب" میاشته هم ده، چي د دعاګانو د قبولیت میاشته ده، په احادیثو کي د دې ډېر زیات فضائل راغلي دي.

رجب، شعبان او رمضان دا درې(۳) سره میاشتي پر له پسې راځي، د الله تعالی په حضور کي د دې میاشتو ډېر زیات اهمیت دی.

الله تعالی رب العزت د "رجب" میاشته ته د "معراج" د شپې په ذریعه فضیلت ور کړی دی، او د روژې میاشته ته ئې د "لیلة القدر" په ذریعه باندي عزت ور کړی دی، د دغه دواړو میاشتو په مابین کي د "شعبان" میاشته راغلې ده، چي الله تعالی دې ته "كَرِيْمُ الطَّرَفَيْن" ويلي دي.

(۱) مکاشفة القلوب: صفحه نمبر ۵۹۹

په حدیث شریف کې راځي: چې کله به پیغمبر ﷺ د رجب میاشته ولیدله، نو همېشه به ئې دا دعا غوښته:

﴿اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبَ وَشَعْبَانَ، وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ﴾.(۱)

اې الله! زموږ لپاره په رجب او شعبان کې برکت واچوه، او موږ تر رمضان المبارک پورې ورسوه، د "رجب" د میاشتې په شروع کې د مذکوره دعا غوښتلو متعدد فوائد په کتابو کې راغلي دي.

۱. یوه فائده خو داده: چې د دې دعا په برکت د "رجب" او "شعبان" او "رمضان" په میاشتو کې عبادات او د هغوی د قدردانۍ توفیق انسان ته ور کول کیږي.

۲. دوهم فائده ئې دا ده: چې د روژې د میاشتې د تیارۍ کولو فکر د انسان سره پیدا کیږي، ځکه چې د "رجب" او د "شعبان" په میاشتو کې د عبادت کولو په خاطر د "رمضان" د میاشتې د عبادت کولو سره د انسان عادت برابر سي، نو بیا به په رمضان المبارک کې عبادت کول، ده ته تکلیف نه ور کوي، ځکه د انسان د ابتدا څخه لا د عبادت سره عادت جوړ سوی وي.

۳. دریمه فائده ئې داده: چې د رمضان المبارک د میاشتې قدرداني د انسان په زړه کې پیدا کیږي.

۴. او څلورمه فائده ئې دا ده: چې د دغه دعا په کولو سره د روژې د میاشتې و طرفته د انسان شوق او ذوق پیدا کیږي.

۞.........د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی: چې رجب د الله تعالی میاشته ده، ځکه چې عام طور په دغه میاشته کې مالداره خلګ د خپل مال زکوة باسي، او د غریبانو ژوند خوشحاله وي، او غریبان د الله تعالی عیال دی، د هغه په خوشحالۍ سره الله تعالی خوشحاله کیږي، نو ځکه د الله تعالی میاشته بلل کیږي.

او شعبان زما میاشته ده، چې پدې میاشته کې زما د امت د قسمت فیصلې کیږي، زما زړه دا غواړي: چې کله دا فیصلې کیږي، نو زه د روژې په حالت کې یم، لکه

(۱) الدعا للطبراني: حدیث نمبر ۹۱۱

پیغمبرﷺ به همېشه د پنځلسم(۱۵) شعبان روژه نیوله، نو ددې حدیث څخه دا ثابتیږي: چي د پنځلسم شعبان روژه نیول سنت عمل دي.
او حضرت ابو امامهؓ یو روایت هم د پیغمبرﷺ را نقل کوي:
.........مَنْ صَامَ يَوْمًا مِنْ شَعْبَان فُتِحَتْ لَهُ اَبْوَابُ الْجِنَانِ، وَ غُلِّقَتْ عَلَيهِ اَبْوَابُ النِّيْرَانِ﴾.(۱)

چي کوم څوک د شعبان په میاشته کي د یوې ورځي روژه ونیسي، الله تعالی به د ده لپاره د جنت دروازې خلاصي کړي، او د جهنم دروازې به ور باندي بندي کړي.
بیا پیغمبرﷺ وفرمایل: چي د روژې میاشته زما د امت میاشته ده، چي په هغه کي الله تعالی نفلي عبادت زما امت ته په فرضي باندي ور شماري، او فرضي عبادت یو په اویا(۷۰) باندي ور شمارل کیږي.
❁.........بعضي بزرګانو لیکلي دي: چي د "رجب" میاشته د تخم پاشولو میاشته ده، او د "شعبان" میاشته د آب پاشی میاشته ده، او د "رمضان المبارک" میاشته دا د فصل پرېکولو میاشته ده.
❁.........یا انسان داسي ووایي: چي "رجب" د فصل د مځکي څخه د راوتلو میاشته ده، او د "شعبان" میاشته پر هغه فصل باندي د مېوې پیدا کېدلو میاشته ده، او د "رمضان المبارک" میاشته د نیکو اعمالو د میوې د پرېکولو میاشته ده.
❁.........او کچیري انسان د رجب میاشته د هوا په مثل و بولي، نو د شعبان میاشته د وریځي مثال لري، او د رمضان المبارک میاشته د رحمتونو د باران غوندي ده.
❁.........د رجب په میاشته کي د انسان اعمال اوه(۷) چنده ته رسیږي، او د شعبان په میاشته کي اعمال اوه سوه(۷۰۰) چنده ته رسیږي، او د رمضان المبارک په میاشته کي اعمال زر(۱۰۰۰) چنده ته ځان رسوي.
❁......... د رجب د میاشتي فضیلت داسي دی: لکه د قرآن کریم فضیلت چي پر نورو آسماني کتابو باندي حاصل دی.

---

(۱) خطبات فقیر: جلد نمبر۱۰، صفحه نمبر ۳۵۹

قرآن کریم هم د الله تعالی آسماني کتاب دی، او نور آسماني کتابونه هم د الله تعالی کتابونه دي، لیکن قرآن کریم ته الله تعالی ډېر زیات فضیلت ور کړی دی.
د روایاتو څخه معلومیږي: چي د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش څخه پنځوس زره(۵۰۰۰۰) کاله مخکي الله تعالی د قرآن کریم تلاوت کړی دی، او بیا ئې د آدم علیه السلام د پیدائش څخه دوه زره(۲۰۰۰) کاله مخکي پر لوح محفوظ د قرآن کریم کتابت کړی دی، او بیا ئې په درویشت(۲۳) کاله نبوي زندګي کي نجماً نجماً پر پیغمبر ﷺ رانازل کړی دی.
او قرآن کریم په ټولو آسماني کتابو کي جامع کتاب دی، ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي:
............إِنَّ اللَّهَ أَعْطَانِي السَّبْعَ مَكَانَ التَّوْرَاةِ، وَأَعْطَانِي الرَّاءَاتِ مَكَانَ الْإِنْجِيلِ، وَأَعْطَانِي مَا بَيْنَ الطَّوَاسِينَ إِلَى الْحَوَامِيمِ مَكَانَ الزَّبُورِ، وَفَضَّلَنِي بِالْحَوَامِيمِ وَالْمُفَصَّلِ، مَا قَرَأَهُنَّ نَبِيٌّ مِنْ قَبْلِي﴾.(۱)
ما ته الله تعالی سورة الفاتحه چي هغه ته "سبع المثانی" وایي، پر ځای د "تورات" راکړېده، او "راأت" سورتونه یعني: هغه سورتونه چي د هغه په ابتدا کي را ذکر سوې وي، لکه: "آلمر" پر ځای د "انجیل" راکړي دي، او "حوامیم" او "طواسین" پر ځای د "زبور" را کړي دي، او په نورو مفصلاتو سورتو سره ماته الله تعالی فضیلت راکړی دی، چي هغه داسي سورتونه دي، چي زما څخه مخکي هیڅ یو نبي ندي تلاوت کړي.
نو قرآن کریم ته چي کوم فضیلت الله تعالی پر نورو سورتو باندي ور کړی دی، داغه رنګه د "رجب" میاشتي ته هم الله تعالی فضیلت پر نورو میاشتو باندي ور کړی دی.
او د "شعبان" میاشته ته پر نورو میاشتو باندي هغه فضیلت حاصل دی، چي پیغمبر ﷺ ته الله تعالی پر نورو انبیاؤ علیهم السلام باندي ور کړی دی.
لکه پیغمبر ﷺ فرمایي:
............أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ , وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ , وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ﴾.(۲)

---
(۱) مختصر قیام اللیل و قیام رمضان و کتاب: باب ثواب القراة بالیل، صفحه نمبر ۱۷۰
(۲) مصنف ابن ابي شبیه: حدیث نمبر ۳۱۷۲۸

زه د آدم علیه السلام د اولاد سردار یم، او زه به اول د قبر څخه راپو رته کېږم، او د ځېل امت اول شفاعت کونکی به زه یم، او زه به اول هغه څوک یم: چې زما شفاعت به د الله تعالی په دربار کې قبلیږي.

لکه یو بل حدیث کې پیغمبر ﷺ فرمایي:

............اَنَا قَائِدُهُمْ اِذَا وُفِدُوْا﴾. زه به د انبیاؤ علیهم السلام قیادت کوم، چې دوی کله د الله تعالی حضورته د وفد په شکل پیښیږي.

............وَ اَنَا خَطِيْبُهُمْ اِذَا نُصِتُوْا﴾. او زه به خبري کوم، چې کله دوی پټه خوله پاته سي.

............وَ اَنَا شَافِعُوْهُمْ اِذَا حَبِسُوْا﴾. او زه به د دوی شفاعت کوم، چیکله دوی بند راسي.

............وَ اَنَامُبَشِّرُهُمْ اِذَا يَئِسُوْا﴾. او زه به دوی ته بشارتونه او زیري ور کوم، چیکله دوی د مایوسی او نا امیدی په حالت کې وي.

............بِيَدِیْ لِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمُ القِيَامَةِ وَ الآدَمُ وَ مَنْ سِوَاء تَحْتَ لِوَائِی﴾.

زما په لاس کې به د حمد بیرغ وي، آدم علیه السلام او د ده اولاد به ټوله زما تر بیرغ لاندي وي.

............اِنَّ الْجَنَّةَ حُرِمَتْ عَلَى الْاَنْبِيَاءِ حَتّٰى اَدْخُلَهَا وَ اِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَى الْاُمَمِ حَتّٰى يَدْخُلَ اُمَّتِی﴾.

جنت پر ټولو انبیاؤ تر هغه وخته پوري حرام دی، چې تر څو پوري زه ور داخل سوی نه یم. او پر ټولو امتونو هم تر هغه وخته پوري حرام دی، چې تر څو زما امت ور ننوتلی نوي. (۱)

او د "رمضان المبارک" میاشته چې پر نورو میاشتو فضیلت لري، هغه داسي ده: لکه د الله تعالی رب العزت فضیلت پر خپل مخلوق باندي.

نو د "رجب المرجب" میاشته دا د دې امت د ګناهګارانو د مغفرت او بخښني یو سیزن دی. چې پدې میاشته کې الله تعالی په ډېر آسانه سره د انسان د ګناهونو مغفرت کوي.

(۱) رسول اللہ کی عظمت: صفحہ نمبر ۵۸

دا یو حقیقت دی: چي انسان په دنیا کي بغیر د ګناه څخه ژوند نسي کولای، ځکه زموږ عقیده داده: چي پدې دنیا کي د ګناهونه څخه صرف انبیاء معصوم دي، او صحابه محفوظ دي، باقي نور انسانان د نفس او شیطان په وجه ضروري په ګناه کي واقع کیږي، خو بهترین ګناهنګاران هغه دي: چي د ګناه کولو څخه وروسته بیرته الله تعالی ته متوجه وي، او د خپلو ګناهونو مغفرت او توبه د الله تعالی څخه غواړي، لکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

................كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ﴾.(۱)

په دنیا کي هر انسان خطا کونکی دی، خو بهترین خطا کونکي هغه انسانان دي، چي هغوی پر خپلو خطاګانو باندي د الله تعالی څخه مغفرت او بخښنه غواړي.

په دنیا کي که انسان په هر څومره کامیابه شکل او په پټ شکل باندي ګناه وکړي، خو په هیڅ شکل د الله تعالی څخه نسي پټېدلای، یعني: الله تعالی په هر حال کي د انسان په ګناه باندي عالم وي.

## د حضرت ابراهیم ابن ادهم رحمة الله علیه د ګناهګاره سره مکالمه:

د وعظ په کتابو کي لیکلي دي: چي یو ځل یو نوجوان حضرت ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه ته راغلی، او ورته وایي: حضرت! زما د ګناه سره عادت جوړ سوی دی. زه په هیڅ حال کي ګناه نسم پرېښوولای، ماته یو داسي طریقه راوښیه، چي زه ګناه هم کوم، او د الله تعالی د عذاب څخه هم محفوظه پاته سم.

د الله تعالی نیک بندګان چونکه د انسانانو سره زیات محبت لري، نو هغوی ته هیڅکله داسي جواب نه ورکوي، چي هغه پرېشانه سي، بلکه د هغه د جواب لپاره یو بهترینه حکمت عملي جوړوي، چي په هغه سره هغه خبره د هغه انسان دماغ ته ور ورسوي.

نو حضرت ابراهیم ابن ادهم رحمة الله علیه هغه نوجوان ته وایي: چي زه تاته یو څو ترتیبونه دربنیم، چي کوم ترتیب تاته آسانه وي، ته په هغه باندي عمل وکړه.

(۱) مصنف ابن ابي شیبه: حدیث نمبر ۳۴۲۱۶

❶ـ چیکله ته ګناه کوې، نو یو داسې ځای ته ځه، چې هلته تا الله تعالی نهویني. نو هلته ګناه کوه، چیکله دې نه ویني، نو بیا خو به سزا هم نه درکوي.
هغه نوجوان ورته وایي: حضرت! دا څنګه کیدای سي: چې زه یو داسې ځای ته د ګناه کولو لپاره ولاړ سم، چې هلته الله تعالی ما نه ویني، حالانکه الله تعالی خو داسې ذات دی: چې: ﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ﴾ الله تعالی ستاسو سره ملګری دی، چې تاسو هر ځای یاست، نو داسې ځای نسته: چې الله تعالی ما نه ویني، بلکه هر ځای چې ګناه کوم، نو هلته الله تعالی ما ویني، او په ما باندې خبر دی.
❷ـ بیا ورته وایي: چې دا کله نسې کولای، نو بیا داسې وکړه: چې د الله تعالی در کول سوی رزق پرېږده، چې کله الله تعالی ستا څخه د قیامت په میدان کې د ګناه کولو متعلق پوښتنه وکړي، نو ته ورته ووایه: چې ستا رزق مې ندی خوړلی، نو مې ستا خبره هم نده منلې.
هغه نوجوان ورته وایي: حضرت! دا هم نسم کولای، ځکه ټول رزقونه، ټول بارانونه دا د الله تعالی په ملکیت کې دي، او ددنیا ټوله مخلوقات د الله تعالی ملکیت دی، نو زه به دا څنګه وکړم، چې: د الله تعالی د رزق خوړلو څخه بغیر ګوزاره وکړم.
❸ـ حضرت ابراهیم ابن ادهم رحمة الله علیه هغه نوجوان ته وایي: یوه بله طریقه درته ښیم، هغه دا: چې په دې ځمکه او آسمان کې د الله تعالی سلطنت دی، ته د هغه د سلطنت څخه ووزه، بیا ګناه کوه.
هغه نوجوان ورته وایي: چې حضرت! زه د ځمکې او آسمان څخه څنګه وتلای سم، ځکه الله تعالی خو فرمایي:
﴿...... يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ﴾.
اې د انسانانو او جناتو ډلې! کچیرې تاسو استطاعت لرئ!.
﴿......أَن تَنفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانفُذُوا﴾.
چې د ځمکې او آسمانو د کنارو څخه سره ووزی، خو ووزئ.
﴿لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ﴾.

نو که وزئ، په یو دلیل سره او په یو قوت سره وتلی سي، نو زموږ سره خو دومره قوت او طاقت نسته: چي د الله تعالی د سلطنت څخه ووزو، او په بل سلطنت کي ژوند تېر کړو.

❹ـ بیا ورته وایي: بیا داسي وکړه: چیکله ستا د مرګ وخت راسي، نو "ملک الموت" ته ووایه: چي ماته لږ انتظار وکړه، چي زه توبه وکاږم.

هغه نوجوان ورته وایي: چي حضرت! د الله تعالی خو دا فیصله ده:

............﴿فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾.

چیکله اجل راورسیدی، هغه تر خپل وخت یوه لمحه نه مخکي کېږي، او نه وروسته کېږي، او الله تعالی دا هم فرمایي:

............﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَى أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ﴾.

چیکله اجل راسي، بیا خو نه انسان ته د وصیت موقع ور کوي، او که د کور څخه دباندي وي، و کورته د راتللو اجازه هم نه ور کوي، نو هغه نوجوان وایي: حضرت! چي پر ما باندي اجل راسي، بیا خو هغه په یوه لمحه کي راځي، او زه هلته هیڅ بیا کولای نسم، او نه زما وسع او طاقت مالره په کار راځي.

❺ـ حضرت ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه ورته وایي: کچیري دا هم نسې کولای، بیا خو زه و تاته یوه بله خبره درښیم، چیکله: ستا په قبر کي منکر او نکیر د سوال کولو لپاره راسي، نو هغوی ته ووایه: چي زما د قبر څخه ووزئ، زما څخه سوالونه مه کوئ، هغه نوجوان ورته وایي: چي حضرت! زه فرشتو ته څنګه دا ویلای سم، چي زما د قبر څخه ووزئ، او زما څخه سوال مه کوئ.

❻ـ حضرت ابراهیم بن ادهم په آخر کي ورته وایي: بچیه! زه تاته یو آخره خبره کوم: چي کله د قیامت په ورځ الله تعالی رب العزت ستا د جهنم د تللو فیصله وکړي، ته ضد شروع کړه، او هتله ودرېږه، او دا وایه: چي زه جهنم ته نه ځم.

هغه نوجوان ورته وایي: چي حضرت! دا زما د وسع او طاقت خبره نده. او نه زه د الله تعالی په حضور کي ضد کولای سم.

❼ــ حضرت ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه آخره خبره دا ورته کوي: اې بچیه! چیکله دا هم نسې کولای، هغه هم نسې کولای، او په وسع کي دي هم هیڅ نسته، نو د خپل رب نافرماني پرېږده، د دې څخه بغیر نه ستا چاره سته، او نه ماته بله طریقه را معلومه ده.
واقعي هم موږ د خپل رب د عذاب د برداشت کولو طاقت نه لرو، نو نه د هغه ومختهٔ د رېدلو طاقت لرو، او نه د هغه د عذاب برداشت کولو طاقت لرو، نو زموږ لپاره تر ټولو ښه طریقه دا ده: چي د ګناه څخه رشتونې توبه وکاږو، او د الله تعالی رب العزت څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړو، او د توبې کښلو لپاره بهترین وخت دغه میاشته او را رواني میاشتي دي.

## د یو مسئلې حل، عجیبه وینا:

دا یو حقیقت دی: چي الله تعالی ته د خپل بنده توبه ډېره محبوبه وي، او الله تعالی د خپل بنده په توبه باندي زیات خوشحاله کیږي.
په یو کتاب کي لیکلي دي: یو بزرګ پر لار روان دی، که ګوري: یو څه نوجوانان پخپل مابین کي بحث سره کوي، چي کله دی د هغوی سره نژدې تېرېږي، نو هغه ورته وایي: باباجی! موږ په یو مسئله کي بحث سره کوو، لیکن پدې نه پوهیږو: چي د دې مسئلې صحیح حل به څه وي؟ او ستا څخه دا غوښتنه کوو: کچیري ته موږ د دغه مسئلې صحیح حل بیان کړې.
هغه بوډا نوجوانانو ته وایي: چي مسئله څه ده؟ دوی ورته وویل: چي په موږ کي بعضي ملګري دا وایي: چي کوم څوک هیڅکله ګناه نه کوي، د هغه پر زړه باندي د الله تعالی خاص نظر وي.
.او بعضي نور ملګري بیا دا وایي: چي کوم بنده ګناه وکړي، او د ګناه څخه وروسته رشتونې توبه وکاږي. د الله تعالی نظر د هغه پر زړه باندي زیات وي، اوس موږ فیصله نسو کولای: چي د چا پر زړه باندي به د الله تعالی خاص نظر وي؟
هغه بوډا ورته وایي: چي ګورئ! زه خو عالم نه یم، چي د علماؤو جواب در کړم، خو البته یوه خبره زما په تجربه کي ده، چي موږ کیږې جوړوو، او زموږ سره اوږده اوږده

تارونه وي، عام طور چي کوم تار پرې سي، نو هغه بیا غوټه کوو، او پر هغه باندي بیا خاص نظر ساتو: چي هسي نه دوهم ځل پرې نسي.
نو د دې شخه دا معلومیږي: چي کوم بنده په ګناهونو کي راسي، او د هغه تار د الله تعالی سره پرې سي، او بیا دی رشتونې توبه وکاږي، نو هغه تار دوباره د الله تعالی سره غوټه کړي، نو د الله تعالی پر هغه باندي خاص نظر وي، چي زما د بنده د تعلق تار بیا زما سره پرې نسي.
نو زه ډېر دا وایم: چي د انسان شخه ګناه خو کیږي، لیکن که انسان د خپلي ګناه ترتیب د آدم علیه السلام پر طریقه باندي کړي، نو بیا به د انسان لپاره هغه ګناه ډېره مضره نه وي، او د آدم علیه السلام ترتیب د خطا شخه وروسته پښېماني وه، او پښېماني کول په انسان کي هغه صفت دی: چي انسان ډېر ځله په لږ وخت کي د ډېري کښتي درجې شخه ډېري لوړي درجې ته ورسوي.

## د عبرته ډکه واقعه:

حضرت حسن بصري رحمة الله علیه زموږ په امت کي ډېر لوی امام او ډېر لوی محدث تېر سوی دی، د ده سنت تحنیک حضرت عمر رضي الله عنه کړی دی.
سنت تحنیک دې ته وایي: چي کله په یو کور کي ماشوم بچی پیدا سي، پنځمه ورځ یا اومه ورځ یو بزرګ هغه کور ته راسي، په خوله کي خورما وژویي، او بیا هغه خپله خوږه لاړه د ماشوم په خوله کي ور کړي. دغه عمل د ماشوم پر مستقبل باندي ډېر ښه اثر لري.
نو د حسن بصري رحمة الله علیه په زمانه کي یو بوډۍ زنانه وه، دا به همېشه د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه درس ته راتله، او د ده د درس په حلقه کي به کښېنستله، او د ده په شاګردانو کي وله، چیکله به هغې ته په یو مسئله کي مشکل راغلی، نو د ده شخه به ئې د هغه د حل پوښتنه کوله.
د هغه زناني یو نوجوان بچی وو، او د هغه زندګي د ګناهونو په دریاب کي غرقه تېرېدله، چي هغه په خپل ژوند کي پر هیڅ ګناه باندي صرفه نه کوله، شراب او کباب او په عیاشي او فحاشي کي به همېشه مست او نشه وو.

هغه زنانې به همېشه د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه څخه د خپل بچي په هکله دعا غوښتله، چي حضرت! ته زما بچي ته دعا وکړه، چي الله تعالی ئې د ګناهو نو څخه راوګرځوي، او ډېر ځله به ئې هغه بچی حضرت حسن بصري رحمة الله علیه ته راواستی. هغه به ده ته نصیحت کاوی، مګر د هغه نوجوان پر ژوند به د حسن بصري رحمة الله علیه دعا او د هغه نصیحت هیڅ اثر نه راتلی، حتی: چي ډېر اوږده زمانه پدي کي تېره سوه، د هغه باوجود به هغه نوجوان د ګناه څخه نه منعه کیدی.

مور خو بیا هم آخر مور وي، نو هغې به ډېر زیات اصرار پر حسن بصري رحمة الله علیه کاوی: چي حضرت! ته دعا وکړه، او پر مختلفو موقعو به ئې د هغه څخه د خپل زوی لپاره د دعا غوښتنه کوله.

حضرت حسن بصري رحمة الله علیه ډېره اوږده زمانه د هغه نوجوان په هکله دعاګاني کولې، حتی: چي آخر د حسن بصري رحمة الله علیه په زړه کي هم یو عجیبه کیفیت پیدا سو، او آخر د هغه بچي د هدایت و طرفته د راتللو څخه ناامیده سو، او په زړه کي ئې دا راغله: چي شاید د دغه نوجوان په قسمت کي د نیکو اعمالو و طرفته راتلل نوي، نو هغه دعا ئې آخر پرېښووله.

یو څه زمانه بعد هغه نوجوان ناجوړه سو، او ناجوړي ئې ورځ په ورځ زیاتېدله، چي بالآخر ده ته مرګ نژدې راغلی، چیکله ئې پخپل بدن کي د مرګ علامات ولیدل، نو هغه نوجوان پخپل زړه کي دا محسوسه کړله: چي شاید په دنیا کي اوس زما ژوند نور کم پاته دی.

نو ئې خپله مور راوبلله، نو ورته وئې ویل: چي زما وخت اوس ډېر کم پاته دی، زه د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه و حضور ته پخپلو پښو نسم ورتللای، او نه ته ماهلته ور وړلای سې، زما زړه دا غواړي: چي ته پخپله هغه ته ورسه، او دا غوښتنه ځني وکړه: چي هغه یو ځل زموږ کورته راسي، او ماته د توبې طریقه راوښیي، او که زه وفات سوم، نو زما د جنازې لمونځ دی راکړي.

هغه مور چي د بچي تمنی واورېدله، نو په منډه منډه د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه کورته راغله، او دروازه ئې ور وټکوله، ده مبارک چونکه ټوله ورځ په درسي مصروفیاتو کي تېره کړېوه، او دا وخت ئې د غرمې قیلوله او آرام کاوی، هغه زنانې

دروازه ور وټکوله، دی چیکله دروازې لره راغلی، نو هغه زناني ورته وویل: چي حضرت! زما سره یو ځل زما تر کوره ولاړ سه، زما د بچي حالت او کیفیت ډېر بدل دی، هغه ته د توبې طریقه ور وښیه.

حضرت حسن بصري رحمة الله علیه چونکه پدې وخت کي ډېر د ستړیا په حالت کي وو، او سترګي ئې د خوبه ډکي وې، او د ماپښین څخه وروسته هم نورو مصرفیاتو ورته کتل، او دهغي بوډۍ څخه ئې د زوی حالت واورېدی، نو د ځان سره ئې فکر وکړی: چي دا خو هغه هلک دی:

دومره کلونه مي دعاګاني او خبري ورته وکړې، پر ده ئې هیڅ اثر نه وکړی، اوس به هم زما خبره پر ده شاید اثر نه وکړي، او دا به محض د ده د مور تمنی وي، او د هغه هلک غوښتنه به نوي، نو ئې دا خبره نظر انداز کړله، او د هغي مور څخه ئې د هغې و کورته د تللو څخه عذر وغوښتی.

او هغه بوډۍ ته ئې وویل: چي موري! زه ډېر زیات مصروف یم، د خپل مصروفیت په خاطر ستاسو تر کوره پوري نسم تر تللای، اول خو زما زړه نه مني: چي دی دي توبه کښلو ته تیار وي، او موري! که دی وفات هم سي، نو جنازه ئې په بل چا سره وکړه، زما په مصروفیاتو کي زه خلل نسم راوستلای.

هغه بوډۍ چي دا واورېدله، واپس کورته راغله، او هغه زوی ته ئې وویل: اې بدبخته! حسن بصري رحمة الله علیه نه ستا حضور ته راتللو نه تیار دی، او نه ستا جنازه کولو ته نیار دی.

هغه نوجوان چیکله دا واورېدل، نو پر زړه باندي ئې یو قسم اثر وسو، چي اوهو! ما خپل ځان دې حالت ته رسولی دی: چي د ټولي علاقې لوی محدث حسن بصري رحمة الله علیه او نور علماء او مشایخ زما څخه دومره بدګمانه سوي دي، نه زما کورته راځي، او نه زما د جنازې لمانځه کولو لپاره تیار دي، نو پر دې خپل حالت ئې ډېره زیاته ژړا وکړه، او هم پر خپله تېره زندګي او ژوند باندي زیات افسوس ورته ودرېدی.

آخر ئې خپله مور را طلب کړه، او ورته وئې ویل: موري! کچیري حسن بصري رحمة الله علیه زما د جنازې د لمانځه کولو لپاره تیار نه وي، نو ته زما یو وصیت واوره، هغه مور ورته وایي: بچیه! څه وصیت دی؟

زوی ورته وویل: موري! وصیت مي دا دی: چي کله زما روح د بدن څخه رخصت واخلي، او زه وفات سم، نو ته خپل د سر پړونی زما په غاړه کي د زندی غوندي راغوټه کړه، او زما بدن کشوه، او د کور و مخته چي کم انبار دی، پر هغه مي وغورځوه.

چي د دنیا و انسانانو ته دا خبره ور ښکاره سي: چي کوم څوک د الله تعالی په نافرماني کي ژوند تېر کړي، نو د هغه به دغه انجام او حالت وي، او موري! شاید زما پر دغه ذلت او حالت به د الله تعالی رحم راسي، او زما د تېري زندګی معافي به ماته وکړي.

چیکله هغه نوجوان مور ته دا وصیت وکړی، نو په دغه حال کي ئې سترګي د اوښکو څخه ډکي دي، او پر خپله تېره سوې زندګي باندي ډېر افسوس او ژړا کوي، او ډېر پرېشانه دی. او روح ئې د بدن څخه رخصت واخیستی، او وفات سو.

هغه مور: زوی پر هغه حالت او وصیت باندي ډېر ژړا وکړه، چي زما بچیه! دا دي څنګه وصیت ماته وکړی؟ او ته را څخه رخصت سوې.

مور لا دغه د ژړا په حالت کي ده، چي د کور دروازه ئې وټکېدله، دا چیکله ورغله، نو که ګوري: حضرت حسن بصري رحمة الله علیه په دروازه کي په ډېر ناولده کیفیت کي ولاړ دی. لکه پر یو چا چي ډېر خوف او وېره راغلې وي، لکه زمونږ اوستاسو په اصطلاح کي: چي یو څوک لڅ سر او لڅي پښې د یو چا دروزاه ټکوي، او ورته ولاړ وي.

هغه بوډۍ چي حضرت حسن بصري رحمة الله علیه په دغه حالت کي ولیدی، نو پوښتنه ځني کوي: حضرت! په دا حالت کي او په داسي ناولده کیفیت څنګه زما تر کوره پوري په تلوار سره راغلې.

حضرت حسن بصري رحمة الله علیه ورته وایي: بوډۍ! چي ته کله زما د کور څخه نا امیده را روانه سوې. نو ره خپلي بسترې ته ورغلم، او پر هغه مي آرام کاوی، چیکله مي

سترګي در لره تیري سوې، نو په خوب کي ماته الله تعالی پخپله راغلی، او د الله تعالی زیارت مي نصیب سو.
الله تعالی ماته وویل: اې حسن بصري! ته یو طرفته زما د دوستۍ دعوه کوې، او بل طرفته زما د یو ولي او دوست د جنازې د لمانځه کولو څخه انکار کوې، نو پدغه حالت کي به ته څنګه زما دوست جوړ سې؟.
چیکله مي د الله تعالی دغه وینا واورېدله، زما سترګي را روښي سوې، زه پدې پوه سوم: چي الله تعالی ستا دبچي توبه قبوله کړېده، او هغه ئې پخپلو اولیاؤو کي شمارلی دی، نو ستا د بچي د جنازې لپاره زه ستاسو کور ته په ډېر تلوار راغلم، چي هسي نه: د جنازې لمونځ ئې زما څخه سوا بل څوک وز نه کړي.
نو زه دا وایم: چي پښېماني کله د انسان په مزاج او طبعیت کي راسي، دا ډېر ځله انسان د یو ځای څخه بل پورته ځای ته په ډېره آسانه سره رسوي. (۱)

## د خبرو خلاصه:

نو رب کریم دومره مهربانه ذات دی: چیکله بنده د خپلي زندګۍ په آخري لمحاتو کي هم د خپل پروردګار و مخته ندامت او شرمندګي ښکاره کړي، نو هغه د ده لمن د ده د مرادونو څخه ورډکوي.
ډېر ځله د دنیا خلک مایوسه او نا امیده سي: او د هغوی په دماغ کي دا راسي: چي دا ګناه د معافۍ قابله نده، مګر د الله تعالی ذات د مایوسۍ والا ذات ندی، ځکه د الله تعالی دا قول دی:
..............﴿يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ﴾. اې انسانه! ته د خپل رب کریم څخه کوم شي په دوکه کي اچولی ئې؟
نو زه دا وایم: چي کله الله تعالی دومره کریم ذات دی، نو باید موږ د هغه د کرم څخه فائده واخلو او د ګناهونو څخه معافي وغواړو، او پخپل ژوند کي توبه وکاړو، او خپل اختیار په حالت کي توبه وکاړو، هسي نه: چي د زندګۍ دورانیه را څخه تېره سي، او موږ دغسي په غفلت کي پراته یو.

(۱) کتنے بڑی ہیں حوصلے پروردګار: صفحہ نمبر ۸۳

ځکه د مرګ دا معلومه نده: هیڅ چاته دا معلومات نسته: چي مرګ به کله راځي، په ورځي به وي، او که به د شپې وي، سهار به مرګ راځي، او که به ماښام وي، نو نن ورځ الله تعالی موقع راکړی ده.

نو دغه محفل او دغه د جمعې ورځ او د رجب مبارکه میاشت غنیمت بلل، او د خپل رب د عفو او د کرم څخه فائده اخیستل، او د الله تعالی سره صلح کول، او د هغه څخه د خپلو ګناهُونو بخښنه غوښتل.

چیکله مونږ و خپل رب ته خپله توبه پیش کړو، او د هغه څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړو، او هم د هغه سره صلحه وکړو، نو د الله تعالی رحمت په جوش کي راځي، او هغه به زمونږ ګناهونه معافوي، او د ګناهونو د معافی سره به مونږ او تاسو ته پخپلو خوښو بندګانو کي د شاملولو توفیق رانصیب کوي.

الله تعالی دي د دې میاشتي په برکت او د دې مبارکي ورځي په برکت مونږ او تاسو ته د توبې کښلو توفیق راکړي، او چي کم چا توبې وکښلې، د هغه توبي دي الله تعالی په خپل بارګاه کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

او الله تعالی دي دغه مذاکره پخپل دربار کي قبوله کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د پیغمبر ﷺ بعثت، اوله حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْـــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ وَأَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُ عَنْهُ الْأَرْضُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشّاهِدِيْنَ وَالشّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرینو! الله تعالی پیغمبر ﷺ د یو عظیم رحمت په شکل دې امت ته را استولی دی، او د پیغمبر ﷺ په زړه کي د دې امت سره ډېر زیاته مینه او محبت دی، قرآن کریم هغه مینه داسي بیانوي:

.........عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ﴾.

چي کم کار به پر امت باندي مشقت وو، هغه به پر ده مبارک باندي ډېر بوج وو.

.........حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ﴾.

د خپل امت په باره کي به ده ډېر زیات حرص کوی، چي څنګه به زما د امت سره آساني وسي.

...........بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾.

(۱) سورة التوبه: آیت نمبر ۱۲۸

(۲) مصنف ابن ابی شبیه: حدیث نمبر ۳۵۸۴۹

دی به پر مؤمنانو باندي ډېرزيات رحم کونکی او شفقت کونکی وو ، او د امت په زړو کي هم الله تعالى د ده سره ډېره زياته مينه او محبت ور اچولی وو ، لکه قرآن کريم پر دې ګواه دی:

............﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ﴾.

نبي دې مؤمنانو ته ډېر قريب دی، تر خپلو ځانو.

............﴿وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾.

د دې نبي د کور زناني د دې امت لپاره روحاني ميندي دي.

او د اُبی بن کعب ﷺ يو قرأة دی:

............﴿وَهُوَ اَبٌ لَهُمْ﴾.

او دا نبي د دې امت لپاره روحاني پلار دی.

او د امت په زړو کي هم الله تعالى د دغه نبي محبت په زياته پيمانه اچولی وو ، د هغه يو ... دا هم وه: چي د نبي په محبت د دوی ايمان کمال ته رسېدی، لکه د ... ﷺ حديث مبارک دی:

............﴿لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ، وَوَالِدَيْهِ، وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾.(۱)

يو سړی په تاسو کي کامل مؤمن تر هغه وخته پوري نسي کيدای: چي تر څو پوري زه و ده ته تر اولاد او تر مور او پلار او د دنيا تر ټولو انسانانو محبوب نسم.

## دوه بې مثاله نعمتونه:

د الله تعالى دوه(۲) نعمته بې مثاله دي:

(۱)..........اول نعمت د اسلام دی، دا دومره عظيم نعمت دی، که يو انسان هر څومره ګناهګار وي، کچيري اسلام قبول کړي، نو د اسلام څخه مخکي چي څومره ګناهونه سوي وي، د اسلام په ذريعه هغه ټول له معاف کيږي.

مثلاً: که د يو سړي سل(۱۰۰) کاله عمر وي، او په هغه کي دی نه نوي(۹۹) کاله په کفر او شرک کي تېر کړي، او په آخر کي صرف الله تعالى يو ځل ده ته د اسلام د کلمې

---

(۱) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ۲۰۳۲۱

ویلو توفیق ور کړي، نو هغه د نه نوي(۹۹) کالو ګناهونه الله تعالی ټول ور معافوي، ځکه چي پېغمبر ﷺ فرمايي:

............اَلْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ﴾.(۱)

د اسلام راوړلو په وجه د انسان مخکيني ټول ګناهونه معاف کيږي.

د الله تعالی د دغه نعمت قرآن کريم په دغه الفاظو تذکره کړېده:

............اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي﴾.(۲)

نن ورځ ما پر تاسو دين مکمل کړئ، او ما پر تاسو خپل نعمت کامل کړئ، پدې آيت کي الله تعالی دين او اسلام د انسانانو لپاره يو نعمت بللی دی.

(۲)............دوهم نعمت: د پېغمبر ﷺ ذات بابرکات دی، تاسو په خپله اندازه ولګوئ: چي الله تعالی انسانانو ته بېشماره نعمتونه ور کړي دي، او الله تعالی پخپله فرمايلي دي:

............وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا﴾.(۳)

کچيري تاسو د الله تعالی نعمتونه شمارل وغواړئ، تاسو ئې نسئ شمارلائ، د دې دومره نعمتو ور کولو سره الله تعالی پر انسانانو دِ يو نعمت احسان هم ندی اچولی، مثلاً الله تعالی انسان ته دوې سترګي ور کړي دي، چي زما په عقيده: د هغه قيمت ټوله دنيا او ما فيها نسي جوړېدلای.

داغه رنګه دوه غوږونه او ژبه او دماغ دا ټوله هغه نعمتونه دي، چي دا ټول مخلوقات د هغه قيمت نسي ادا کولای، ليکن دِ دې ټولو نعمتو الله تعالی پر بندګانو احسان ندی اچولی.

ليکن د نعمتو په لړه کي يو نعمت داسي دی: چي نعمت ور کونکي ته هم مزه او خوند ور کوي، او هم ئې پر انسانانو د هغه احسان اَچولی دی، لکه الله تعالی فرمايلي دي:

............لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾.(۱)

---

(۱) مصنف عبد الرزاق الصنعاني: حديث نمبر ۱۵۵۵۶

(۲) سورة المائده: آيت نمبر ۳

(۳) سورة ابراهيم: ايت نمبر ۳۴

په تحقيق سره الله تعالى پر مؤمنانو احسان کړی دی، چې دوی ته ئې يو نبي د دوی د جنس څخه ور استولی دی، چې هغه به پر دوی د الله تعالى آيتونه تلاوت کوي، او هم به د دوی تزکيه او صفائي کوي، او دوی ته به د کتاب او حکمت تعليم ورکوي، که څه هم د دې څخه مخکې دوی په ګمراهي کې پاته سوي دي.

نو مقصد دا: چې د پېغمبر ﷺ نعمت د الله تعالى رب العزت لطرفه داسې نعمت دی: چې د هغه پر بندګانو لوی احسان دی، نو د دغه دوو نعمتو هيڅ نعم البدل په دنيا کې نسته.

خو د پېغمبر ﷺ په ذريعه الله تعالى ټوله انسانيت د ګمراهۍ د تيارو څخه د هدايت و رڼا ته را ايستلي دي، بيا خاص چې د پېغمبر ﷺ اولنی بعثت عربو ته سوی دی، چې هغه په ګمراهي کې او جهالت کې داسې مستغرق انسانان سوي دي: چې د هغه مثل په ټوله دنيا کې ندی سوی.

ليکن د پېغمبر ﷺ د راتګ څخه وروسته بيا هغه انسانان د هدايت داسې نمونې الله تعالى جوړي کړي دي: چې د دوی غوندي انسانان هم بيا په نورو انسانانو کې ندي پيدا سوي.

## د پېغمبر ﷺ د راتګ سره د شياطينو او جناتو حالت:

تاريخ الخميس کې د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما روايت دی:

........﴿لَمَّا بَعَثَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَحَرُ الشَّيَاطِيْنِ وَرَمُوْا بِالْكَوَاكِبِ﴾.

چيکله د پېغمبر ﷺ بعثت دنيا ته وسو، او دی د ټوله انسانيت لپاره نبي جوړ سو، نو د ده د نبوت په ذريعه جناتو او شيطانانو ته زيات زجر ور کول سو، او د اور په شغلو، او د ستورو په ټکرو وويشتل سو، او و آسمان ته د نژدې ځان رسولو څخه را منعه سول.

د پېغمبر ﷺ د نبوت څخه مخکې جناتو او شيطانان د زنځير د کړيو په شان به يو پر بل باندي پورته کېدل، او آسمان ته به ئې ځان ور نژدې کړی، او هلته به ئې خپل ځايونه جوړ کړي ول.

---

(۱) سورة آل عمران: آيت نمبر ۱۶۴

هلته د رسېدو څخه بعد چي به په آسمانو کي ملائکو کمي خبري سره کولې، هغه به ئې اورېدلې، او بیا به مځکي ته راتلل، او په هغه خبرو کي به ئې یو زیاته حصه دروا غ ګډول، او کاهنانو ته به ئې کولې، او کاهنانو به هغه خبري خلګو ته رسولې، نو پدې شکل به بعضي هغه خبري رشتیا کېدلې، نو خلګو به د کاهنانو خبرو ته ډېره زیاته عقیده درلوده، او پدا شکل به دوی د انسانانو د عقیدې د فساد ذریعه او سبب ګرځېدل.

چیکله پیغمبر ﷺ الله تعالی دې دنیا ته مبعوث کړی، نو دفعتاً ټوله شیطانانو او جنات د آسمان څخه رامنعه سول، بیا هیڅ چاته دا مجال او طاقت نه وو: چي آسمان ته ورنژدې سي، که به یو څوک بیا هم آسمان ته ور نژدې سو، نو فوراً به د اور په شغلو سره ویشتل کېدی، او د شهاب ثاقب ستوري په شکل به په هغوی پسي د اور شغلې راتللې، دوی به ئې کله سوځل، او کله به ئې پاګلان کول.

## جنات په اسلام مشرف کېدل:

یو ځل ټوله جنات سره را جمعه سول، او ابلیس ته ئې وویل: چي دا څه وجه: چي موږ اوس تر آسمانو پوري ځان نسو رسولای؟ ابلیس لعین ورته وویل: چي ضرور یو نوې خبره او یو نوې حادثه پر مځکه باندي پېښه سوې ده، چي د هغه په وجه تاسو د آسمان څخه را ګرځول سوي یاست، اوس به تاسو د ټولي مځکي د مخ د هر کلي او د هر ښار څخه یو څه خاوره ماته راوړئ، چي د هغه څخه به زه تاسو ته دا معلومات درکړم: چي په کم ځای کي نوې واقعه او حادثه پېښه سوېده.

جناتو چي دا واورېدل: نو د هر ځای څخه ئې یو څه یو څه خاوره ده ته راوړه، هغه به د هر ځای خاوره بویوله، او بیا به ئې غورځوله، او دا به ئې ویل: چي په دغه ځای کي هیڅ نوې خبره نده پېښه سوې.

آخر یو جنّي (پېری) د "تهامه" یعني د مکې معظمې سره نژدې د یو غره یا یو ځنګل خاوره ورته راوړه، ده چي هغه خاوره بوی کړه، نو راوغورځېدی، او وئې ویل: چي

نوې خبره پدغه مځکې پېښه سوې ده، چې هر څه ده، تاسو ورسئ، د هغه معلومات تر ما پورې راورئ، شايد په دغه مځکه کې به د يو نبي بعثت سوی وي. (١)

د در منثور روايت دی: چې کله شيطان لعين ته د هغه خاورې د بويولو څخه دا ور معلومه سوه: چې ضرور په حجاز کې يو نوې خبره پيدا سوې ده، نو ده يو نه(٩) نفره جنات چې هغه په خپل قوم کې اشراف او سرداران وو، او د نصيبين او سېدونکي وو، مکې مکرمې ته واستول، او دا حکم ئې ورته وکړئ: چې ورسئ! دا خبر راورئ: چې دلته کمه نوې خبره پېښه سوېده؟

چې کله هغه جنات مکې مکرمې ته راغلل، نو د "عُکاظ" بازار سره نژدې د خورما د درختو لاندې که ګوري: يو بزرګ د څو انسانانو سره لاس پر نامه نيولي ولاړ دی يو څه وايي.

جنات چيکله نژدې ورته راغلل، پخپل مابين کې ئې سره وويل: ګورئ! دا هغه خبره ده: چې د هغه په وجه موږ او تاسو د آسمان څخه رامنعه سوي يو، آخر يو "جنّي" وړته وويل: چې تاسو غوږ پر ونيسئ: چې دی څه وايي؟. (٢)

د مسلم او نسائي يو روايت دی: چې پيغمبرﷺ د يو څو صحابه کرامو سره هلته د سهار لمونځ کاوی، عين د قرآت کولو په وخت کې دغه جنات ورته ودرېدل، او په ډېر آدب او احترام سره ئې قرآن کريم واورېدی.

يو طرفته د سهار نوراني وخت وو، او د قرآن کريم تلاوت وو، او بيا د پيغمبرﷺ د ژبې مبارکې څخه وو، نو د هغه د يو يو حرف لپاره چيکله به د پيغمبرﷺ د ژبې مبارکې څخه جلا سو، په زرګونو فرښتې راتللې، او هغه به ئې آسمان ته پورته کوی، نو د هغه جناتو په زړو کې د الله تعالی توحيد او ايمان د آسمان څخه د يو غشي په شکل ولګېدی، په اول رکعت کې دوی د ابليس د مخبرېنو په شکل ول، ليکن د قرآن د اورېدو څخه ئې سمدستي حالت بدل سو، پر هغه ځای ولاړ وو، چې په اسلام باندې مشرف وګرځېدل.

(١) تاريخ الخميس فی احوال انفس النفيس: باب انفصام طاق کسری: صفحه نمبر ٢٨٥
(٢) تاريخ الخميس فی احوال انفس النفيس: باب ذکر وفود الجن: صفحه نمبر ٣٠٤

## سهار د برکت وخت وي:

ما مخکي دا خبره وکړه: چي پیغمبر ﷺ هغه قرأت د سهار په وخت کي کاوی، د روایاتو څخه معلومیږي: چي د سهار وخت ډېر نوراني او ډېر د برکت وخت وي، لکه الله تعالی په قرآن کریم کي د سهار په وخت باندي قسم هم خوړلی دی.

د الله تعالی د قسم خوړلو مقصد دا نوي: چي یو چاته د یو خبري یقین ور کوي، بلکه د هغه د قسم اخیستلو څخه د مقسم به یعني: چي په کم شي باندي ده قسم اخیستی وي، د هغه عظمت ښکاره کول وي.

او د سهار وخت مجمع الملائکه وي، د ورځي چي کمي ملائکي پر مځکه باندي خپله وظیفه سر ته ورسوي، نو د سهار په لمانځه کي د شرکت کولو څخه وروسته د ...ز آسمانو ته پورته کیږي، او د ورځي د وظیفې لپاره چي کمي ملائکي را شوه کیږي. نو هغه هم د سهار لمانځه لره راځي، نو پدې وجه د سهار په لمانځه کي د ملائکو ازدحام وي.

داغه رنګه د ماځیګر وخت هم نوراني وخت وي، چي په هغه کي هم ملائکي راجمعه کیږي، او الله تعالی په قرآن کریم کي د ماځیګر په وخت باندي هم قسم خوري، نو دا هم د هغه و عظمت ته اشاره وي.

خو بهر حال هغه جناتو د سهار په وخت کي د پیغمبر ﷺ د قرآن کریم تلاوت واورېدی، نو دوی په ایمان باندي مشرف سول، لکه الله تعالی په قرآن کریم کي د دې خبري ذکر هم کړی دی:

............﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا، يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ﴾.(۱)

اې محمده! ته خپل امت ته ووایه: چي الله تعالی ماته دا وحي کړي دي: چي جناتو د قرآن کریم تلاوت واورېدی، او ویل ئې: موږ عجیبه کلام اورېدلی دی، چي داسې پاک کلام موږ تر اوسه نه وو اورېدلی، دا ضرور د الله تعالی کلام دی، او موږ بر د غه باندي ایمان راوړو.

(۱) سورة الجن: آیت نمبر ۱

د شيطان لپاره پر مخبري کونکو باندي د قرآن کريم قرأت هغه اثر وکړی: چي دوی دستي مسلمانان سول، بيا د جناتو لپاره پيغمبر ﷺ دوی د دين قاصدين جوړ کړل، او د جناتو قوم ته ئې د هدايت کولو لپاره ور واستول.

## د پيغمبر ﷺ دوې روحاني معجزې:

چي د پيغمبر ﷺ په جسماني دنيا کي بې شماره معجزې وې، چي غالباً د هغه عدد د اوه زره (۷۰۰۰) معجزو څخه هم زيات راغلی دی.
ليکن الله تعالی ده ته په روحاني عالم کي دوې (۲) معجزې ور کړي وې، چي کم چاته به الله تعالی ژوندی روح او زړه ور کړی وو، نو د هغه معجزو په ليدلو به دستي مسلمانان کېدل.
په هغه معجزو کي اوله معجزه د پيغمبر ﷺ روښانه مخ وو، چي د هغه په ليدلو به د هر څومره سخت زړه والا کافر مسلمان کيدی، د پيغمبر ﷺ د نوراني او روښانه مخ حال حضرت عائشه مبارکه بيانوي: ځکه چي هغه د ده د کور زنانه ده، او دا قانون دی، چي:

............صَاحِبُ الْبَيْتِ اَدْرَى بِمَا فِيْهِ﴾.

د کور مالک د خپل کور په حال تر هر چا ښه خبر وي، حضرت عائشه مبارکه فرمايي:

لَنَا شَمْسٌ وَ لِلْاٰفَاقِ شَمْسٌ وَ شَمْسِيْ خَيْرٌ مِنْ شَمْسِ السَّمَاءِ

ماته هم الله تعالی يو لمر راکړی دی، او آسمانو ته هم الله تعالی لمر ور کړی دی، خو زما لمر د اسمانو د لمر څخه ډېر ښه دی.

فَشَمْسُ السَّمَاءِ تَطْلُعُ بَعْدَ الفَجْرِ وَ شَمْسِيْ تَطْلُعُ بَعْدَ العِشَاءِ

دآسمانو لمر د سهار څخه وروسته راپورته کيږي، خو زما لمر د ماخستن څخه بعد رڼا کوي.

په رواياتو کي راځي: چي يو ځل په کور کي د حضرت عائشې مبارکې څخه ستن ورکه وه، د ماخستن د لمانځه څخه بعد پيغمبر ﷺ کورته راغلی، دا د هغه ستني په طلب کي سرګردانه وه، پيغمبر ﷺ پوښتنه ځني کوي، دا د هغه ستني د ورکوالي

شکایت ورته پېښوي، پېغمبرﷺ خپل مخ ورته نیسي، دا د ده مبارک د مخ په رڼا کي هغه ستن پیدا کوي.

نو پېغمبرﷺ ته الله تعالی ډېره منور او روښانه مخ ور کړی وو، د هغه په لیدلو سره به ډېر انسانان مسلمانان کېدل.

حضرت عبدالله بن سلام د یهودو عالم وو، چیکله ئې د پېغمبرﷺ و مدینې ته د راتللو واورېدل، نو د پېغمبرﷺ د لیدلو لپاره مدینې منورې ته راغلی، که ګوري: خلګ ور باندي راټول دي، دی هغه خلګو ته وایي:

............﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ، أَفْشُوا السَّلَامَ، وَصِلُوا الْأَرْحَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ﴾.(١)

اې خلګو! سلام عام کړئ، او وصله رحمي کوئ، انسانانو ته ډوډۍ ور کوئ، او د شپې لمنځونه کوئ.

د حضرت عبدالله بن سلام چیکله نظر د ده پر چهره باندي ولګېدی، نو فوراً ئې د خولې څخه دا چیغه وختله:

...........﴿هَذَا الوَجْهُ لَيسَ بِوَجْهِ كَذّابٍ﴾.

اې خلګو! دا نوراني مخ هیڅکله دروا غجن نسي کېدلای، دا ضرور د الله تعالی رشتونی رسول دی، نو حضرت عبدالله بن سلام صرف د پېغمبرﷺ په مخ لیدلو سره پرده باندي اسلام راوړی، او هم ئې د ده د نبوت اقرار وکړی.

او دوهمه روحاني معجزه د پېغمبرﷺ هغه قرآن کریم چي هر څومره مخالف او عنادي انسان به د پېغمبرﷺ د خولې څخه د قرآن کریم آیاتونه واورېدل، نو دستي به ئې د هغه د حقانیت اقرار کوی.

ولید بن مغیره خپل قوم د پېغمبرﷺ حضور ته راواستاوی، دی چونکه د ډېر لوی فراست مالک وو، نو د قوم انسانانو ورته وویل: ته ورسه، د پېغمبرﷺ اسماني کتاب واوره، او د هغه د حقیقت حال موږ ته راکړه.

(١) مصنف ابن ابی شیبه: حدیث نمبر ۲۵۳۸۹

دی چیکله د پیغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سو، او د هغه د خولې مبارکي څخه ئې د قرآن کریم یو څو آیتونه واورېدل، نو خپل سر ئې کښته نیولی دی، او په ډېره شرمندګي د پیغمبر ﷺ د حضور څخه واپس ولاړی، او خپل قوم ته ئې ځان ورساوی.
او د قوم انسانانو ته ئې وویل: اې خلګو! ما چي نن څه واورېدل، دا شعر ندی، ځکه زه د شعرونو د دنیا سره ډېر ولد یم، ما چیکله د ده کلام واورېدی، دغه شان کلام ما هیڅکله نه وو اورېدلی، او دا هرګز شعر ندی، او نه دا د بشر کلام دی، پدي کي نهایت نور دی، او په دي کي روحاني خوږوالی او لذت دی، دا کلام غالب کېدونکی دی، او مغلوب کېدونکی کلام ندی.
نو هر څومره سخت عنادي، مخالف چي به کله د پیغمبر ﷺ د خولې څخه د الله تعالی د کلام یو څو مختصر آیتونه واورېدل، نو دستي به ئې هغه ته غاړه کښېښوله، او هم به ئې د هغه د حقانیت اقرار کاوی.

## د نجاشي بادشاه د اسلام راوړلو واقعه:

د هجرت څخه یو څو ورځي مخکي حضرت جعفر طیار رضی الله عنه د یو څو نورو مسلمانانو سره د مکې مکرمې څخه د حبشې پر طرف هجرت وکړی، او حبشې ته ولاړی، د مکې مشرکینو یو څه کسان د حبشې بادشاه ته ور واستول، چي پر یو رقم نه رقم مسلمانان د هغه ځای څخه وباسي.
چي کله د مکې مشرکانو د نجاشي سره ملاقات وسو، او د مسلمانانو هغه تذکره ئې ورته وکړه، او هغه ئې پر دې باندي راپاروي: چي مسلمانان د حبشې څخه وباسي.
نو هغه بادشاه د مسلمانانو تلاش وکړی، او هغه ئې را طلب کړل، چي کله مسلمانان د نجاشي بادشاه حضورته ورغلل، نو هلته د مکې مشرکان هم موجود ول، نو ده د مسلمانانو څخه څه معلومات تهول کړل، او د پیغمبر ﷺ د نبوت او د قرآن کریم د نزول هم څه ذکر وسو.
آخر نجاشي بادشاه مسلمانانو ته وویل: چي کم آسماني کتاب ستاسو پر نبي نازل سوی دی، د هغه یو څه حصه ماته تلاوت کړئ، حضرت جعفر رضی الله عنه د سورة مریم ابتدائي یو څو ایتونه ورته تلاوت کړل.

بادشاه چیکله هغه آیتونه واورېدل، نو ډېر مبهوت او متحیر سو، او ډېره قریبه وه، چي بې هوښه را غوځار سي، چیکله په هوښ کي راغلی، نو وئې فرمایل: والله! دغه کلام او هغه کلام پر موسی علیه السلام نازل سوی وو، د یو ذات کلامونه دي، بیا ئې په دغه مجلس کي پر پېغمبر ﷺ ایمان راوړی، او مسلمان سو، او د پېغمبر ﷺ په غلامانو کي شامل سو.

بي بي ام حبیبه رضی الله عنها چي زموږ د ټولو مسلمانانو مور ده، د هغې دنکاح عقد ئې د پېغمبر ﷺ سره هلته په حبشه کي وکړی، او پنځه زره (۵۰۰۰) دراهم ئې مهر د خپل طرفه ادا کړی، او بیا ئې د مسلمانانو سره د پېغمبر ﷺ حضور ته مدینې منورې ته راواستوله، او هم ئې دا عرض وکړی: چي پېغمبر ﷺ دي زما د مغفرت لپاره دعا وکړي.

چیکله هغه د مسلمانانو ډله چي د هغه سره بي بي ام حبیبه رضی الله عنها هم ور سره وه، هغوی د پېغمبر ﷺ حضور ته راورسېدل، او د نجاشي خبره ئې ورته وکړه، نو پېغمبر ﷺ اودس وکړی، او درې ځله ئې وفرمایل:

............اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلنَّجَاشِيِّ... اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلنَّجَاشِيِّ... اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلنَّجَاشِيِّ﴾.

یا الله! ته نجاشي ته مغفرت وکړې، صحابه کرامو پر هغه باندي آمین آمین وایي. (۱)

## د قرآن کریم تاثیر:

جبیر بن مطعم رضی الله عنه فرمایي: چي زه د پېغمبر ﷺ حضورته د بدر په ورځ د قریشو د قیدیانو د خلاصون لپاره راغلم، او اتفاقاً چي زه راغلم، نو د ماښام د لمانځه وخت وو، او پېغمبر ﷺ د جماعت لمونځ کاوی، او دا آیت ئې تلاوت کاوی:

............إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ، مَا لَهُ مِنْ دَافِعٍ﴾.(۲)

بېشکه! د الله تعالی عذاب راتلونکی دی، او چیکله راسي، بیا د هغه دفعه کولو والا هیڅ څوک نسته.

(۱) مسند البزار البحر الزخار: حدیث نمبر ۱۳۲۸

(۲) سورة الطور: آیت نمبر ۷

حضرت جبير رضي الله عنه فرمايي: چي ما كله دا آيت واورېدی، زما په رب د كعبې قسم! چي زما زړه سره چاودل كيدی.

نو الله تعالى داسي تاثير په دغه خپل كلام كي ايښي وو، او دا د پيغمبر ﷺ روحاني معجزه هم وه، چي د هغه په اورېدلو سره پر انسانانو د قرآن كريم حقيقت ډېر ژر ښكاره كېدی.

## مقصد ته اعاده:

په معالم التنزيل كي روايت راځي:

.........اَمَرَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ يُنْذِرُوْا لْجِنَّ وَ يَدْعُوْهُمْ اِلَى اللهِ تَعَالَى﴾.

چي پيغمبر ﷺ هغه جناتو ته امر وكړ: چي تاسو خپل قوم ته ولاړ سئ، هغوی ته د اسلام او د قرآن دعوت ور كړئ، اوس هغه جنات چي خپل قوم ته راغلو، هغوی په كم شكل هغه قوم ته د هدايت او د اسلام دعوت او پيغام راورساوی، نو زه ستاسو په حضور كي د هغه يو څه مختصر حالات بيانوم، چي يقيناً هم د اورېدلو لائق دي.

په كتاب "خير النشر بخير البشر" چي د امام ابو عبدالله مكی تصنيف دی، د دغه جناتو يو څه حالات ليكلي دي: چي د جاهليت په زمانه كي شيطانان او جناتو به يو څه داسي هم كول: چي د بتانو په نسونو كي به پټ سول، او د بت د خولې څخه به ئې خبري او اوازونه پر انسانانو كول، او هغه ناخبره او جاهلان انسانان به ئې د بتانو پر عبادت باندي راوستل.

د جاهليت په زمانه كي يو بت پرست انسان وو، چي د هغه نوم: ذباب راغلی دی، او دی پخپل ژوند كي د ښكار كولو ډېر شوقي وو، د دغه سړي يو بت وو، چي د هغه نوم: "قراض" وو، يوه ورځ ده يو بُزه د "قراض" بت و مخته د نذر په شكل ذبحه كړله، او د هغهويني ئې پر هغه بت باندي توی كړې، او بيا ئې هغه بت ته سجده وكړه، او دست بسته د هغه په خدمت كي ودرېدی، او په ډېره عاجزي ئې ورته وويل: ته ما زما معبود ئې، او زه تاته عبادت كوم، او زما دا عقيده ده: چي ستا په قدرت كي هر څه دي، ته د خپلي مهرباني څخه ماته د ښكار كولو لپاره يو حيوان راكړه، چي زه په هغه باندي ښكار كوم.

د هغه بت د دننه څخه ده ته آواز راوسو: ورسه! ستا د خیمې و شاته به و تاته یو سپی ولاړ وي، هغه وپاله، هغه به ستا لپاره ښکارونه نیسي، او ستا ژوند به په هغه باندې هوسا سي.

ده چیکله د هغه بت د خولې څخه دا خبره واورېدله، د.تې د خیمې و شاته ئې منډې کړې، که ګوري: هلته یو نهایت قوي او مضبوط او تور شکله سپی ولاړ دی، ده چې هغه ته لاس ور اچوی، نو هغه لکی د متابعت په شکل ورته وښوروله، نو ده هغه سپی را روان کړی، او د هغه نوم ئې "حیاض" کښېښوو ی.

ورځ او شپه په ښکار کولو کې مصروفه دی، چې په ځنګل کې کم شکل حیوان وي، هغه سپی ئې ده لره ښکار کوي، او ژوندی ئې ورته رارسوي، او بیا ئې دی، د خپل بت و مخته ذبحه کوي، او وینې ئې پر بت باندې تویوي، او غوښې ئې په میلمنو باندې خوري.

په لږ زمانه کې هغه سپي دی و ډېر ښه حال ته ورساوی، ځکه چې د ډېرو لیرو وطنو څخه میلمانه ورته راځي، او د هغه بت ذبیحه په ډېره خوشحالي سره خوري.

تر دې حده پورې چې د پیغمبر ﷺ بعثت وسو، د ذباب په مکان هره ورځ میلمانه وزي ننوزي، او پر ده باندې د میلمنو ډېر رش جوړ دی.

یوه ورځ د معمول مطابق یو سړی په میلمنو کې راغلی، او په خبرو کې ئې وویل: ماخو نن د هغه نبي څخه چې په مکه کې ئې بعثت سوی دی، قرآن واورېدی، چیکله هغه میلمه یو څه خبرې د هغه نبي متعلق وکړې، نو د عادت خلاف هغه د ښکار سپي هم هغه خبرو ته غوږ نیولی وو، او په ډېر غور سره ئې واورېدلې.

چیکله مجلس ختم سو، نو ذباب د خپل عادت سره سم هغه سپی د ښکار طرفته روان کړی، مګر اوس چې ئې دی ځنګله ته ورساوی، چې هر قسم حیوان د ښکار په شکل ده ته ور پیدا سي، دی هغه ښکاري سپي پسې ایله کړي، خو دا ځل ئې یا هغه نسي نیولای، که ئې ونیسي، نو بیرته ئې پرېږدي.

زباب د ځان سره وویل: چې نن زما په "حیاض" سپي باندې څه سوي دي؟ په جواب کې خو هغه سپی خاموشه دی، مګر د غیب څخه پر ده باندې یو آواز وسو: چې اې

ذبابه! دغه ستا د ښکار سپي نن يو ډېره لويه خبره اورېدلې ده. هغه داسي خبره ده کچيري تاته در معلومه سي، نو ته به هم دغه سپی معذوره وبولې.
ذباب ناچاره سو، هغه سپی ئې د کور پر طرف را روان کړی، په لاره کي يو ناوله شکل او صورت والا انسان پر يو وحشي او ځنګلي خره باندي سپور دی، او دوهم دغسي سړی پر وحشي غوايه باندي سپور دی، او دوی لره په مخه راغلل، د هغه کسانو وروسته يو حبشي غلام پسي روان دی، چي هغه په خپل لاس کي د يو زبردست تور سپي رسی نيولې ده، او کشوي ئې.
په هغه سړو انسانانو کي يوه د ذباب سپي ته وکتل، او ورته وئې ويل: حياضه! ښکار کول پرېږده، محمد رسول الله دنيا ته تشريف راوړی دی، او د الله تعالیٰ د توحيد د پيغام رسولو وخت دی.
ذباب چيکله دا خبره واورېدله، نو بدن ئې ورېږدېدی، او "حياض" سپی هم ډېر په حيرت او تشويش کي دی، چي کله د شپې کورته راورسېدل، نو "زباب" پخپل کور کي بېده دی، نو په غوږ کي ئې يو آواز راغلی، چي سترګي ئې راروښي کړې، نو که ګوري! هغه تور سپی چي د حبشي غلام په لاس کي وو، د ده دخپل سپي "حياض" سره خبري کوي، "حياض" هغه سپي ته وويل: لږ صبر وکړه، اوس کور والا ويښ دی. بيا زما او ستا خبري اوري، ذباب چيکله د دوی دا خبره واورېدله، نو سترګي ئې بندي کړې، او ساه ئې د بيده انسان په شکل اخيستله، "حياض" سپی خپل مالک "ذباب" ته راغلی، او په غور سره ئې ورته وکتل دا ئې يقين سو: چي دی بيده دی، مګر هغه مالک په حقيقت کي ويښ وو، او د دوی پر خبرو ئې غوږ نيولی وو.
"حياض" هغه بل سپی ته وويل: چي اوس راتهووايه: څه راته وايي؟ زما مالک بيده دی، هغه زما او ستا خبره نه اوري، نو هغه تور سپي خبره ورته شروع کړه، او ورته وئې ويل: چي حياضه! تاهغه دواړه سواره خلک وليدل، چي غټ بدنونه ئې ول، دا هغه قوي جنات ول: او دا دهغه جناتو څخه ول: چي د پيغمبر ﷺ څخه ئې قرآن اورېدلی وو، او بيا مسلمانان سوي وو، او پيغمبر ﷺ د خپل طرف څخه هغه جناتو ته چي د مځکي پر مخ اوسيږي، او پر هغه شيطانانو چي په مځکي کي خواره واره دي دوی

مقرر او مسلط کړي دي، چي کم جنات او شیطانان د بتانو د نس څخه خبري کوي، او انسانان ګمراه کوي، دوی به هغه د دغه عمل څخه راګرځوي.
هغه دوو جناتو زه ونیولم، او زیات ئې ووهلم، او زما څخه ئې دا عهد واخیستی: چي نه به زه اوس یو بت لره ورځم، او نه به بیا دغه عمل کوم.
اې حیاضه! زه خو اوس د هندوستان د جزیرو پر طرف ځم، او هلته خپله زندګي اختیاروم، ستا څه اراده ده؟ هغه حیاض نامي سپي په جواب کي ورته وویل: چي کمه ستا اراده ده، هغه زما اراده ده، نو دواړه د هغه کور څخه ووتل، او داسي غائب سول. چي بیا هیڅکله هلته چا نه ولیدل.
سهار چیکله ذباب راپورته سو، نو دغه د شپې خپله واقعه ئې ټوله قوم ته بیان کړه، او ورته وئې ویل: چي زه مکې مکرمې ته ځم، چي د کم نبي هلته بعثت سوی دی، د هغه په زیارت کولو ځان مشرف کوم.
د ذباب قوم ورته وویل: چي سړیه! ته د خپل دین څخه بې زاره سوی ئې، زباب خپل قوم ته مصلحتاً څه جواب ورنه کړی، مګر چي د دوی څخه جلا سو، کور ته راغلی، خپل بت ئې ټکړې ټکړې کړی، او د پیغمبر ﷺ خدمت ته راغلی.
پیغمبر ﷺ چیکله دی د لیري څخه ولیدی، نو صحابه وو ته ئې وویل: چي ګورئ! دې سړي یو عجیبه واقعه لیدلې ده، چي د مسلمان کېدلو په اراده را روان دی، بیا پیغمبر ﷺ د صحابه وو په مخ کي د ده څخه هغه د شپې واقعه واورېدله، او ده ته ئې کلمه طیبه وویله، او دی ئې مسلمان کړی، او هم ئې د قرآن کریم یو څه تلاوت ورته وکړی.(١)
نو په حقیقت کي دا هغه قرآن کریم چي د ځمکي پر مخ به ئې انسانان د خپل فصاحت او د خپل صداقت عاشقان جوړول، د دغه قرآن کریم د نازلېدلو څخه مخکي په دنیا کي چي کم حالت بیا خاص چي دعربو کم جهالت وو، هغه پر ټولو مؤرخینو باندي واضح وو.
دا یو حقیقت وو: چي په ټوله دنیا کي د عربو د جهالت او د ضلالت نمونه پیدا کول محاله وه، او د عربو د ټولو څخه لویه خرابي او بربادي دا وه: چي هغوی به خپل

(١) مواعظ ابراهیمي: احسن المواعظ: صفحه نمبر ۴۶، ۴۷، ۴۸

جهالت د الله تعالی په ذات کي کاوی، نو نورو قومو هم زندګي په بت پرستي کي تېره کړه، خو لیکن د عربو د بت پرستۍ مثال په دنیا کي پیدا کول ډېر مشکل وو.

## د جهالت په دور کي د عربو حالت:

په مسند دارمی کي یو روایت راځي:

............كَانَ الرَّجُلُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا سَافَرَ، حَمَلَ مَعَهُ أَرْبَعَةَ أَحْجَارٍ ثَلَاثَةٌ لِقِدْرِهِ وَالرَّابِعُ يَعْبُدُهُ، وَيُرَبِّي كَلْبَهُ، وَيَقْتُلُ وَلَدَهُ﴾.(۱)

د عربو د جاهلیت دا حال وو: چي کله به پر سفر تلل، نو د لاري څخه به ئې د ځان سره څلور ډبري راواخیستې، په درو ډبرو به ئې استنجاء کوله، او په هغه څلورو کي به ئې یوه ډبره د خپل ځان خدای جوړه کړه، او هغه ته به ئې سجده کوله، ډېر ځله به ئې خپل بچیان قتلول، د هغوی پر ځای به ئې سپیان ساتل.

## د جهالت انتهاء:

په "روح البیان" کي د جاهلیت د دور یو واقعه رانقل سوېده، چي په یمن کي یو سړی وو، د هغه نوم: اساف وو، او د ده دوستي د یو زناني سره وه، چي د هغه نوم: نائله وو، د دوی دواړو سره دوستي وه، او دواړه د یمن اوسېدونکي وو، او هغه دوستي ئې د زنا او د ناجائزو تعلقاتو تر حده رسېدلې وه.

اتفاقاً دوی دواړه د جاهلیت د رسم او رواج مطابق حج ته راغلل، چیکله کعبه ته ور ننوتل، ده او هغه زناني په کعبه کي د ننه "نعوذ بالله" دواړو زنا سره وکړه.

فوراً دالله تعالی قهر ور باندي نازل سو، او الله تعالی دوی دواړه مسخه کړل، او په ډبرو باندي بدل سو، د مکې خلګو د کعبې د دننه څخه راوایستل، او دباندي ئې د کعبې د دروازو سره وغورځول.

چیکله یو څو ورځي ور باندي تیري سولې، نو دغه ملعون بتان چي د الله تعالی د قهر په وجه په ډبرو بدل سوي ول، د مکې خلګو د ځان لپاره خدایان جوړ کړل، او په مکه مکرمه کي ئې کښېښوول، او په ډېر شوق او ذوق سره د هغوی عبادت کاوی، چنانچه

(۱) سنن الدارمی: حدیث نمبر ۳

پېغمبر ﷺ هم د دغه بتانو عبادت کول ليدلي وو، نو دعربو حماقت، جهالت او بې علمي د تمامي دنيا د بت پرستانو او جاهلانو څخه زياته وه.
د هر قوم بت پرستانو به د خپلو بزرگانو او دنيکو انسانانو يو څه تصويرونه جوړول، بيا به ئې د هغه تصويرو او شکلو عبادتونه کول، مگر د عربو پر عقل داسي پردې غوړېدلي وي، چي هغه دوه(۲) بدکار او زناکاره انسانان چي الله تعالی د لعنت په خاطر هغه په ډبرو بدل کړي وو، د ځان لپاره خدايان جوړ کړل، بيا دا ظلم: چي عين د بيت الله د طواف په دوران کي د هغه ناپاکه بتانو ته سجدې کول.(١)

*چون کفر از کعبہ بر خیزد ......... کجا ماند مسلمانی*

## د پېغمبر ﷺ د صحبت اثر :

نو چي کم انسانان په جهالت کي دغه حالت ته رسېدلي وو، او د بت پرستۍ په شوق کي داسي مستغرق وو: چي د مځکي پر مخ په ټولو اقوامو کي د هغه نظير انسان نسو ليدلای.
د پېغمبر ﷺ په صحبت باندي د بتانو د عبادت پر ځای د الله تعالی په عبادت کي هم دغسي مستغرق وگرځېدل، او پر داسي هدايت باندي راغلل، چي د پېغمبر ﷺ صحابه جوړ سول، چي د هغوی د هدايت نظير هم نن د دنيا په ټولو اقوامو کي څوک نسي پيدا کولای.

(١) روح البيان: فی تفسير سورة البقره: ايت نمبر ۱۵۸

## د حضرت ابوریحانه رضی الله عنه واقعه:

صحابه وو ته الله تعالی عجیبه د عبادت ذوق ور نصیب کړی وو، او عجیبه پر دین مین انسانان وو، حضرت ابو ریحانه رضی الله عنه د پیغمبرﷺ صحابي دی، یو ځل په یو جهادي سفر کي ولاړی، تر شا ئې زنانه او ماشومان بچي پاته سول، غالباً درې(۳) کاله مسلسل د هغه سفر روان وو، او هغه زناني او بچي د ده انتظار کوي، کله کله ئې د شهادت خبر راسي، او کله ئې بیا بیرته د ژوند حال راورسیږي.

خو آخر درې(۳) کاله بعد د مجاهدینو قافله مدینې منورې ته راغله، حضرت ابوریحانه رضی الله عنه د هغه قافلې سره مدینې منورې ته یعني خپل کورته راغلی، ماشومان او زنانه ډېر ورته خوشحاله دي، دی د ماخستن لمونځ په مسجد نبوي کي کوي، او بیا به خپل کورته راځي، او زما او د بچیانو به دده سره ملاقات وي.

نو هغه زناني د خپل کور صفائي وکړله، او بچیان ئې ولمبول، او د خپل وسع مطابق ئې صفا جامې ور واغوستې، چي نن خو د ډېر او ږده سفر څخه بعد خاوند را رسېدلی دی. او د ماخستن د لمانځه څخه بعد به کورته راځي.

ده چیکله د ماخستن لمونځ په مسجد نبوي کي وکړی، او کورته راغلی، نو زنانه او بچي ورته ولاړ دي، نو دی هغوی ته وايي: چي زه یو دوه رکعته لمونځ کوم، د هغه څخه وروسته به بیا خبري کوو.

دی چیکله پر لمانځه باندي ودرېدی، هغه لمونځ دومره ځني اوږد سو: چي د شپې یوه حصه تېره سوه، هغه ماشومان پر هغه ځای ورته بېده سو، چیکله د سهار سپېدې را چاودلې، نو ده د دوه(۲) رکعته لمانځه څخه سلام په وګرځاوی.

هغه زنانه ورته ناسته ده، وايي: یا ابا ریحانه!

...........﴿ذَهَبْتَ، وَ عَبَدْتَ، وَ رَجَعْتَ، اَمَا لَنَا مِنْكَ نَصِيبٌ﴾.

ې ابو ريحانه! ولاړې، درې (۳) کاله دې په جهاد ې سفر کې تېر کړل، او عبادتونه دې وکړل، او بيرته الله تعالى سلامت تر خپله کوره راوستلې، او دلته هم ټوله شپه عبادت کې تېروې، ايا موږ هيڅ حق نه لرو، چې پر موږ دې يو پو ښتنه کړې وای؟

دی ورته وايي: "نسيت والله!" په الله تعالى قسم! را څخه هير سولاست، هغه زنانه ورته وايي:

........نانسيتُ، بَلْ نُسيتَ﴾.

د. څخه هير سوي نه يو، بلکه تا هير کړلو، کچيري ته په حالت د سفر کې وای، موږ د څخه هير سوي وای، خو څه خبره وه، ليکن موږ دلته حاضر په انتظار درته ناست يو، نو ته مې ويني، او بيا دا وايي: چې زما څخه هير سولاست.

دی آخر خپل حال ور شريکوي، ورته وايي: اې زناني! چيکله ما د لمانځه نيت وتاړی، نو د جنت په نعمتونو او د جهنم په عذابونو کي داسي ورک سولم، چې په الله تعالى قسم! تاسو خو څه کوئ، دنيا او مافيها ټوله زما د دماغ څخه ووتله.(۱)

نو د پېغمبر ﷺ د صحبت څخه مخکي چې د هغه خلګو په بت پرستي او جهالت کي چې کم حال وو، نو د پېغمبر ﷺ د بعثت څخه وروسته بيا د هغه خلګو د الله تعالى په تعلق او د هغه په عشق او عبادت کي هم دې حالت کي ورسېدل.

نو د پېغمبر ﷺ بعثت د دې امت لپاره په هغه نعمتو کي يو نعمت وو، چې د هغه نعم البدل بيا په نورو نعمتو کي نسو پيدا کيدلای.

الله تعالى دې موږ او تاسو د پېغمبر ﷺ د امتيت څخه نه محرومه کوي، او هم دې مې د قيامت په ميدان کي د پېغمبر ﷺ شفاعت په کامله درجه را نصيب کړي.

(۱) بيانات جميل: صفحه نمبر ۵۰

او الله تعالی دي دغه څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د پیغمبر ﷺ بعثت، دویمه حصه

## (بیان)


مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْــــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿إِنَّمَا بَعَثْتُ مُعَلِّمًا وَلَمْ أُبْعَثْ مُتَعَنِّتًا﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلک مِنَ الشّٰاهِدِيْنَ وَالشّٰاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! په تېره جمعه کي مي د دې خبري مذاکره کړېوه: چي د پیغمبر ﷺ وجود د دې امت لپاره یو عظیم رحمت وو، او دی مبارک د ټولي دنیا د انسانانو لپاره د رحمت په شکل الله تعالی دې دنیا ته مبعوث کړئولی وو.

او د ده په زړه کي الله تعالی د ټوله انسانیت بالعموم محبت ور اچولی وو، او د خپل امت د انسانانو سره ئې بالخصوص محبت وو، د دې مثال داسي دی: لکه یو مور چي هغه د زنانو د جنسه ښځه ده، د هغې په زړه کي د عامو بچیانو سره فطرتاً محبت وي، او د خپلو بچیانو سره ئې بیا خاص مینه وي.

کچیري یو ځای یو څه کسان نارینه موجود وي، او د هغه و مخته ته یو بچی وژاړي، نو هغه د هغه بچي و طرفته دومره زیات نه متوجه کیږي، لیکن کچیري هلته نژدې زنانه وي، نو بیا د هغې زړه فوراً خوړل کیږي، او دا به بې اختیاره ور ولاړېږي، او دا به

(۱) سورة الانبياء: آیت نمبر ۱۰۷

(۲) مسند المستخرج علی صحیح مسلم لابی نعیم: حدیث نمبر ۳۴۹۲

معلومه وي: چي دغه ماشوم ولي ژاړي، او هم به د هغه د آراموولو لپاره پوره کوشش کوي.
لکه د مور چي د خپلو بچيانو سره څنګه محبت وي، نو د پيغمبر ﷺ هم د خپل امت سره دا شان محبت دی، بلکه که د ټولو دنيا د ميندو محبت راټول سي، او هغه د پيغمبر ﷺ د محبت په مقابل کي کښېښوول سي، نو د هغه ميندو محبت د پيغمبر ﷺ د محبت لسمه حصه هم نسي جوړېدلای.
لکه يو مور چيٰ د خپل بچي تکليف نسي ليدلای، داغه رنګه چي کم عمل د پيغمبر ﷺ پر امتيانو باندي تکليفه وو، نو پيغمبر ﷺ به هم د هغه د آسانۍ ډېره غوښتنه کوله.

## عجيبه مقدمه:

په يو کتاب کي ليکلي دي: يو ځل يو دوې(۲) زناني په ځنګله کي د خپلو دوو(۲) ماشومانو بچيانو سره سفر کوي، نو د ځنګله يو حيوان راغلی، او د يوې زناني بچی ئې ځني يووړی.
هغه زناني دستي د هغه بلي زناني په بچي باندي دعوه وکړه، نو د دوی په مايين کي دعوه جوړه ده، يوه هم د هغه بچي دعوه کوي، چي دا زما بچی دی، او هغه بله هم د هغه بچي دعوه داره ده.
مقدمه چيکله د قاضي عدالت ته راغله، نو د وخت قاضي ددوی څخه دلائل طلب کړل، ليکن قاضي ته د يوې پر دلائلو باندي هم اطمينان نسته، چي د ی فيصله ور باندي وکړي.
آخر ئې د هغه زناني په مخ کي دا فيصله وکړه: چي زه دغه بچی دوې ټکړې کوم، او تاسو ته يوه يوه ټکړه در کوم، په هغه زنانو کي يوه د دې بچي و ټکړه کولو ته تياره سوه، هغه بلي زناني قاضي ته وويل: چي بچی مه ټکړه کوه، بس! بچی دغه زناني ته ورکړه، زه به ئې کله نا کله وينم، په هغه باندي به د خپل زړه تسلي کوم.
د دې څخه قاضي ته اندازه دستي ولګېدله، چي په هغه دوو(۲) زنانو کي بچی د چا دی، نو ګويا: مور خپل ځان قربانوي، مګر د بچي تکليف هرګز نسي ليدلای.

دارنګه پېغمبرﷺ د دې امت چې څومره سختۍ وې، هغه ئې ټولې پر خپل ځان باندې تيرې کړلې، خو د دې امت لپاره د آسانۍ ډېر زيات طلبګاره وو.

## په هر کار کې د امت لپاره رحمت:

ما مخکې درته وويل: چې د پېغمبرﷺ بعثت د ټوله عالم د انسانانو لپاره بالعموم رحمت وو، او د خپل امت د ګناهګارانو لپاره بالخصوص رحمت وو، چنانچه د ده هر عمل الله تعالى د دې امت لپاره د رحمت ذريعه جوړه کړېوه.

په رواياتو کې راځي: يو ځل پېغمبرﷺ د ماپښين يا ماځيګر په لمانځه کې د څلورو(۴) رکعتو نيت وتړی، چيکله ئې دوه(۲) رکعته پوره کړل، نو ئې سلام په وګرځاوی، په صحابه کرامو کې ډېر زيات ادب وو، هغوی دانسو ورته ويلای: چې اې د الله تعالى رسوله! تا د څلورو رکعتو پر ځای پر دوه(۲) رکعته باندې سلام په وګرځاوی.

خو په صحابه وو کې يو صحابي وو، چې د هغه نوم: "عرباض بن ساريه" او لقب ئې: "ذواليدين" وو، او د پېغمبرﷺ سره به ئې ډېرې خبرې کولې، او پر پېغمبرﷺ باندې ډېر ګران هم وو، هغه د پېغمبرﷺ څخه پوښتنه وکړه:

............أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ يَا رَسُولَ اللهِ، أَمْ نَسِيتَ؟﴾.

اې د الله تعالى رسوله! دا لمونځ اوس د آسمان څخه کم سو، او که ستا څخه هير سو، چې دا د څلورو پر ځای دوه(۲) رکعته وکړو؟

پېغمبرﷺ ورته فرمايي:

............كُلُّ ذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ﴾.

يو لا هم ندی: يعني: نه د آسمان څخه په لمانځه کې کمی راغلی دی، او نه زما څخه هير سوی دی، خو ذواليدين صحابي پر خپل خبره باندې کلک ولاړ دی، او ورته وايي:

............قَدْ كَانَ بَعْضُ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ!﴾.

يو څه خو خامخا دي، اې د الله تعالى رسوله! يا به الله تعالى د اسمان څخه کم کړې وي، او يا خو ستا څخه هير سو، ځکه چي تا د څلورو (۴) رکعتو پر ځاى پر دوه (۲) رکعته باندي سلام په وګرځاوى.
د هغه څخه وروسته پېغمبر ﷺ د نورو صحابه وو څخه پوښتنه وکړله: چي دغه ذواليدين چي څه وايي: ايا دا صحيح ده؟ نو ټولو صحابه وو د ذواليدين د خبري تصديق وکړى، نو پېغمبر ﷺ ولاړ سو، هغه نور دوه رکعته لمونځ ئې هم ور پسي پوره کړى، او بيا ئې په آخر کي سجده سهو وکړه، او دا هغه زمانه وه، چي د لمانځه په مابين کي خبري کول جائز وو.
د لمانځه کولو څخه وروسته پېغمبر ﷺ صحابه وو ته وفرمايل:
............لَا نَسِيْتُ بَلْ نُسِيْتُ﴾.
ما لمونځ هير کړى ندى، بلکه الله تعالى زما څخه هير کړى، او الله تعالى په دغه هيرولو کي دا حکمت در لودى: چي د امت د انسانانو و مخته د "سجده سهو" مسئله ښکاره سي.
نو چي د کم محبوب نبي هيره هم د امت لپاره رحمت وو، نو د هغه به د هوش او د بيدارى په حالاتو کي اعمال کول د امت لپاره څومره عظيم رحمت وو.

## د پېغمبر ﷺ خوب هم رحمت وو:

په رواياتو کي راځي: يو ځل پېغمبر ﷺ د صحابه وو سره ملګرى د جهاد څخه واپس را روان دى، پر لاري باندي شپه ور باندي راغله، د شپې په وخت کي ده حضرت بلال رضي الله عنه پيردار مقرر کړى، او ورته وئې ويل: چي د سهار د لمانځه لپاره موږ ټوله راکښېنوه.
صحابه کرام ټوله په آرام باندي بيده سوه، حضرت بلال رضي الله عنه پيره کوي، او د پيرې په دوران کي يو ځاى ئې ځنګ ولګاوى، نو الله تعالى پر ده باندي خوب مسلط کړى، تر دې حده چي لمر راوخاتى. چي کله لمر د پېغمبر ﷺ پر مخ مبارک باندي ولګېدى، نو دى را پورته سو او حضرت بلال رضي الله عنه ته ئې وويل: اې بلاله! ته هم بيده سوى ئې، او موږ دي هم نه راکښېنولو.

حضرت بلال رضي الله عنه ورته وفرمايل: اې دالله تعالى رسوله! چې کم ذات پر تاسو خوب مسلط کړی، هغه ذات پر ما هم خوب غالبه کړی، پېغمبر ﷺ ورته وفرمايل: چې الله تعالى پر موږ ټولو خوب مسلط کړی، او زموږ څخه ئې لمونځ قضا کړی، په دې کې د الله تعالى دا حکمت وو: چې ستاسو و مخته د قضا لمانځه ادا کولو مسئله ښکاره سي، نو دا ډېره د فکر خبره ده: چې د کم نبي خوب او لمونځ قضا کول د امت لپاره رحمت وو، د هغه په ويښو باندې اعمال به څومره لوی رحمت وو.

په حديث شريف کې راځي: چې پېغمبر ﷺ به همېشه دا دعا غوښته: اې الله! کچيري زما په امت کې زه يو چاته ښيرا وکړم، او يا يو چاته بده خبره وکړم، ته زما ښيرا او زما بده خبره د هغه سړي په حق کې رحمت جوړه کړه، او هغه ته خپل قرب او نږدېکت ور نصيب کړه.

چې د کم محبوب د ژبې څخه بالفرض ښرا ووزي، او بده کلمه ادا سي، نو هغه هم رحمت جوړېږي، نو د هغه محبوب د ژبې څخه د رضا او خوشحالۍ په حالت کې د خپل امت لپاره دعاگاني راووزي، نو هغه به بيا څنگه د قبوليت مقام ته نه رسيږي.

## د پېغمبر ﷺ بعثت:

چيکله د مځکي پر مخ د عربو جهالت او د ژوند تاريکي د حد څخه تېره سوه، او د هغوی ژوند د ذلت او رسوائي حد ته ورسېدی، نو الله تعالى د دوی پر هغه ستړي حالت باندې رحم وکړی، او د ټولو انبياؤو سرتاج نبي عربي ﷺ ئې د دوی د هدايت لپاره راواستاوی، او د ټولو کتابو څخه افضل کتاب ئې د دوی لپاره دستور العمل جوړ کړی.

چې يو دم لکه په توره شپه کې چې روښانه لمر راپورته سي، او الله تعالى پر پېغمبر ﷺ باندې وحي نازلېدل شروع کړل، چې هغه د ټوله انسانيت د هدايت لپاره د الله تعالى لطرفه يو آسماني پيغام وو.

## د عربو د جاهلیت داستان:

په تیره جمعه کي مي دا خبره کړېوه: چي په "یمن" کي یو "بت پرست" وو، چي د هغه نوم "آساف" وو، او یو زنانه بت پرسته چي د هغې نوم: "نائله" وو، دا دواړه د یمن اوسېدونکي وو، او په مابین کي ئې د ناجائزه دوستۍ تعلق وو.

اتفاقاً یو وخت دوی دواړه د جاهلیت د رسم او رواج مطابق حج لره راغلو، چیکله کعبه شریفه ته ورننوتل، نو هغه ظالمانو د کعبې په نس کي زنا سره وکړه، فوراً پر دوی باندي د الله تعالی قهر نازل سو، او دواړه الله تعالی مسخه کړل، او جسدونه ئې په ډبرو باندي بدل سول.

د مکې خلکو دوی د مکې څخه راوایستل، او دواړه ئې د کعبې د دورازو سره یو یو طرفته او بل بل طرفته وغورځول، یو څو ورځي بعد هغه خلکو دغه ملعونان د ځانو لپاره خدایان جوړ کړل، او په مکه کي ئې د ننه کښېښوول، او په ډېر شوق او ذوق ئې د هغوی عبادت شروع کړی، چنانچه پیغمبر ﷺ هم هغه بتان لیدل، چي خلکو به ئې عبادت کاوی، خو بالاخر الله تعالی د ده په مبارکو لاسو د هغه ځای څخه هغه بتان لیري کړل.

د عربو حماقت او بې علمي د ټولي دنیا د جاهلانو او بت پرستانو څخه زیاته وه، د هر قوم بت پرستانو به د خپلو بزرګانو او نیکو انسانانو جسدونه او تصویرونه جوړ کړل، او بیا به ئې د هغه جسدو او تصویرو عبادت کاوی.

مګر د عربو پر عقل باندي الله تعالی داسي د جهالت پردې غوړولي وې: چي دوه بدکاره انسانان چي د الله تعالی په لعنت کي ګرفتاره ګرځېدلي وو، د خپل ځان لپاره خدایان جوړ کړل، پر هغه سربېره دا ظلم هم وو: چي عین په کعبه کي د ننه د طواف سره به ئې د هغه ناپاکه بتانو عبادت هم کاوی.

په مسند دارمي کي امام مجاهد د خپل استاذ څخه یو حکایت رانقل کوي: چي هغه ماته ویل:

............أنَّ أهْلَهُ بَعثُوا مَعَهُ بِقدَحٍ فِيهِ زُبْدٌ ولَبنٌ إلى آلِهَتِهِمْ﴾.

یو ورځ د جاهلیت په زمانه کي د خپل کور انسانانو ماته په یوه پیاله کي کوچي او په ده کښي شودې راکړې، او زه ئې هغه بتانو ته ور واستولم، او دا ئې راته وویل:

پلان پلان بت چي زموږ معبودان دي، هغوی ته ئې ور وړه، دا د هغوی نذرانه ده، بیا ئې "اساف" او "نائله" خاص را یاد کړل، چي د هغوی و مختـه ئې د تبرک لپاره کښېږده.

دی وایي: چي ما د دوی د حکم پوره کولو په خاطر هغه لوښي راوړل، او په لاره کي مي زړه ډېر غوښتل: چي دغه نعمت په خپله وخورم، مګر د هغه بتانو د بیري پخاطر مي نه وخوړل، او د هغه بتانو و مختـه ته مي کښېښول.

زه ورته ګورم: چي هلته یو سپی راغلی، چي کم لوښي ما هغه بتانو ته ایښي ول، هغه ئې دواړه و څټل، او هغه شودې او کوچي ئې ټول وخوړل، او چیکله تلل، نو د هغه بتانو پر سرو باندي ئې بولي ور وکړې، او څني ولاړل.

نو هلته د جهالت حالات دغه حد ته رسېدلي وو، د دغسي واقعاتو څخه عبرت حاصلول خو څه کوې، بلکه دغسي شرمناکه واقعې به ئې هم یو غیبي اسرار بلل.

بیا یو څه زمانه بعد د مکې خلګو هغه دواړه بتان د دې ځای څخه پورته کړل، یو ئې د صفا پر غره دوهم ئې د مروی پر غره کښېښوول، اوس خو به ئې د دغه بتانو لپاره احرام هم تړی، او پر دوی به ئې طواف کاوی، او په دغه شکل به د دوی حج تکمیل ته رسېدی. (۱)

په تاریخ ابن اثیر کي د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه یو روایت دی، چي د جاهلیت په زمانه کي د عربو بت پرستانو دا حالت وو: چي کله به ئې د یو بت عبادت کاوی، یو څه زمانه به تېره سوه، نو دستي به د بل بت په تلاش کي ول، بیا چي به یو ځای یو ښائسته ډبره په لاس ورغله، نو رابه ئې وړله، هغه زوړ بت او ډبره به ئې وغورځوله، او د هغه پر ځای به ئې د دې نوي بت او ډبري عبادت شروع کړی. (۲)

په سنن دارمي کي "ابو رجاء" فرمایي: چي موږ عرب خلک خانه بدوش او کوچیان وو، او ډېره زندګي به مي په سفرونو کي تېرېدله، چیکله به یو منزل ته راغلو، او هلته به مي یوه شپه او ورځ تېروله، نو بیا به مي د ځان لپاره خدای په دا شکل جوړاوی، چي یو څه خاوره به مي سره راجمعه کړه، او پر هغه به مي د شودو یو حیوان ولویشی.

---

(۱) سنن دارمي: حدیث نمبر ۳

(۲) مواعظ ابراهیمي، احسن المواعظ: صفحه نمبر ۴۹

چیکله به پر هغه خاوره د شودو یو څه ځاځکي ولوېدل، نو دا به زموږ لپاره خدای جوړ سو، چي تر څو به په دغه ځای کي زموږ قیام وو، د دغه خاوري به مي عبادت کاوی.
او چیکم وخت به د هغه ځای څخه په سفر روان سول، هغه خدای به مي هلته پرېښووی.
او دوهم منزل ته به را ورسېدل، نو بیا به مي دغسي خدای جوړاوی. اوهم به مي عبادت ورته کاوی، چي څومره منزلونه به موږ پرېکول، هغومره خدایان به مي جوړول، د یو څه عبادت کولو څخه وروسته به مي هلته پرېښوول.(۱)
په دلائل ابو نعیم کي یو روایت دی: چي د جاهلیت په دور کي یو سړی په عربو کي وو، چي د هغه نوم: "ظالم" وو، او هغه یو سپی پاللی وو، چي د هغه نوم "راشد" وو.
تاسو گورئ! د هغه انسانانو عقل دې حد ته رسېدلی و، انسان چي اشرف المخلوقات دی، د هغه نوم ئې "ظالم" ایښی وو، چي په ټوله دنیا کي بد ترین نوم دی.
او سپی چي ارذل المخلوقات دی، د هغه نوم ئې "راشد" چي د ټولو څخه زیات ښه صفت او ښه نوم دی، ایښی وو.
چیکله دا سړی مشرف په اسلام سو، او د پېغمبر ﷺ حضور ته راغلی، نو پېغمبر ﷺ د ده څخه د نامه پوښتنه وکړه، نو ده ورته وویل: چي زما نوم: "ظالم" دی، او زما د سپي نوم: "راشد" دی، پېغمبر ﷺ تبسم ور باندي وکړی، او ورته وئې ویل: چي د نن څخه بعد چي ستا د سپي نوم دی، هغه به ستا نوم وي، او چي ستا کم نوم دی، هغه به ستا د سپي نوم وي، اوماته دا ډېره مناسبه را معلومیږي، نو د هغه ورځي څخه د هغه سړي نوم "راشد" وگرځېدی.
اوس دا هم ممکنه وه: چي پېغمبر ﷺ د هغه نوم: "عبدالله" یا "عبدالرحمن" یا نور نمونه ور باندي ایښي وای، چیکم نوم د سپي وو، هغه ئې ولي پر دې انسان کښېښووی، حالانکه هغه سپی په دغه نامه مشهوره سوی وو.
پدې کي باطني تعلیم پېغمبر ﷺ امت ته ور کاوی، هغه دا: چي خلک د پېغمبر ﷺ و مختته تر څو پوري خپل ځانونه داسي تابع جوړ نه کړي: لکه هغه سپی چي د مالک څنگه تابع وي، نو پدې پوه سئ: چي د اسلام څخه بیا دوی هیڅ فائده نسي اخیستلای، چي تر څو پوري د سپي غوندي د پېغمبر ﷺ غلامي و نه کړي، تر هغه

(۱) سنن دارمي: بحواله حسن المواعظ: صفحه نمبر ۴۹

وخته پوري سرداري ته ځان نسي رسولای، لکه څنګه کي راشد سپی ستا و مخته دی، داغه رنګه به ته اوس د پېغمبر ﷺ و مخته ځان جوړوې.

په دلائل ابو نعيم کي د دغه صحابي د اسلام راوړلو وجه دا ليکلې وه: چي يوه ورځ د ده قوم ډېري نذرانې ده ته ورکړې، او "سواغ" نامي بت ته ئې ور واستاوی، چي دا ټولي ور وړه، او د "سواغ" نامي بت و خدمت ته ئې پيش کړه.

"راشد" هغه تحفې "سواغ" بت راوړې، چيکم وخت ده هغه تحفې "سواغ" بت ته نذرانه کولې، نو يو دم د بت څخه دا آواز راغلی:

............الْعَجَبُ كُلُّ الْعَجَبِ، مِنْ خُرُوجِ نَبِيٍّ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ﴾.

د تعجب خبره دا ده: چي يو نبي د عبد المطلب د اولاد څخه دې دنيا ته تشريف راوړی، راشد د بت د خولې څخه چيکله دا کلام واورېدی، نو ډېر حيران پاته سو، مصلحتاً هغه وخت دی خپل کورته واپس راغلی، مګر د شپې په آخره حصه کي د صبح صادق په وخت هغه بت ته راغلی.

که ګوري: يو څه بيزوګياني او ګيدړاني هغه بت ته ولاړي دي، چي څه شی د بت و مخته پروت وو، هغه ئې ټول ځني خوړلی دی، او د بت پر سر باندي بولي کوي، دغه ناپاکه واقعه چي ده وليدله، نو د ده په زړه کي نفرت پيدا سو، او دا شعر به ئې وايي:

أَرَبٌّ يَبُولُ الثُّعْلُبَانِ بِرَأْسِهِ ... لَقَدْ ذَلَّ مَنْ بَالَتْ عَلَيْهِ الثَّعَالِبُ

ايا هغه څوک هم خدای کيدلای سي: چي د هغه پر مخ او سر باندي حيوانان بولي کوي، او هغه عاجزه دوی د خپل ځان څخه نسي منعه کولای، نو د هغه ورځي څخه دی د پېغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سو، او د اسلام کلمه ئې وويله، او مشرف په اسلام سو.(١)

دغه رنګه يو واقعه د حضرت ابوذر رضي الله عنه سره هم سوې وه، ده يو ځل په سفر کي د ځان سره خپل لوی بت اخيستی وو، د شام په وطن کي يو ځای ده قيام کاوی، او هلته ئې شپه تېروله، د خيمې و مخته يو مناسب ځای ئې خاوره سره را ټوله کړه، او هغه ځای

---

(١) د لائل النبوه لابي نعيم الاصبهانی: حديث نمبر ۲۸

ئې برابر کړی، او هغه خپل خدای چې د بت په شکل وو، پر هغه ځای ئې کښېښووی. او دی د خپل حاجت پوره کولو لپاره ځنګله ته ولاړی.
چیکله واپس راغلی، نو د ده هغه خدای ټوله په اوبو باندې ګند دی، لکه هغه چې دا اوس اوس غسل کړی وي، او اوبه ور باندې رواني وي، موسم ډېر ګرم او خشک دی. او د عربو ځنګل دی، هلته اوبه یو څاڅکی هم نه پیدا کیږي، نو دی حیران سو، چې دلته اوبه د کمي خوا راغلې، چې دغه بت غسل ور باندې وکړی.
نو په تعجب سره ئې دا ویل:
..........لَمْ تَمْطِرِ السَّمَاءُ قَطْرًا فَمَنْ مَطَرَتْ عَلَيْكَ مَطَلٌ﴾.
اې زما بته! د آسمان څخه یو څاڅکی باران ندی راغلی، او نه د مځکي څخه اوبه راوتلي دي، تاته دغه د غسل اوبه د کمي خوا څخه راغلې.
آخر د واقعې د حقیقت معلومولو په غرض د خیمې و یو کنج ته ورته ودرېدی، که ګوري: لږ ګړی بعد یوه ګیدړه راغله، او بت ته ودرېده، اول ئې پر هغه بت باندې بوی وکښی، بیا ئې د خپل عادت مطابق پښه پورته کړله، او د بت پر سر ئې بولي ور وکړلې.
حضرت ابوذر ﷺ چې پخپلو سترګو دغه واقعه ولیدله، نو ئې د ځان سره دا وویل: چې زما خدای پخپله پداسي ګنده او نجسو اوبو باندې غسل کوي، نو بیا به بندګانو ته تر دې ښه او صفا اوبه څنګه ور پیدا کړي.
نو فوراً د پیغمبر ﷺ حضور ته راغلی، او دغه واقعه ئې ورته پیش کړه، او د بتانو څخه ئې نفرت ور ته ښکاره کړی، او د پیغمبر ﷺ پر لاس ئې د شهادت کلمه وویله، او مشرف په اسلام سو. (۱)
چیکله هغه انسانانو ته د پیغمبر ﷺ په شکل کي د الله تعالی رحمت راورسېدی، او دوی د هغه په صحبت کي ژوند تېر کړی، د هغه دا ښائسته ژوند دوی و خپل ځان ته داسي را نژدې کړل: چې بیا د دوی ټوله زندګي د هغه په خوی او بوی وګرځېده.

(۱) مواعظ ابراهیمي، احسن المواعظ: صفحه نمبر ۵۱

## د پيغمبر ﷺ د علم او عمل محافظين:

هغه انسانانو د دغه محبوب ﷺ څخه دين ازده كړى، او هغه ئې پر خپلو ځانو عملي كړى، چي دوى د هغه د علم او عمل د دواړو محافظين جوړ سول.

هغوى د ده هداياتو ته پخپلو دماغو كي ځاى ور كړى، او هم ئې پر خپلو اعضاء او جوارحو باندي عملي كړى، نو گويا: دوى د هغه د علم او عمل حفاظت وكړى، او دوى ته د پيغمبر ﷺ د صحابه كرامو لقبونه وركول سول.

بيا هغه صحابه كرام د پيغمبر ﷺ د ټولو اعمالو محافظين ول، او د ده د عاشقانو يو مجمع وه، او د الله تعالى يو منتخب جماعت وو، چي د هغوى د پيغمبر ﷺ پر سنتو طريقو باندي د عمل كولو داسي شوق وو: چي د دوى رفتار او گفتار او هر عمل د پيغمبر ﷺ د مباركي طريقې سره مطابق وو.

چيكله به د ليري وطنونو څخه تجربه كار او جهانديده خلگ د پيغمبر ﷺ ملاقات لره راتلل، پيغمبر ﷺ به په هغه محفل كي ناست وو، هغه خلگو چي به دغه محفل ته كتل، نو ټول انسانان به په ظاهري اعمالو او افعالو كي سره يو رنگ ول، بيا به دوى پوښتني كولو ته مجبوره ول، چي په دې انسانانو كي د الله تعالى نبي څوك دى، او دا يو حقيقت وو: چي نقل اصل ته تابع متبوع او امتي و نبي ته دومره ورنږدې وو: چي د دوى په مابين كي د امتياز فاصلې بلكل ختم وې، چي د هغه په وجه به خلگو ته د دوى پېژندل مشكل وگرځېدل.

## د نبي او امتي په مابين كي حيرانونكى مماثلت:

د هجرت پر موقع چي كله پيغمبر ﷺ او حضرت ابوبكر رضي الله عنه مدينې منورې ته راغلل، د هغه ځاى ټول خلگ د دوى استقبال ته راووتل، دوى دواړه حضرات را روان دي، هغه خلگ ورته گوري، او نه ئې پېژني: چي په دې كي نبي كم دى، او امتي كم دى؟ ځكه د دواړو ظاهري رفتار او گفتار يو رنگه وو.

حتى چي د مدينې خلگ مخته ور ته راغلل، د حضرت ابوبكر رضي الله عنه سره مصافحه كول شروع كړل، حضرت ابوبكر رضي الله عنه هم د هغه خلگو سره مصافحه كوله، ځكه ده دا فكر وكړى: چي پيغمبر ﷺ زيات ستړى دى، بايد چي نور نسي پسي ستړى.

چیکله لمر راګرم سو، او هغه د پیغمبر ﷺ پر بدن باندي شغلې لګېدلې، نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه ورولاړ سو، په یو چادر باندي ئې د پیغمبر ﷺ پر سر مبارک باندي سایه جوړه کړه.

د مدینې خلګ دلته پدې باندي پوه سو، چي د کم چا سره د نبي په نیت موږ مصافحه کوله، هغه امتي دی، او چي پر کم چا باندي موږ د امتي ګمان کړی وو، په حقیقت کي هغه نبي دی.

## د پیغمبر ﷺ د خبري لحاظ:

هغه خلګو بیا د پیغمبر ﷺ خبرو ته په زړونو کي په دا درجه ځای ورکړی: چي په دماغ کي ئې د ده د خبرې څخه مخالفت کول بلکل ختم سول.

په روایاتو کي راځي: چي د مسجد نبوي ﷺ یوه دروازه وه، چي د هغه څخه به اکثره زناني راتللې، او چیکله به زناني نه وې، نو کله نا کله به نارینه هم د هغه دروازې څخه راتلل.

یو ځل پیغمبر ﷺ صحابه وو ته وفرمایل: ښومره به ښه خبره وای: که تاسو دغه دروازه د زنانو لپاره پرې ایښې وای، صحابه کرامو چي دا خبره واورېدله: نو د هغه دروازې څخه بیا مسجد نبوي ته نه راتلل.

حتي: چي حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه چیکله دا خبره واورېدله: نو بیا په ټوله ژوند کي هیڅکله هم د هغه دروازې څخه مسجد نبوي ته نه دی راغلی.

تاسو ګورئ! چي هغه خلګو د پیغمبر ﷺ و خبرو ته پخپل دماغ کي څنګه ځای ور کاوی، در حقیقت: هغوی ته الله تعالی د پیغمبر ﷺ داسي عشق ور نصیب کړی وو: چي د هغوی به د پیغمبر ﷺ هره هره خبره یادوه، او بیا به تر ډېره وخته پوري د دماغ څخه هغه خبره نه وتله.

نو هغه خلګ چي د جاهلیت په دور کي بتانو ته ښومره ور نږدې وو، او په زړو کي ئې د بتانو ښومره قدر وو، او ټوله زندګي ئې د هغوی په عبادت کي تېروله، او په هر رنګه جهالتونو کي مبتلا ول، خو چي د پیغمبر ﷺ په صحبت کي راغلل، او صحابه کرام جوړ سول، بیا د الله تعالی داسي فرمانبردار مخلوق وو: چي الله تعالی به د هغوی

د آسانۍ لپاره د هر ځله د آسمانو نظامونه ورته بدلول، او هم به ئې د دوی د آسانۍ په خاطر خپلي فيصلې د آسمان څخه را استولې.

## د حضرت بلال حبشي رضي الله عنه د الله تعالی په دربار کي قدر:

په رواياتو کي راځي: چي يو ځل د روژې مبارکه مياشته وه، او د پېشلمي وخت وو، حضرت بلال حبشي رضي الله عنه په مسجد نبوي کي ګرځېدی، او د آذان کولو په تياري کي وو.

چيکله ئې د پېغمبر ﷺ د حجرې پرده پورته کړه، نو پېغمبر ﷺ په خورک کولو کي مشغوله دی، حضرت بلال حبشي رضي الله عنه ورته وايي: اې د الله تعالی رسوله! خورک بس کړه، سهار راوختی، پېغمبر ﷺ د هغه په خبره غوږ نه ونيوی، خپل خورک کوي.

حضرت بلال حبشي رضي الله عنه د څه ګړی ګرځېدو څخه وروسته بيا ورته راغلی، چيکله ئې پرده پورته کړه، نو پېغمبر ﷺ هغسي پخپل خورک کي شروع دی؛ نو ده بيا ورته وويل: اې د الله تعالی رسوله ! خورک بس کړه، سهار راوختی، پېغمبر رضي الله عنه پدې ځل بيا د ده خبري ته اهميت ورنه کړی، او خپل خورک کوي.

حضرت بلال حبشي رضي الله عنه د يو څه ګرځېدو څخه وروسته دريم ځل ورته راغلی، چي د حجرې مبارکې پرده ئې پورته کړه، پېغمبر ﷺ هغسي په خورک کولو کي مشغوله دی.

پدې ځل حضرت بلال حبشي رضي الله عنه ورته وويل: اې د الله تعالی رسوله! خورک بس کړه، زما په الله تعالی قسم! سفيدې راوچاودلې، پېغمبر ﷺ د خورک کولو څخه لاس ونيوی، ورته وايي: اې بلاله! زما دي په الله تعالی قسم وي: چي سفيدې نوې راچاودلې، چيکله تا قسم واخيستی، نو ستا د قسم د رشتيا کولو لپاره الله تعالی يو دم سفيدې راپورته کړلې، نو ځکه ما هم خورک بس کړی.

لکه يو حديث شريف کي هم راځي: چي د هر ځله يو مسلمان پر الله تعالی دومره قدر لري. کچيري: دی پر يو شي قسم واخلي، د ده د رشتيا کولو لپاره الله تعالی هغه نظام ورته بدلوي، لکه د حديث شريف الفاظ دي:

.........نَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ﴾.(۱)

کچیري دوی پر الله تعالی باندي قسم واخلي، نو الله تعالی د دوی لپاره طریقه داسي برابروي: چي پر ده باندي قسم وانه وړي.

## د حضرت خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها واقعه:

صحابه وو ته الله تعالی عجیب عزت ور کړی وو، یو زنانه ده، د هغې نوم دی: "خوله بنت ثعلبه"، او د هغې خاوند دی: اوس بن صامت رضي الله عنه هغه خاوند دې خپلي زناني ته د ظهار طلاق ور کړی، او د جهالت په دور کي د ظهار طلاق دا د حرمت مؤبد معنی وه: یعني چي یو سړي به زناني ته دا وویل: چي اې زناني! ته پر ما داسي ئې: لکه خپله مور، بیا په ټوله زندګي کي هغه زنانه دې خاوند ته نه روا کېدله.

چیکله هغه خاوند دې خپلي زناني ته دغه طلاق ور کړی، نو هغه زنانه په منډه راغله، د پېغمبر ﷺ کورته، او فریاد کوي: اې د الله تعالی رسوله! "هلکتُ، هلکتُ،" زه خو هلاکه سوم، او زه خو هلاکه سوم.

پېغمبر ﷺ ته پدې وخت کي حضرت عائشه مبارکه په سر کي ږمونځ ور وهي، چیکله دې خپل فریاد ورته پیش کړی، او د خپل خاوند د ظهار د طلاق قصه ئې ورته وکړه، او په دې وخت کي د ظهار د طلاق متعلق زموږ په شریعت کي څه حکم راغلی نه وو، نو دی هغه زناني ته فرمایي: چي ته پر دې خپل خاوند باندي تر مرګه پوري حرامه ئې.
هغه زناني ژړا او فریاد ورته وکړی، او ورته وایي: اې د الله تعالی رسوله! ته پر دې طلاق باندي یو څه نظر ثاني وکړه، لیکن پېغمبر ﷺ سره نوی حکم نسته، نو ده پر هغه زړه خبره باندي دې ته فتوی ورکړه، چي بس ته پر خپل خاوند باندي حرامه ئې، دې چي هر څه فریاد وکړی، نو پېغمبر ﷺ پر هغه زړه طریقه باندي دې ته جواب ورکوي.
نو آخر دا پېغمبر ﷺ ته وایي: اې د الله تعالی رسوله!

- .........اِنَّهُ اَبُو وَلَدِیْ﴾. دا خو زما د بچیانو پلار دی.
- ..........تَفَرَّقَ اَعْلٰی﴾. زما مور او پلار وفات سول.

---

(۱) جامع معمر بن راشد: حدیث نمبر ۲۰۶۱۲

• ............وَ كَبُرَ سِنِّى﴾. او زما عمر زيات تېر سوى دى.

که په دې وخت کې زه د ده څخه جدا سم، نو بیا خو زما په کور کې ساتلو ته څوک نه تیارېږي، او نه زما سره څوک نکاح کوي.

چیکله پیغمبر ﷺ د هغې و خبره ته توجه نه کوله، نو دا پر هغه ځای ناسته خپل رب ته متوجه سوله، چې یاالله! زه په دومره مشقت کې واقع سوم، او په ډېره لویه طمعه ستا د نبي تر درباره راغلم، او هلته ما ته د ناامیدۍ څخه ماسوا بل څه په لاس رانغلل، نو زه خپل شکایت تاته پېشوم: چې یاالله! اوس بن صامت زما خاوند دی، او ده ماته د ظهار طلاق راکړی، که زه تېوله عمر د ده څخه جلا سم.

............اِنَّ لِىْ مِنْهُ صَبِيَّةً صِغَارًا﴾. زما د ده څخه کوشني ماشومان دي.

............اِنْ ضَمَمْتُهُمْ اِلَيْهِ فَضَاعُوْا﴾. که ئې زه و ده ته ورپرېږدم، نو ضائع کیږي.

............اِنْ ضَمَمْتُهُمْ اِلَىَّ فَجَاعُوْا﴾. او دی ئې په ښه طریقه پالنه نسي کولای، او که ئې د ځان سره راګرځوم، نو زما څخه وږي کیږي، زه ئې نفقه نسم ور برابرولای.

یا الله! ستا دربار ته په ډېر لوی امید او طمع کې ناسته یم، او دا مي غوښتنه ده: چې ته پر دغه طلاق باندې نظر ثاني وکړه.

دا پدا خپل فریاد کې شروع ده، چې پر پیغمبر ﷺ باندې وحي راغلې، او د پیغمبر ﷺ د وحي کیفیت شروع سو، حضرت عائشه مبارکه ورته وایي: اې موري! ته لږ چپ سه، پر پیغمبر ﷺ باندې د وحي کیفیت دی، دې چیکله دا واورېدل، نو خپلي ژړا او فریاد ته ئې نور هم زور ورکړی.

چیکله د پیغمبر ﷺ د وحي د راتللو سلسله ختمه سوه، او پیغمبر ﷺ سترګي راروښي کړې، نو ورته وایي: اې خولې! مبارک! ستا فریاد الله تعالی پر آسمانو باندې بالا واورېدی، او پیغمبر ﷺ دا آیت تلاوت کوي:

............قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللّٰهِ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾.(۱)

الله تعالی د هغې زناني خبره واورېدله، چې هغې تاته د خپل خاوند د ظهار د طلا
واقعه پېش کړله، او چيکله ستا څخه نااميده سوه، نو هغې خپل شکايت خپل رب ته
پيش کړی، او الله تعالی ستا او د دغه زناني د مابين مجلس ټوله واورېدی، ځکه الله
تعالی سميع او بصير ذات دی.

.........الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُمْ مِن نِسَائِهِمْ مَا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ﴾.

کوم خلک چې د خپلو زنانو سره ظهار وکړي، او هغوی ته د خپلي مور سره تشبيه ور
کړي، دغه زناني د دوی ميندي ندي، بلکه په حقيقت کي د دوی ميندي هغه دي: چې
دوی ځني پيدا سوي وي، دا د دوی بې کاره او درواغجنه خبره ده، او الله تعالی ډېره
مهربانه ذات دی، پر دغه عمل به دوی ته مغفرت وکړي.

نو الله تعالی ورته فرمايي: کم څوک چې د نن څخه بعد د خپلي زناني سره ظهار
وکړي، نو دا حرمت مؤبد ندی، بلکه يادي غلام آزاد کړي، او يادي شپېته (۶۰) روژې
ونيسي، او يادي شپېتو (۶۰) مسکينانو ته ډوډۍ ور کړي، او په دغه اعمالو باندي
دغه زنانه بيرته ده ته روا کيږي.

حالانکه دا هغه زناني وې: د مدينې انصارو چې هغوی هم ټوله زندګي د بتانو په
عبادت کي تېري کړي ولې. خو بيا د دوی سره د آسانۍ په خاطر الله تعالی په آسمان
کي فيصلې بدلولې، او د دوی لپاره ئې نوي نوي احکام رااستول.

نو دا څه چې وو، ټوله د پېغمبر ﷺ د بعثت برکت وو، چې هغه الله تعالی د دې امت
لپاره يو عظيم رحمت ګرځولی وو. ... يې ... يت ئې د جهالت د تيارو څخه د هدايت په
لمر باندي روښانه وګرځول، او هم تر قيامته پوري الله تعالی د دې امت د هدايت يو
لاره خلاصه کړه. الله تعالی دي موږ او تاسو ته په دنيا کي د زندګي د پېغمبر ﷺ په
امت کي رانصيب کړي، او هم دي مي د قيامت په ميدان کي د ده د لاسو مبارکو څخه
د حوض کوثر اوبه نصيب کړي، الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او
مقبولي وګرځوي. آمِين يَا رَبَّ الْعَالَمِين

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د ایمان عظمت، اوله حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ابمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشّيْطَانِ الرّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرّحْمَنِ الرّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الّذِي نَزّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «ثلث مَنْ كُنّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنّ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ: الْإِنْفَاقُ مِنَ الْإِقْتَارِ، وَإِنْصَافُ النّاسِ مِنْ نَفْسِكَ، وَبَذْلُ السّلَامِ لِلْعَالَمِ».(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشّاهِدِيْنَ وَالشّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! ستاسو په حضور کې ما د قرآن کريم د يو آيت تلاوت وکړ، چې الله تعالى په هغه کې مؤمنانو ته خطاب کوي، او دمؤمنانو څخه د ايمان راوړلو مطالبه کوي، دا عجيب آيت دی، چې خطاب هم مؤمنانو ته دی، او د ايمان مطالبه هم د مؤمنانو څخه ده.

الله تعالى په دې آيت کې کافرانو ته خطاب نه کوي، چې: "يَا أَيُّهَا الّذِيْنَ كَفَرُوا!" اې کافرانو ! او نه خطاب منافقانو ته دی، او نه خطاب مشرکانو ته دی، بلکه الله تعالى د مؤمنانو څخه د ايمان مطالبه کوي، چې تاسو پر الله تعالى او د هغه پر رسول ﷺ باندې ايمان راوړئ.

اوس د مؤمنانو څخه دويم ځل د ايمان مطالبه کول د دې څه مطلب؟

---

(١) سورة النساء: آيت نمبر ١٣٦

(٢) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ١٩٤٣٩

مفسرینو د دې په تفسیر کې لیکلي دي: چې د دې یو مطلب دا دی: یعني: ې مؤمنانو ! تاسو د ایمان راوړلو څخه وروسته تقوی اختیار کړئ، خپله زندګي په پرهیز او تقوی کې تېره کړئ، نو د ایمان د مطالبې کولو څخه مراد انسانان د تقوی طرفته متوجه کول دي.

## د تقوی معنی:

اوس تقوی څه ته وایي؟ د فقیه ابو لیث سمرقندي رحمة الله علیه څخه یو چا د تقوی متعلق پوښتنه وکړه، چې: تقوی څه ته وایي؟ ده په جواب کې ورته وویل: چې یو ځای دې ځنګل لیدلی دی، چې د ازغیو ډک وي، او په هغه کې تېري سوي لاري ډېري تنګې وي، او د هر طرف څخه ازغي په دې لار باندي را تیر سوي وي، نو یو سړی به په هغه کې څنګه تیریږي، چې د خپلو جامو او بدن د هغه ازغیو څخه حفاظت وکړي.
هغه سړي ورته وویل: چې خپلي جامې به راټولوي، او پخپل بدن پوري به ئې منلوي، او په ډېر احتیاط به د هغه ازغیو څخه ځان تېروي، نو سمرقندي رحمة الله علیه ورته وویل: چې تقوی بعینه دغه شی ده، چې د دنیا په زندګي کي انسان ته د دین پر لار باندي تېرېدل ډېر مشکلات لري، د انسان نفس او شیطان د انسان څخه مختلف خواهشات کوي، داغه رنګه د انسان جذبات او شهوات هم انسان ډېرو خبرو ته مجبوره کوي، خو چې کله انسان خپله زندګي په احتیاط کي کړي، او خپل ځان او خپل لباس د دغه ګناهونو څخه محفوظه کړي، او خپل ایمان سالم تر قبره پوري ورسوي، دغه ژوند تقوی بلل کیږي.
نو د دې آیت یو مقصد علماؤو دا لیکلی دی: چې الله تعالی د مؤمنانو څخه د تقوی مطالبه کوي، دوهم مطلب د دې آیت مفسرینو دا لیکلی دی: چې اې مؤمنانو ! چې تاسو اقرار لساني کړی دی، د دې سره تصدیق هم په خپل زړه کي پیدا کړئ.

## اقرار لساني او تصدیق قلبي:

په زړه سره تصدیق کول، د انسان په ایمانیاتو کي ډېر لوی رکن بلل کیږي. صرف په کلمه ویلو سره د انسان د ایمان ترتیب کمال ته نه رسیږي، بلکه د ایمان ابتدا وي انسان د کلمې ویلو په خاطر د اسلام په حدودو کي داخلیږي، لیکن د ایمان د کمال

پیدا کولو لپاره اعمال صالحه اختیارکول ضروري دي، چي و دې ته ویل کیږي: "اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَ تَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ".

د اقرار باللسان درجه خو انسان ته د کلمې ویلو څخه نصیب کیږي، موږ کلمه ویونکي انسانانو چي څومره یو دا ټول تر ټوله په اقرار لساني کي سل په سلو کي شامله یو، لیکن د تصدیق بالقلب خپلي مرتبې وي، چي کوم څوک څومره اعمال کوي، هغه د دغه خبرو دغومره درجه تصدیق په زړه کي لري، نو چي کوم څوک کامل ایمان غواړي، نو هغه به د اعمالو په ذریعه د دې خپل تصدیق سل په سلو کي ښکاره والی کوي، او د هغه یو عمل به هم د شریعت خلاف نه کول کیږي.

د قول او فعل په مابین کي فرق وي، خو انسان چي د قول څخه فعل ته ځان رسوي، نو د انسان څخه څه کول غواړي، په ژبه سره خبره کول، دا جلا ده، او په عمل کي هغه ثابتول، جلا ده، نن زموږ او ستاسو لپاره دا خبره زیاته د توجه وړ ده: چي زموږ د قول او فعل په مابین کي تطبیق پیدا سي، موږ خو نن سبا د قول ټوله غازیان یو، لیکن اکثریت وخت بیا په اعمالو کي د ماتي خوړلو سره مخامخ یو.

## د ایمان ښکاره والی:

په حقیقت کي د انسان د ایمان حقیقت د هغه د اعمالو څخه معلومیږي، چي څومره مقدار په اعمالو کي پختګی وي، په داغه مقدار انسان د مضبوط ایمان مالک جوړیږي.

او د اعمالو پختګي ډېر ځله د یو خاموش تبلیغ درجه پیدا کوي، چي د هغه د تاثیر لاندي ډېر خلک راځي، او هغه په معاشره کي ډېر زیات مؤثر وي، چي بیا د ژبي تبلیغ هم دومره مؤثر نه وي.

## د صحابه وو د خاموش تبلیغ ثمره:

تاسو به دې خبره ته حیران سئ! چي د مځکي پر مخ یو پوره ملک صرف د دوو (۲) صحابه کرامو د عمل په خاطر په اسلام مشرف سوی دی.

هغه څنګه؟ دوه صحابه کرام "اندونیشیا" ته راغلل، هلته ئې خپله دکانداري شروع کړله، چي په هغه کي ئې د پېغمبرﷺ د تجارتي اصولو پوره خیال ساتی، چي نه به په هغه کي دروا غ وو، او نه به دوکه وه، او نه به د عیب پټېدل وو.
د ورځي به ئې پنځه(۵) واره دکان تړی، او د جمعې په ورځ به ئې ناغه کوله، چیکله به دوی د دکان څخه ولاړل، نو خلګ به بیا د دوی دکان ته په انتظار کي ولاړ ول، او قطارونه به ئې جوړ ول، خلګو به ویل: چي موږ دلته معاملات په ډېر اصولي شکل وینو، نو موږ سودا د دغه ځای څخه کوو، بل ځای ته نه ځو.
چیکله د خلګو طبیعتونه د دوی سره مانوس سول، نو هغوی به د دوی څخه پوښتنه کوله: چي دا څه وجه ده؟ چي تاسو د ورځي په مابین کي دکان بند کړئ، او ولاړ سئ، او بیا هم خلګ ستاسو څخه سودا اخلي، او ستاسو د راتګ انتظار کوي، تاسو ته دغه اصول چا در ښوولي دي؟ د خلګو په پوښتنه دوی به ورته ویل: چي موږ مسلمانان یو، او زموږ پېغمبرﷺ موږ ته د تجارت اصول را ښوولي دي، چي کله خلګو ته دا معلومه سوه، نو هغوی به ورته ویل: چي موږ هم مسلمان کېدل غواړو، چنانچه هغه خلګ په اسلام باندي راننوتل، او آخر ټوله ملک په اسلام باندي مشرف سو، د هغه دوو(۲) صحابه کرامو په وجه ټوله ملک مسلمانان سول.
تاسو ګورئ! نن سبا خلګ د تقریرو او د تبلیغو او د خطبو څخه نه مسلمانان کیږي، مګر هلته د صحابه کرامو د دوکانداری څخه خلګ مسلمانان کېدل، دا دی د قول او د فعل د مطابقت برکت.

## د فکر وړ خبره:

نن خو موږ خپلو ځانو ته مسلمانان وایو، باید پر دې خبره هم موږ یو څه غور وکړو: چي ایا زموږ سترګي مسلماني دي، کچیري دا مسلماني وي، نو باید د غیر محرم پر طرف نظر و نه کړي، او که دوی د غیر محرم پر طرف غلط نظرونه کوي، نو د دې معنی خو دا: چي تر اوسه مسلماني سوي ندي.
ایا زموږ ژبه مسلمانه ده، که مسلمانه وي، نو باید ددې څخه غیبت او دروا غ نه ویل سئ، او که ځني ویل کیږي: نو د دې معنی خو دا: چي تر اوسه مسلمانه سوې نده، ایا

زموږ غوږونو اسلام قبول کړی دی، که ئې قبول کړی وي، نو باید دوی د شرعي خلاف خبره نه واوري، که ئې اوري، نو تر اوسه خو ئې اسلام ندی قبول کړی.
نو موږ باید د هر اندام متعلق غور او فکر وکړو، چي موږ کوم اندامونه مسلمانان کړي دي، که زموږ هر اندام سهار او ماښام په ګناهونو کي غرق وي، نو بیا مسلماني د کوم شي نوم دی؟ چي موږ په هغه باندي ونازیږو، او چیکله زموږ اندامونه انفرادي طور تر اوسه په اسلام کي ندي راغلي، نو موږ و خپل ځان ته په حقیقي معنی سره څنګه مسلمان ویلای سو.

## د ایمان مقام:

زړه د ایمان محل دی، چي د ایمان لپاره الله تعالی یو لوښی پیدا کړی دی، چي همېشه به ایمان په ده کي راځي، او ایمان د انسان لپاره ډېر عظیم دولت دی، چي د انسان تر نفس هم ډېر زیات قیمتي دی.
د الله تعالی په حضور کي د ایمان دومره قیمت دی، کچیري ټوله دنیا د کافرانو څخه ډکه سي، نو دا دیو مؤمن برابر قدر نسي کولای.
د قیامت په ورځ به یو سړی نه نوي(۹۹) دفتره د ګناهونو څخه ډک راوړي، چي هر دفتر به ئې د سترګو د دید په مقدار لوی وي، او د ترازو په یوه پله کي به کښېښوول سي، او د دې په مقابله کي به یو فرشته یو کوچنۍ د کاغذ رقعه راوړي، او هغه به د ده دنیکو اعمالو په پله کي کښېږدي، هغه د کاغذ کوچنۍ رقعه به د ده د ګناهونو تر نه نوي(۹۹) دفتره زیاته وزني او درنه سي.
هغه سړی به پوښتنه وکړي: چي یا الله! دا څنګه رقعه ده؟ چي د هغې وزن در دې دومره لویو دفترونو زیات درونددی؟ الله تعالی به په جواب کي ورته ووایي: چي دا ستا ایمان دی، د دغه ایمان په مقابله کي که مځکه او آسمانونه ټول کښېښوول سي، نو به هم دغه ایمان تر هغوی زیات وزني وي.
موږ باید دا خبره په ذهن کي په کامله طریقه سره کښېښنوو: چي زموږ ایمان زموږ اصلي دولت او خزانه ده، باید موږ د دې قدر وکړو، او د دې اهمیت په زړه کي

کنبنوو، ځکه چي انسان ته کله د يو شي اهميت نه ور معلو ميږي، نو په آساني سره دې شخه د لاس شخه وزي.

نو ايمان زموږ او ستاسو لپاره هغه عظيم دولت دی: چي بايد موږ په هغه باندي خوشحاله هم سو، او د هغه قدر هم وکړو، ځکه په ايمان نه خوشحاله کېدل، او د هغه قدر نه کول دا د هغه ګناهونو شخه دی: چي ډېر ځله انسان د ايمان شخه محرومه ګرځوي.

## د ايمان شخه محرومه کونکي ګناهونه:

زموږ مشايخو ليکلي دي: چي زموږ مشاهده او تجربه ده: چي درې(۳) ګناهونه د مرګ په وخت کي د انسان شخه د کلمې طيبې توفيق سلب کوي، نو په دې لحاظ سره هغه د ټولو ګناهونو شخه زياتي خطرناکه بلل کيږي.

❶........د شريعت احکام بوج بلل، او هغه قابل عمل نه بلل، دا هغه ګناه ده: چي د مرګ په وخت کي د انسان د ايمان شخه د محرومه کېدلو باعث جوړيږي.

د مثال په ډول: زنانه ده، نو هغه پرده کول چي د شريعت حکم دی، پر ځان باندي بوج بولي، او نارينه بيا په تجارت کي د رشوت او سود شخه ځان ساتل پر ځان باندي بوج بولي، يا نن سبا چيکله يو فيصله راسي، نو پر قرآن باندي خلاصولو ته غاړه نه ايږدي، او دا وايي: په اوس زمانه کي پر شريعت او پر قرآن باندي چا مسئلې خلاصي کړي دي، يعني شريعت نن سبا قابل عمل نه دی.

نو زه دا وايم: که د انسان شخه کوتاهي وسي، نو خپل ځان دي ګناهګاره بولي، الله تعالی مهربانه ذات دی، انسان به معاف کړي، ليکن يو طرفته ګناه کول او بيا په دلائلو باندي د هغه جواز ځان ته ثابتول، دا د انسان لوی حماقت او بې وقوفي بلل کيږي.

❷........او دويمه خطرناکه ګناه د خپلي خاتمې شخه بې غمه کېدل، يعني: چي د کم بنده په زړه کي د مرګ په وخت کي د ايمان شخه د محرومه کېدلو وېره نه وي، او نه د خپلي خاتمې شه فکر ور سره وي، نو د هغه په وجه هم انسان پر آخري وخت باندي د کلمې شخه محرومه ګرځي.

په يو كتاب كي ليكلي دي: يو صحابي ژاړي، بل صحابي ورته راغلی، ورته وايي: حضرت! ولي ژاړې؟ ایا څه ګناه در څخه سوېده؟ د صحابه وو ژړا به د درد او غم په وجه نوه، بلكه: چيكله به ګناه ځني وسوه، نو بيا به دوی ته تكليف وو، او هم به ئې ژړل.

هغه صحابي ورته وايي: چي نه، زما دي په الله قسم وي: چي زما په زندګي كي زما څخه د مچ د سر غوندي هم ګناه نده سوې، نو هغه صحابي ورته وايي: چي نو بيا ولي ژاړې؟ دی ورته وايي: چي زما سره همېشه د خاتمې غم وي، چي نه معلوم: زما خاتمه به پر كوم حال باندي راسي. د دې په وجه ژاړم.

نو انسان چي هر څومره نيک او متقي او پرهيزګاره وي، د هغه په زړه كي بايد دا وېره ضرور وي: چي نه معلوم: زما د مرګ څخه مخكي به زه د كوم حال سره مخامخ سم، او همېشه بايد د دې خبري څخه په وهم كي وي، او د خپلي خاتمې فكر ورسره وي.

❸........د اسلام د نعمت شكر نه ادا كول، او په هغه باندي نه خوشحاله كېدل، د هغه په وجه هم د انسان څخه په آخري وخت كي د كلمې ويلو توفيق سلب كيږي، نو ځكه د اوداسه كولو په وخت كي د بسم الله ويلو څخه وروسته بايد همېشه انسان دا دعا كوي:

...............اَلْإِسْلَامُ حَقٌّ وَ الكُفْرُ بَاطِلٌ﴾.

اسلام حق دی، چي الله تعالی ماته رانصيب كړی دی، او كفر باطل دی، چي الله تعالی زه ځني محفوظه كړی يم.

په حديث شريف كي د سهار او ماښام د ويلو لپاره پېغمبرﷺ موږ ته دا دعا را ښوولې ده:

...........رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا﴾.(۱)

زه د خپل الله تعالی په ربوبيت او د اسلام په دين او د محمدﷺ په نبوت باندي راضي يم.

---

(۱) مصنف عبد الرزاق الصنعاني: حديث نمبر ۱۰۱۶۴ .

نو مامخکي درته وويل: چي بايد د انسان په زړه کي د خپل ايمان اهميت هم وي. او د هغه حفاظت هم بايد دی وکړي، که اهميت نوي، نو بيا ايمان په آسانه د سړي د لاس څخه وزي.

## د حضرت سعدي رحمة الله عليه واقعه:

حضرت سعدي رحمة الله عليه پخپلو کتابو کي يو قصه رانقل کړېده، هغه وايي: چي زه کوچنی وم، نو ماته مور د سرو زرو ګوتمۍ راجوړه کړېوه، يوه ورځ چي زما هغه ګوتمۍ په ګوته وه، دباندي کوڅې ته راووتم، نو پر ما باندي يو ټګ او دوکه باز سړی پېښ سو، د هغه سره د ګوړي يو ختۍ ور سره وو.
هغه چيکله زما ګوتمۍ وليدله، نو ئې راته وويل: چي ته د دغه ګړي د ختۍ خوند وګوره، ما چي هغه لره ژبه ور وړله، نو هغه ډېره خوږه وه، نو بيا ئې راته وويل: ته دغه ګوتمۍ و څټه، ما چي وڅټله، د هغه هيڅ خوند نه وو، نو ئې راته وويل: چي زه به دغه خوږ شی چي ګوره ده، درکړم، او ته دغه بې خونده شی چي ګوتمۍ ده، ماته راکړه، زه د ده په خبرو کي راغلم، نو هغه ګوتمۍ ئې را څخه يو وړه، او هغه د ګوړي ختۍ ئې پلاس راکړی، زه کورته راغلم.

## د ايمان او د مشاهدې فرق:

يو د انسان ايمان دی، او يو مشاهده ده، مشاهده معنی: چي سړی په سترګو يو شی ويني. او پر هغه باندي ئې يقين راسي.
او ايمان د ديد او ليدلو سره کار نه لري، بلکه هغه ناديده سودا وي، او د څه ليدلو څخه بغير يو انسان پر يو شي باندي ايمان راوړي، او چي کوم شی ناديده سړی يقين ور باندي وکړي، نو هغه يقيناً هم ډېر قيمتي وي، تر هغه شي چي سړی ئې په سترګو باندي ويني، نو ليدل په سترګو دا جلا شی دی، او ايمان پر يو شي باندي راوړل دا جلا شی دی.
نو زموږ او ستاسو د الله تعالی پر وحدانيت او د پيغمبر ﷺ پر نبوت باندي ايمان دی، او هغه ايمان دا دی: چي موږ پر پيغمبر ﷺ اعتماد لرو. د ده هر څه مو ور سره منلي دي، او چي ده کوم دين د الله تعالی لطرفه راوړی دی، هغه مي قبول کړی دی، او

دا زموږ او ستاسو ناديده سودا ده، او د الله تعالى په حضور كي د دې زيات قيمت دى، كه مو چيري څه ليدلي واى، او بيا مي ايمان ور باندي راوړى واى، بيا به ئې په دغه اندازه قيمت نواى.

## يو عجيبه حكايت:

په كتابو كي يو حكايت ليكلى دى: د هغه څخه د انسان په دماغ كي د خبري وضاحت په آسانه طريقه سره كيږي.

"هارون رشيد" بادشاه په زمانه كي د "بهلول دانا" په نامه يو ملنګ تېر سوى دى، ظاهراً خو ليونى او مجذوب غوندي انسان وو، چي همېشه به ئې كچكول په غاړه ګرځېدى، ليكن په باطن كي الله تعالى ډېر د حكمت څخه ډك انسان پيدا كړى وو، او "هارون رشيد" بادشاه به د هغه ډېر قدر او احترام كوى.

د "هارون رشيد" د كور زنانه "زبيده خاتون" هم ډېره نيكه او پرهيزګاره زنانه وه، هغې په خپل محل كي زر(۱۰۰) داسي خادماني ساتلي وې، چي ټولي به د قرآن كريم حافظاني او قارياني وې، او د دې په محل كي به د هغوى باقاعده د قرآن كريم د تلاوت ترتيب جوړ وو، او په مختلفو اوقاتو كي به دوى تلاوتونه كول، چي ټوله ورځ او شپه به د "زبيده خاتون" په محل كي د قرآن كريم د تلاوت ږغ اورېدل كيدى، او د دې محل به د قرآن كريم د تلاوت په خوشبوئي باندي معطر وو.

يوه ورځ "هارون رشيد" د خپلي زناني سره د دجله درياب پر غاړه د هوا خورى لپاره روان دى، او يو څه قدمه تر شا "زبيده خاتون" هم ور پسي روانه ده، كه ګوري: يو ځاى د درياب په غاړه كي "بهلول دانا" ملنګ ناست دى، او په ريګ كي په لاس باندي د ماشومانو غوندي كوچني كوچني كورونه جوړوي، "هارون رشيد" ورته ودرېدى، ورته وايي: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" ده د سلام جواب ور كړى، "هارون رشيد" د سلام ويلو څخه وروسته پوښتنه ځني كوي: بهلوله! څه كوې؟ دى په جواب كي ورته وايي: بادشاه سلامت! د دغه ريګ څخه كوچنى كور جوړوم، بادشاه پوښتنه ځني وكړه: چي د څه لپاره ئې جوړوې، ده په جواب كي ورته وويل: چي دغه كور خرڅوم،

هارون رشيد ورته وويل: چي كوم څوک دغه كور رانيسي ، د هغه په دغه كور كي څه فائده ده؟
ده په جواب كي ورته وويل: چي كوم څوک زما څخه دغه كور رانيسي، هغه ته دعا كوم، چي الله تعالى د دې په عوض كي په جنت كي كور ور كړي.
بادشاه پوښتنه ځني وكړه: چي بهلوله! د دغه كور قيمت څومره دى؟ ده په جواب كي ورته وويل: چي يو دينار، هارون رشيد دده خبره صرف نظر وګرځوله، او د يوليوني په شكل ئې و بالى، او يو څو خبري ئې ور سره وكړې، ځني تير سو.
د ده تر شا د كور زنانه زبيده خاتونه هم بهلول دانا ته ودرېدله، ځكه هغه معروف ليونى وو، چي په ټوله بغداد كي خلګو پېژاندى، هغه هم سلام ورته وكړى، او بيا ئې پوښتنه ځني وكړه: چي بهلوله! څه كوې؟ ده ورته وويل: چي كور جوړوم، هغه زنانه ورته وايي: كور د څه لپاره جوړوې؟ دى ورته وايي: چي دغه كور خرڅوم، چي كم چا زما څخه رانيوى، هغه ته دعا كوم، چي الله تعالى په جنت كي كور ور كړي.
نو هغه زناني د دغه كور د قيمت پوښتنه ځني وكړه، ده په جواب كي يو دينار ورياد كړى، د زناني زړه چونكه ډېر نرم وي، نو د هغې زناني پر ده باندي زړه وسوځل سو، او يو دينار ئې ده ته ور كړى، او ځني تېره سوه، او ورته وئې ويل: چي زما لپاره دعا وكړه: چي الله تعالى په جنت كي كور راكړي.
"هارون رشيد" چي كورته ولاړى، د شپې ويده سو، نو په خوب كي د جنت مناظر ويني، رنګارنګ محلات دي، او باغچې دي، او نعمتونه دي، او د جنت لوى لوى نهرونه دي، دى په هغه كي د سرو ياقوتو څخه جوړ سوى يو محل ويني، پر هغه محل باندي د "زبيده خاتون" نوم ليكلى دى، هارون رشيد هغه محل ته نژدې ورغلى، چي زه به دا محل ته ورداخل سم، او زه به ئې وګورم، ځكه پر دې باندي زما د زناني نوم ليكلى دى.
دى چي څنګه دروازې ته ور نژدې سو، نو يو فرشتې راوګرځاوى، ده ورته وويل: چي په دې خو زما د زناني نوم ليكلى دى، نو ځكه زه ور ځم، او دا محل ګورم، او هغه فرښته ورته وايي: چي ته هيڅكله دې محل ته نسې ور تللاى، د دې ځاى دستور او

قانون جلا دی، چې د کوم چا پر نامه محل جوړ وي، هغه ور تللای سي، بل چاته اجازت نوي.

چیکله فرشتې دی د محل څخه پر شا کړی، نو پدې دوران کې د ده د خوب څخه سترګي راروښي سوې، نودستي ئې په دماغ کې دا فکر ورغلی: چې داسي معلومېږي: چې د "بهلول دانا" دعا د "زبیده خاتون" په هکله قبوله سوېده، او بیا ئې پر خپل حال ډېر افسوس وکړی، چې کاشکي ما هم هغه یو دینار "بهلول دانا" ته ور کړی وای، او زما لپاره هم په جنت کي الله تعالی محل جوړ کړی وای.

ټوله شپه د افسوس په حالت کي دی، پر یو اړخ او بل اړخ اوړي، خوب نه ورځي، چیکله سهار سو، نو ټوله ورځ هم په دغه فکر کي دی، تر ماځیګره پوري ئې انتظار وکړی.

چیکله ماځیګر سو، نو ځان ئې ناګمانه واچوی، او د دجله دریاب پر غاړه را روان سو، په دې نیت: کچیري "بهلول" ملنګ پر هغه ځای ناست وو، ضرور به هغه دینار ور کوم، او هم به هغه سودا ور سره کوم.

چیکله پر هغه لار را روان دی، نو که ګوري: "بهلول" ملنګ بیا پر هغه ځای ناست دی، او هغه رنګه د خاورو څخه کوچني کورونه جوړوي.

ده سلام ورته ووایي، هغه د سلام جواب ور کړی، ده بیا پوښتنه ځني وکړه: چې بهلوله! څه کوې؟ هغه ورته وایي: کور جوړوم، دی ورته وایي: د څه لپاره؟ هغه ورته وایي: چې خرڅوم ئې، چې کم چا را څخه رانیوی، هغه ته دعا کوم، چې په جنت کي الله تعالی کور ور کړي.

"هارون رشید" پوښتنه ځني وکړه: اې بهلوله! د دې کور قیمت څومره دی؟ "بهلول" ورته وایي: د دې قیمت د ټول دنیا بادشاهي ده، "هارون رشید" چې واورېدل، نو وایي: دومره قیمت خو زما سره نسته، او نه زه دا کور رانیولای سم، نو "بهلول" ته وایي: پرون په یو دینار دغه کور تا خرڅوی، او نن د ټولي مځکي دمخ بادشاهي غواړې، آخر دا ولي؟

"بهلول" په جواب کي ورته وویل: بادشاه سلامت! پروند خو نادیده معامله وه، او نادیده سودا وه، نن خو معامله ټوله دیده سوه، نو ځکه پروند ډېره ارزانه وه، او نن

چونکه تا هر څه په سترګو ولیدل، او ماته راغلې، نو ځکه ئې به د دې قیمت هم د غومره زیات ور کوې.

نو زموږ مثال هم داسي دی: چي موږ الله تعالی او د الله تعالی رسول ﷺ باندي بغیر د دیده ایمان راوړی دی، نو ځکه جنت پیدا کول نن موږ ته ډېر آسانه دي. نو سبا که د مرګ په وخت کي د آخرت نښانې او حالات ووینو، نو د هغه شخه وروسته بیا د هغه قیمت نسو ادا کولای، ځکه الله تعالی د هغه ورځي په باره کي فرمایي:

........﴿يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ، وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ. وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ. وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ﴾.(۱)

د قیامت په ورځ به مجرم دا تمنی کوي: چي یا الله! زما زوی ته عذاب ور کړه، خو ما خلاص کړه، او زما د کور زنانې ته عذاب ورکړه، خو ماته نجات راکړه، او زما ورور ته سزا ور کړه، خو ماته نجات راکړه، او زما ټوله خاندان حتی چي په دنیا کي څومره انسانان دي، هغه ټول په جهنم کي واچوه، خو ماته خلاصون راکړه، الله تعالی به ورته وایي: "کلّا" هرګز داسي نده، هر ګز داسي نده.

## د ټولو څخه زیات عجیبه ایمان:

په روایاتو کي راځي: یو ځل پیغمبر ﷺ د یو جهاد څخه واپس را روان وو، او د دریاب پر غاړه باندي ئې قافله واړوله، دی خپل ضرورت ته ولاړی، چیکله د ضرورت څخه فارغه سو، نو دستي ئې تیمم وکړی.

یو صحابي ورته وویل: اې د الله تعالی رسوله! هغه مخته اوبه دي، نو پکار خو دا دی: چي تا د تیمم پر ځای اودس کړی وای، ده په جواب کي ورته وفرمایل: نه معلوم! چي د دې ځای څخه زه تر اوبو پوري ځم، زما زندګي به زما سره وفا وکړي، او کنه، نو پدې وجه ما احتیاطاً تیمم وکړی، د تیمم کولو څخه وروسته بیا پیغمبر ﷺ اودس وکړی، او لمونځ ئې ادا کړی.

(۱) سورة المعارج، آیت نمبر ۱۱-۱۴

د هغه ځخه وروسته صحابه کرام د حلقې په شان پر ده شا او خوا راوګرځېدل، او د ده سره کښېنستل، پېغمبر ﷺ ورته وفرمايل: اې زما صحابه وو! دا راته ووایاست: چې د ټولو څخه زيات عجيبه ايمان د چا دی؟
صحابه کرامو ورته وويل: اې د الله تعالی نبي! زموږ په عقيده کې خو د ټولو څخه زيات عجيبه ايمان د فرښتو دی، پېغمبر ﷺ صحابه وو ته وويل: هيڅکله نه، فرښتې به څنګه ايمان نه راوړي، هغه د نور څخه جوړې سوي دي، او د عرش انوارات سهار او ماښام ويني، او هغه هيڅکله د الله تعالی معصيت او نافرماني کولای نسي.
ځکه الله تعالی د هغوی په باره کې فرمايلي دي:
............لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾.(۱)
د الله تعالی د امر نافرماني نسي کولای، او هر فعل ئې د الله تعالی د امر تابع دی، لهذا د فرشتو ايمان عجيبه ندی.
صحابه کرامو بيا ورته وويل: چې اې د الله تعالی رسوله! بيا خو نو عجيبه ايمان د انبياء کرامو دی، چې هغوی د الله تعالی مقرب مخلوق دي، پېغمبر ﷺ ورته وفرمايل: هيڅکله نه، ځکه چې پر انبياء کرامو باندي د الله تعالی وحي راځي، او هغوی ته الله تعالی لطرفه معجزات ورکول کيږي، کچيري د دې سره انبياء کرام ايمان رانه وړي، نو بيا به څوک ايمان راوړي.
دريم ځل صحابه کرامو په ډېره حيرانتيا کې ورته وفرمايل: چې اې دا لله تعالی نبي! کچيري د هغوی ايمان عجيبه ندی، بيا خو نو زموږ ايمان عجيبه دی، پېغمبر ﷺ ورته وفرمايل: هيڅکله نه، ستاسو ايمان هم عجيبه ندی، ځکه تاسو زما ديدار کړی دی، او تاسو جبرائيل عليه السلام ليدلی دی، او ستاسو و مخته د قرآن نزول سوی دی، چيکله تاسو دومره نښانی پخپلو سترګو باندي ووينی، او د الله تعالی د مدد او نصرت هم مشاهده وکړئ، بيا خو ستاسو ايمان راوړل هم دومره عجيب ندی.
د هغه ځخه وروسته صحابه کرامو ورته وفرمايل: اې د الله تعالی رسوله! بيا خو نو الله تعالی او د هغه رسول ﷺ تر ټولو زيات ښه په خبر دی، چې د چا ايمان زيات عجيبه دی.

پیغمبرﷺ ورته وفرمایل: اې زما صحابه وو! زما څخه وروسته زما د امت یو څه خلګ راځي، هغوی به زما د دنیا څخه د رخصتېدلو څخه په سوو کلونو ورسته پیدا کیږي.

او هغوی به په داسي حال کي دې دنیا ته راسي: چي نه به ئې زما دیدار کړی وي، او نه به ئې د قرآن نزول لیدلی وي، او نه به ئې د فرشتو راتلل لیدلي وي.

او د دې سره هر طرف به فتنې وي، د شکوکو او شبهات زمانه به وي، لیکن د هغه سره چیکله علماء د دوی و مخته زما خبري پیش کړي، نو دوی به زما په محبت کي دا خبري زما د لیدلو بغیر مني، د هغه خلګو ایمان د الله تعالی په حضور کي عجیبه ایمان بلل کیږي.
د هغه څخه وروسته پیغمبرﷺ خپلو صحابه کرامو ته په دا شان د هغه راتلونکو خلګو بیان کوي:

.........إِنَّكُمْ فِي زَمَانٍ مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا﴾.(۱)

اې زما صحابه وو! تاسو په داسي زمانه کي یاست: چي په کومو احکامو تاسو الله تعالی امر کړي یاست، کچیري ستاسو څخه په هغه کي لسمه(۱۰) حصه پاته سي، لا به هم تاسو د هلاکت سره مخامخ سئ.

وروسته یو زمانه را روانه ده، چي د هغوی سره الله تعالی دومره آساني کوي: چي په کومو احکامو دوی امر سوي دي، که په هغه کي دوی په لسمه(۱۰) حصه باندي هم عمل وکړي، لا به هم نجات پیدا کړي.

## د استقامت اهميت:

يقيناً دا عجيبه خبره ده: چي موږ او تاسو د الله تعالی او د هغه پر رسول باندي ناديده ايمان راوړی دی، ځکه د پيغمبرﷺ د دنيا څخه د رخصتېدلو غالباً اوس څورلس(۱۴) سوه کاله تېر سوي دي، او د صحابه وو زمانه هم تېره سوې ده، او "خير القرون" چي هغه نيکي زمانې وې، په هغه کي ديندارَه خلګ ډېر وو، هغه هم ټولي تېري سوي دي.

او د هغه سره څلور طرفه فتنې دي، ظلمت دی، او فسادونه دي، او هغه زمانه پر موږ او تاسو رارسېدلې ده: چي پيغمبرﷺ د هغه پېشګوئي هم کړېده:

.........﴿يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا﴾.(١)

سهار به يو سړی مؤمن وي، او ماښام به کافر سي، او ماښام به مؤمن وي، او سهار به کافر وي، د دنيا د معمولي ګټي پخاطر به دی ايمان د ځان څخه رخصت کړي.

نو اوس موږ او تاسو په داسي زمانه کي روان يو: چي د هر طرف څخه انسانان پر ايمان باندي ډاکه اچولو ته تيار دي.

او د انسانانو د حق لاري څخه د راګرځولو لپاره ډېر اسباب موجود دي، په دې وخت کي کوم څوک پر ايمان باندي استقامت وکړي، نو يقيناً هم د هغه ايمان د الله تعالی په دربار کي ډېر عجيب ايمان بلل کيږي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته د استقامت کولو توفيق رانصيب کړي، او چي څومره فتنې د مځکي پر مخ دي ظاهري که باطني الله تعالی دي د هغه ټولو څخه موږ او تاسو ته حفاظت رانصيب کړي.

(١) سنن ترمذي: حديث نمبر ٢١٩٥

او الله تعالی دي تر مرګه پوري مونږ او ايمان نه سره جلا کوي، الله تعالی دي دا ټو خبري قبولي کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د ایمان عظمت، دویمه حصه

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولیٰ ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿ قَالَ رَجُلٌ: مَا الْإِثْمُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ قَالَ: مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ فَدَعْهُ، قَالَ: فَمَا الْإِيمَانُ؟ قَالَ: مَنْ سَاءَتْهُ سَيِّئَاتُهُ، وَسَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ، فَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! په تېره جمعه کي مي ستاسو و مخته د دې خبري تذکرَه کړې وه: چي په دنيا کي د انسان زندګي آزاده نه ده، بلکه انسان د دنيا په زندګي کي ديو ضابطې او قانون پابنده دی، کچيري انسان خپله زندګي په هغه ضابطه او قانون کي پابنده تېره کړي، نو بيا خو د انسان لپاره دغه زندګي کاميابه بلل کيږي.

او کچيري انسان د ضابطې او قانون پابندي نه وکړي، او خپله زندګي آزاده تېره کړي، نو بيا خو د انسان هغه زندګي ناکامه بلل کيږي.

او هغه ضابطه د الله تعالی شريعت، او د شريعت د احکامو په شکل د انسان و مخته ته ايښول سوې ده.

(١) سورة العنکبوت: آيت نمبر١

(٢) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ٢٠١٠٤

## د ژوند تېرولو دوې طریقې:

د انسان لپاره په دنیا کې د ژوند تېرولو دوې(۲) طریقې دي.

۱. یوه طریقه د نظر ده، یعنې: چې څه په سترګو باندې وینې، او ده لره په نظر ورځي، بس هغه منل، مثلاً سترګه دا وینې: چې په رشوت اخیستلو کې فائده ده، مال ره په آسانه طریقه ډېر مال لاس لره راځي، او سترګه دا وینې: چې په دوکه کولو کې او پخپل تجارت کې په ګډوډي کولو کې انسان لره زیاته نفعه وي، نو چې انسان بس دغه د سترګو په لیدلو باندې عمل کوي، نور هیڅ نه پیژني، نو دغه انسان د مشاهدې او د نظر د زندګۍ تېرولو انسان بلل کیږي.

۲. او دویمه طریقه د خبر زندګي ده؛ مثلاً: یو سړی دی، هغه ته د پېغمبر ﷺ دا خبر را رسېدلی دی: چې رشوت اخیستونکی او ورکونکی به دواړه په جهنم کې وي، یا پېغمبر ﷺ دا فرمایلي دي: چې کم څوک دوکه کوي، او پخپل کار او تجارت کې د انسانانو سره خیانت کوي، هغه زما د طریقې څخه نه دی. نو دی دغه اورېدلي خبري په دماغ کې ونیسي، او په هغه باندې عمل کوي. نو دغه د خبر زندګي بلل کیږي، او دې ته ایماني زندګي هم وایي.

په نورو الفاظو به زه تاسو ته دا ووایم: چې د خبر د زندګۍ څخه مراد دادی: چې د الله تعالی لطرفه کم دین موږ ته راغلی دی، پر هغه باندې په پټو سترګو باندې عمل کول، دا د خبر زندګي ده، او د خبر زندګي همېشه زموږ د انسانانو لپاره د کامیابۍ زندګي ګرځېدلې ده، زه و تاسو ته په یو څو مثالو باندې د دې وضاحت پېشوم.

## اول مثال:

حضرت موسی علیه السلام چې کله په "مصر" کې د جادوګرانو مقابلې ته راوراندي سو، نو د حضرت موسی علیه السلام په مقابله کې اویا زره(۷۰۰۰۰) جادوګران دي، او د هغوی په لاسونو کې لکړي او رسۍ دي، هغوی چې خپلې لکړي او رسۍ پر مځکه باندې وغورځولې، نو د هغوی ټولو څخه ماران جوړ سول، او هغه ماران په ډېر زیات شمار کې وو، او دومره غټ هم وو، چې د غرونو په شان لیدل کیدل، څلور(۴) طرفه پر حضرت موسی علیه السلام راوګرځېدل.

اوس په دغه حالت کي کچيري انسان د خپل عقل او مشاهدې څخه پوښتنه وکړي، چي څه کول په کار دي؟ نو د ده عقل او نظر او مشاهده چي څه ويني نو هغه په نتيجه کي به ده ته دا مشوره ور کړي: چي ته خپله لکړه مضبوطه په لاس کي ونيسه، چي کم مار تاته نژدې راځي، نو دغه لکړه د هغه پر سر باندي ووهه، او د هغه څخه د خپل ځان دفاع کوه، نو ستا د دفاع بس داغه يوه لار ده، چي ته لکړه د لاس څخه ليري نه کړې، او که دي لکړه د لاس څخه ليري کړه، نو د حفاظت هغه آخرنی اميد به دي هم ختم سي.
ليکن په دغه حالت کي چي دی د الله تعالی څخه پوښتنه کوي: چي زما لپاره څه کول دي؟ نو د الله تعالی لطرفه دا حکم او خبر ورته راځي: چي اې موسی!
............أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ﴾.
ته خپله لکړه پر مځکه باندي وغورځوه، اوس عقل به پدې وخت کي ضرور فرياد کوي، او هم به دا وايي: چي لکړه پر مځکه نه غورځول، بلکه په لاس کي نيول، او پدې سره مقابله کول، ځکه دا د خپل ځان د مارانو څخه د دفاع يوازنۍ ذريعه ده.
حضرت موسی علیہ السلام چونکه د الله تعالی نبي وو، نو ده عقل او نظر او مشاهده ته هيڅ اعتبار ور نکړی، بلکه د الله تعالی په خبر او حکم باندي ئې عمل و کړی، هغه خپله لکړه ئې پر مځکه باندي وغورځوله، چي څنګه ده لکړه پر مځکه وغورځوله، الله تعالی د هغه څخه مار جوړ کړی، چي د جادوګرانو ټول ماران ئې په هغه ميدان کي د سترګو په "رف" کي تېر کړل، او الله تعالی حضرت موسی علیہ السلام ته کاميابي ور نصيب کړه.

## دوهم مثال:

حضرت موسی علیہ السلام چيکله د خپل قوم بني اسرائيلو سره د مصر څخه وواتی، د ده خپل قوم دده سره پنځه لکه(۵۰۰۰۰۰) انسانان وو، فرعون سره د خپله لښکره په ده پسي روان سو، چي د فرعون د لښکر صرف مقدمه اوه لکه(۷۰۰۰۰۰) انسانان وو، حضرت موسی علیہ السلام چيکله درياب ته ورسېدی، نو مخته درياب راغلی، او شاته د فرعون لښکر ور پسې دی، نو د حضرت موسی علیہ السلام ملګرو چيکله و ليدل: مخته درياب دی، او تر شا د فرعون لښکر ور پسي راورسېدی:

﴿............قَالَ أَصْحَابُ مُوسَى إِنَّا لَمُدْرَكُونَ﴾.(۱)

د موسی علیه السلام ملګرو فریاد شروع کړی، چې اوس خو موږ نیول کیږو.

﴿...........قَالَ كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ﴾.

حضرت موسی علیه السلام خپلو ملګرو ته وویل: چې هرګز داسي نده: بلکه زموږ رب زموږ سره ملګری دی، هغه به موږ ته ضرور د خلاصون یوه لاره را برابروي.

اوس پر دې موقع باندي که انسان دعقل څخه پوښتنه وکړي: چې د انسان لپاره پداسي حالت کي څه کول پکار دي؟ نو عقل او مشاهده به دواړه دا مشوره ور کړي: چې مخته د اوبو دریاب دی، او شاته د انسانانو دریاب دی، او ته د دواړو په مابین کي ئې، او ستا سره یوه لکړه در سره ده، نو هغه لکړه مضبوطه ونیسه، او په هغه سره د دښمن مقابله وکړه، کیدای سي: ته به کامیابه سې.

لیکن حضرت موسی علیه السلام د الله تعالی د خبر په انتظار دی، چې په دې حالاتو کي الله تعالی ماته کوم خبر را کوي، د څه انتظار څخه وروسته الله تعالی حضرت موسی علیه السلام ته خبر را استوي: اې زما موسیٰ!

﴿............أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ﴾.

ته خپله لکړه پر اوبو باندي ووهه، نو عقل او نظر پدې وخت کي فریاد شروع کوي، او دا وایي: چې پر اوبو باندي په لکړه وهلو کي څه فائده ده؟ که لکړه وهل کیږي، نو د فرعون پر سر دي ووهل سي.

مګر حضرت موسی علیه السلام و عقل او نظر ته څه اعتبار نه ور کوي: او د الله تعالی په خبر عمل کوي، او خپله لکړه پر اوبو باندي وهي، الله تعالی په اوبو کي ده ته دوولس(۱۲) لاري جوړوي، چې دی دخپل قوم سره په هغه کي تېرېږي، او فرعون د لښکر سره په هغه کي غرقیږي.

## دریم مثال:

حضرت موسی علیه السلام چې خپل قوم بني اسرائیل د دریاب څخه تېر کړل، وادي "تیه" ته ورسېدل، نو هلته اوبه نسته، قوم ټوله د اوبو د نیستی په وجه پرېشانه سو، دستي ئې

(۱) سورة الشعراء: آیت نمبر ۶۱

د حضرت موسی علیہ السلام څخه د اوبو غوښتنه وکړه، دحضرت موسی علیہ السلام سره یوه لکړه ورسره وه، نور هیڅ ور سره نه وو.

اوس پدې ځای کې که انسان د عقل او نظر څخه معلومات وغواړي، نو هغه به ورته وايي: چي ستا سره خو نور هیڅ نسته، صرف یوه لکړه ده، نو په هغه لکړه که ته مځکه غار کړې، کیدای سي: اوبه راووزي، لیکن په ډېر احتیاط به د مځکي غار کول وي، هسي نه: چي لکړه پکښي ماته نسي، نو لکړه د اوبو پیدا کولو آخرنې وسیله ده، که دا ماته سي، بیا خو به حالات تر دې نور هم خراب سي.

اوس پدې حالت کي حضرت موسی علیہ السلام د الله تعالی د خبر په انتظار دی: چي الله تعالی ماته څه حکم او خبر را استوي، د لږ انتظار څخه وروسته د الله تعالی لطرفه دا خبر راځي:

............اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ﴾.

اې موسی! ته خپله لکړه پر ډبره باندي ووهه، او عقل به ضرور فریاد کوي: چي لکړه کچیري پر ډبره باندي ووهل سي، نو دا به ضرور ماتیږي، او د دې په ماتېدو سره چي د اوبو راایستلو هغه واحده وسیله وه، هغه به هم ختمه سي.

لیکن حضرت موسی علیہ السلام د عقل او نظر خبر ي ته اعتبار نه ور کوي، او د الله تعالی په خبر عمل کوي، او خپله لکړه پر ډبره باندي وهي، چیکله ده ووهله:

............فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾.(۱)

نو د هغه ډبري څخه دوولس(۱۲) چشمې د اوبو روانیږي، او الله تعالی د ده او د قوم پرېشاني ور ختموي.

نو د دې تولو مثالو څخه دا ښکاره سوه: چي د نظر په لار تګ کول همېشه د ناکامی ذریعه وي، او د خبر په لار تګ کونکي انسانان همېشه کامیابه وي.

## د الله تعالی پر حکمونو استقامت کول:

نو زه دا وایم: چي د کفارو عمل همېشه د نظر پر لار وي، او د مؤمن مسلمان عمل به د خبر پر لار وي، او دا خبره باید موږ او تاسو په ذهن کي په ښه طریقه سره کښېنو: چي

(۱) سورة البقره: آیت نمبر ۶۰

مسلمان به د دنيا و فائدو ته نه ګوري، بلکه د ده نظر به همېشه د الله تعالی پر حکمونو باندي وي.
نو زموږ او ستاسو مخته به ډېري فائدې راځي، او زموږ نظر به موږ ته ډېري فائدې ښکاره کوي، خو کچيري هغه فائدې د الله تعالی د حکم او چي د الله تعالی لطرفه کوم خبرونه موږ ته رارسېدلي دي، د هغه سره په مقابله کي وي، نو موږ به هغه فائدې پر شا غورځوو، خو په خپل عمل کي به د الله تعالی حکمونو ته ځای ور کوو، او په هغه اخبارو به عمل کوو، چي د الله تعالی لطرفه موږ ته راغلي دي.

## انسان او امتحان:

خو دا يو حقيقت دی: چي د انسان لپاره د دنيا زندګي امتحاني ده، پدې دنيا کي به پر انسان باندي امتحانات ضرور راځي، ليکن که د انسان عمل د خبر پر لاره وي، نو همېشه به کاميابي د ده په نصيب وي، د الله تعالی فرمان دی:

............﴿أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ﴾.(١)

ايا انسانان دا ګمان کوي: چي دوی به يو طرفته ځانو ته مسلمانان وايي، او الله تعالی به د دوی امتحان نه اخلي.

............﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾،

په تحقيق سره: موږ د مخکنيو قومونو هم امتحان اخيستی دی.

............﴿فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ﴾.(٢)

چي الله تعالی ته صادق او کاذب مشاهدةً ور معلوم سي.

نو انسان دي هيڅکله دا ګمان نه کوي: چي د ايمان راوړلو څخه وروسته به پر ما امتحانونه نه راځي، او زما لپاره به صرف ايمان راوړل کافي وي، بلکه د ايمان راوړلو څخه وروسته انسان ضرور د امتحاناتو سره مخامخ کيږي، لکه الله تعالی انسانانو ته دا خبره په مختلفو ځايو کي ښکاره کړېده:

..........وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ﴾.(١)

موږ به د انسانانو امتحان په مختلفو طريقو اخلو كله به وږه وي، كله به لوږه وي، كله به په تجارت كي نقصان وي، او كله به باغونه مرضونه كوي، كله به د انسان نفس بيماره كيږي، كله به زلزلې وي، او كله به سيلابونه وي.

خو چي كوم څوک په دغه امتحاناتو كي ثابت قدمه زندګي تېره كړي، ته ده ته زيرى د كاميابۍ ور كړه، نو دا ښكاره خبره ده: چي د الله تعالى د امتحاناتو ليدلو بغير د انسان د ايمان كمال نه ښكاره كيږي.

## د دنيا د زندګۍ ترتيب:

په دنيا كي د الله تعالى ترتيب داسي دى: چي انسان همېشه پر يو حال نه پاته كيږي، ځكه د الله تعالى فرمان دى:

..........وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ﴾.(٢)

دغه ورځي موږ د انسانانو په مابين كي پر لره ګرځوو؛ نن چي په كوم كور كي د خوشحالۍ آوازونه راپورته كيږي، سبا به د هغه كور څخه د غم فريادونه هم پورته كيږي، چي كوم انسان نن د صحت په حالاتو كي خوشحاله ژوند تېروي، يو وخت به دى د ناجوړۍ او بيمارۍ سره ضرور مخامخ كيږي.

نن چي كوم نوجوان د ځوانۍ په نشه كي مخمور دى، يوه ورځ به دى د بوډاوالي او د ضعف د حالاتو سره مخامخ كيږي.

## د يو بوډا واقعه:

زه كله كله تاسو ته د يو بوډا واقعه بيانوم: چي ډېره د عبرته ډكه ده، په يو كتاب كي ليكلي دي: چي يوه ورځ پر لاره باندي يو بوډا روان دى، د ډېره ضعف په وجه پر ملا باندي كوږ دى، او مځكي ته ګوري، او د نظر د كمزورۍ په خاطر ئې پر ستر ګو

---

(١) سورة البقره: آيت نمبر ١٥٥
(٢) سورة آل عمران: آيت نمبر ١٤٠

چشمې اینبي دي، بلکل کیفیت ئې داسي دی: لکه یو څوک چي په یو ورک شي پسي ګرځي.
په لاره کي یو څو نو جوانان ناست دي، هغوی چي ورته وکتل، نو زړه ئې غواړي، چي پر ده باندي مذاق او مسخره وکړي، او پر هغه باندي خپل مجلس تازه کړي، نو په هغه نوجوانانو کي یوه ږغ ورباندي وکړی؛ ویل ئې: بابا! په څه پسي ګرځې؟ او کوم شی در څخه ورک دی؟ چي نه در پیدا کیږي؟
هغه بوډا په جواب کي ورته وویل: بچیه! یو شی را څخه ورک دی، د هغه په تلاش کي سرګردانه یم، نه را پیدا کیږي، خو تاسو غم مه کوئ! تاسو به هم زما غوندي لږ زمانه بعد پسي وګرځئ.
هغه نوجوان ورته وایي: بابا! کم شی در څخه ورک دی؟ چي په هغه پسي ګرځې؟ بوډا ورته وایي: بچیه! ځواني را څخه ورکه ده، او ډېر پسي وګرځېدلم، خو پیدا مي نه کړه، تاسو به هم یو څه زمانه بعد زما غوندي ور پسي وګرځئ.
نو مقصود مي دا دی: چي د دنیا په زندګي کي انسان د قسما قسم حالاتو سره مخامخ کیږي، خو د مسلمان بنیادي صفت به د الله تعالی او د هغه د رسول لطرفه چي کوم اخبارات رارسېدلي دي، په هغه باندي عمل کول، او همېشه د استقامت په شکل پر هغه باندي ژوند تېرول.

## د ازمائش راتللو مطلب:

ګورئ! نن چیکله انسان د خپل ضرورت لپاره یو لوښی رانیسي، نو هغه هم یو ځل هغه لوښی په نوک ټکوي، او ګوري ئې، او ځان ته ئې معلومات کوي: چي کچه دی او که پوخ، الله تعالی هم دغه رنګه د ایمان په معامله کي بنده ټکوي، او ګوري ئې، او د بنده د ایمان ذستي معلومات کیږي.
چي کوم څوک په ایمان کي کچه وي، نو هغه پر شا ځغلي، فقط هغه څوک استقامت کوي، چي د هغه ایمان مضبوط وي، نو الله تعالی پدې وجه د بنده امتحان اخلي، چي کره او کوټه مشاهدهٔ ښکاره سي.

نو مور او تاسو خو به اول د الله تعالی څخه دعافیت ژوند غواړو، ځکه موږ کمزوري یو، او د امتحان قابل برداشت نه لرو، لیکن کچیري بیا هم د الله تعالی لطرفه یو امتحان راباندي راسي، نو باید انسان ډېر نه وویرېږي.

ځکه چي الله تعالی د کوم چا پر سر بوج ایږدي، نو بیا هغه ته د هغه بوج پورته کولو طاقت هم ور کوي، ځکه د الله تعالی دا فیصله ده:

............﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾.(۱)

الله تعالی د یو چا د همت څخه زیات پر هغه بوج نه اچوي.

زموږ په معاشره کي چي یو شریفه انسان وي، نو هغه هم پر یو ماشوم بچي چي هغه د نیم من پورته کولو طاقت لري، د هغه د طاقت څخه زیات د یو من بوج نه اچوي، نو الله تعالی به بیا پر خپلو بندګانو باندي د هغه د طاقت څخه زیات بوج چیري اچوي.

بلکه حقیقت خبره دا ده: چي د یو چا پر سر باندي بوج اچول دا وروسته وي، او هغه ته د پورته کولو همت مخکي ور کول کیږي، نو کچیري یو امتحان را هم سي، نو په خوشحالي سره او په صبر او برداشت سره قبلول، الله تعالی به یوه ورځ د هغه صبر ښه نتیجه په انسان باندي ویني.

## د حضرت موسی علیه السلام د مور د صبر واقعه:

فرعون ته په مصر کي خپلو کاهنانو دا خبر ور کړی: چي په بني اسرائیلو کي یو بچی پیدا کیږي، چي هغه به ستا د حکومت د زوال ذریعه ګرځي، نو فرعون د کاهنانو په مشوره د بني اسرائیلو د قوم چي کم نارینه بچیان پیدا کېدل د مرګ فیصله وکړه، او هغه به ئې ټول قتلول.

وروسته د بني اسرائیلو نارینه انسانان ډېر کم سول، چونکه فرعون او د هغه قوم په بني اسرائیلو باندي د خپلو کورو او ځکو خدمتونه هم کول، نو د بني اسرائیلو د قلت سره د فرعون او ده د قوم د کورو او د ځکو په خدمتونو کي مشکلات راغلل، نو وروسته فرعون دا فیصله وکړه: چي یو کال به ئې د بني اسرائیلو بچي ژوندي پرېښوول، او یو کال به ئې قتلول.

---

(۱) سورة البقره: آیت نمبر ۲۸٦

اتفاقاً حضرت موسی علیه السلام په داسي کال باندي پيدا سو : چي په هغه کال باندي دبني اسرائيلو د بچيانو د قتلولو فيصله وه، چيکله حضرت موسی علیه السلام پيدا سو، نو الله تعالی فرمايي:

.......﴿وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ﴾.

مور د موسی علیه السلام و مور ته وحي وکړه: چي ته و خپل بچي ته "تَی" ور کوه.

نو د حضرت موسی علیه السلام مور غالباً تر درو (۳) مياشتو پوري په کور کي دننه په پټه طريقه حضرت موسی علیه السلام خوندي کړی وو، او پخپل تي ئې پالی.

وروسته الله تعالی ورته وفرمايي:

.......﴿فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ﴾. او کچيري تاته دده په باره کي وېره وه، چي د فرعون عسکر ئې قتل نه کړي، نو بيا:

.......﴿فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ﴾. نو بيا دی په درياب کي واچوه:

.......﴿وَلَا تَخَافِي﴾. مه وېرېږه.

.......﴿وَلَا تَحْزَنِي﴾. او ته غم مه کوه.

.......﴿إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ﴾. مور به دغه بچی تالره واپس راوسوو.

.......﴿وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾.(١) او مور به دی د رسولانو څخه کړځوو.

د حضرت موسی علیه السلام مور يو زنانه وه، د هغې په ذهن کي دا راګرځېدلای سوه: چي اې الله! که ته دی د رسولانو څخه ګرځوې، نو د فرعون يو عسکر هم زمور کورته مه را پرېږده، يا اې الله! زه به دی په يو غار کي کښېږدم، يا به دی د کور پر چت باندي وساتم، چي دی د فرعون د لښکر څخه محفوظه سي.

مګر الله تعالی ورته فرمايي: چي ته بچی په اوبو کي واچوه، عقل دا وايي: چي بچی به په اوبو کي غرق سي، او که دی زه په صندوق کي واچوم، او صندوق په اوبو کي کښېږدم، نو صندوق ته به دننه اوبه راسي، او زما بچی به بيا اوبه مړ کړي، او که زه د صندوق ټول سوريان بند کړم، نو بيابه د هوا د دننه ور تللو په وجه د ده ساه بنده سي، چي د هغه په وجه به دی مړ سي.

---

(١) سورة القصص: آيت نمبر ٧

نو عقل هغه زنانه ته وايي: چي يا به د اوبو په وجه مري، يا به د هوا نه راتللو په وجه مري، ستا بچی هيڅکله نسي پاته کېدلای، ليکن هغه زناني د الله تعالی پر وعده او خبره باندي اعتماد وکړی، او خپل بچی ئې په اوبو کي واچاوی، او دا واپس کورته راغله.

د الله تعالی شان ته ګورئ! چي فرعون د خپلي زناني سره سهار وختي د درياب پر غاړه چهل قدمي کوي، څلور سوه(۴۰۰) غلامان د ده مخ او شاته او يو طرف او بل طرف ته ورسره روان دي، فرعون چي کله صندوق وليدی، نو دستي ئې د درياب څخه د راکښلو امر وکړی، او د راکښلو څخه وروسته عسکرو هغه صندوق د فرعون و مخته خلاص کړی.

چيکله صندوق خلاص سو، نو په هغه کي يو بچی پروت دی، الله تعالی فرمايي:

.........﴿وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِنِّي﴾. اې موسی! موږ ستا پر مخ باندي د محبت تجلی واچوله، ګويا: الله تعالی د حضرت موسی عليه السلام مخ مبارک ته داسي حسن ور کړی: چي کوم چا به ورته کتل، د هغه څخه به ئې زړه وړی، او هم به پر ده عاشق کېدی.

چنانچه د فرعون زناني چيکله وليدی، نو دستي ئې فرعون او د ده عسکرو ته وويل:

.........﴿لَا تَقْتُلُوهُ﴾. تاسو دغه بچی مه قتل کوئ.

.........﴿عَسَى أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا﴾.

يا به دی موږ ته يو نفعه راورسوي، يا به ئې موږ د ځان لپاره بچی جوړ کړو.

فرعون چي کله د خپلي زناني خبره واورېدله، نو د ځان سره ئې دا فکر وکړی: چي کله موږ دی د خپلي بچي غوندي وپالو، نو دی به زموږ تر احسان لاندي وي، او زموږ حکومت ته به د ده څخه ضرر نه رسيږي.

نو ده خپلي زناني ته وويل: چي صحيح دی، موږ دا بچی نه قتل کوو، د فرعون عقل دلته دوکه سو، چي په زرونو بچيان ئې په داغه نيت باندي قتل کړل، ليکن چي کله هغه بچی د ده لاس لره ورغلی، نن د زناني په معمولي خبره باندي الله تعالی دی دوکه کوي.

په کتابو کي ليکلي دي: زناني چي کله د فرعون خبره واورېدله، نو ډېره زياته خوشحاله سوه، او فرعون ته به ئې ويل:

............﴿قُرَّتُ عَيْنٍ لِي وَلَكَ﴾. دا به زما او ستا د دواړو د سترګو د خونکوالي ذریعه وي، فرعون د هغه په جواب کي وویل:

............﴿قُرَّتُ عَيْنٍ لَكَ﴾. دا دي ستا د سترګو خونکوالي سي.

............﴿لَا حَاجَةَ لِيْ﴾. زما و دې بچي ته یوه ذره ضرورت نسته.

صاحب د "روح المعاني" لیکلي دي: چیکله د فرعون زناني:

............﴿قُرَّتُ عَيْنٍ لِي وَلَكَ﴾. وویل، کچیري پدې وخت کي فرعون بدبخته صرف پدې خبره تصدیق کړی وای، نو د هغه په برکت به الله تعالی و فرعون ته د ایمان راوړلو توفیق ور نصیب کړی وای.

چونکه د فرعون زنانه "حضرت آسیه" ډېره خوشحاله سوه، نو فرعون د دې د خوشحالۍ په خاطر هلته موجود څلور سوه (۴۰۰) غلامان آزاد کړل، په تفسیر کي دا نکته هم ور سره لیکلېده: چي حضرت موسی علیه السلام تر دې وخته ماشوم وو، چیکله دنیاته راغلی، نو د څلورو سوو (۴۰۰) غلامانو د آزادۍ سبب جوړ سو.

دغه رنګه چي کله د الله تعالی یو نیک بنده یو آبادۍ ته راسي، نو د هغه ابادۍ انسانانو ته د ده په ذریعه الله تعالی د نفس او شیطان د غلامۍ څخه آزادي ور نصیب کوي.

حضرت موسی علیه السلام چي ئې کله خپل محل ته راوړی، نو د دوی سره د ده د خورک او د ښیدو ور پیدا کولو فکر پیدا سو، نو ډېري زناني "تی" ور کونکي ئې هلته ورته راوستلې، چي ده ته "تی" ور کړي، مګر ده د یوې زناني "تی" هم نه قبلوی، ځکه الله تعالی فرمایي:

....﴿وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ﴾.

موږ پر ده باندي د نورو زنانو "تی" رودل حرام کړي وو.

فرعون ډېر پرېشانه سو، چي دا بچی خو د یوې زناني "تی" نه قبلوي، او امر ئې وکړی: چي تاسو یو څه نوري زناني پیدا کړی، چنانچه نوري زناني هم راحاضري سوې، لیکن دی د یوې زناني و "تي" ته نه ګوري، فرعون په پرېشاني کي دی، دغه د پرېشانۍ په حالت کي شپه تېره سوه.

دلته د حضرت موسی علیه‌السلام مور ډېر زیاته پرېشانه وه، ډېر دغم او پرېشانۍ په حالت کي ئې شپه سهار کړه، الله تعالی فرمايي:

............﴿إِنْ كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا﴾.

کچیري مورږ د دې پر زړه باندي مضبوطی نه وای راوستلې، او د دې په زړه کي مي سکون ور پیدا کړی، نو قریبه وه: چي دې خپل حال ښکاره کړی وای، یعني: دې به ژړا کولای، او خلګو ته به دا معلومه سوې وای: چي دا د دغه بچي مور ده.

نو هغه زناني خپلي لور ته وویل: چي ته ورسه! د خپل ماشوم وروړ حال معلوم کړه، او بیا راسه، چنانچه د حضرت موسی علیه‌السلام خور په ډېره منډه راغله. او د فرعون په محل کي ئې وکتل: چي حضرت موسی علیه‌السلام د زنانو په غېږه کي پروت دی، او ټولي زناني ده ته د "تي" ور کولو کوشش کوي، او دی د یوې زناني "تی" هم نه نیسي، او فرعون په دې حالت کي پرېشانه دی.

د حضرت موسی علیه‌السلام خور فرعون ته وویل:

............﴿هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُ لَكُمْ وَهُمْ لَهُ نَاصِحُونَ﴾.(۱)

ایا زه تاسو ته یو داسي کورنۍ در وښیم: چي دغه بچي ته به شیدې ور کړي، او د ده به ښه پالنه وکړي، او هغه به د ده ډېر خیر خواهان وي؟

فرعون چیکله دا واورېدل: چي دا کورنۍ به د ده خیر خواهان وي، نو دستي ئې په زړه کي شک پیدا سو، نو د موسی علیه‌السلام د خور څخه ئې پوښتنه وکړه: چي دغه کورنۍ به نو ولي د دې بچي خیر خواهان وي؟ د دې څخه خو دا معلومېږي: چي دغه بچی د دغه کورنۍ دی؟

هغه زنانه چونکه د حضرت موسی علیه‌السلام خور وه، او ډېره هوښیاره وه، دستي ئې فرعون ته وویل: چي د ده څخه زما مطلب بادشاه دی: چي هغه کورنۍ به د بادشاه یعني ستا ډېر خیرخواهان وي، او ولي به نوي: ځکه چي هغه کورنۍ ستا په رعیت کي دي، که هغه هم ستا خیر خواهان نسي، نو بیا به څوک ستا خیر خواهان وي.

فرعون چي دا واورېدل: نو ئې وویل: چي خبره خو دي صحیح ده، نو ورسه! د هغه کورنۍ زنانه تر مورږ پوري راوبوله، چي دلته راسي، او دغه بچي ته "تی" ورکړي.

(۱)سورة القصص: آیت نمبر ۱۲

د حضرت موسی علیه السلام خور په منډه تر خپله کوره راغله، او مور ته ئې وویل: موري! راځه! هغه زما ماشوم ورور د بلي هیڅ زناني "تی" نه قبلوي، د حضرت موسی علیه السلام مور هلته راغله، او هغه بچي ته ئې "تی" په خوله کي ور کړی، او هغه بچي دغه "تی" ونیوی، او د شیدو خورک ځني شروع کړی، فرعون ډېر خوشحاله سو، دستي ئې د موسی علیه السلام د مور څخه پوښتنه وکړه: چي دا بچی ولي ستا "تی" قبلوي، او دبلي زناني تی نه قبلوي، د دې څخه خو دا معلومیږي: چي ستا د دې بچي سره قرابت دی.

د حضرت موسی علیه السلام مور ورته وویل: چي هیڅکله نه، بلکه زما شیدې ډېري پاکي او خوشبویه دي، او هر بچی ئې په ډېر شوق باندي خوري، نو ځکه ده هم زما "تی" قبول کړی.

هغه مور ئې دوې او درې شپې په دغه محل کي وده ته "تی" ور کړی، د هغه څخه وروسته د حضرت موسی علیه السلام مور وویل: چي زه خپل کور ته ځم، زه نور وخت په دې محل کي نسم تېرولای.

فرعون ورته وویل: چي بیا نو دغه بچی د ځان سره یوسه، او پخپل کور کي ئې پاله، او ده ته شیدې ور کوه، مور به د خزانې څخه ستا لپاره معاوضه مقرره کړو، او هره میاشته به ئې تاته در رسوو.

الله تعالی فرمایي:

............﴿فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ﴾. مور د ی خپلي مور ته راواپس کړی.

............﴿كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا﴾. چي د ده په لیدلو د مور سترګي خونکي سي.

............﴿وَلَا تَحْزَنَ﴾. او دا دي غم نه کوي.

............﴿وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾.

او چي دا په دې پوه سي: چي د الله تعالی وعده برحق ده، او د الله تعالی وعده رشتوني ده، لیکن اکثره خلک د هغه په وعدو باندي نه پوهیږي.

## دوچنده انعام:

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی: چي کوم سړی د حضرت موسی علیه السلام د مور غوندي د الله تعالی پر وعدو باندي اعتماد وکړي، الله تعالی به ده ته دوه چنده انعام ور کوي.

صحابه کرامو پوښتنه څني وکړه: چي اې دالله تعالى نبي! دوچنده انعام څنګه وي؟ پيغمبرﷺ ورته وفرمايل: تاسو د حضرت موسى عليه السلام مور ته وګورئ! هغه خپل بچي ته شيدې ور کوي، او الله تعالى د فرعون د خزانې څخه د دې لپاره وظيفه هم مقرره وي.

## د ايمان حفاظت:

زموږ بايد دالله تعالى رب العزت پر ذات مکمله بروسه او اعتماد وي، کچيري پر موږ باندي داسي حالات راسي: چي زموږ تر پښو لاندي د دار تخته وي، او په غاړه کي مي د دار رسۍ وي، يا يو څوک په ژوند کي زموږ د بدنو څخه پوست را اړوي، بيا به هم موږ په خپل زړه کي ايمان مضبوطه ساتو، او دا به مو فيصله وي: چي زموږ د بدن څخه دي روح جلا سي، ليکن په زړو کي دي مي ايمان مضبوطه وي، او پر دې باندي بايد موږ همېشه مستقيم اوسو.

## د استقامت عجيبه واقعه:

زموږ سلفو پر دين باندي عجيبه استقامتونه کړي دي، حضرت عبد الله بن حذافه رضي الله عنه يو ځل د خپلو ملګرو سره د اهل روم په قيد کي راغلی، ده ته چونکه الله تعالى ډېره خوبصورته او ښائسته ځواني ور کړې وه، او دی ډېر مذاقي صحابي وو، چي همېشه به ئې پيغمبرﷺ هم په مجلس کي خنده وی.

يو ځل حضرت عمر رضي الله عنه د ده شکايت وکړی: اې الله تعالى رسوله! دغه عبد الله ډېر مذاق او مسخرې کوې، ته يو څه ورته ووايه: پيغمبرﷺ په جواب کي ورته وويل: .............دَعُوْهُ فَإِنَّهُ يُحِبُّ الله وَرَسُوْلَهُ﴾.

عبد الله پرېږدئ! ده ته هيڅ مه واياست! ځکه د ده د الله او د الله تعالى د رسول سره ډېره مينه او محبت دی.

دی چيکله په قيد کي راغلی، نو روميانو دا فيصله وکړه: چي دا ډېر بهادر او د غيرت مند انسان دی، کچيري زموږ د عيسائيت دين ته راسي، نو زموږ لپاره به ډېر د قوت او د کاميابۍ باعث وګرځي.

نو اول ځل ئې دی ډېر و وېراوی، چي ته عيسائي سه، قسماقسم خبري او سختی ئې وه ورته کښېښوولې، او دا ئې ورته وويل: که عيسائي نسې، نو د دې انجام سره به مخامخ سې، ليکن هغه د پيغمبر ﷺ صحبت يافته انسان وو، چي پر هغه باندي د دغه ويري او وهم هيڅ اثر نه راتلی.

بيا ئې ده ته لالچ او طمعه ور کړه، کچيري ته عيسائي سې، نو موږ به پخپل حکومت کي تاته ډېره لويه رتبه در کړو، او داسي به دي ونازوو، خو هر رنګ مکرونه ئې ورته پيش کړل، ليکن پر ده باندي هغه هم څه اثر نه وکړی.

آخر ئې د ټولو څخه هغه خطرناکه حربه وربانديي استعمال کړه: چي هغه بې حيائي وه، نو يو ښائسته زنانه ئې دده سره په حجره کي واچوله، او هره قسم نعمتونه ئې ورته کښېښوول، او هغه زنانه ته ئې دا وظيفه ور کړه: چي هر رنګه کيږي په ده زنا وکړه.

ځکه کفر سراسر بې حيائي ده، او هغوی ته دا ور معلومه وه: کچيري مسلمان په دغه بې حيائي کي راسي، نو بيا خپل ايمان او دين ټول د ده څخه پاته کيږي.

درې(۳) ورځي او درې(۳) شپې هغه زناني پر ده باندي انتهائي زور وکړی، چي دی په يو ځل و ماته خو وګوري، ځکه چي کله ماووينې، نو بيا به د ده په زړه کي د زنا کولو خواهش پيدا کيږي، او چي کله مي نه ويني نو بيا به د ده په زړه کي زما طرفه ته څنګه رغبت پيدا سي.

اوس هغه صحابي زموږ غوندي نه تفسيرونه ويلي، او نه تر علمي تحقيقاتو وتلی وو، او نه د قرآن په ډېرو اسرارو او رموزو پوهيدي، بس هغه د پيغمبر ﷺ څخه يو آيت اورېدلی وه:

........﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ﴾.(۱)

اې نبي! ته مؤمنانو ته ووايه: چيکله د بې حيائي ځای راسي، نو تاسو خپل نظر کښته کوئ. او د خپلي شرمګاه حفاظت وکړئ، اوس د حضرت عبدالله بن حذافه رضي الله عنه ستر ګي درې(۳) ورځي او درې(۳) شپې کښته دي، نه ئې هغه زنانه ته کتلي دي، او نه ئې څه خوړلي دي.

هلته هغه زنانه درې(۳) ورځې مسلسل پر ده باندي زور کوي، چي دی په یو شکل ماته وګوري، لیکن هغه په دې خپل درې ورځني کوشش کي مکمله ناکامه پاته سوه.
درې(۳) ورځي بعد بادشاه ته راغله، او ورته وایي:
.............﴿أَيُّهَا الْمَلِكُ اِلَى اَيْنَ اَرْسَلْتَنِىْ اِلَى حَجَرٍ اَوْ حَدِيْدٍ لَا يَأْكُلُ وَ لَايَنْظُرُ﴾.
اې بادشاه! تا زه و چاته ور استولې یم، دا اوس ډبره ده او که اوسپینه، نه هغه په دې درې(۳) ورځي کي ماته کتلي دي، او نه ئې د خورک څکه کړېده، او نه ئې د اوبو غړپ ترستوني تېر کړی دی، زه به دی څنګه ګمراه کړم، ایا دا سړی خو ړوند ندی؟
د رومیانو بادشاه قیصر چیکله طمعه ځني وختله نو ئې را طلب کړی، او خپلو عسکرو ته ئې حکم وکړی، چي تاسو یو لوی دیګ پر اور باندي باندي کړئ، او په هغه کي ئې تېل و ایشول، چیکله هغه تیل زیات جوش سول، نو ئې د ده یو ملګری و هغه دیګ ته ور واچاوی، ده ورته کتل، چي کله هغه د پکوړې په شان پکي کباب سو، نو دوهم ملګری ئې ور واچاوی، ده هغه ته هم کتل، چي په هغه تیلو کي بالکل د سکور په شان سو، نو بادشاه اول ده ته د عیسائیت ترغیب ورکړی.
چیکله تیار نسو، نو ئې عسکرو ته وویل: چي دی هم دې دیګ ته ور واچوئ، رواياتو کي راځي: چي کله دی عسکرو دیګ ته روان کړی:
.............﴿قِيْلَ اِنَّهُ بَكَى﴾.
نو ده ژړا شروع کړه، بادشاه دستي عسکرو ته وویل: چي تاسو ئې ماته راولئ، د بادشاه طمعه پیدا سوه: چي شاید د ویري په وجه ئې و ژړل، نو دی به اوس زموږ خبره ته غاړه کښېږدي.
چیکله ئې بادشاه ته راواستی، نو هغه پوښتنه ځني وکړه: چي ولي دي وژړل؟ ده ورته وویل:
.............﴿لَا جَزْعًا مِنَ الْمَوْتِ، وَلَا صَبَابَةً اِلَى الْحَيَاةِ﴾.
نه د مرګ دویري څخه ژړا کوم، او نه د ژوند په شوق یم، چي وژاړم، نو هغه بادشاه ورته وایي: نو آخر بیا ولي ژاړې؟ دی ورته وایي: چي ژاړم پردې: چي زما صرف یو روح او جان دی، هغه به وسوځل سي، او ختم به سي.

زما زړه داغواړي: چي كاش! زما پر بدن چي څومره ورېښتان دي، دغومره زما جانونه او روحان هم واى، او هر يو مي د الله تعالى پر نامه قربانولاى، ماته به پدي كي څومره زيات لذت او خوند واى.

نو زه ډېر ځله دا وايم: چي ايمان ډېر قيمتي نعمت دى، د هغه حفاظت كول. او په هغه باندي خوشحاله كېدل، او هغه د دنيا تر هر څه قيمتي نعمت بلل، او په هر قسم حالاتو كي د لاسه نه وركول.

الله تعالى دي زموږ او ستاسو د ايمانونو حفاظت وكړي، چي څه مي وويل، او يا مي واورېدل، پر هغه ټولو دي د عمل كولو توفيق رانصيب كړي، الله تعالى دي دا مذاكره قبوله كړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآيه)

# د روژې فضیلت، اوله حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولیٰ ۱۴۴۴ھ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْــــمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «شَهْرٌ فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ وَسَنَنْتُ أَنَا قِيَامَهُ فَمَنْ صَامَهُ وَقَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا خَرَجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ».(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! د روژې مبارکه مياشته پر موږ او تاسو بالکل قريبه او نژدې راغلې ده، دا د فضيلت او د برکت او د عظمت مياشته ده، د دې مياشتي روژې الله تعالى پر انسانانو فرض ګرځولي دي، لکه الله تعالى د قرآن په دغه آيت کي د دې ذکر کړی دی:

............يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ﴾.

اې د ايمان خاوندانو! پر تاسو باندي روژې فرض ګرځول سوي دي.

............كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.

لکه ستاسو څخه مخکي پر نورو قومونو هم دغه روژې فرض سوي وې، او د روژې فرضيت د دې لپاره دی: چي تقواداره او پرهيزګاره سئ.

(١) سورة البقره: آيت نمبر ١٨٣

(٢) مسند ابي داوٗد الطيالسي: حديث نمبر ٢٢١

## د اسلام پنځه ارکان:

زموږ په دین کې الله تعالی د اسلام لپاره پنځه ارکان ګرځولي دي:
۱. ......د شهادتینو اقرار کول.
۲. ......لمونځ کول.
۳. ......زکوٰة ورکول.
۴. ......روژې نیول.
۵. ......حج ادا کول.

کچیري یو سړی په دغه ارکانو کې د یو رکن څخه انکار وکړي، نو هغه د اسلام د دائرې څخه خارج بلل کیږي، او که انکار ونه کړي، لیکن په دې ارکانو کې کوتاهي کوي، نو هغه ګناهګاره او فاسق بلل کیږي.
د اسلام په دغه ارکانو کې یو رکن: روژه مبارکه هم ده، که یو سړی د روژو د فرضیت څخه انکار وکړي، نو هغه د اسلام په دائره کې دننه نه بلل کیږي، او که یو سړی د روژې په نیولو کې کوتاهي کوي، یعني: بغیر د څه عذره روژې نه نیسي، نو هغه فاجر او فاسق بلل کیږي.

## روژه دعبادت میاشته ده:

دا میاشته الله تعالی د عبادت لپاره پیدا کړېده، او د دې میاشتې د عبادت په کولو کې الله تعالی د انسانانو سره د ډېر رحم او کرم او آسانۍ معامله کوي.
د حضرت ابو سعید خدري ﷜ روایت دی: چې پیغمبر ﷺ به فرمایل:
چیکله د روژې مبارکې اوله شپه راورسیږي، نو الله تعالی د آسمان ټولي دروازې خلاصې کړي، چې په هغه دروازو کې یوه دروازه هم بیا د رمضان المبارک تر آخري شپې پورې نه بندیږي.
او یو مسلمان داسې نسته: چې هغه دې په دغه شپو کې یو شپه لمونځ کوي، مګر چې الله تعالی به ده ته د هرې سجدې په بدله کې پنځلس سوه (۱۵۰۰) نیکۍ ورکوي، او د ده لپاره په جنت کې د سرو یاقوتو یو مکان جوړوي، چې په هغه کې به اویا

زره(۷۰۰۰۰) دراوزې وي، او پر هره دروازه به د سرو زرو يو محل وي، چي په سرو ياقوتو به شائسته سوی وي.
يا چيکله روژه نيونکی د دې مياشتي د اولي ورځي روژه ونيسي، نو الله تعالی د ده ټوله ګناهونه ور معافوي، او د دغه روژه نيونکي لپاره روزانه د سهار څخه تر ماښامه پوري اويازره(۷۰۰۰۰) فرشتې د مغفرت دعاګاني غواړي.
او دغه بنده چي د دې مياشتي په شپه يا ورځ کي د الله تعالی و حضور ته سجده کوي، د هري سجدې په عوض کي ده لره په جنت کي يو داسي درخته پيدا کيږي: چي د هغه تر سايه لاندي سپور پنځه سوه(۵۰۰) کاله مزل کولای سي.([1])

## د روژې په مياشته کي د الله تعالی رحمت او برکت:

په دې مبارکه مياشته کي د الله تعالی رحمت د باران په شکل راووري، لکه: په باران وريدلو سره هر شی صفا کيږي، داغه رنګه په دې مبارکه مياشته کي د الله تعالی د رحمت په باران سره د انسان ګناهونه هم صفا کيږي.
ليکن د باران په صفائي کي شرط دا دی: چي لوښی به سيده وي، پړمخي به نوي، کچيري په باران کي لوښی پړمخي پروت وي، نو بيا د کېدل خو څه کوې، دننه نو ديږي لا نه.
داغه رنګه د روژې په مياشته کي د الله تعالی د رحمت څخه هغه مسلمانان استفاده اخيستلای سي: چي د هغوی د زړه لوښی سيده وي، نو زموږ لپاره په کار دا دی: چي په دې مياشته کي د الله تعالی درحمت څخه استفاده واخلو، او د ورځي د روژو په ذريعه او د شپې د تراويح کولو په ذريعه خپل ځانونه د الله تعالی د رحمت مستحق جوړ کړو.

## د روژه نيونکي خوب او خاموشي عبادت دی:

د پېغمبر ﷺ حديث دی: چي کوم څوک د روژې په حالت کي وي، د هغه خوب کول هم عبادت وي، او د هغه خاموشي کول هم الله تعالی په سبحان الله ويلو ور شماري.

---

([1]) الترغيب والترهيب: حديث نمبر ۱۷۶۷

د الله تعالی ځومره لوی رحمت دی: چې د روژې نیولو په حالت کې انسان خوب کوي، خپل بدن ته آرام او راحت ور کوي، لیکن الله تعالی ئې په عبادت کې ور شماري.
او چې تر کومه وخته دی خاموشه وي، د لغو او بې ځایه خبرو څخه خپل ژبه راګرځوي، نو هم الله تعالی و ده ته د سبحان الله ویلو ثواب ور کوي، خو خلاصه دا: چې د روژاتې څلورویښت ساعته ژوند ټوله عبادت وګرځي.
او روژه نیونکی انسان الله تعالی ته داسې محبوب وګرځي: چې د هغه د خولې بد بوئي هم الله تعالی ته محبوبه وي، لکه د پیغمبرﷺ حدیث مبارک دی:
.........وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ﴾.(١)
زما دې په هغه ذات قسم وي: چې د محمد ساه د ده په قبضه کې ده: چې د روژه نیونکي د خولې بدبوئي الله تعالی ته د مشکو د خوشبوئي څخه هم زیاته خوښه ده، یعني: د قیامت په ورځ به د ده د خولې څخه داسې خوشبوئي راوزي: چې تر مشکو به هم زیاته پاکیزه او خوشبویه وي، او هم به الله تعالی ته محبوبه وي.
په یو حدیث شریف کې راځي: چې الله تعالی د هر انسان د هر نیک عمل لپاره د ثواب یو حد مقرر کړی دی، د لس(۱۰) چنده څخه بیا تر اوه سوه(۷۰۰) چنده پوري، مګر د روژې د ثواب لپاره دا حد نشته.
ځکه د روژې په باره کې پیغمبرﷺ حدیث قدسي رانقل کوي: چې الله تعالی فرمایي:
.........الصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ﴾.(٢)
روژه زما لپاره ده، زه پخپله د هغې بدله او عوض ور کوم.
د هغه وجه دا ده: چې په روژه کې ریاکاري نه راځي: ځکه روژه دې ته وایي: چې د صبح صادق څخه بیا تر لمر لوېدو پوري خپل ځان د خورک او څیښلو څخه راګرځول، هر سړی پر دې قادره وي: چې په تنهائي کې دی خورک وکړي، یا او به وڅیښي، مګر دی بیا هم نه خورک کوي، او نه او به څیښي، دا ددې خبرې دلیل دی: چې ده خپله روژه

(١) الترغیب فی فضائل الاعمال: حدیث نمبر ۱۳۴
(٢) الترغیب فی فضائل الاعمال: حدیث نمبر ۱۳۴

د الله تعالی لپاره نیولې ده، او الله تعالی ته په ټولو اعمالو کي هغه عمل ډېر خوښ وي، چي هغه خاص د ده لپاره وي، او په هغه کي رياکاري ځای نه لري.
نو ځکه الله تعالی فرمايي: روژه زما لپاره ده، د قيامت په ورځ به د دې بدله او عوض زه ور کوم، کيدای سي: چي د نورو اعمالو بدله الله تعالی د فرشتو په ذريعه انسانانو ته ور کوي.

## د سلطان محمود بن سبکتگين واقعه:

په کتابو کي ليکلي دي: چي يو ځل سلطان محمود رحمة الله عليه پر يو ميز باندي قيمتي قيمتي شيان کښېښوول، لکه: لعل او جواهر او ياقوت او زمرد، او د ده و مخته وزيران او خادمان ولاړ ول، يو تور رنګه مينځه وه، چي د هغې په لاس کي "پکی" وو، او ده ته ئې واهی، چي ګرمي ئې و نه سي:
بادشاه دا حکم وکړی: چي د کوم چا په لاس کوم شی ورغلی، هغه بس د هغه دی، نو ټولو ور باندي را حمله کړل، چا لره ياقوت په لاس ورغلل، او د چا په لاس کي زمرد راغلل، او چاته لعل او جواهر په قسمت کي ورغلل.
هغه تور رنګي مينځي چي په لاس کي ئې "پکی" وو، هغه ژر د بادشاه پر غاړه او ګردن باندي لاس کښېښووی، بادشاه ورباندي وخندل، چي د چا لاس لره زمرد ورغلل، او چا نور قيمتي شيان پيدا کړل، غريبي! ستا لاس خو خالي پاته سو، او تاته هيڅ شی هم په لاس نه درغلی.
هغه مينځي ورته وويل: بادشاه سلامت! د چا په لاس کي ياقوت او د چا په لاس کي زمرد ورغلل، خو دوی په هغه باندي خوشحاله دي، ليکن زما په لاس کي هغه ياقوت او زمرد ور کونکی څوک راغلی، چي هغه ته ئې.
او د ياقوتو او زمردو ور کونکی څوک چي د چا په لاس کي ورسي، نو د هغه په مقابل کي بيا زمرد او ياقوت هيڅ حيثيت نه لري.
دغه رنګه چي کوم څوک په دنيا کي مختلف عبادات کوي، چا لره به جنت الفردوس په نصيب ورځي، او چا ته به جنت المأوی ور کول کيږي، او دچا استوګنه به په جنت عدن کي راځي.

ليکن روژه نيونکي انسان ته پخپله دالله تعالی ذات په لاس ور ځي، لکه بعضي محدثينو يو حديث داسي هم را نقل کړی دی:

......... ﴿الصَّوْمُ لِی وَأَنَا أُجْزَی بِهِ﴾.(۱)

چي روژه زما لپاره ده او زه به د دې جزا او بدله جوړېږم.

او دا يو رښتونی حقيقيت دی:

......... ﴿مَنْ كَانَ لِلّٰه كَانَ اللهُ لَهُ﴾.

چي کوم څوک خپل اعمال دالله تعالی د ذات لپاره کوي، او په هغه کي څه رياکاري ځای و نه لري، نو دالله تعالی ذات دده لپاره وي.

## د روژه نيونکي لپاره دسترخوان هوارېدل:

په يو حديث کي پيغمبرﷺ داسي هم بيان کړي دي: چي د روژه نيونکو انسانانو لپاره د قيامت په ورځ د الله تعالی د عرش څخه لاندي يو دسترخوان هواريږي، هغه خلګ به پر هغه را ټول سي، خورک به هم کوي، او اوبه به هم چيښي، حالانکه عام انسانان به په دې وخت کي د حساب او کتاب په وېره کي په سخته ګرمي کي پخپلو خولو کي غرق وي.

د قيامت د ميدان عام انسانان به دوی ته ګوري، او پر دوی باندي به ډېر تعجب کوي: چي دا څنګه انسانان دي: چي په آرام سره خورک او چيښل کوي، او موږ په داسي سختو حالاتو د حساب او کتاب کي مصروفه يو.

دوی ته به جواب ور کول سي: چي دا هغه نيکبخته انسانان دي، په دنيا کي ئې روژې نيولې. او د خورک او چيښلو څخه ئې پرهيز کاوی، نن د هغه عوض په دغه شان دوی ته ور کول کيږي، او تاسو چونکه روژې نه دي نيولي، او په دنيا کي مي لوږه او تنده پر ځان نه وه تېره کړې، نو ځکه تاسو د دغه نعمتونو څخه اوس محرومه او بې نصيبه ياست.

چي کوم چا په دنيا کي لږ لوږه برداشت کړله، او هم ئې تنده پر ځان باندي تېره کړه، او خپل خواهشات ئې قابو کړل، الله تعالی به دوی په دغه درنه او سخته ورځ د لوږي او

(۱) السنن الکبری للبيهقی: حديث نمبر ۸۳۶۶

تندي څخه محفوظه ساتي، الله تعالى دي موږ او تاسو ټوله ددغه ورځي د لوږي او تندي څخه محفوظه وساتي.

## دروژې متعلق ددې امت پنځه خصوصيات:

حضرت ابو هريره ﷺ يو روايت رانقل كوي: چي پيغمبر ﷺ به ويل: چي زما امت ته الله تعالى د روژې متعلق پنځه(۵) خصوصيات داسي ور كړي دي: چي مخكنيو امتو ته نه وو ور كول سوي:

۱. د روژه نيونكي د خولې بد بوئي الله تعالى ته د مشكو د خوشبوئي څخه هم زياته خوښه ده، د دې يو مطلب دا دى: چي الله تعالى د دې بدله او ثواب د خوشبوئي په شكل ور كوي.

يا د دې مطلب دا دى: چي د قيامت په ورځ به چيكله انسانان د قبرونو څخه راپورته سي، نو د روژه نيونكي د خولې څخه به داسي خوشبوئي را ولاړيږي: چي د مشكو څخه هم بهتره وي.

يا ئې مطلب دا دى: چي داغه د دنيا په ژوند كي د روژه نيونكي د خولې بوى الله تعالى ته د مشكو څخه هم زيات خوښ دى.

۲. د روژه نيونكي لپاره په دريابونو كي ماهيان دعاگاني كوي، او دغه دعاگاني د روژه مات تر وخته پوري وي.

په بعضو رواياتو كي د فرشتو د مغفرت د غوښتلو يعني: چي په فرشتې د روژه نيونكو لپاره مغفرت غواړي، هم ذكر راغلى دى، په يو حديث مبارك كي راغلي دي: چي كله الله تعالى د چا سره محبت كوي، نو جبرائيل امين ته وفرمايي: چي زما د فلانكي سړي سره محبت دى، ته هم د هغه سره محبت كوه، نو جبرائيل امين پخپل د هغه سره محبت شروع كړي، او په اسمان كي آواز وكړي: چي د فلانكي بنده سره دالله تعالى محبت دى، تاسو محبت ور سره وكړئ.

بيا نو آسمان والا د ده سره محبت شروع كړي، بيا د هغه لپاره په مځكه كي هم الله تعالى قبوليت كښيږدي، او په مځكه كي هم د ده محبت دومره عام سي،

چي په دريابونو کي ماهيان هم د ده سره محبت کوي، او هغه دعاګاني ورته کوي، نو ګويا د ده محبوبيت د وچي مځکي څخه دريابو ته هم ورسيږي، چي دا د محبوبيت انتها وي.

۳. او جنت هره ورځ د ده لپاره ښائسته کيږي، او الله تعالی جنتونو ته امر کوي، چي ډېر ژر دی: چي زما نيک بندګان پر خپلو ځانو باندي د دنيا مشقتونه تېر کړل، اوس به ستاسو طرف ته راځي، په يو بل حديث کي داسي هم راځي: چي د کال د ابتداء څخه بيا د کال تر انتها پوري د رمضان المبارک په خاطر جنتونه ښائسته کيږي، او د جنت حوري ټوله کال د روژه نيونکو انسانانو لپاره خپل ځانونه ښائسته کوي.

۴. په دې مياشته کي الله تعالی سرکښه شيطانان په قيد کي واچوي، هغه ځکه چي په دې مياشته کي په نيکو اعمالو کي اضافه راځي، او په ګناهونو کي کمی راځي، اوس په دې حديث کي د سرکښه شيطانانو ذکر دی: چي هغه الله تعالی په قيد کي اچوي، بيا خو څوک اعتراض نسي کولای.

ليکن په بعضو احاديثو کي د مطلق شيطانانو ذکر دی، نو بيا خو انسان ته په دماغ کي دا سوال پيدا کيږي: چي په دې مياشته کي خو هم خلګ ګناهونه کوي؟ د هغه جواب دا دی: چي د انسان نفس يوولس(۱۱) مياشتي د ګناهونو سره عادي ګرځېدلی وي، نو ځکه: د هغه نفس څخه په روژه کي هم ګناهونه صادريږي، ورنه: شيطانان حقيقتاً هم په قيد کي وي.

بعضي علماؤ ليکلي دي: چي دواړه حديثونه د مختلفو خلګو لپاره دي، يعني: د فاسقانو په حق کي صرف سرکښه شيطانان په قيد کي وي، او د نيکانو په حق کي هر قسم شيطانان په قيد اچول کيږي.

۵. د رمضان المبارک په آخري شپه د ټولو روژه نيونکو مغفرت کيږي، صحابه کرامو د پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه وکړه: چي ايا دغه مغفرت د ليلة القدر په شپه وي؟ ده مبارک ورته وفرمايل: چي نه! بلکه قانون داسي دی: چي مزدور کله کار ختم کړي، نو هغه ته اجرت ور کول کيږي، يعني: د شب قدر فضائل

پر خپل ځای دي، لیکن روژه نیونکو چي پوره میاشت کومي روژې نیولي دي، د هغه په بدله کي د دوی مغفرت کیږي.
الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د دې میاشتي د قدر کولو توفیق راکړي، او هم دي مي د دې میاشتي د برکاتو څخه مستفید وګرځوي.

## د روژې قدر، او د مجوسي اسلام راوړل:

په کتابو کي لیکلي دي: چي یو مجوسي چي هغه مسلمان نه وو، بلکه د اور عبادت ئې کاوی، یو ځل ئې خپل زوی د روژې په میاشته کي د مسلمانانو و مخته پر خورک کولو ولیدی، نو هغه ئې وواهی، او ورته وئې ویل: چي ته ولي په دې میاشته کي د مسلمانانو د دغه عبادت او د دې میاشتي د احترام خیال نه ساتې؟
بیا په داغه هفته کي هغه مجوسي وفات سو، د ښار یو عالم په خوب کي ولیدی، چي دی په جنت کي ګرځېدی، هغه عالم پوښتنه ځني وکړه: چي ته خو مجوسي نوې، بیا څنګه جنت ته راغلې؟ ده ورته وویل: چي هو! مجوسي وم، ما یوه ورځ خپل زوی دروژې پر احترام نه کولو وواهی، او هغه ته مي د روژې د احترام کولو درس ور کړی، چي کله زما مرګ نژدې راغلی، نو الله تعالی د روژې د میاشتي د هغه احترام په وجه په اسلام مشرف کړلم.
نو دا ډېره مبارکه میاشته ده، چي یو مجوسي د دې میاشتي صرف احترام وکړی. الله تعالی په اسلام باندي مشرف کړی، نو چي کوم مسلمان د دې میاشتي قدر وکړي، او د دې حق ادا کړي، نو هغوی ته به الله تعالی لوړي درجې څنګه نه ور کوي.

## د روژې مقصد تقوی ده:

نو الله تعالی پر انسانانو باندي روژې د دې لپاره فرض کړي دي: چي په دوی کي تقوی پیدا سي، او په تېر یوولس(۱۱) میاشتي کي چي د دوی څخه څومره ګناهونه سوي وي، هغه ټوله د خپلي عملنامې څخه لیري کړي، او پر زړه باندي چي د ګناهونو څومره خرابي او زنګ را غلی دی، هغه صفا کړي.
لکه یو مشین چي یو څه زمانه خلګ استعمال کړي، نو د هغه څخه وروسته د هغه سرویس کول غواړي، او هغه صفا کول غواړي، داغه رنګه: الله تعالی د انسان د

صفائي لپاره دا مياشته مقرره کړېده، چي پدې مياشته کي انسان د خپلي تيري زندګۍ صفائي وکړي، او خپل ژوند ته نوی شکل ورکړي.
نو د دې مياشتي خبره صرف تر دې حده نه ده، چي د ورځي به انسان روژې نيسي، او د شپې به تراويح کوي، بلکه: د دې مياشتي تقاضا دا ده: چي انسان دغه مياشته د نورو کاور څخه فارغه کړي، او د دې مياشتي ټوله اوقات کچيري نسي کيدلای، نو کم ازکم زيات او اکثره اوقات يا چي څومره د ده لپاره ممکن وي: په عبادت کي تېر کړي، او د هغه لپاره انسان د وخت څخه لا تياري وکړي، او خپل نظام الاوقات ورته برابر کړي.

## يوه مياشته بغير د ګناه تېرول:

ليکن زه چي زموږ معاشره ته ګورم، او دهغه پر حالاتو کي مي نظر وي، نو زه دا وايم: چي د ټولو عباداتو څخه مقدم او ضروري په دې مبارکه مياشته کي يو څو اعمال دي، بايد د ټولو څخه مخکي انسان د هغه خيال و ساتي، نو دا به د انسان لپاره د نفعي او فائدې خبره وي.
❶.......اول ضروري عمل دا دی: چي په دې مياشته کي انسان د ګناه څخه د خپل ځان حفاظت وکړي، زموږ په شريعت مطهره کي دا خبره تر ټولو خوښه بلل سوېده: چي انسان دنفلي عباداتو پر ځای د ګناهونو څخه پرهيز وکړي، مثلاً: يو سړی د تهجد لمونځ نه کوي، او ډېر اذکار او نفلي عبادات نه کوي، مګر د ګناهونو څخه ئې ځان محفوظه کړی دی، نو هغه ځان د ولايت مقام ته رسولای سي.
کچيري يو انسان دا ټوله مياشته ګناه نه وکړي، او خپل ځان د ګناه څخه محفوظ کړي، نو دغه مياشته د ده لپاره مبارکه بلل کيږي، که څه هم يو نفلي عبادت کي و نکړي.

## د خواجه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه وينا:

ځکه زموږ د سلسلې يو بزرګ خواجه ابوالحسن خرقاني يو عجيبه خبره ليکلېده: هغه دا: چي کوم بنده يوه ورځ يا يوه مياشته د ګناه څخه بغير تېره کړه، هغه داسي ده: لکه

ده چې: دغه ورځ د پېغمبر ﷺ په معیت او ملګرتیا کې تېره کړه، او د پېغمبر ﷺ په ملګرتیا کې یوه ورځ تېرول، دا د انسان لپاره د جنت د تللو ذریعه جوړېدلای سي.

نو ځکه د سهار او پېشلمي په وخت کې دا دعا غوښتل: چې یاالله! د روژې مبارکه میاشته ده، زه دا ورځ داسي تېرول غواړم: چې زما څخه ستا د حکم نافرماني نه وسي، نو دا د ځان تمنّٰی جوړول، او د الله تعالی څخه د دې غوښتنه کول، کچیري زموږ یوه ورځ هم زموږ په زندګي کي داسي تېره سي: نو موږ امید کولای سو: چې د دغه ورځي په برکت به د قیامت په میدان کي پر موږ باندي د الله تعالی رحم راځي.

❷......او دوهم ضروري عمل هغه دا دی: چې د خپل ځان او خپلو بچیانو لپاره کم ازکم پدې یوه میاشته کي د حلال رزق اهتمام وکړي، چې کومه ګوله د انسان یا د انسان د بچیانو خولې لره ورځي، هسي نه: چې هغه حرامه وي، ځکه چې دا به څنګه روژه وي: چې پېشلمی په حرامو او روژمات پر حرامو او د دغه پېشلمي او روژمات په مابین کي روژه دا الله تعالی لپاره.

نو ځکه خاص په دغه میاشته کي دحرامي نفقې څخه ځان ساتل، او د الله تعالی د دربار څخه دا غوښتنه کول: یا الله! زه حلال رزق غواړم، ما د حرامي نفقې څخه محفوظه وساتې.

ځکه حرامه نفقه د انسان د دیني زندګۍ لپاره داسي زهر قاتل دي، چې د هغه سره انسان ته یو نفلي عبادت هم نفعه او ګټه نه رسوي، د پېغمبر ﷺ حدیث دی:

﴿.............إِنَّ للهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى مَلَكًا عَلَى بَيْتِ الْمُقَدَّسِ يُنَادِي فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ: مَنْ أَكَلَ حَرَامًا، لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا حَتَّى يَخْرُجَ ذَلِكَ الْحَرَامُ مِنْ بَيْتِهِ، فَإِنْ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ، فَأَنَا بَرِيءٌ مِنْهُ﴾.(۱)

پر بیت المقدس باندي الله تعالی یو فرشته مقرره کړېده: چې سهار او ماښام دا آواز کوي: چې کوم چا حرامه نفقه ؤ خوړله، دهغه نه نفلي عبادت قبول دی، او نه فرضي عبادت، چې تر څو پوري ئې هغه حرام د خپل کور څخه ایستلي نه وي، او کچیري په داغه حالت کي ده ته مرګ راغلی، نو زه دده څخه بېزاره یم.

(۱) بحر الدموع: باب الثاني و الثلاثون: صفحه نمبر ۱۴۴، احیاء علوم الدین: جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۸۹

أخرجوا الْأَمانَةَ مِنْ بُيُوتِكُم، وَرَدُّوهَا إِلَى أَرْبَابِهَا، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَلَنْ تَنْفَعُكُمْ أَعْمَالُكُمْ شَيْئًا، وَلَا يَنْفَعُكُمْ قَوْلُ لَا اَله إِلَّا الله مَعَ الْحَرَامِ فِي الْبَيْتِ﴾.(١)

حرام مال د بل آمانت دی، هغه د خپلو کورو څخه وباسئ، او خپلو مالکانو ته ئې ورسوئ، کچیري تاسو داسي نه وکړل، نو ستاسو نیک اعمال تاسو ته فائده نه رسوي، او نه د "لَا اَله إِلَّا الله" کلمه فائده رسوي، چي ترڅو پوري حرام مال په کور کي وي.

د دې مطلب دا: چي کوم څلک د پردیو خلګو امانتونه په کور کي راګرځوي، او هغه استعمالوي، هغه ته نیک اعمال فائده نه رسوي، د نیکو اعمالو د فائده نه رسولو معنی دا ده: چي د خیانت کولو د عذاب څخه نه خلاصیږي.

۳...... او دریمه ضروري خبره داده: چي د هغې هم خاص تعلق د روژې سره دی، هغه دا: چي په دې میاشته کي د غصې څخه اجتناب او پرهیز کول.

لکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي دا د صبر او د غمخوارۍ میاشته ده، نو په دې میاشته کي د غصې څخه او د غصې څخه چي کومي ګناهونه پیدا کیږي: مثلاً: دچا سره جنګ کول، او د مسلمان وهل، او پر مسلمان باندي لعنت ویل، د دې شیانو څخه د پرهیز کولو اهتمام کول.

په حدیث شریف کي راځي:

........وَإِنْ جَهِلَ عَلَى أَحَدِكُمْ جَاهِلٌ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ﴾.(٢)

کچیري یو سړي ستا سره د جهالت معامله کوله، نو ته هغه ته وایه: چي زما روژه ده، زه خپلي روژې خرابولو ته تیار نه یم، نه په ژبه څه درته وایم، او نه په لاس څه انتقام در څخه اخلم، نو د دغه اعمالو څخه پرهیز کول.

## ټوله شپه په عبادت کي تیرول:

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په حالاتو کي لیکلي دي: چي د ده مبارک همېشه معمول داوو، چي د ماخستن په اوداسه به ئې د سهار لمونځ کوی، د هغه هم عجیبه قصه وه.

(١) بحر الدموع: باب الثاني و الثلاثون: صفحه نمبر ۱۴۴، احیاء علوم الدین: جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۸۹

(٢) سنن ترمذی: حدیث نمبر ۷۶۴

په ابتداء کي دده داسي معمول نه وو، بلکه په ابتداء کي د ده معمول دا وو: چي د شپې په اخره حصه کي به د تهجد د لمانځه دپاره راپورته کېدی.
يو ورځ پر لار باندي روان دی، نو دوې(۲) سپين سري(بوډی) زناني هم رواني دي، هغه يوه وبلي ته وايي: هغه سړی چي د ماخستن په اوداسه باندي همېشه د سهار لمونځ کوي، يعني ټوله شپه عبادت کوي، هغه دغه دی، او ده ته ئې اشاره وکړه.
امام ابو حنيفه رحمة الله عليه چي کله دا الفاظ واورېدل، نو ده ته غيرت ورغلی چي دا بوډۍ زما په باره کي دا ګمان لري چي زه د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کوم، حالانکه په حقيقت کي زه داسي نه يم، نو د دې خو مطلب دادی: چي زما په داسي خبره باندي خلک تعريفونه کوی، او هغه په ما کي نسته.
نو د دغه ورځي څخه ئې دا عزم او قصد وکړی، چي را روان وخت به ټوله عمر د ماخستن په اوداسه سره د سهار لمونځ کوم، چنانچه د دې څخه وروسته ده مبارک دا معمول جوړ کړی، چي ټوله شپه به ئې عبادت کاوی، او د ماخستن په اوداسه به ئې د سهار لمونځ هم ادا کوی.
او داسي هم نه وو، چي ټوله شپه به ئې عبادت کوی، نو بيا به ټوله ورځ بېده وو، لکه نن صبا چي زموږ او ستاسو په ورځه کي معمول او عادت جوړ سوی دی، شپه ويښه تېرول، او بيا ټوله ورځ په خوب کي تېرول.
ځکه چي امام ابو حنيفه رحمة الله عليه تجارت هم کوی، او درس او تدريس د ده معمول وو، او ده ته به انسانان د لېري علاقو څخه د علم حاصلولو دپاره راتلل، لهذا ده به ټوله شپه عبادت کاوی، او د سهار د لمانځه وروسته به ئې درس او تدريس او د تجارت وغيره کارونه سرته رسول او په دې باندي به د ماپښين تر لمانځه پوري مصروف وو، او د ماپښين د لمانځه څخه بعد به ئې تر ماځيګر پوري د پرېوتلو او آرام کولو معمول وو.

## د غصې نه کولو عجيبه واقعه:

يو ورځ د ماپښين د لمانځه بعد کورته راغلی، او په خپل کور کي بالاخانې ته پورته سو، او هلته د ارام کولو د پاره پر بستره پرېوتی، په دې دوران کي يو چا لاندي د کور

دروازه وټکوله، تاسو اندازه ولګوئ، چې کوم سړی ټوله شپه د عبادت کولو په خاطر وېښ وي، او ټوله ورځ په درس او تدریس باندې مصروفه وي، چې کله دی یو ګړی آرام سي، نو په دې وخت کې چې پر ده باندې دروازه وټکول سي، د ده به کوم کیفیت وي، او په داسې وخت کې چې ده ته یو انسان راسي نو ده ته به څومره ناخوښه وي، چې داسې بې وخته یو سړی ورته راسي.

لېکن امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ د بسترې څخه راولاړ سو، او د بالاخانې څخه پر زینو باندې راکښته سو، دروازه ئې ورخلاصه کړه، که ګوري یو صاحب ولاړ دی، امام صاحب پوښتنه ځنې وکړه چې سړیه! څنګه ولاړ یې؟ هغه سړي ورته وویل: چې د یو مسئلې پوښتنه مې درڅخه کوله.

تاسو ګورئ! چې کله امام صاحب د مسائلو بیانولو دپاره خپل وخت مقرر کړی وو، نو هغه سړي هلته د امام صاحب څخه مسئله نه پوښتله اوس بې وخته د امام صاحب د پرېشانه کولو او د خوب خرابولو دپاره دلته راغلی.

لېکن امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ هغه سړي ته هیڅ نه وویل، بلکه ورته وایي: چې سړیه! څه مسئله معلومول غواړې، هغه سړی ورته وایي: چې څه ووایم، زه چې اوس راتلم نو پر لار مې هغه مسئله په یاد وله، لېکن اوس راڅخه هېره سوله او د دماغ څخه مې ووتله هیڅ په یاد نه راځي.

امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ ورته وایي: چې کله مسئله په یاد درغله بیا راسه زما څخه پوښتنه وکړه، نه ئې هغه سړي ته بده خبره وکړه، او نه ده لره غصه ورغله بلکه په خاموشۍ او آرامه سره واپس بالاخانې ته وخاتی، او پر خپله بستره باندې پرېوتی.

چې کله ئې سترګې سره ورغلې، نو دوباره دروازه وټکېدله، دی مبارک بیا راکښېناستی او لاندې راغلی، دروازه ئې ورخلاصه کړه، که ګوري نو هغه سړی بیا ولاړ دی.

دی بیا پوښتنه ځنې کوي، چې سړیه! څنګه راغلې نو هغه ورته وایي: چې حضرت! ما ته هغه مسئله په یاد راغله، د هغې د پوښتنې دپاره راغلم.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ورته وايي: چې د مسئلې پوښتنه وکړه، هغه سړي ورته وويل: چې تر اوسه پورې مې په دماغ کې وه، او هم راته ياده وه، لېکن کله چې ته د زينو نيمائي ته راورسيدې، نو زما د دماغه ووتله، او راڅخه هيره سوه.

که چيرې د يو عام انسان سره داسې وسي، نو د هغه د اشتعال او غصې به څه حالت وي، مګر امام ابو حنيفه رحمة الله علیه خپل نفس تر پښو لاندې کړی وو، هغه سړي ته بيا د غصې کولو پر ځای صرف دومره وويل: چې سړيه! هيڅ خبره نه ده، چې کله مسئله درياده سي، نو راسره زما څخه ئې پوښتنه وکړه، د دې څخه وروسته امام ابو حنيفه رحمة الله علیه بالاخانې ته پورته سو او پر بستره باندې پرېوتی.

چې بيا ئې سترګې سره ورځې، نو دريم ځل دروازه وټکېدله امام ابو حنيفه رحمة الله علیه بيا راولاړ سو، او پر زينو راکښته سو، چې دروازه ئې ورخلاصه کړه، که ګوري هغه سړی بيا ولاړ دی، او وايي: چې حضرت! هغه مسئله اوس په ياد راغله.

امام ابو حنيفه رحمة الله علیه پوښتنه ځني کوي، چې څه مسئله ده؟ نو هغه سړی ورته وايي: چې دا مسئله مې معلومول چې د انسان د نجاست (پاخانه) خوند تريخ وي، او که خوږ وي؟ نو د غه مسئله معلومول غواړم.

## د صبر پيمانه ډکېدل:

که چيرې بل سړی وي، نو تر دې وخته پورې به ضبط او صبر وکړي، لېکن د هغه سړي د پوښتنې کولو څخه وروسته د هغه د صبر پيمانه ضرور ډکېږي.

لېکن امام ابو حنيفه رحمة الله علیه په ډېر زيات اطمينان سره جواب ورکوي، چې که چيرې د انسان نجاست تازه وي، نو په هغه کې خوږ والی وي، او که چيرې وچ سي، نو تريخ والی پکښې پيدا کيږي.

هغه سړی بيا پوښتنه ځني کوي، چې ايا تا د دې نجاست خوند کتلی دی؟ (العياذ بالله) که ته څنګه و ماته دا معلومات راکوې.

حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله علیه ورته وايي: چې سړيه! د هر شي علم د څکلو او خوند کتلو سره کار نه لري، بلکه د بعضو شيانو علم په عقل سره هم معلومېږي، او د انسان عقل انسان ته دا وايي: چې کله نجاست تازه وي، نو پر هغه باندې مچان کښېني، او

چي کله وچ سي، نو مچان نه پر کښېني، د دې څخه دامعلومه ده: چي د وچ او تازه په مابین کي فرق دی، ورنه نو مچان به پر دواړو کښېنستلای.

## د خپل وخت حلیم انسان:

چي کله امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دا جواب ورکړی، نو هغه سړي ورته وویل: امام صاحب! زه وستا وحضورته دواړه لاسونه جوړه کوم، او ستا څخه معافي غواړم ته به ما ته معافي کوې، ماتاته ډېر تکلیف دررسوی، لېکن تا نن زه د ماتي سره مخامخ کړم، امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ورته وایي: چي ما ته څنګه د ماتي سره مخامخ کړې؟
هغه سړي ورته وویل: چي زما د یو دوست سره پر یو خبره بحث روان وو، زما وینا داوه: چي حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه په علماوو کي د ټولو څخه زیات حلیم انسان دی، او غصه نه کونکی بزرګ دی.
او زما دوست راته وویل: چي د ټولو څخه بردبار او غصه نه کونکی بزرګ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دی، او زموږ ددواړو په مابین کي دا بحث راغلی نو بیا موږ د دې خبري د معلومات کولو دپاره دا طریقه وسنجوله: چي زه به په داسي وخت کي ستا کورته راځم چي کله ستا د آرام وخت وي، او دغه رنګه به تا دوه(۲) درې(۳) واره کښته پورته خېژوم، او بیا به ستا څخه داسي بې هوده سوال کوم، او دا به ګورم چي ته په غصه کي راځې او که نه؟
ما ورته وویل: که په دې شکل امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په غصه کي راغلی، نو خبره ما وګټله او که چیري غصه نه سو، نو خبره تا وګټله.
لېکن نن تازه مات کړلم او واقعه داده: ما د مځکي پر مخ داسي حلیم انسان چي هغه ته غصه نژدې هم ورتلای نه سي، ستا څخه علاوه بل څوک نه دی لېدلی.
د دې څخه تاسو اندازه ولګوئ! چي د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه کوم مقام وو، چي د ده پر مقام باندي ملائکي په غبطه کي رانه سي، نو د چا پر مقام به راسي، چي امام ابو حنیفه رحمة الله علیه بلکل خپل نفس ختم کړی وو. (۱)

(۱) اصلاحي خطبات: جلد نمبر۸: صفحه نمبر۲۷۰

## د غصې قابو کولو طریقې:

علماؤو د غصې قابو کولو لپاره مختلفې طریقې لیکلي دي:

- ❖ د ټولو څخه مخکې طریقه دا ده: چې کله انسان لره غصه ور سي، نو ”لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللہ“ دي وايي، چې د هغه په برکت سره شیطان تښتي، او د شیطان په تښتېدو سره د انسان غصه ختم کېږي.
- ❖ کچیري په دې باندي غصه ختمه نه سوه، نو د ”اَعُوْذُبِاللہ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ“ په الفاظو سره دي د الله تعالی په ذات سره د شیطان د شر څخه پناه غواړي، د دغه ”اَعُوْذُ بِاللہِ“... په ویلو سره به ده ته الله تعالی د غصې کولو څخه نجات ور کړي.
- ❖ که په دې باندي هم غصه ختمه نه سي، نو خپل حالت دي بدل کړي، مثلاً: که پروت وو، نو دي را کښېني، که ناست وو ولاړ دي سي، او که ولاړ وو، نو یو دوه(۲) قدمه دي واخلي، خپل ځای دي بدل کړي، د ځای دبدلولو په خاطر هم د انسان غصه کمېږي.
- ❖ او که غصه د دې څخه هم زیاته وه، نو بیا مناسب دا دی: چې په یخو اوبو باندي اودس وکړي، د اوداسه په برکت به الله تعالی د ده غصه سړه کړي.
- ❖ او که د اوداسه په کولو سره هم غصه سړه نه سوه، نو دوه(۲) رکعته لمونځ دی وکړی، او د سجدې په حالت کي دي دا فکر کوي: چې زه په سجده کي پروت یم، او د الله تعالی یو عاجزه بنده یم، کچیري نن زه د یو چا غلطي ور معاف نه کړم، نو صبا د قیامت په میدان کي به الله تعالی زما غلطي څنګه را معاف کړي، زموږ مشایخو لیکلي دي: چې سجدې ته ولاړ ی، نو دخپلي عاجزۍ تصور دي کوي، نو بالکل به ئې غصه ختم کېږي.
- ❖ کچیري په دې باندي هم غصه ختمه نه سوه، نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ فرمایلي دي: چې بیا خو ښه طریقه دا ده: چې یو څه یخې اوبه په خپله ”پزه“ کي واچوي، چي د هغه په وجه به د ده غصه ډېره ژر سړه سي.

❖ او که غصه ډېره زياته وه، بالکل نه ختم کېدله ،نو بيا دي هغه دُعا و غواړي: چي حضرت عائشې مبارکې ته پېغمبرﷺ ور ښوولې وه، او هغه دُعا دغه ده:

"اې د محمدﷺ ربه! زما گناه را معاف کړه، او زما د زړه غصه ليري کړه، او هم مي د هر قسم فتنو څخه حفاظت وکړه.

❖ کچيري په دې سره هم غصه نه ختم کېدله، نو آخري طريقه دا ده: چي پر پېغمبرﷺ دي درود شريف ووايي، دا پخه خبره ده: چي د څو ځله درود ويلو سره به الله تعالى ده ته د غصې څخه نجات ور کوي.

دغه وجه ده: په عربو کي کچيري دوه(۲) کسان په غصه کي سره راسي، نو دريم سړی دستي ورته وايي:

صَلُّوا عَلَى مُحَمَّد صَلُّوا عَلَى مُحَمَّد

نو د روژې مبارکه مياشه ده، د انسان په مزاج کي خشکي زياته وي، او عام طور انسان لره پر معمولي خبرو باندي غصه ورځي، نو بايد انسان په دغه طريقو سره خپله غصه قابو کړي، او خپله روژه خرابه نه کړي.

کچيري يو څوک د ده سره تجاوز وکړي، او يا و ده ته په غصه سي، نو بايد دی هغه معاف کړي، چي د قيامت په ميدان کي الله تعالى د ده سره هم د معافې معامله وکړي.

الله تعالى دي زموږ او ستاسو عبادتونه او طاعتونه او روژې او لمنځونه پخپل دربار کي قبول کړي، چي څه مي وويل، يا مي واورېدل پر هغه دي الله تعالى د عمل کولو توفيق را نصيب کړي، او الله تعالى دي دا يو څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وگرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د روژې فضیلت، دویمه حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْـــــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : ﴿عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّهُ لَا مِثْلَ لَهُ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاکِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! د رمضان المبارک میاشته روانه ده، دا هغه مبارکه میاشته ده، چې الله تعالی د روژې د عبادت لپاره د دغه میاشتې انتخاب کړی دی، چې په دې کې به مسلمانان د روژې عبادت کوي، او په هغه سره به د خپل رب قرب او وصال پیدا کوي.

## د "صوم" لغوي معنی:

روژې ته په عربي کې: "صوم" وايي، لکه اوس آیت کې هم د صیام لفظ راغلی وو، او په حدیث شریف کې هم پیغمبر ﷺ د "صوم" لفظ استعمال کړی وو، "صوم" د عربي لفظ دی، د دې لغوي معنی: راګرځېدل، او منعه کېدل، لکه د دې لفظ استعمال په

(۱) سورة البقره: ایت نمبر ۱۸۳
(۲) مصنف ابن ابي شيبه: حدیث نمبر ۸۸۹۵

قرآن کريم کې او په احاديثو کې او په عربي محاوراتو کې زيات راغلی دی، زه تاسو ته د هغه يو څو مثالونه پيشوم:

- .......چې کله حضرت عيسی علیہ السلام پيدا سو، چونکه د ده پيدا کېدل بغير د پلار وه، د ده مور حضرت مريم چيکله دی کلي ته راوړی، نو هلته به د کلي خلګو زياته پوښتنه ځني کوله: چې:

.............﴿يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا﴾.

اې مريمې! دا بچی دې د کومې خوا پيدا کړی؟ چونکه دې مبارکې واده نه وو کړی، نو دوی به دا ورته ويل:

...........﴿مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا﴾.

نه دې پلار بدعمله وو، او نه دې مور زناکاره وه، او ته خو خاوند هم نه لرې، نو تا دا بچی سنګه پيدا کړی.

نو دې د الله تعالی په امر خپله ژبه بنده کړه، چيکله به قوم پوښتنه ځني کوله، نو دې به په اشاره باندې ورته وويل:

............﴿إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا﴾.

بېشکه ما خو د رحمٰن لپاره روژه نيولې ده، نو دلته هم قرآن د صوم لفظ استعمال کړی دی، د دې معنی دا: چې زه دخبرو څخه رابنده سوې يم، نو ځکه ستاسو سره خبرې نه کوم، او جواب په اشاره باندې در کوم.

- .......داغه رنګه چيکله يو آس د ډېر زيات تک کولو په وجه ودرېږي، او د زياتې ستړيا په وجه نور تګ نسي کولای، او د تګ څخه رابند سي، نو په عربي کې هغه آس ته: "صائم" وايي.

- .......عربو به خپل آسان د جنګونو لپاره تيارول، نو دوی به ډېر ځله هغه ته اوبه او خورکه نه ورکوله، او ډېر زيات به ئې ستړي کول، او دا به د دوی مشق وو، چونکه په جنګي حالاتو کې عام طور آسان د دغسې حالاتو سره مخامخ کېږي، نو دوی به د وخت څخه مخکې لا د دغه حالاتو سره دوی عادت کول، او دغه شان به ئې په لوږه او تنده او په خورک نه ور کولو باندې د دوی تربيت کاوی، نو بيا به دغه د تربيت په زمانه کې هغه آس ته دوی "صائم" ويل.

لکه د ورژې يو حکمت هم علماؤ دا ليکلی دی: چې د انسان په ژوند کې د صبر او برداشت استعداد پيدا سي، او دی د لوږې او تندې برداشت کولو سره عادت سي، ځکه جهاد د مسلمان د زندګۍ يو لازمي حصه ده، او دېر ځله دی په جهاد کې د دغه حالاتو سره مخامخ کيږي، نو الله تعالی د ده د تربيت لپاره اوِ په ده کې د استعداد پيدا کولو لپاره په کال کې پر ده باندې يوه مياشته لوږه او تنده ضروري کوي.

## د صوم شرعي معنٰی:

او د شريعت په اصطلاح کې د صبح صادق د راختلو څخه وروسته بيا تر لمر لوېدلو پورې د خورک او د چيښلو او د جماع کولو څخه پرهيز کولو ته صوم او روژه وايي، لکه حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ د روژې دا تعريف ليکلی دی:

.........وَفِي الشَّرْعِ إِمْسَاكٌ مَخْصُوصٌ فِي زَمَنٍ مَخْصُوصٍ عَنْ شَيْءٍ مَخْصُوصٍ بِشَرَائِطَ مَخْصُوصَةٍ﴾.(۱)

په مخصوص وخت کې د خاصو شرائطو سره د يو څه خاص شيانو څخه ځان راګرځولو ته صوم او روژه وايي.

خو پدې شرط چې د انسان به نيت هم د روژې وي، ځکه د روژې لپاره نيت کول شرط دي، کچيرې يو سړی بغير د نيته وږی او تږی هر څومره زمانه تېره کړي، نو د دغه لپاره هيڅ اجر او ثواب نسته.

چونکه زموږ په معاشره کې عام طور د مؤمنانو دانيت وي: چې زه به د رمضان د مياشتې روژې نيسم، بس! دغه نيت دده د ټولې روژې لپاره کفايت کوي.

علماؤ ليکلي دي: چې د روژې دنيت کولو بهترين وخت هغه دی: چې کله اوله روژه انسان ماته کړي، نو بس په دغه ګړي، د را روان ورځې د روژې نيولو نيت وکړي، يعني: په زړه کې ئې دا فيصله وي: چې صبا خو بيا روژه نيسم، د دې دا مطلب نه دی: چې دی به خورک او چيښل بند وي، بلکه تر سهاره پورې خورک او چيښل کولای سي، صرف په زړه کې به ئې د را رواني ورځې د روژې نيولو اراده ولري.

(۱) فتح الباري لابن حجر: باب قوله بسم الله الرحمن الرحيم، صفحه نمبر ۱۰۲، مکتبه شامله

## د ټوله کال زړه:

په حدیث شریف کې راځي: چې د روژې میاشته د ټوله کال لپاره د زړه حیثیت لري، کچیرې پر انسان د روژې میاشته په ښه طریقه او د عبادت کولو په شکل تېره سي، نو ټوله کال به الله تعالی ده ته د عبادت کولو توفیق ور کړي.
او کچیرې په روژه کې د ده څخه په عبادت کې غفلت وسي، نو بیا به ټوله کال د غسي د غفلت په حالت کې ور باندې تیریږي.
نو ځکه امام رباني حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله علیه پخپل مکتوبات کې لیکلي دي: چې د روژې مبارکې په میاشته کې دومره زیات برکتونه الله تعالی را استوي، چې د نور ټوله کال د برکتونو د دې میاشتې د برکتو سره هغه نسبت هم ندی: چې د یو څاڅکي د دریاب سره کم نسبت دی.

## د جهنم څخه د آزادۍ میاشته ده:

د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه حدیث مبارک دی:
............إنّ لِلّهِ عُتَقَاءَ فِي كُلّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، لِكُلّ عَبْدٍ مِنْهُمْ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ﴾.(١)
الله تعالی درِ مضان المبارک په هره ورځ او شپه کې انسانان د جهنم څخه آزادوي، او هم په هره ورځ او شپه کې د مؤمن دعا قبلوي.
اوس دا پر موږ باندې حصر ده، چې موږ د الله تعالی څخه څومره غوښتنه کولای سو، د ده لطرفه و موږ ته د قبولیت اشاره راکول سوې ده، لکه یو حدیث شریف کې دا هم راځي:
............فَإِذَا مَضَى ثُلُثُ اللّيْلِ، أَوْ نِصْفُ اللّيْلِ، نَزَلَ إِلَى السّمَاءِ الدّنْيَا، فَقَالَ: هَلْ مِنْ سَائِلٍ فَأُعْطِيَهُ؟ هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ فَأَغْفِرَ لَهُ؟ هَلْ مِنْ تَائِبٍ فَأَتُوبَ عَلَيْهِ؟ هَلْ مِنْ دَاعٍ فَأُجِيبَهُ؟﴾.(٢)
چیکله د شپې دریمه حصه یا نیمه حصه تېره سي، نو الله تعالی بلاکیف د دنیا آسمان ته را شوه سي، نو بیا دا ندا کوي:

- .......ایا په تاسو کې یو سوال کونکی سته: چې هغه ته مراد ور پوره کړم؟

(١) مسند احمد: حدیث نمبر ٧٤٥٠
(٢) مسند احمد: حدیث نمبر ٩٥٩١

- .......ايا په تاسو کي يو مغفرت غوښتونکی سته: چي د هغه بخښنه وکړم؟
- .......ايا په تاسو کي يو توبه کښنونکی سته: چي توبه ئې قبوله کړم؟
- .......ايا په تاسو کي يو دعا کونکی سته: چي د هغه دعا قبوله کړم؟

نو دا اوس پر غوښتونکي باندي منحصره ده، چي هغه دالله تعالی څخه په کوم قسم غوښتنه کوي، نو الله تعالی به ئې هغه مراد ور پوره کوي.

په طبراني کي يو روايت دی: چي پېغمبر ﷺ به صحابه وو ته د روژې په را رسېدلو سره همېشه دا وينا کوله:

............أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرُ بَرَكَةٍ، فِيهِ خَيْرٌ يُغَشِّيكُمُ اللَّهُ فِيهِ، فَتَنْزِلُ الرَّحْمَةَ، وَتُحَطُّ الْخَطَايَا، وَيُسْتَجَابُ فِيهِ الدُّعَاءُ، فَيَنْظُرُ اللَّهُ إِلَى تَنَافُسِكُمْ﴾.(١)

پر تاسو باندي د روژې مبارکه مياشته راغلې ده، چي هغه ډېره د برکت مياشته ده، په هغه کي الله تعالی ستاسو طرف ته متوجه وي، او پر تاسو باندي رحمتونه رانازلوي، او ستاسو خطاګاني معافوي، او هم دعاګاني قبلوي، او الله تعالی په هغه مياشته کي ستاسو "تنافس" ته ګوري.

دتنافس معنی: په نيکو اعمالو کي او په عباداتو کي يو د بل څخه ځان مخته کول، چي هر بنده دا کوشش کوي، چي زه په دې مياشته کي زيات عبادت وکړم.

لکه په مکتب او مدرسه کي چيکله د امتحان وخت رانژدې سي، نو هر بچی دا کوشش کوي: چي زه محنت ډېر وکړم: او زما د محنت په نتيجه کي زما کاميابي په نصيب سي، او په ټولو ملګرو کي زما د کاميابۍ اعلان وسي، او زه پخپلو ملګرو کي د عزت خاوند سم.

داغه رنګه مسلمانان هم بايد دا کوشش وکړي: چي د روژې په مياشته کي زه زيات عبادت وکړم، او د قيامت په ميدان کي زما د نيکو اعمالو تله درنه وي، او هلته زما د کاميابۍ اعلان وسي، او زه د کاميابۍ سره مخامخ سم.

(١) مسند الشاميين للطبراني: حديث نمبر ٢٢٣٨

## د عبادت معنی:

اوس دا میاشته د عبادت میاشته ده، نو په دې میاشته کي د عبادت کولو به کوم شکل وي، یو صحابي د پیغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي: اې دالله تعالی نبي!

.............﴿اُرِیْدُ اَنْ اَکُوْنَ اَعْبَدَ النَّاس﴾.

اې دا لله تعالی رسوله! زما زړه دا غواړي: چي زه په ټولو انسانانو کي زیات عبادت کوونکی سم، نو پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي:

.............﴿اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ﴾.(١)

ته د حرامو څخه او د ګناه د کارونو څخه ځان ګوره، ته به د ټولو خلکو څخه زیات عبادت کونکی جوړ سي.

## په روژه کي تقوی کول:

نو زموږ او ستاسو لپاره په دې میاشته کي بهترین عبادت هغه دا دی: چي په دې میاشته کي موږ تقوی وکړو، د تقوی معنی داده: چي د ګناهونو څخه ځان راوګرځوو، خپلي سترګي او خپل غوږونه او خپله ژبه او د بدن ټول اندامونه دګناهونو څخه محفوظه کړو، نو دغه زموږ او ستاسو لپاره بهترین عبادت دی.

## تقوی کول تر هر څه مقدم وي:

ځکه اوږده اوږده نفلونه کول، او تلاوتونه کول، د هغه فائده خو هلته وي، چي دانسان زندګي دګناهونو څخه پاکه وي، دا سي نه: چي په مسجد کي د انسان پر ژبه سبحان الله وي، لیکن چي د مسجد څخه ووزي، بیا پر داغه ژبه باندي درواغ هم وي، او غیبت هم وي، او په داغه ژبه سره مسلمانانو ته تکلیف رسول هم وي.

او بعضي انسانان بیا داسي وي: چي په مسجد کي وظیفه کوي، لیکن چي کور ته راسي، او پر لږ خبره ئې دماغ ګرم سي، نو بیا په کور کي یو قیامت دی جوړ کړي، پوچ اوږد هم وايي، او د کور انسانانو ته غلط نسبتونه هم کوي، حالانکه دی و ځان ته د پیر صوفي، او عبادت کونکي انسان په نظر ګوري.

---

(١) مسند ابي یعلی الموصلی: حدیث نمبر ٦٢٤٠

ګورئ! عبادت صرف د اوړدو نفلو کولو او د تسبیحاتو ویلو نوم نه دی، بلکه خپل ځان د ګناه څخه راګرځول دا هم د عبادت دوهم نوم دی، او د ګناه څخه را ګرځېدونکی بنده الله تعالی ته ډېر خوښ او محبوب وي.

خواجه ابو الحسن خرقاني رحمة الله علیه چي زموږ د تصوفو د سلسلو ډېر لوی بزرګ دی، هغه یو ډېره ښائسته خبره لیکلې ده: دی مبارک وایي: چي کم بنده یوه ورځ د ګناهونو څخه د خپل ځان د حفاظت کولو په شکل تېره کړه، داسي ده: لکه ده چي دغه ورځ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کي تېره کړې وي.

نو زه دا وایم: چي کله تاسو سهار را پورته سئ، او ورځ روانه کړئ، نو دا دعا غواړئ: چي یا الله! نن د روژې مبارکي ورځ ده، زه دا یوه ورځ داسي تېرول غواړم، چي ستا داحکامو نافرماني نه وکړم، او دغه غوښتنه همېشه د ځان تمنی جوړه کړئ: کچیري زموږ یوه ورځ هم زموږ په ژوند کي دغسي راباندي تېره سي، نو دا امید کولای سو: چي د قیامت په میدان کي به د هغه ورځي په برکت سره دالله تعالی تر رحمت لاندي راسو.

## د نیکو اعمالو سیزن:

نو د روژې مبارکه میاشته د انسانان لپاره د نیکو اعمالو یو سیزن دی، تاسو به په دنیا کي لیدلي وي، چي د مختلفو تجارتو سیزن وي، چیکله هغه سیزن راورسیږي، نو هغه تاجر بیا خپل ځان د هر طرف څخه را فارغه کړي، او په دغه سیزن کي خپل کار کولو او خپلي ګټې کولو ته متوجه وي.

ځکه د هغه په دماغ کي دا خبره سته: که چیري زه دغه یو سیزن خپل کار په همت او په کامله توجه سره وکړم، نو د دې نفعه او ګټه به ماته تر ټوله کال په ښه راځي، او که په دغه سیزن کي زما څخه غفلت وسي، نو بیا د هغه کسر تر ټوله کال زه نسم راګرځولای.

نو د روژې میاشته هم د نیکو اعمالو یو سیزن دی، چي په دې کي انسان په آسانه سره څو مره ګټه او نفعه لاس ته راوړلای سي، بیا په ټوله کال کي هغه نفعه او ګټه د ده لاس ته نه راځي، او خدانخواسته، که پر یو چا په غفلت کي تېره سي، نو بیا د عبادت دغه

کسر په ټوله کال کي نسي پوره کولای، نو ځکه زموږ بزرګانو به پدې میاشته کي په ډېره کامله طریقه سره عبادت کاوی.

## د مغفرت موسم:

او دا د مغفرت یو موسم هم دی، تاسو به لیدلي وي، چي په هر کال کي پر انسانانو باندي مختلف موسمونه راځي، کله ګرم وي، او کله یخ وي.
خو په دې موسمونو کي یو موسم د بهار او سپرلي هم راځي، چیکله هغه موسم راورسیږي، نو هر طرفته ګلان وي، او ښائسته فضاوي، او د ګلانو په خوشبوئي باندي ټوله فضا معطره وي، او ښائسته منظرې انسان ته ور ښکاره کیږي.
نو د رمضان المبارک میاشته هم د الله تعالی د مغفرت یو موسم دی، چي په هغه کي الله تعالی د خپلو بندګانو د مغفرت منظرې جوړوي، ځکه چي کوم څوک په حالت د روژې کي وي، نو د هغه لپاره په اوبو کي ماهیان او په هوا کي مرغان او پر مځکه حشرات د مغفرت دعاګاني غواړي.
او روژه نیونکی انسان الله تعالی ته دومره خوښ وي، چي د هغه خوب عبادت وي، او چیکله هغه ساه اخلي، نو الله تعالی ده ته د ذکر کولو اجر او ثواب ور کوي، او د روژه مات پر وخت الله تعالی د ده دعاګاني قبلوي.

## د روژې د میاشتي عجیب فضیلت:

په روایاتو کي راځي: چي یو ځل حضرت موسی علیہ السلام د الله تعالی سره د کلام کولو لپاره "کوه طور" ته راغلی، چي کله د الله تعالی د همکلامی شرف ورته حاصل سو، نو دی ډېر په خوشحالي کي وو، او دخپل ناز ښکاره کولو په شکل دا وایي: یا الله! چي کوم قرب ستا نن ماته رانصیب سوی دی، ایا دا به په ټوله ژوند کي ستا بل بنده ته ور نصیب سوی دی، او یا به ور نصیب سي؟
الله تعالی ورته وایي: اې موسی! تاته څه معلومه ده؟ د قیامت سره نژدې په آخري زمانه کي یو امت راځي، چي هغه به زما د محبوب محمد ﷺ امت وي، او پر هغه امت باندي الله تعالی یوه میاشته د روژې راولي، چي په هغه کي به دوی د هر څه څخه منعه

وي، تـوله ورځ به ئې شونډان وچ وي، او رنګ به ئې ژړ وي، چيکله پر دوی د روژمات وخت راورسيږي، زما او ددوی په مابين کې ډېر زيات قرب او نزديکت وي.
اې موسی! اوس چې ما او تا پر "کوه طور" باندې کلام سره کوو، نو زما او ستا په مابين کې اويا زره(۷۰۰۰۰) د نور پردې او حجابات موجود دي، ليکن هغه امت چيکله د روژې دماتولو په وخت کې وي، زه او هغه په دې وخت کې دومره سره نژدې يو، چې: زما او د هغه په مابين کې يو حجاب او يوه پرده هم نوي.
چې دی کومې دعاګانې په دغه وخت کې زما څخه غواړي، د هغه قبلول زما ذمه واري وي، نو څکه کچيرې زما بندګانو ته د روژې حقيقي معلومات وسي، نو دوی تـوله به دا تمنی وکړي: چې کاش! تـوله کال پر موږ باندې روژه وای.
د حضرت علي ﷺ څخه يو چا پوښتنه وکړه: چې د دې ځای څخه د الله تعالی عرش څومره ليرې دی؟ نو ده به ورته ويل: چې کله روژه نيونکی د ورژمات پر وخت د دعا کولو په دوران کې يا الله پر خپله ژبه راوړي، نو د يا لفظ د ده پر ژبه وي، او د الله لفظ تر عرشه پورې رسيږي، يعني: چې څومره مسافت د يا د لفظ او د الله د لفظ په مابين کې دی، دغومره مسافت د دغه بنده او د الله تعالی د عرش په مابين کې د روژمات پر وخت باندې وي.

## د حضرت عمر ﷺ وينا:

حضرت عمر ﷺ به ډېر څله ويل: چې د کال په يوولس(۱۱) مياشتو کې زه د الله تعالی عرش داسې وينم: لکه د خپلې حجرې چت ليکن چيکله د روژې مياشته راسي، نو بيا د الله تعالی پر عرش باندې سر بيره تختې داسې وايم: لکه زما پر ورغوي چې ليکلې وي.
او د کال په يوولس(۱۱) مياشتو کې چيکله زه په کور کې يم، نو د کور په چار ديوارې او احاطه کې چې څه را معلوميږي، هغه وينم، ليکن چيکله د روژې مياشته راورسيږي، نو بيا زما نظر دومره تيز وي، او تر دې چارديوارې داسې وزي: لکه تر شيشه بيا شرق او د غرب او د جنوب او شمال تـوله مابين ما ته ښکاره کيږي.

د کال په یوولس (۱۱) میاشتو کې شیطان ماته راځي، کله مخته او کله شاته او شیطان زما سره د مقابلې کولو جرأت لري، او ماته د ګناه خواهشات پیشوي، خو زه خپل ځان ځني محفوظه کوم، لیکن د روژې په میاشته کې زه شیطان داسي ونیسم، لکه یو ماشوم بچی دی زما په لاس کې بیا قابو وي، او دی زما سره د مقابلې کولو هیڅ توان نه لري.

نو په روژه کې الله تعالی انسان ته ډېر زیات د نورانیت او عبادت قوت ور کوي، خو دا یو شرط دی: روژه به په صحیح معنی سره روژه وي، چې هم به دانسان د سترګو روژه وي، او د بدنظرۍ څخه به حفاظت کوي، هم به د غوږو روژه وي، چې د غلطو آوازو د اورېدو لو څخه به محفوظه وي، هم به د ژبې روژه وي، چې د بدو خبرو کولو څخه به محفوظه وي.

## د دې میاشتې عظمت چاته معلومېږي؟

خو د دې میاشتې عظمت هغه چاته ور معلومېږي: چې هغه تر دنیا تېر سوي او د قبر په تورو خاورو کې پراته دي، ځکه چې کله د دې میاشتې اوله شپه راسي، نو بیا الله تعالی عذابونه پورته کوي، او د دې میاشتې تر آخري شپې پورې بیا عذاب نوي.

نو ځکه په قبرونو کې مړګان دا تمنی کوي: چې کاش! د کال دوولس (۱۲) میاشتې د روژې وای، او زموږ په قبرونو کې موږ ته داسي راحت او ارام وای، لکه د روژې په میاشته کې چې موږ ته راکول کیږي.

او یا د دې میاشتې فضیلت هغه چاته ور معلومېږي: چې په دې میاشته کې د دنیا څخه رخصت سي. ځکه د حدیث الفاظ داسي دي: چې په دې میاشته کې د ده قبر د ده لپاره جنت ګرځي. ځکه د قبر څخه دوې لارې ځي، یوه جهنم ته رسیږي، او یوه جنت ته خو چیکله د روژې میاشته راسي، نو هغه د جهنم لار بنده سي، او قبر الله تعالی پر مړګانو باندې جنت وګرځوي.

## مړي د دوو شیانو تمنی کوي:

په حدیث شریف کې راځي: چې د زګندن پر حالت مړګان همېشه د دوو (۲) شیانو ډېر تمنی کوي: یو د لمانځه او بل د روژې، د لمانځه او روژې په دې وجه تمنی کوي: چې

ده ته د دغه دوو اعمالو په وجه کوم اعزاز ور کولو کیږي، او دی دهغوی درجات ويني، هغه بیا په بل عمل کي نه وي.
لکه په حدیث شریف کي دا هم راځي: چي همېشه په لمانځه او روژه کي د کمۍ کولو په خاطر د مرګ په وخت کي د انسان پر تندي باندي خوله راځي.
دهغه وجه دا وي: چي لمونځ دومره قیمتي عمل دی، او روژه دومره قیمتي عمل دی، نو د ده په زړه کي دا تمنی راسي: چي کاش زه پیدا سوی وای، او د پیدا کیدو سره دستي په حالت د سجدې کي وای، او اوس مرګ هم مالره په حالت د سجدې کي راغلی وای، او چي زه پیدا سوی وای، ما روژه شروع کړی وای، او نن مالره مرګ هم په حالت د روژې کي راغلی وای.
نو روژه بهترین عبادت دی، چي د هغې وخت پر موږ او تاسو رارسېدلی دی، او تر اوسه لا زموږ ژوند روان دی، باید تر خپله وسع پوري د دې میاشتي څخه نفعه واخلو، او چي په زندګي کي کومي کمزوری او خطاګاني را څخه سوې وي، پدې میاشته کي دهغه د معاف کېدلو کوشش وکړو.
او بیا خاص چي پیغمبر ﷺ کوم هدايات د دې میاشتي متعلق بیان کړي دي، پر هغه هدایاتو دا میاشته مبارکه تېره کړو.

## د روژې دمیاشتي متعلق د پیغمبر ﷺ وینا:

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ یو روایت رانقل کوي، چیکله به د شعبان د میاشتي آخره ورځ راغله، نو د ماځیګر په وخت کي به پیغمبر ﷺ موږ ته یو وعظ او نصیحت کاوی، او داسي په ئې راته ویل:

..............يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾.

اې خلکو! پر تاسو باندي یوه میاشه رارسېدونکې ده، چي ډېره لویه میاشته ده، او ډېره مبارکه میاشته ده، پدې کي یوه شپه را روانه ده، چي هغه د "لیلة القدر" شپه ده، کڅيري تاسو ته الله تعالی د هغه یوې شپې عبادت در نصیب کړي، نو د الله تعالی په دربار کي د زرو (۱۰۰۰) میاشتو تر عبادت زیات فضیلت لري.

..............فَرَضَ اللّٰهُ صِيَامَهُ وَجَعَلَ قِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا﴾.

الله تعالی د دې ورځي روژې پر تاسو فرض کړي دي، او تاسو په دې مکلف یاست: چي د الله تعالی دغه فریضه به پر ځای کوئ، او د شپې قیام یعني: تراویح ئې ستاسو لپاره د ثواب ذریعه ګرځولي دي.

.............فَمَنْ تَطَوَّعَ فِيهِ بِخِصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ , وَمَنْ أَدَّى فِيهِ فَرِيضَةً كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً﴾.

چي کم څوک په دې کي یو نفلي عبادت وکړي، الله تعالی ئې د فرضي عبادت په شکل ور شماري، او چي کم چاته الله تعالی د فرضي عبادت ادا کولو توفیق ور کړي، نو هغه داسي دی: لکه د دې میاشتي څخه ما سوا چي اویا (۷۰) فرضي عبادتونه سر ته ورسوي.

...............وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ , وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ﴾.

او دا د صبر میاشته ده، او د صبر بدله او عوض جنت دی، چي په دې کي به مسلمان هر قسم صبر کوي.

## د صبر قسمونه:

صبر درې (۳) قسمه دی:

- ..........صَبْر عَلَى العِبَادَةِ﴾. یعني: که ئې زړه غواړي، او کنه، د الله تعالی عبادت ته به متوجه وي، که پر ده باندي هر څومره بوج وي، خو پر هغه عبادت به دی صبر کوي، او د عبادت څخه به اعراض نه کوي.
- ..........صَبْر عَنِ الْمَعْصِيَةِ﴾. یعني: پدې میاشته کي به د ګناهونو څخه خپل ځان راګرځوي، سترګي او غوږونه، ژبه او د بدن ټوله اندامونه به دی د ګناه څخه راګرځوي، کچیري دغه راګرځېدل ده ته تکلیف ور کوي، خو دی به پر هغه باندي صبر کوي.
- ..........صَبْر عَلَى الْمُصِيبَةِ﴾. کچیري په دې میاشته کي دی په یو تکلیف کي مبتلا وي، هغه که بیماري او ناجوړي وي، او که مسکنت او ناداري وي، یا د بل د قرض تر بوجونو لاندي وي، یا دعیال په نفقه پیدا کولو پوري حیران وي، نو هم به دی صبر کوي.

نو پېغمبر ﷺ دا مياشته د صبر مياشته بللې ده، چې هر قسم صبر به بنده کوي، نن خو دي الله تعالی موږ معاف کړي، چېکله د عبادت ځای راسي، نو هم زموږ پر عبادت باندي صبر کول ډېر کمزوری وي.

نن زموږ په معاشره کي دا د انسانانو کمزوري ده، چېکله د تراويحو عبادت شروع سي، حالانکه د هغې پر يوه سجده الله تعالی بنده ته پنځلس سوه(١٥٠٠) نيکی ور کوي، دومره عظيم عبادت دی، او بنده پر هغه باندي خپل نفس نسي صبر کولای.

دی ګوري! چې په علاقه کي په کم ځای کي ده ته لنډي او مختصري تراويح ور پيدا کيږي، بيا دی په هغه پسي ځغلي، او هلته ځان رسوي، حالانکه ټوله ورځ څلورويښت(٢۴) ساعته ورځ پر ده باندي د دنيا په امورو کي تېره سي، پر هغه ټولو باندي دی صبر لري، او نه ستړی کيږي، او دلته که پنځه(۵) دقيقې وخت زيات سو، بيا دی دستړيا احساس کوي، او صبر نسي کولای.

بعضي ځايونه بيا حافظان صاحبان دومره لويه کمزوري کوي، چې قرآن کريم په داسي شان په تراويحو کي تلاوت کوي، چې دهغه د الفاظو بلکل انسان هيڅ امتياز نسي کولای، بس صرف چې رکوع لره ځي، نو آخرنی آيت دی صفا وايي، حالانکه قرآن کريم دا د الله تعالی کلام دی، او د الله تعالی د ذات څخه صادر سوی دی، د دې سره دومره لويه لا وبالي کول دا يو مذاق او مسخره دي.

هسي نه! چې د قيامت په ميدان کي د قرآن کريم سره د دغه لا وبالی په خاطر انسان د ډېر زيات لوم او ملامتيا سره مخامخ سي.

نو په کار دا دی: چې موږ او تاسو په دې مياشته کي چې کوم عبادتونه دي، که پر نفس باندي هر څومره درانه وي، خو نفس په هغه باندي صبر کړو.

او هم د ګناهونو څخه خپل نفس را وګرځوو، که نفس د ګناه کولو هر څومره تمنی کوي، خو پدې مياشته کي خپل نفس ته د ګناه کولو اجازت ور نه کړو.

که د انسان ټوله ورځ په خوله روژه وي، ليکن سترګي ئې د بدنظری په شکل زنا کوي، او غوږونه ئې د غلطو اورېدلو په خاطر زنا کوي، او دبدن ټول اندامونه ئې په ګناهونو کي لړلي وي، بيا به د دې بنده څه روژه وي.

د هر خلک زموږ په معاشره کي د ورځي خو روژه وي، ليکن شپه ئې ټوله په غلطو اعمالو په غلطو مجلسو او په ډرامو او په چکو او په نورو عبثياتو کي تيريږي، نو زه دا وايم: چي بيا خو د پيغمبرﷺ حديث د دې ښکارندويه دی: چي هغه مبارک فرمايلي دي:

.............كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الظَّمَأُ، وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ﴾.(۱)

د هر روژه نيونکي داسي وي: چي هغوی ته د روژې نيولو په عوض کي بغير د تندي او لوږي بل څه ور پاته نسي.

او د هر شپه روښونکي: چي هغوی ته د شپې د روښولو په عوض کي بغير د بد خوابی بل يو شی هم ور پاته نسي.

نو پدې مياشته کي خپله زندګي په پرهيز کي تېرول، او چي کوم عمل د روژې سره ضد وي، د هغه سره زيات احتياط کول.

## زموږ د بزرګانو احتياط:

دا د احتياط مياشته ده د حضرت عمرؓ په باره کي راځي: چي هغوی ته يو ځل د شام څخه د "بيت المال" تيل راغلل، چي په لويو لويو لوښو کي وو، ده د هغه تقسيم شروع کړی، خلګو کوچني لوښي ورته راوړل، ده به هغه تيل په هغه کي ور تقسيمول.

د ده سره په دغه عمل کي خپل زوی حضرت عبدالله بن عمرؓ ور سره وو، هغه به د ده سره کومک کوی.

د هغه چي به کله لاسونه په تيلو باندي غوړ سول، نو هغه به ئې په خپلو وربښتانو پوري موږل.

حضرت عمرؓ چيکله وليدی، نو ورته وايي: بچيه! ستا وربښتان د مسلمانانو د تيلو زيات شو قمند معلوميږي، د دغه ويلو څخه وروسته ئې تر لاس ونيوی، او نائي ته ئې راوستی، او د سر ټوله وربښتان ئې ور وخرئيل، او ورته ويل ئې: چي د هغه په

(۱) سنن دارمي: حديث نمبر ۲۷۶۲

نسبت چې ستا ورېښتان د مسلمانانو په تیلو باندي غوړ وي، دا ډېره ښه ده، چې پر سر دي ورېښتان نوي.

## دابراهیم بن ادهم رحمۃ اللہ علیہ احتیاط:

زموږ په بزرګانو کي ابراهیم بن ادهم تېر سوی دی، یو ځل ئې د عمان پوري د سفر لپاره یو حیوان په کرایه ونیوی، په لاره کي روان دی. یو ځای غمچینه د لاس څخه ځني ایله سوه، او دی پر مخ ولاړی، چیکله ئې ورته پام سو، نو هلته ئې هغه حیوان وتړی، او پر پښو راغلی، او غمچینه ئې راواخیستله، او ورغلی پر حیوان سپور سو.
یو چا ورته وویل: چي حیوان دي ولي نه پسي راګرځاوی، چي دا دومره زیات تکلیف دي کوی؟ ده په جواب کي ورته وویل: چي ماخو دغه حیوان د تللو لپاره په کرایه نیولی دی، او د واپس راتللو لپاره ندی.
نو ځکه زموږ بزرګانو به په هر عمل کي زیات پرهیز کاوی، نو د روژې مبارکه میاشته بیا زیاته د پرهیز کولو موقع ده، چي د انسان ورځ د هر قسم اعمالو څخه په پرهیز کي تېره سي، او پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم به دا هم ویل:
.............وَهُوَ شَهْرُ الْمُوَاسَاةِ , وَهُوَ شَهْرٌ يُزَادُ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ فِيهِ﴾.
او دا میاشته د خلګو سره د غمخواری کولو میاشته ده، الله تعالی په دې میاشته کي د مؤمنانو رزق ورزیاتوي.
............مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ عِتْقُ رَقَبَةٍ وَمَغْفِرَةٌ لِذُنُوبِهِ﴾.
چي کوم څوک په دې میاشته کي د یو روژه نیونکي د روژمات بندوبست ور وکړي، نو د هغه لپاره به د ګناهونو د معاف کېدلو ذریعه وګرځي، او هم به ئې الله تعالی د جهنم څخه د نجات سبب جوړ کړي.
صحابه ورته وایي: اې د الله تعالی رسوله! زموږ د ټولو زندګي په مسکنت کي روانه ده، او موږ پخپله د ځان او د عیال لپاره د روژمات پوره ترتیب نسو برابرولای، نو د بل چا لپاره به د روژمات ترتیب څنګه برابر کړو؟

پیغمبر ﷺ ورته وایي: چي الله تعالی دغه لار ستاسو لپاره خلاصه کړېده، ځکه دغه روژمات خامخا په ماړه نس باندي چاته په خورک ور کولو باندي موقوفه ندی، بلکه ورته فرمایي:

............﴿يُعْطِي اللّٰهُ هَذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلَى مَذْقَةِ لَبَنٍ أَوْ تَمْرَةٍ أَوْ شَرْبَةِ مَاءٍ﴾.

دغه ثواب الله تعالی هغه چاته ور کوي: چي د یو مسلمان د روژه مات لپاره یوه خورما یا یو غړپ اوبه او یا د شیدو بندوبست وکړي، نو الله تعالی پر دغه عمل باندي هم د ده د ګناهونو مغفرت کوي، او هم ئې د جهنم څخه د آزادولو فیصله کوي.

............﴿وَمَنْ أَشْبَعَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةٌ لِذُنُوبِهِ وَسَقَاهُ اللّٰهُ مِنْ حَوْضِي شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتَّى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ﴾.

او کچیري یو څوک په ماړه نس باندي د مسلمان د روژمات غم وخوري، بیا خو به ئې الله تعالی د ګناهونو د مغفرت ذریعه هم کړي، او د قیامت په میدان کي به ئې هم زما د حوض څخه چیښل ور نصیب کړي، چي د هغه په وجه به دی چي تر کومه وخته جنت ته داخلیږي، تږی به نسي.(۱)

یو صحابي د پیغمبر ﷺ څخه سمدستي پوښتنه کوي: چي:

............﴿مَاالْحَوْضُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟﴾.

حوض څشی دی؟ اې د الله تعالی رسوله! پیغمبر ﷺ په جواب کي هغه صحابي ته فرمایي:

............﴿إِنَّ حَوْضِيَ مِنْ عَدَنٍ أَبْيَنَ إِلَى عَمَّانَ الْبَلْقَاءِ أَكْوَابُهُ مِثْلُ عَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ مَاؤُهُ أَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، أَوْ قَالَ: أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ شَرْبَةً لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا﴾.

زما حوض د قیامت په میدان کي دومره مسافت لري، لکه: د عدن څخه تر عمان پوري او د هغه دومره کوزي دي: لکه د آسمان ستوري، د هغه اوبه تر شهدو خوږي دي، او تر شیدو سپیني دي، چي کوم څوک یو ځل د هغه څخه یو غړپ وچیشي بیا به په ټوله قیامت کي پر ده باندي تنده رانسي.

او وروسته پيغمبر ﷺ ورته وايي: اول زما د امت فقراء راځي، او هغه به د حوض ځخه اوبه چيښي، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وايي: اې د الله تعالى رسوله! فقراء په څوک وي؟ او د هغه به څه نښاني وي؟

پيغمبر ﷺ ورته وايي:

........﴿هُمُ الشُّعْثُ الرُّءُوسِ الدُّنْسُ الثِّيَابِ الَّذِينَ لَا يَنْكِحُونَ الْمُتَنَعِّمَاتِ وَلَا تُفْتَحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السُّدَدِ﴾.(۱)

هغه به هغه خلک وي: چي ببر سرونه او زړې جامې چي مالداران به ددوی سره دخپلو لوڼو نکاح نه کوي، او نه به دوی ته د سردارانو دروازې ور خلاصيږي، يعني: په دنيا كي به د دوی حالت سترې وي، خو ليكن د الله تعالى په دربار كي به داسي قدر لري: چي د حوض كوثر اوله څكه به د دوی په نصيب كيږي.

نو پيغمبر ﷺ دا مياشته دغمخوارۍ مياشته بللې ده، نو بايد چي انسان پدې مياشته كي د مسلمانانو سره همدردي او د مسلمانانو د حالاتو غم وخوري.

او پخپلو محلو، همسايگانو او قريبانو كي وگوري، چي د چا حالات كمزوري وي، نو د هغوی سره مرسته او مدد وكړي، دا به د يو مسلمان د شان سره مناسب نه وي: چي د روژه مات پر وخت د ده په كور كي هر قسم نعمتونه موجود وي، او څنگ ته همسايه په اوبو او په وچه ډوډۍ روژه ماتوي، او هغه كله د روژه مات لپاره څه پيدا كړي، او كله بيا د غسي ورته ناست وي.

تاسو گورئ! چي په اوس حالاتو كي څومره د گرانۍ زمانه ده، يو سړی د كرايې په مكان كي پروت وي، او د عيال نفقه برابرول هم ورته گوري، او بل طرفته ټوله ورځ د خټو مزدوري هم نسي پيداكولای، د انسان عقل ورته حيران سي: چي دی دا خپله زندگي څنگه سره رسوي.

نو پدې كورونو كي زناني سته چي هغه كونډې وي، او يتيمان بچيان سته، او غريبان سته، د هغوی لږ فكر په دماغ كي راگرځول، او د هغوی سره د همدردۍ او د معاونت غم خوړل.

حضرت علي رضي الله عنه به فرمايل: چې زما د کور څخه يو صاع يا دوه صاعه خورک د يو همسايه کورته ور واستول سي، ماته دغه عمل د هغه څخه هم زيات خوښ دی: چې د بازار څخه غلام واخلم، او بيا ئې آزاد کړم، حالانکه د يو غلام پر آزادولو پيغمبر ﷺ د جنت زيرى بيان کړى دى.

پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:

..............لَيسَ الْمُؤْمِنُ الَّذِي يَشْبَعُ، وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ﴾.(١)

زما په امت کي هغه څوک مؤمن ندی: چې دی پخپله په ماړه نس باندي وي، او څنګ ته ئې همسايه په لوږه ژوند کوي.

نو پدې مياشته کي د مسلمانانو د روژه مات او پيشلمي فکر کول، د يو مسلمان په حيثيت د ده وظيفه بلل کيږي.

## د ابراهيم عليه السلام د خليل جوړېدلو وجه:

فقيه ابو ليث سمرقندي پخپل سند سره د عطيه عوف څخه رانقل کوي: چې دی وايي:

..........قَالَ لِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا: يَا عَطِيَّةُ احْفَظْ وَصِيَّتِي﴾.

ماته حضرت جابر رضي الله عنه په يو سفر کي وويل: اې عطيه! زه يو وصيت درته کوم: ته ئې د ځان سره خوندي کړه، زما دا خيال دی: چې د دې سفر څخه وروسته به شايد تا ته بيا زما ملګرتيا در نصيب نسي.

د پيغمبر ﷺ د اولاد او د صحابه وو سره محبت کوه، او د هغوی سره د محبت کونکو سره هم محبت ساته، که څه هم هغه په ګناهونو کي مبتلا وي.

او د پيغمبر ﷺ د اولاد سره د بغض ساتونکو سره بغض ساته، که څه هم هغه عبادت ګذاره خلک وي.

..........وَأَطْعِمِ الطَّعَامَ، وَأَفْشِ السَّلَامَ، وَصَلِّ بِاللَّيْلِ، وَالنَّاسُ نِيَامٌ﴾.

او خلکو ته خورکه ور کوه، او سلام کوه، او د تهجد د لمانځه عادت ځان لره جوړ کړه، ما د پيغمبر ﷺ څخه اورېدلي دي: چې ده به دېر ځله دا ويل:

---

(١) المنتخب من مسند عبد بن حميد ت صبحی: حديث نمبر ٦٩٤

............مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا إِلَّا لِإِطْعَامِهِ الطَّعَامَ، وَإِفْشَائِهِ السَّلَامَ، وَصَلَاتِهِ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ﴾.(۱)

چي حضرت ابراهيم عليه السلام چي الله تعالى په ټولو انبياؤو كي دخپل ځان خليل جوړ كړى، دهغه وجه دا وه: چي ده به غريبانو ته ډوډۍ وركوله، او هم به ئې هر چاته سلام وايي، او د شپې چي خلګ به ويده وو، ده به عبادت کاوى.

حضرت عكرمه رضي الله عنه فرمايي: چي د حضرت ابراهيم عليه السلام لقب ابو الضيفان(د ميلمنو پلار) وو، او د ده په حق كي دا مشهوره وه: چي د هغه د كور به څلور(۴) دروازې وې، هغه به همېشه په انتظار كي ناست وو، چي د كومي دروازې څخه به ميلمه راسي او زما سره به خورك وكړي.

حضرت عطاء رحمة الله عليه وايي: چي ابراهيم عليه السلام به د خوركې په وخت كي چي كله به ور سره بل څوك نه وو، نو يو ميل يا دوه ميله به ئې د ميلمه په تلاش كي تګ كوئ، چي څوك پيدا كړي، او د ده سره خورك وكړي.

نو ځكه پدې مياشه كي د همسايګانو زيات فكر كول، او د هغوى سره دهمدردۍ او غمخوارۍ معامله كول.

د حضرت عائشې مباركې روايت دى: چي ښه اخلاق كول، او ښه همسايتوب كول، او د قريبانو سره وصله رحمي كول، وطنونه آباده وي، او د انسانانو عمرونه اوږدوي، كه څه هم هغه خلګ ګناهګاران وي.

نو الله تعالى دي زموږ او ستاسو دغه مياشته او د دې مياشتي عبادتونه پخپل دربار كي قبول وګرځوي، او الله تعالى دي موږ او تاسو ته په دې مياشته كي د نيكو اعمالو توفيق رانصيب كړي.

(۱)تنبيه الغافلين: باب اطعام الطعام و حسن الخلق: صفحه نمبر ۴۶۰

او الله تعالی دي دغه مياشه زمونږ او ستاسو لپاره د جهنم څخه د آزادۍ ذريعه وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د روژې فضيلت، دريمه حصه

(بيان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذالحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولیٰ ۱۴۴۴ ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿الصَّوْمُ جُنَّةٌ، مَا لَمْ يَخْرِقْهَا، قِيلَ وَ بِمَ يُخْرِقُهُ قَالَ بِكِذْبٍ أَوْ غِيبَةٍ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! د رمضان المبارک مياشته روانه ده، دا هغه مبارکه مياشته ده: چې د الله تعالی د رحمتونو يو خزانه ده، چې د دې مياشتې د را رسېدلو لپاره به پيغمبر ﷺ دعاګانې کولې.

د حضرت انس رضي الله عنه روايت دی: چې کله به د "رجب المرجب" مياشته راغله، نو پيغمبر ﷺ به همېشه دا دعا غوښته:

...........اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ، وَ بَلِّغْنَا رَمَضَانَ﴾.(۳)

اې الله! د رجب او د شعبان په مياشته کې موږ ته برکتونه راکړه، او موږ د رمضان المبارک تر مياشتې پورې ورسوه.

(۱) سورة البقرة: آيت نمبر ۱۸۳

(۲) مجمع الزوائد: حديث نمبر ۵۰۱۲

(۳) مسند احمد: حديث نمبر ۲۳۴۶

د یو میاشتي پوري د رسېدلو تمنّی خو هلته کیږي: چي کله په هغه کي انسان ته یو لوی انعام په لاس ورځي، او د دې میاشتي د عبادت توفیق هم د الله تعالی لطرفه لوی انعام وو، نو ځکه پېغمبر ﷺ به د دې میاشتي د راتللو دعاګاني کولې.

## د روژې د میاشتي اهتمام:

مشهور تابعي ابن الفضل رحمة الله علیه فرمایي: چي زموږ په زمانه کي به د "رمضان المبارک" د میاشتي ډېر زیات اهتمام کیدی، زموږ د زماني د خلګو دا عادت وو:

..........كَانُوا يَدْعُوْنَ الله سِتَّةَ اَشْهُرٍ اَنْ يُبَلِّغَهُمْ رَمَضَانَ ثُمَّ يَدْعُوْنَهُ سِتَّةَ اَشْهُرٍ اَنْ يَتَقَبَّلَ مِنْهُمْ﴾.([1])

دوی به شپږ(۶) میاشتي د الله تعالی څخه دعا غوښته: چي موږ د روژې میاشتي ته ورسېږو، او چیکله به د روژې میاشته تېره سوه، نو بیا به ئې شپږ(۶) میاشتي دعا غوښتله: چي یا الله! زموږ څخه ئې قبوله کړې.

هسې خو دغه د فضیلت ورځي او اوقات د "شعبان" دمیاشتي څخه را شروع دی، چي هغه د رمضان المبارک لپاره یو مقدمه ده.

امام رباني حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله علیه په خپلو مکتوباتو کي لیکلي دي: لکه د لمر راختلو څخه مخکي د سهار سفیدې راختل شروع کیږي، او کرار کرار رڼا جوړیږي، حتی: چي د لمر راختلو څخه لږ مخکي داسي روڼا جوړه سي: لکه: لمر چي راختلی وي.

داغه رنګه: د روژې مبارکي برکات د پنځلسم(۱۵) شعبان د شپې څخه شروع کیږي، بیا هره ورځ تر هغه بله را زیاتیږي، حتی: چي د رمضان المبارک څخه دوې درې ورځي مخکي هغه انوارات بلکل داسي وي: چي ته به وایې: چي د روژې د میاشتي انوارات دي.

او چیکله د رمضان المبارک اوله ورځ را ورسیږي، نو هغه د انواراتو لمر د خپلو شعلو سره راپورته سي، او د ایمان والا انسانانو زړونه په هغه باندي روښانه کیږي، نو ځکه پیغمبر ﷺ به د شعبان په میاشته کي آ...نی څو ورځي روژې نیولې، او متصل به ئې د

---

([1]) المناهل الحصان لعبد العزیز السلمان: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۴

رمضان المبارک روژې ور سره شروع کولې، چې هغوی ته فقهاء کرامو د "صوم وصال" نوم ور کړی دی.

دوهمه خبره هغه دا لیکلې ده: چې د پنځلسم(۱۵) شعبان په شپه باندې د ټولو بندګانو د را روان کال د تقادیرو د لیکلو سلسله شروع کیږي، چې را روان کال به د انسان رزق د انسان صحت او د ده د زندګۍ ټولې فیصلې په دغه شپه کې لیکل کیږي. او د روژې په ټوله میاشته کې دغه د لیکلو سلسله روانه وي، چیکله د لیلة القدر شپه راورسیږي، نو هغه ټولې فیصلې الله تعالی فرشتو ته ور حواله کړي، نو په دې ورځو کې کچیرې موږ د خپلې زندګۍ د را روان کال په باره کې د الله تعالی څخه زیاتې غوښتنې وکړو، نو د الله تعالی لطرفه به زموږ په حق کې د رحمتونو فیصلې کیږي.

## د روژې میاشته او آسماني کتابونه:

او د دې مبارکې میاشتې د قرآن کریم سره هم ډېر زیات مناسبت دی، ځکه یوازې قرآن کریم نه، بلکه د تاریخي روایاتو څخه معلومیږي: چې ټوله آسماني کتابونه الله تعالی پدې مبارکه میاشته کې دنیا ته را نازل کړي دي.

- تورات د الله تعالی یو عظیم کتاب وو، چې الله تعالی حضرت موسی علیه السلام ته ور کړی وو، د هغه رانازلیدل، د روژې د میاشتې په دوهمه ورځ باندې ولو.
- بیا د هغه څخه درې سوه(۳۰۰) کاله بعد د روژې د میاشتې په شپږم(۶) یا اتم(۸) تاریخ باندې زبور الله تعالی پر حضرت داؤد علیه السلام باندې رانازل کړی وو.
- د هغه څخه پنځلس سوه(۱۵۰۰) کاله بعد انجیل پر حضرت عیسی علیه السلام باندې د روژې د میاشتې په اتلسم(۱۸) تاریخ باندې الله تعالی رانازل کړی وو.
- د هغه څخه پنځه سوه اویا(۵۷۰) کاله وروسته د "لیلة القدر" په شپه باندې قرآن کریم د لوح محفوظ څخه د دنیا آسمان ته الله تعالی رانازل کړی وو.

او چې څلورمه آسماني صحیفې دې دنیا ته راغلي دي، هغه که پر ابراهیم علیه السلام وې، او که پر حضرت شیث علیه السلام وې، هغه هم ټولي دې دنیا ته د روژې مبارک په میاشته کي راغلي دي.
نو ځکه پیغمبر ﷺ به فرمایل: چې د قیامت په ورځ به د روژې مبارکه میاشته او قرآن کریم د انسان لپاره شفاعت کوي، لکه د حدیث شریف الفاظ دي:
.........اَلصِّيَامُ وَالقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ﴾.(۱)
روژه او قرآن به دواړه د بنده شفاعت کوي.
روژه به د قیامت په ورځ د الله تعالی رب العزت په مخکي دا شفاعت کوي: چې اې الله! دغه بنده ته خپله رضا ور کړه، ځکه ده په ورځ کي زما خیال ساتلی وو، او زما د ټولو عباداتو پابندي ئې کوله.
او قرآن کریم به هم شفاعت کوي: چې یا الله! دې بنده ته خپله رضا ور کړه، ځکه ده به د شپې زما د تلاوت سماع په تراویحو کي کوله، او الله تعالی به د دوی دواړو شفاعت د دغه بنده په حق کي قبلوي، او هم به دغه بنده ته خپله رضا ور نصیب کوي.

## د روژې فرضیت:

نو په دې مبارکه میاشته کي اهم عبادت د ورځي روژه ده، چې هغه زموږ د اسلام د ارکانو څخه یو رکن دی، الله تعالی پر انسانانو باندي فرض ګرځولې ده، الله تعالی په قرآن کریم کي انسانانو ته دا حکم هم کړی دی:

............يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.(۲)

اې ایمان والاؤ! پر تاسو روژې فرض سوي دي، لکه ستاسو څخه مخکي قومونو باندي هم فرض سوي وې، ددې لپاره: چې په تاسو کي تقوی پیدا سي.
دا د الله تعالی لطرفه بندګانو ته یو حکم دی، لیکن بنده چیکله دا حکم واوري، نو په خوف او ویره کي راسي، د هغه دا ګمان سي: چې شاید زما رب زما څخه ناراضه سوی

(۱) المستدرک علی الصحیحین: حدیث نمبر ۲۰۳۶
(۲) سورة البقرة: آیت نمبر ۱۸۳

دی، چې د هغه په وجه ماته دا سزا راکوي، چې د يوې مياشتې لپاره خورک او چيښل ټول راباندې بنده وي.

او يا دا ګمان د ده په زړه کې راځي: چې ايا دا خو به زما د ګناهونو سزا نه وي: چې الله تعالی ئې ماته په دنيا کې راکوي، چې د يوې مياشتې لپاره به زه پابنده زندګي تېروم، نه به خورک کوم، او نه به اوبه چيښم، او نه به خپل جائز ضرورت پر ځای کوم.

نو الله تعالی رب العزت د دې حکمت بيانولو سره سره بنده ته دا تسلي هم ورکوي:

..............كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾.

دا پابندي صرف پر تاسو باندې نده، ستاسو څخه مخکې چې څومره قومونه وو، پر هغوی باندې هم دغه عبادت فرض سوی وو، نو دا يو تسلسل را روان دی، چې دغه عبادت ستاسو څخه مخکې قومونو هم کاوی، او تاسو به ئې هم کوئ، دا څه نوې پابندي نده، چې صرف پر تاسو باندې لګيږي.

په رواياتو کې د نورو قومونو روژې په دا شان راغلې دي:

- د حضرت آدم علیه السلام په باره کې راځي: چيکله دی الله تعالی دنيا ته راواستاوی، نو د ده چې کوم جنتي حسن او ښائست وو، هغه په جنت کې ځنې پاته سو، يو ځل ده په اوبو کې خپل مخ وليدی، او هغه د جنت حسن او جمال او ښائست ئې نه وليدی، نو په زړه کې ډېر زهير سو، چې اې الله! د جنت لباس دې هم را څخه وکښی، او د هغه سره چې د جنت کم حسن او جمال وو، د هغه څخه دې هم محروم او بې نصيبه کړم.

بيا ده ته دا الله تعالی لطرفه دا وويل سو: چې ته په مياشته کې درې (۳) ورځې روژې نيسه، چې هغه ته "ايام بيض" ويل کيږي، چې د اسلامي مياشتې ديارلسم (۱۳)، څوارلسم (۱۴)، پنځلسم (۱۵)، تاريخونه راځي، چې په هغه کې سپوږمۍ مکمله وي، او د هغه ورځو شپې مکمله روښانه وي.

نو د هغه روژو په برکت سره به ستا پر مخ باندې داسې نورانيت راسي: چې هغه به د جنتي نور سره مشابه وي، چنانچه ده د ايام بيض د ورځو روژې نيول شروع کړه، نو په حقيقت کې د روژې سلسله د هغه ځای څخه را شروع سوه.

- د حضرت آدم علیہ السلام څخه وروسته دويم اولوالعزم پيغمبر حضرت نوح علیہ السلام راغلی دی، چې ده ته به آدم ثاني ويل کيدل، او يو زر(۱۰۰۰) او شپيته(۶۰) کاله الله تعالى عمر ور کړی دی، ده چيکله خپل قوم ته د هلاکت ښرا وکړه، نو الله تعالى ده ته د کښتۍ جوړولو امر وکړی، او کښتۍ ئې جوړه کړه، يو څو کسان چې د ده سره مسلمانان وو، او د نورو مخلوقاتو څخه ئې يوه يوه جوړه په کښتۍ کې کښېنول، کښتۍ د اوبو پر سر روانه وه، شپږ(۶) مياشتې په دې ټوله فضا کې اوبه ولاړې وې، او هغه کښتۍ پر اوبو روانه وه، د شپږو (۶) مياشتو څخه وروسته چې اوبه وچې سوې، هغه کښتۍ د "جودي" پر غره باندې قراره سوه، دا غالباً د محرم ورځ وه، حضرت نوح علیہ السلام په دغه ورځ باندې روژه ونيوله.
- حضرت داؤد علیہ السلام ته الله تعالى په دنيا کې بادشاهي هم ور کړې وه، او د هغه سره دالله تعالى پيغمبر هم وو، هغه به يوه ورځ روژه نيوله، او يوه ورځ به ئې خوړله، نو ګويا: د کال شپږ(۶) مياشتې هغه روژه نيوله، چې هغه ته "صوم داؤدي" ويل کېدله.
- حضرت موسى علیہ السلام چيکله "کوه طور" ته راغلی، نو هغه به هلته چله کاټوله، او څلويښت ورځې به ئې روژه وله.
- حضرت عيسى علیہ السلام هم دوې(۲) مياشتې روژې نيولې.
- حضرت يحى علیہ السلام هم روژې نيولې دي.

نو ګويا دغه حکم د حضرت آدم علیہ السلام د زمانې څخه تر اوسه پورې را روان دی.
خو صرف په تعين د ورځو کې اختلاف راغلی دی، او په اصولو مذکوره او سابقه وو کې چې کم د صبر حکم وو، روژه د هغوی يو لوی رکن دی، ځکه په حديث شريف کې روژه نصف صبر بلل سوې ده.
او د هغه څخه وروسته الله تعالى د روژې حکمت ورته بيانوي:
. ............لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾
روژه د دې لپاره ده، چې تاسو تقوى داره سئ، ځکه چې: يوه مياشته انسان د ټولو مرغوباتو څخه حلال وي که حرام خپل ځوند په پرهيز کې تېر کړي، نو بيا په

پوولس(۱۱) مياشتو کې د هغه مرغوباتو څخه چې ده ته حرام وي، ځان پرهيز کول آسانه کيږي، او د حرامو څخه ځان پرهيز کول دې ته تقوىٰ ويل کيږي، نو د روژې لوى حکمت الله تعالى د انسانانو تقوىٰ داره جوړول ګرځولى دى.

## د روژې حکمتونه:

اول خو د ټولو څخه مخکې دې خبرې ته په دماغ کې ځاى ور کول: چې روژه دا د الله تعالى حکم دى، او الله تعالى ډېر حکيم ذات دى، د هغه حکم هيڅ کله د حکمت څخه خالي نوي، موږ په هغه حکمت پوهيږو يا نه، خو الله تعالى په هغه کې ضرور حکمت لري.

او بيا دا خبره هم بايد پخپل دماغ کې راوګرځوو: چې موږ د الله تعالى بندګان او غلامان يو، او غلام او بنده ته داحق نه وي: چې هغه دخپل بادار په حکمونو کې حکمتونه تلاش کوي، هغه خو د حکم پابنده دى، چې کم حکم ورته وسي: هغه به مني.

خو بيا هم د الله تعالى و هغه حکمونو ته چې قرآن او حديث د هغه و حکمت ته اشاره کړېوي، موږ دهغه وضاحت کولاى سو، او دا وايو: لکه څنګه چې د الله تعالى نور حکمونه پر حکمتونو باندې بنا دي، داغه رنګه په روژه کې هم ډېر حکمتونه دي.

❶..............د ټولو څخه لوى حکمت د روژې مبارکې دا دى: چې د انسان د بدن لپاره د صحت په حواله د يو اکسير حيثيت لري، چې په دې سره به الله تعالى د انسان بدن ته صحت ور نصيب کوي، ځکه نن سبا چې څومره زيات مرضونه د انسان په بدن کې وي، د هغوى اکثر علت ډېر خورک جوړيږي، چې د هغه په وجه معده خرابيږي، او د حضرت ابو هريره ﷺ روايت دى:

............﴿اَلْمِعْدَةُ حَوْضُ الْبَدَنِ وَالْعُرُوْقُ إِلَيْهَا وَارِدَةٌ فَإِذَا صَحَّتْ اَلْمِعْدَةُ صَدَرَتْ الْعُرُوْق بِالصِّحَةِ وَإِذَا سَقَمَتْ صَدَرَتْ بِالسَّقَمِ﴾.[1]

معده د ټوله بدن حوض دى، او رګونه هغه ټوله د نهرو حيثيت لري، چيکله معده سالمه وي، نو ټول رګونه سالمه خورکه د انسان اندامو ته رسوي.

---

[1] احياء علوم الدين: باب کتاب الحلال و الحرام: صفحه نمبر ۸۹

او کچيرې په معده کې فساد راسي، نو بيا خو په رګو کې هم فاسده خوړکه اندامو ته رسيږي، چې د انسان د بيمارۍ ذريعه جوړيږي.
نو د روژې په خاطر الله تعالى د انسان په بدن کې صحت او سلامتيا راولي، او لږ خوړک د انسان د صحت لپاره بنيادي ذريعه وي.

## د ښه صحت اصول:

په کتابو کې ليکلي دي: چې د "هارون رشيد" په دربار کې يو ډېر تجربه کاره عيسائي طبيب ناست وو، هغه د يو عالم علي بن حسين بن واقد رحمة الله عليه څخه سوال وکړ: چې ستاسو په کتاب قرآن مجيد کې د علم طب په باره کې هيڅ خبره نسته.
حالانکه علمونه خو دوه(۲) دي: يو علم الابدان، او يو علم الاديان دی، او ستاسو کتاب د علم الابدان څخه خالي دی.
علي بن حسين په جواب کې ورته وويل: چې علم طب خو الله تعالى د قرآن کريم په نيم آيت کې ټوله بيان کړي دي، هغه عيسائي طبيب حيران سو، دستي ئې پوښتنه ځني وکړه: چې هغه څنګه؟ ده په جواب کې ورته وويل: الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايلي دي:
............وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا﴾.(١)
تاسو خوړک کوئ، او څيښل کوئ، او اسراف مه کوئ.
يعني: د بسيار خورۍ او ډېر خوړک څخه ځان ګورئ، نو هغه طبيب چې دا واورېدل، حيران سو: چې د دې څخه ښه اصول د ښه صحت لپاره نور هيڅکله نسي پيدا کېدلای.
بيا هغه طبيب هغه عالم ته دا وويل: ايا ستاسو پيغمبر ﷺ هم د علم طب په باره کې څه وينا کړېده؟ علي بن حسين رحمة الله عليه په جواب کې ورته وويل: هغه خو په يو څو الفاظو کې علم طب ټوله را جمعه کړي دي، هغه طبيب د خپل حيرانتيا پخاطر پوښتنه ځني وکړه: چې هغه څنګه؟
نو علي بن حسين رحمة الله عليه د پيغمبر ﷺ دا حديث ورته ووايي:

(١) سورة الاعراف: آيت نمبر ٣١

..............مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ، حَسْبُ الْآدَمِيِّ، لُقَيْمَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ، فَإِنْ غَلَبَتِ الْآدَمِيَّ نَفْسُهُ، فَثُلُثٌ لِلطَّعَامِ، وَثُلُثٌ لِلشَّرَابِ، وَثُلُثٌ لِلنَّفَسِ﴾.(۱)
د انسان د ډک نس څخه بد ترین لوښی نور هیڅ نسته، د انسان لپاره یو څو ګولۍ کافي دي، چې په هغه سره د ده ملا سیده وي، کچیرې بیا هم د انسان ضرورت وي، نو خپل نس دې درې (۳) حصې کړي.

- .........یوه حصه د خورک لپاره وي.
- .........او یوه حصه دې د اوبو لپاره وي.
- .........او یوه حصه دې د ساه اخیستلو لپاره وي.

چې کله هغه عیسائي طبیب داخبره واورېدله، نو هغه دا اقرار وکړی: چې ستاسو کتاب او ستاسو پیغمبر ﷺ خو د حکیم جالنوس لپاره د علم طب یوه ذره هم نده پرې ایښې.(۲)

## دوهم حکمت:

❷...............د روژې یو حکمت دا هم دی: چې مالداره انسانانو ته د غریبانو سره د همدردۍ جذبه ور کول، چې تاسو د یوې میاشتې روژو د داسې تندې او لوږې سره مخامخ کړلاست، چې ستاسو ژوند ډېر تنګ سو، غریبان خلګ دغه رنګه ټول کال په لوږه او تنده کې تېروي، نو د دوی په باره کې د همدردۍ فکر کول، او د دوی د کومک لپاره ملا تړل.
دغه وجه ده: چې حضرت جنید بغدادي رحمه الله علیه به کله ناکله په سخت یخ کې د ګرم لباس څخه بغیر د باندې ویخه هوا ته ناسته کوله، او ویل به ئې: چې د بغداد د ټولو غریبانو سره خو ګرم لباس نه سته، نو پدې وجه زه د دوی دتکلیف او پرېشانۍ د احساس کولو لپاره او په زړه کې د دوی سره د همدردۍ د جذبې پیدا کولو لپاره ویخه هوا ته کښېنم، نو بعینه: داغه رنګه د روژې میاشته مالدارانو ته د غریبانو سره د همدردۍ احساس ور کوي.

---

(۱) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۳۳۴۹
(۲) التفسیر المنیر للزحیلي: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۸۴، سورة الاعراف.

او د دې سره دمالدارانو د دماغ څخه د مال او دولت غرور او تکبر لیري کوي، چې ده ته د خپلو حالاتو اندازه معلومه سي.
حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه یو ځل د لوږې فضائل بیانول، نو یو چا ورته وویل: حضرت په لوږه کي هم یو څه فضائل سته، ده ورته وویل: هو، کچیري فرعون لوږه لیدلې وای، نو هیڅ کله به ئې د خدائي دعوه نوای کړې، هغه چې د خدائي دعوه کوله، د هغه وجه داوه: چې د هغه نس ډک وو، او چیکله د بنده نس ډک وي، نو بیا د هغه بنده څخه خپل اوقات او حالات هیریږي.
الله تعالی پر موږ انسانانو باندي زموږ د اوقاتو یادولو په خاطر په دې میاشته کي روژې نیول، فرض کړي دي، چې یو څه لوږه او تنده پر انسان راسي، نو یو خو به ئې د غریبانو د پریشانۍ احساس په دماغ کي پیدا سي، چې د کوم چا سره دوه وخته د خورک نفقه په مشکل پیدا کیږي، نو دهغه ژوند به په څومره مشقت کي ور باندي تیریږي.
او هم به زموږ د دماغ څخه د کبر او تصور خیالات د دماغ څخه لیري کیږي، او د خپلې عاجزۍ احساس به انسان ته په دماغ کي ور ګرځي.

## دریم حکمت:

او د دې میاشتي یو حکمت دا هم کیدلای سي: چې په دې میاشته کي مؤمنانو ته دالله تعالی دنعمتونو د قدردانۍ احساس وسي، او دالله تعالی شکر ادا کړي، دا یو حقیقت دی: چې زموږ ټوله زندګي د الله تعالی په انعامونو کي نغښتې ده، لیکن دهغه باوجود زموږ په دماغو کي په پوره پیمانه غفلت او ناشکري ده.

## د یو ګلاس اوبو قیمت:

په کتابو کي راځي: یو ځل "هارون رشید" بادشاه تږی سو، نو اوبه ئې را طلب کړې، یو خادم په ګلاس کي یخي اوبه ورته راوړې.
په هغه مجلس کي عارف بالله حضرت ابن سماک رحمة الله علیه ناست وو، هغه ورته وویل: بادشاه سلامت! د اوبو چیښلو څخه مخکي زما یوه خبره یو ځل واوره، "هارون رشید" وویل: راته وئې کړه، څنګه خبره ده؟

ابن سماک رحمة الله علیه ورته وویل: ته ماته دا ووایه: کچیري ته ډېر زیات تږی ئې، او تنده دې دبرداشت څخه وتلې ده، او حلق دې بالکل وچ دی، او په ټوله دنیا کې تاته اوبه یو ځای هم نه پیدا کیږي، او د یو سړي په لاس کې داوبو یو پیاله وي، نو ته به څومره قیمت ور کړې، او هغه اوبه به څني رانیسې؟

هغه په جواب کې ورته وویل: زه به خپل نیم حکومت ور کړم، خو هغه اوبه به لاس ته راوړم، او هغه پیاله به داوبو د رانیولو څخه وروسته وچیښم.

هغه عالم بیا ورته وویل: چې کله تا دغه اوبه وچیښلې، او د چیښلو څخه وروسته ستا نس کې دغه اوبه ودرېدې، (یعني بولې دې بندې سوې،) او تاسو ته معلومه ده، چې د بولو بندېدو څخه وروسته د انسان حالت د هغه ماهي په شان وي: چې د اوبو څخه راوخیږي، هغه بیا غورځي، او کړیږي، او برداشت نسې کولای، نو کچیري ته د هغه ماهي په شان کړېږې، او هلته یو طبیب وي، چې د هغه سره داسې دوا وي: چې د هغه په وجه ستا بولې خلاصیږي، نو ته به د هغه طبیب څخه هغه دوا په څومره قیمت رانیسې؟

هارون رشید په جواب کې ورته وایي: زه به خپل نیم سلطنت ور کړم، اوهغه دوا به رانیسم.

نو هغه عالم ورته وویل: د دې څخه خو دا معلومه ده: چې ستا د ټوله سلطنت قیمت د اوبو د ګلاس چیښل او بیا د بدن څخه د ایستلو سره برابر دی، نو تاخو په زندګي کې په زرو دغسې ګلاسونه اوبه چیښلې دي، نو ایا یو وخت دې هم د الله تعالی د نعمتو شکر ادا کړی دی. (۱)

## دروژې فضائل:

نو دا میاشته په دې وجه هم مبارکه ده: چې الله تعالی د دې انتخاب دروژې دعبادت لپاره کړی دی، او روژه په عباداتو کې هغه اهم عبادت دی: چې د عباداتو په لړی کې به د دې غوندې اهم عبادت ډېر کم پیدا کیږي.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث دی:

(۱) البدایه و النهایه: جلد نمبر۱۰، صفحه نمبر۲۳۴

............مَنْ صَامَ يَوْمًا تَطَوُّعًا ثُمَّ أُعْطِيَ مِلْأَ الْأَرْضِ ذَهَبًا لَمْ يَسْتَوْفِ ثَوَابَهُ دُوْنَ يَوْمِ الْحِسَابِ﴾.

که يو څا يوه ورځ نفلي روژه ونيوله، بيا الله تعالى و ده ته د مځکې څخه بيا تر آسمانه پورې او د شرق څخه تر غرب پورې دا ټوله فضاء د سرو زرو ورته ډکه کړي، لا هم د ده د دغه يوې روژې بدله نسي ور پوره کولاى، د ده د روژې بدله به صرف د قيامت په ميدان کي د جنت په نعمتونو باندي پوره کيږي.

نو چي نفلي روژه دومره فضيلت لري، نو د فرضي روژې به څه حال وي؟ پيغمبر ﷺ د فرضي روژې متعلق فرمايي:

............زَوَّجَهُ اللهُ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ مِائَةَ حُوْرٍ﴾.

الله تعالى پر هر روژمات باندي د ده د جنت د سلو (١٠٠) حورو سره نکاح ور کوي، چي هغوى ته به الله تعالى داسي حسن او جمال ور کړى وي؛ چي د هغه د يو کوچنۍ ګوتي نوک دې دنيا ته راښکاره سي، نو د هغه د حسن او ښائست په خاطر به د دنيا لمر تاريک پاته سي.

او کچيري د هغې د لاړي يوه ذره د دنيا يو سمندر او درياب ته ور ولويږي، نو هغه به تر عسلو ډېر خوږ سي.

او کچيري د هغې خبري د يو مړي سره وسي، د هغه د خبرو د ذوق په خاطر به هغه مړى راژوندى سي.

د هغې جسم د نور په اويا زره (٧٠٠٠٠) لباسونو کي نه پټيږي، د ډېر نورانيت په خاطر به د هغې د اندامونو ماغزه د هغې په جسم کي د دباندي څخه معلوميږي.

کچيري د هغې د سر يو دو ويښته په هوا کي سره خوره سي، نو د هغه خوشبوئي به د مځکي څخه بيا تر آسمانه پوري په ټوله فضا کي سره ولاړه سي.

## د جنتي حوري ښائست:

او هغه حوري ته به الله تعالى داسي حسن او جمال ور کړى وي: چي و دې ته کتونکى په اول نظر کي به څلويښت (٤٠) کاله داسي محو وي: چي په دغه څلويښت (٤٠) کاله کي به دى د ستړګو د رفولو يعني پټولو موقع نکړي پيدا.

او چيکله ئې لاس د زني تر يوه حصه لاندې نيولى وي، او هغه حورې ته ګورې، نو اويا (۷۰) کاله به دى د هغې په حسن او ښائست کې داسې مستغرق وي: چې په دغه ټوله زمانه کې به دى دا موقع پيدا نکړي: چې دزني بل طرفته لاس واړوي.

## د جبرائيل عليه السلام په جنت کې سجده:

په رواياتو کې راځي: حضرت جبرائيل عليه السلام د جنتونو منظره کوي، چې يو دم په جنت کې يو برېښنا ولاړه سوه، د حضرت جبرائيل عليه السلام دا ګمان سو: چې شايد د الله تعالى ديدار دى، او دا برېښنا د الله تعالى دديدار ده، نو دى پر سجده پرېوتى، او زړه ئې دا غواړي: چې د الله تعالى ديدار په حالت د سجدې کې راباندې تير سي، نو دى په جنتو کې پر سجده باندې پروت دى.
الله تعالى د عرش څخه آواز ور باندې کوي:
......﴿اِرْفَعْ رَأْسَکَ يَا رُوْحَ الاَمِيْنِ!﴾.
اې جبرائيله! سر راپورته کړه، ته ولې پر سجده باندې پروت ئې؟ دى په جواب کې ورته وايي: چې يا الله! زما ګمان داوو: چې ستا ديدار دى، نو زړه مې غوښتي چې ستا ديدار په حالت دسجدې کې را باندې تير سي، الله تعالى به ورته وايي: اې جبرائيله! زما ديدار ندى، دا صرف د جنت يو حورې په جنت کې وخندل، او د هغې دغاښ رڼا په فضا کې سره خوره سوه.
نو د جنت د حورې هغه ښائست دى: چې حضرت جبرائيل عليه السلام هم د هغې په خاطر په دوکه کې راغلى دى، او پر هغه باندې ئې د الله تعالى دديدار ګمان کړى دى.
نو چيکله يو سړى روژه په ښه شکل ونيسي، نو الله تعالى به د روژه مات پر وخت دده د دغه شان سلو (۱۰۰) حورو سره نکاح کوي.

## او د جنت کور:

......﴿وَ بَنَى لَهُ قَصْراً فِي الْجَنَّةِ﴾.
او ددغه روژاتي لپاره د روژه مات پر وخت د روژې په عوض کې الله تعالى د جنت يو کور جوړوي، د هغه کور جوړېدل به پدا شان وي:
......﴿لَبِنَةٌ مِنْ يَاقُوْتٍ حَمْرَاءَ﴾. يوه خښته به د سرو ياقوتو څخه وي.

........وَ لَبِنَة مِنْ زَمَرُدٍ خَضْرَاءُ﴾. يوه خښته به د زرغونو زمرد څخه وي.

........وَ لَبِنَة مِنْ لُؤْلُؤٍ بَيْضَاءُ﴾. يوه خښته به د سپينو ملغلو څخه وي.

........مَلَاطُهَا الْمِسْکُ﴾. د هغه خټه چي خښتي پر لګيږي: مشک وي.

........وَ حَصْبَائُهَا اللُّؤْلُؤُ﴾. د هغه کوڅې او لاري به د ملغلرو څخه وي.

........وَ بَطْحَائُهَا يَاقُوتُ﴾. د هغه غونډۍ او غرونه به د ياقوتو څخه وي.

........وَ حَشِيْشُهَا الزَّعْفَرَانُ﴾ د هغه واښه او چمنيان به زعفران وي.

........وَ سَقْفُهَا عَرْشُ الرَّحْمَنِ﴾. او د هغه چت به د الله تعالى عرش وي.

الله تعالى په ټولو مخلوقاتو کي خپل عرش ښائسته مخلوق پيدا کړی دی، چي د هغه ديدار به جنتيانو ته د خپلو درجاتو مطابق ور کول کيږي، چاته په مياشته کي يو ځل او چاته په هفته کي او چاته په ورځ کي او چاته په ټوله جنتي زندګي کي يو ځل د عرش ديدار نصيب کيږي، ليکن د غه نيکبخته جنتي چي د خپلو خونو چت ته وګوري، نظر به ئې د الله تعالى پر عرش باندي لګيږي.

او د هغه کور لوی والی به پدا شکل وي، پيغمبر ﷺ وايي:

........لَوْ اَنَّ الدُّنْيَا كُلَّهَا وُ ضِعَتْ فِيهَا لَكَانَتْ بِمِثْلِ عَنْزٍ مِنَ الدُّنْيَا فِيْهَا﴾.

کچيري دا ټوله دنيا د هغه کور په يو ګُنج کي کښېښوول سي، نو دا ټوله دنيا به په هغه کور کي دا سي معلوميږي: لکه د ټولي دنيا په يو کنج کي د بزې يو بچی و درول سي. نو دې اوه(۷) بر اعظمه ته چي د بُزې دبچي کوم نسبت دی، نو په جنت کي دروژه دار لپاره چي کوم محل جوړيږي، نو د ټولو دنيا و هغه محل ته هم هغه نسبت دی.

خو دا خبري صرف دانسانانو په دماغ کي د راوستلو لپاره کيږي، ورنه حقيقتاً هيچاته نه ورمعلوميږي: چي الله تعالى هلته د دغه بندګانو لپاره دکوم قسم راحت څخه ډک کورونه جوړ کړي دي، دا خو صرف د انسانانو د ورځي د مشقت يعني روژې نيولو عوض او بدله ده، چي الله تعالى ئې دوی ته ور کوي.

او بيا چيکله انسان د شپې تراويح کوي، د مخکنيو قومونو په لمنځو کي به د هغوی آسماني کتاب نه ويل کيدی، د هغوی لمنځونه به صرف په ذکر او تسبيح سره ول، دا ددې امت نيکبختي ده: چي الله تعالى ددوی په لمنځو کي د دوی د آسماني کتاب تلاوت ور ضروري کړی.

## تراويح د نارينه او زنانه لپاره سنت دي:

د تراويح متعلق د بعضو خلګو دا غلط فهمي وي: چې تراويح صرف د نارينه وو لپاره سنت دي، نه د زنانو لپاره، ګورئ! دا ښکاره خبره ده: چې شل(۲۰) رکعته تراويح د نارينه وو او زنانه وو لپاره سنت دي.
لکه د ماپښين په وخت کې د څلور(۵) رکعته فرض څخه مخکې څلور(۴) رکعته سنت او وروسته دوه(۲) رکعته سنت، يا د ماښام د لمانځه څخه وروسته دوه(۲) رکعته سنت يا د ماخستن د لمانځه څخه وروسته دوه(۲) رکعته سنت، يا د سهار د لمانځه څخه مخکې دوه(۲) رکعته سنت مؤکده دي، او د هغه پرېښوونکی ګناهګاره بلل کيږي.
دارنګه شل(۲۰) رکعته تراويح هم د نارينه او زنانه لپاره سنت مؤکد دي، نو د هغه پرېښوونکی هم ګناهګاره وي.
بعضي خلګ تراويح خو سنت بولي، مګر په دا غلط فهمي کې مبتلا دي: چې تراويح اته(۸) رکعته دي، او بعضي خلګ د اته(۸) رکعته کولو څخه وروسته د مسجد څخه وزي.
اصل دا غلطي زياته په غير مقلدينو کې وي، او د دوی دا دعوه وي: چې شل(۲۰) رکعته تراويح ثابتي ندي، ځکه پیغمبرﷺ په روژه او غير روژه کې اته(۸) رکعته صلاة الليل لمونځ کړی دی.
د هغه جواب دا دی: چې په حديث شريف کې د "صلاة الليل" څخه مراد د تهجد لمونځ دی، چې ده په روژه او غير روژه کې همېشه د تهجد په نيت کاوی، باقي شل(۲۰) رکعته تراويح کول د پیغمبرﷺ څخه ثابتي دي.
حضرت عائشه مبارکه فرمايي: چې يو ځل پیغمبرﷺ د کور څخه مسجد ته ولاړی، هلته ئې لمونځ کاوی، صحابه وو مبارکانو هم دده څخه وروسته نيت وتاړی، چيکله سهار سو، نو صحابه وو هغه د شپې د لمانځه تذکره سره وکړه، نو د وهمه شپه تعداد د صحابه وو زيات سو، پیغمبرﷺ د تراويحو لمونځ ور کړی.
دريمه شپه چې راغله، نو مسجد مکمل ډک سو، پیغمبرﷺ د حجرې څخه نه راووتی، د سهار لمانځه ته راغلی، نو صحابه وو ته ئې د لمانځه څخه وروسته د الله

تعالی حمد اوثنا بیان کړه، او ورته وئې ویل: ستاسو راتګ زما څخه پټ نه وو، لیکن زما سره دا خطره پیدا سوه: چي هسي نه: دغه لمونځ پر تاسو باندي فرض نسي، او تاسو به بیا د هغه د ادا کولو څخه عاجزه وګرځی.(١)

بیا پیغمبرﷺ د دنیا څخه رخصت سو، خو معامله د غسي پاته وه، د دې حدیث څخه دا معلومه سوه: چي پیغمبرﷺ دوې(٢) شپې په جماعت سره صحابه وو ته د تراویحو لمونځ ورکړی دی.

او په مصنف ابن ابي شبیه کي د حضرت ابن عباسؓ روایت دی: چي پیغمبرﷺ شل(٢٠) رکعته تراویح کړي دي، او چي په کوم روایت کي د اتو(٨) رکعتو ذکر دی، د هغه څخه مراد د تهجد لمونځ دی.

دارنګه په مسلم شریف کي د حضرت انسؓ روایت دی: چي پیغمبرﷺ به د تراویحو څخه وروسته د تهجد لمونځ بیا جلا کاوی.

بهر حال: د پیغمبرﷺ په زمانه کي شل(٢٠) رکعته تراویح انفراداً کېدلې، د جماعت ته اهتمام نه وو، تر دې حده: چي پیغمبرﷺ د دنیا څخه تشریف یووړی، بیا د حضرت ابوبکرؓ د خلافت په دور کي بعضي خلګو د زکوة څخه انکار وکړی، او بعضو بیا د نبوت دعوې وکړې، نو ځکه د تراویحو طرفته ډېره توجه نه وسوه.

چي کله د حضرت عمرؓ په دور کي استحکام راغلی، او د وحي د بندېدو په وجه د فرضیت خطره هم پاته نوه، نو ځکه حضرت عمرؓ و ابی بن کعبؓ ته حکم وکړی: چي خلګو ته شل رکعته د تراویحو لمونځ ور کوه، او په هغه کي د قرآن کریم تلاوت کوه.

چنانچه صحابه کرامو بیا د ابی بن کعب په امامت کي شل رکعته د تراویحو لمونځ کوی، او ټوله صحابه به پکښي موجود وو، او هیڅ چا به هم پر دې باندي اعتراض نه کوی، نو د صحابه وو پر دې باندي اجماع راغله.

یو خو پخپله د پیغمبرﷺ د تراویحو لمونځ کول، او بیا د حضرت عمرؓ دا عمل جاري کول د سنت مؤکده کېدلو دلیل دی، ځکه پیغمبرﷺ به ویل:

---

(١) صحیح البخاري: جلد نمبر١، صفحه نمبر٢٦٩، صحیح المسلم: جلد نمبر١، صفحه نمبر٢٥٩

..........فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، وَعَضُوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ﴾.([1])
پر تاسو باندې زما سنت لازم دي، او زما د خلفاء راشدينو سنت هم پر ځان باندې لازم وګڼئ، او په هغوی باندې په کلکه سره عمل وکړئ.
نو د تراويحو پر هر رکعت الله تعالى انسان ته پنځلس سوه(۱۵۰۰) نيکۍ ورکوي، او په جنت کې ده ته لپاره د سرو ياقوتو يو محل تياروي، چې د هغه به اويا(۷۰) دروازې وي، او پر هره دروازه به ئې د سرو زرو يو محل وي، چې هغه به په سرو ياقوتو ښائسته وي.
او چيکله سرې سجده لګوي، نو په جنت کې به د ده لپاره داسې درخته لګيږي: چې يو سپور به د هغه تر سايه لاندې پنځه سوه(۵۰۰) کاله مزل کوي، خو هغه سايه به نه ختميږي، لکه دا د بيهقي شريف روايت دی.
خو زه دا وايم: چې که دورځې د روژې دغه لوی اجر دی، يا په شپه کې پر تراويحو باندې انسان ته الله تعالى زيات اجر ورکوي، دا و کوم روژه نيونکي ته ورکوي؟ دا و هغه روژه نيونکي ته ورکوي: چې هغه په دغه مياشته کې د دغه شو خبرو پوره اهتمام کړی وي.
زه هغه خبرې ستاسو حضور ته پيشوم، چې تاسو ته لږ ورته متوجه سئ، بيا د هر سړي اختيار دی، چې تر کومه حده پورې په دغه خبرو باندې عمل کوي، و دې ئې کړي.

## په روژه کې بنيادي شرائط پر ځای کول:

په روژه کې د اجر او ثواب پيدا کولو لپاره بنيادي شرائط په دغه شان بيان سوي دي:

۱. ..........مَنْ صَامَ نَفْسَهُ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ﴾.: چې کوم چا په روژه کې د خپل نفس حفاظت وکړی، او خپل نفس د هر قسم نافرمانيو څخه راوګرځوي.
چې نفس کوم اندامونه ګناه ته متوجه کوي، هغه اندامونه د ګناه څخه راوګرځوي، سترګې محفوظه کړي، ژبه محفوظه کړي، غوږونه او د بدن ټول اندامونه محفوظه کړي.

---

([1]) مسند احمد: حديث نمبر ۱۷۱۴۴

علماؤو ليکلي دي: چې د انسان د نفس مثال ديو ماشوم دی، لکه ماشوم چې کله د يو شي طلب د مور او پلار څخه کوي، نو د هغه شي ولاس ته د راوړلو لپاره دی هر څومره هلي ځلي کوي، چې تر څو پوري ئې هغه شی لاس ته راوړی نوي، تر هغه وخته پوري دی آرام نه لري.

داغه رنګه د انسان نفس چيکله د ګناه مطالبه شروع کړي، بيا تر هغه وخته پوري دی آرام نلري، چې تر څو پوري ئې دغه بنده په ګناه کي اخته کړی نوي.

علامه بوصيري رحمة الله عليه يو ډېر لوی بزرګ تير سوی دی، چې د هغه "قصيده برده" مشهوره کتاب دی، د پېغمبر ﷺ په شان کي ئې يو نعتيه قصيده ويلې ده، د هغې يو عجيب او غريب د حکمته ډک شعر دی:

النَّفسُ كَالطِّفْلِ إِنْ تُهْمِلْهُ شَبَّ عَلَى
حُبِّ الرَّضَاعِ وَإِنْ تَفْطِمْهُ يَنْفَطِمُ

دانسان نفس د هغه شودې خوړونکي ماشوم په شان دي چې د مور شودې خوري، او د هغه عادت ئې جوړ سوی وي، اوس کچيري دی د شودو څخه پرې کوې، نو دی چيغي وهي، او ژړا کوي.(۱)

کچيري د ده مور دا فکر وکړي: چې د شودو څخه په پرې کولو کي ده ته تکليف دی، نو ئې شودو خوړولو ته وړپرېږدي، او نه ئې ځني پرې کوي، نو د هغه نتيجه به دا وي: چې بيا د هغه د ماشوموالي څخه تر ځوانۍ پوري هغه عادت د شودو خوړولو نه پاته کيږي.

ليکن کچيري مور همت وکړي، او د هغه بچي د ژړا او فرياد پرواه و نکړي، بچی د شودو څخه پرې کړي، نو يو څه زمانه خو به ئې تکليف وي، خو هغه عادت د ده څخه دستي پاته کيږي.

نو علامه بوصيري رحمة الله عليه فرمايلي دي: چې د انسان نفس هم د دغه ماشوم په شان دی، چې دی اوس د ګناه کولو سره عادي ګرځېدلی دی، او د ګناه خوند د ده په مزاج کي دی. اوس که ته دی د ګناه څخه راوګرځوي، نو دی

تکليف ښکاره کوي، او انسان پرېشانه کوي، ځکه ژبه د درواغو سره عادت سوی ده، او سترګې د بدنظرۍ سره عادت سوي دي، او غوږونه دګناه د آوازونو د اورېدلو سره عادت سوي دي، نو د دې په پرېښوولو کې نفس ته تکليف وي، که انسان دغه نفس دغسې پرېږدي، نو تر هره وخته پوري دی په دغه ګناه کې ځي، او هيڅکله دا ګناه نه پرېږدي.

ليکن که انسان همت وکړي، او نفس د ګناه څخه راوګرځوي، نو يو څه زمانه خو به تکليف وي، چې تر څو پوري ئې هغه عادت پاته کيږي، ليکن چې عادت پاته سي، بيا به هيڅ تکليف نه محسوسوي.

نو د نفس د ګناه دعادت څخه د راګرځولو دغه ورځې ډېري بهترينې ورځې دي، چې يوه مياشت انسان خپل نفس د ګناه څخه په کامله توګه راوګرځوي، نو د نفس څخه هغه دګناه عادت پاته سي، نو بيا به يوولس(۱۱) مياشتې نفس د ګناه څخه پاکه زندګي تېروي.

حضرت ډاکټر عبدالحي رحمۃ اللہ علیہ يو عجيبه خبره ليکلې ده: هغه به دا ويل: چې د انسان نفس لذت او خوند غواړي، او د نفس خورک لذت او خوند دی، ليکن د لذت او خوند خاص شکل د ده مطلوب ندی، چې په فلانکي شي کې ماته خوند سته، او په فلانکي شي نسته، بس د ده د خوند سره کار دی.

اوس انسانانو دی د خراب قسم خوندو سره عادت کړی دی، او د ګناهونو خوند ئې د ده عادت جوړ کړی دی.

تاسو يو ځل دغه نفس د الله تعالی د عبادت او د پيغمبر ﷺ د اطاعت د خوند سره ولد کړئ، او د الله تعالی د حکم مطابق د ژوند تېرولو خوند د ده په دماغ کې ور کړئ، بيا به دغه نفس په عبادت کولو باندې بلکل نه مړيږي.

حضرت سفيان ثوري رحمۃ اللہ علیہ ليکلي دي: کچيري د دنيا بادشاهان په هغه لذت او خوند باندې خبر سي، چې کوم لذت او خوند د شپې په عبادت او دالله تعالی سره په راز او نياز کې دی، نو بيا به دوی د تورو په زور زموږ څخه د هغه خوند د اخيستلو کوشش وکړي.

لکه: د حافظ شيرازي رحمۃ اللہ علیہ يو شعر هم داسې راځي:

زانکه که خبر یافتم از ملک نیم شب
من ملک نیم روز را بیک جو نمی خرم

چیکله زه د نیمي شپې د حکومت او د هغه د خوند څخه اګاه سوم، اوس زه د نیمروز ټوله حکومت په یوه وربشه هم نه اخلم.

او په روژه کي د اجرت او ثواب پیدا کولو دویم شرط دا دی:

۲. ..........وَلَمْ يَعْمَلْ خَطِيئَةً﴾. چي انسان به د روژې په میاشته کي ګناه نوي کړې، او خپله زندګي به ئې د ظاهري او باطني ګناهونو څخه محفوظه ساتلې وي، ځکه د پیغمبرﷺ حدیث دی:

..........لَيْسَ الصِّيَامُ مِنَ الأَكْلِ وَ الشُّرْبِ اِنَّمَا الصِّيَامُ مِنَ اللَّغْوِ وَ الرَّفَثِ﴾.(۱)

روژه د خورک او چیښک پرېښوولو نوم نه دی، بلکه روژه دې ته وایي: چي انسان د لغو او فحش کارو څخه ځان راوګرځوي.

ځکه علماؤ لیکلي دي: چي روژه درې (۳) درجې لري:

- **د عوامو روژه.**

د عوامو روژه دا ده: چي هغوی د ورځي خورک، چیښل او د خپلي ک.. والا سره صحبت نه کوي، یعني: د دغه درو (۳) اعمالو څخه ځان راګرځول، دا د دوی روژه ده.

- **د خواصو روژه.**

هغه داده: چي هغه به د دغه درو اعمالو څخه هم ځان راګرځوي، او خپل اندامونه به د ګناه څخه هم راګرځوي، ژبه او سترګي او غوږونه او لاس او پښې دا به پابنده کوي، چي: ګناه و نه کړي.

- **اخص الخواص روژه.**

هغه داده: چي خورک او چیښل او جماع به هم نه کوي، او خپل اندامونه به هم د ګناه څخه راګرځوي، او د دې سره خپل زړه به هم د الله تعالی دذات څخه سوا بل چاته نه متوجه کوي، د دوی زړه به هر

وخت د الله تعالی و طرفته متوجه وي، نو دا هغه خلک دي: چې حقيقتاً ئې د روژې و روح او مغز ته ځان ورساوی.

او په روژه د اجر او ثواب پيدا کولو دريم شرط دا دی:

۳. .........﴿وَلَمْ يَشْرِبْ مُسْكِرًا﴾. چې په روژه کې ئې مسکر او د نشې شی نه وخواړی، مثلاً شراب، چرس، او نور داسې مسکرات چې زموږ په شريعت کې حرام دي، د هغوی څخه ئې هم ځان وساتی.

## د شرابي سزا:

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه يو روايت رانقل کوي: چې شرابي به د قيامت په ورځ باندې په داسې شان باندې راځي: چې د هغه مخ به تک تور وي، او سترګې به ئې شنې وي، او ژبه به ئې پر سينه باندې ځړيږي، چې د هغې څخه به لاړې بهيږي، د هغه د بدبوئې په وجه به هر کتونکی د هغه څخه کرکه او نفرت کوي.

- شرابي چې په مخه درسي، سلام مه ورته وايast.
- چې بيماره سي، پوښتنې ته ئې مه ورځئ.
- او که مړ سي، د هغه جنازه مه کوئ.

۴. .........﴿وَلَمْ يَقْذِفْ مُؤْمِنًا بِبُهْتَانٍ﴾. او څلورم شرط چې په دې مياشته کې به ئې پر مسلمان باندې بهتان نوي ويلی، او نه به ئې د مسلمان غيبت کړی وي، او نه به ئې په ژبه باندې چاته نقصان ور رسولی وي، لکه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم حديث دی:

.........﴿الصَّوْمُ جُنَّةٌ، مَا لَمْ يَخرِقْهَا، قِيْلَ وَ بِمَ يَخرِقُهُ قَالَ بِكِذْبٍ اَوْ غِيْبَةٍ﴾.(1)

روژه د ګناه څخه د راګرځيدلو يو ډال دی، چې په هغه سره انسان د ګناه څخه ځان راګرځي، خو دا تر هغه وخته پورې ډال دی: چې تر څو پورې ئې انسان سره پرې نکړي، صحابه وو پوښتنه ځني وکړه: چې اې د الله تعالی رسوله! دغه ډال په څه باندې سره پرې کيږي؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وويل: په غيبت او دروغو سره.

(1) مجمع الزوائد: حديث نمبر ۵۰۱۲

او دغه رنګه په یو بل ځای کې پیغمبر ﷺ دا هم فرمایي:

﴿مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالعَمَلَ بِهِ، فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ﴾.(۱)

چې کوم څوک درواغ ویل او په هغه باندې عمل کول نه پرېږدي. نو الله تعالی د ده د لوږې او تندې پرواه نه لري.

نو دغه د روژې و حقیقت ته د رسېدلو شرائط دي، چې کوم څوک په دغه شرائطو روژه ونیسي، نو بیا خو به یقیناً هم پر هر روژه مات د سلو (۱۰۰) حورو سره نکاح وي، او هم به په جنت کې د ده لپاره محلات آبادېږي، او د تراویحو پر هره سجده به الله تعالی و ده ته بېشماره اجر او ثواب ورکوي.

او که د انسان روژه په دا شان وي، چې په مسجد کې په ژبه سبحان الله وي، او دغه ژبه په مجلس کې بیرته غیبت کوي، او سترګې په مسجد کې د قرآن توري ته ګوري، او د باندې د فیس بک او نیټ غلط تصویرونه ګوري، یعنې: د بدن اندامونه د ګناهونو څخه محفوظه نه وي، بیا خو خدانخواسته زموږ او ستاسو روژه د پیغمبر ﷺ د دې حدیث مصداق ونه ګرځي، چې دی مبارک فرمایي:

﴿رُبَّ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الْجُوعُ، وَرُبَّ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ﴾.(۲)

ډېر روژه نیونکي ته په روژه کې د لوږې څخه علاوه نور هیڅ نه ورپاته کیږي، او ډېر د شپې عبادت کونکو ته په عبادت کولو کې د بد خوابۍ بغیر نور هیڅ ورپاته نسي.

هغه ځکه چې د وی خپل نفس او اندامونه په دې میاشته کې د ګناه څخه نه راګرځوي.

الله تعالی دې موږ او تاسو ته په دې مبارکه میاشته کې د ګناهونو څخه حفاظت رانصیب کړي، او چې کوم ګناهونو را څخه سوي دي، د هغه څخه دې الله تعالی د توبې کښلو توفیق را کړي. الله تعالی دې دا څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي. آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

(۱) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۱۹۰۳

(۲) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۱۶۹۰

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د روژې فضيلت، څلورمه حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾.[1]

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ».[2]

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي زندګي ور کړېده، خو د انسان زندګي په دنیا کي د سفر زندګي ده، ځکه دنیا د انسان لپاره وطن اصلي نه بلکه وطن اقامت دی، وطن اصلي د مسلمان لپاره جنت دی، او د کافر لپاره جهنم دی.

د انسان نه دې دنیا ته راتلل پخپل اختیار دي، او نه د دنیا څخه رخصتېدل پخپل اختیار دي، او نه دلته اوسېدل د ده پخپل اختیار دي، بلکه یو عظیم ذات دلته انسان د څه زماني لپاره راولي، چي د هغوی ازمائش او امتحان واخلي، د ازمائش او امتحان اخیستلو څخه وروسته هغه په خپل قدرت او اختیار سره انسان د خپل اصلي منزل پر طرف روانوي.

نو یو طرفته د انسان زندګي دسفر ده، او بل طرفته د هغه سفر هر وخت روان دوان وي، انسان که په حالت د خوب کي وي، او که دبیدارۍ وي، حالت د غم وي، او که د پرېشانۍ وي، زمانه د یخ وي، او که د ګرمۍ وي، پخپل وطن کي وي، او که حالت

---

[1] سورة الاحزاب: آیت نمبر ۴۱

[2] صحیح البخاري: حدیث نمبر ۶۴۱۶

د مسافرۍ وي، دغه سفر هر وخت جاري او ساري دی، او انسان دغه خپل ورځ د سفر ماښام ته رسوي.
بعضي انسانان د خپل سفر د ورځې په سهار کې وي، او بعضو بيا خپل سفر ماپښين ته رسولی وي، او بعضي انسانان بيا ماښيگر ته قريب وي.
امام غزالي رحمة الله عليه ليکلي دي: چې د کم چا زندگي څلويښت(۴۰) کاله ته ورسېده، دهغه د زندگۍ ماپښين سو، د ماپښين څخه وروسته بيا ماښيگر ډېر وخت نه اخلي، او د کم چا زندگي چې تر څلويښت(۴۰) کاله تېره سوه، هغه د خپل سفر په ماښيگر کې روان دی، د ماښيگر څخه وروسته بيا لمر لوېدل ډېر انتظار نه لري.
نو موږ او تاسو روزانه خپل مرگ ته او خپل اصلي منزل ته نژدې کېږو، خو افسوس چې انسان په دنيا کې اوږده اوږده اميدونه تړلي وي، حالانکه دده مرگ و ده ته قريب ولاړ وي، او د ده پر اميدونو باندي خاندي.
د انسان دا گمان: چې ددنيا ژوند دی تيرېږي، حالانکه د ده پر عقل داسي پرده خوره وي، او دی په دې نه پوهيږي: چې ژوندنه تيرېږي، بلکه زه روان يم تر ژوند تېرېږم، ډېره زمانه به راسي، چې داغه شپې او ورځې به رواني وي، او زه به نه يم.

## زموږ نيکبختي:

خو دا زموږ نيکبختي ده: چې د روژې مبارکه مياشته يو ځل بيا زموږ په ژوندکي پر موږ باندي راورسېده، او زموږ د هغې سره ملاقات الله تعالی نصيب کړی.
دا داسي مياشته ده: چې د دې په هره لمحه کې د الله تعالی رحمتونه ديو پېوسته باران په شکل باندي راووري، او انسانانو ته الله تعالی دومره رحمتونه را استوي: چې د انسان دل او دماغ د هغه د فکر او تصور څخه عاجزه وي.
هر انسان چې په زړه کې د دې مبارکي مياشتي ادب ولري، او ددې مياشتي روژې ونيسي. او د گناهونو څخه ځان وگوري، او دعباداتو اهتمام وکړي، د الله تعالی د رحمت څخه اميد دی: چې هغه د الله تعالی په قرب او د جنت د لوړو درجو په پيدا کولو کې به کاميابه سي.

## د روژې د میاشتې قدر او احترام:

د دې میاشتې ادب کول، او د دې قدراو احترام کول، ډېر ځله: سړی د کوم ځای څخه و کوم ځای ته ورسوي.

په کتابو کې یوه واقعه لیکلې ده: یو مجوسي چې هغه آتش پرسته وو، ټول عمر ئې و اُور ته سجدې کولې، او هغه ئې د ځان لپاره خدای بالی، یو ځل د هغه یو نوجوان بچی د مسلمانان په ښار کې د روژې په میاشته کې د مسلمانانو و مخته خورک کوی، دی ور باندې راغلی، نو هغه ته ئې غصه وکړه، او یو څو څاپیړې ئې پر مخ وواهی، چې تا ولې د مسلمانانو د دې میاشتې د ادب او احترام خیال نه وساتی.

بیا په دغه هفته کې دی وفات سو، د دغه وطن یو بزرګ عالم دی په خوب کې ولیدی، چې په جنتو کې ګرځېدی، نو ئې پوښتنه ځني وکړه: چې ته خو مجوسې وې، دالله تعالی د ذات منونکی نوې، نو الله تعالی تاته پر څه باندې جنت درکړی؟

ده ورته وویل: چې ما یوه ورځ خپل بچی د مسلمانانو د روژې د میاشتې پر احترام او ادب نه کولو باندې وواهی، او هغه ته پر دې باندې غصه سوم، زما د مرګ څخه لږ زمانه مخکې ماته الله تعالی داسلام قبولیت رانصیب کړی، او زه په اسلام باندې مشرفه سوم، د هغه څخه وروسته بیا ماله مرګ راغلی، چونکه اسلام داسې بهترین دین دی، چې د هغه په قبلولو سره د انسان ټول ګناهونه ختم کیږي، نو زه د ګناه څخه صفا آخرت ته راغلم، الله تعالی ماته جنت رانصیب کړی.(۱)

## د بزرګی معیار:

زموږ د سلفو صالحینو د ژوند په حالاتو کې ئې لیکلې دي: چې کله به د یو بزرګ تذکره وسوه، او خلګو به ویل: چې فلانکی سړی ډېر بزرګ دی، او د هغه دبزرګی دلیل به ئې دا پېشکوی: چې هغه په خپل ژوند کې د روژې میاشته دومره ځله لیدلې ده، او د روژې د میاشتې ئې دومره عبادت په نصیب سوی دی.

---

(۱) مواعظ و مسائل رمضان: صفحه نمبر ۲۳

د هغوی په نزد د بزرګۍ او د لوړو درجو دمعلوماتو کولو لپاره دا معیار وو: چې فلانکي انسان په خپل ژوند کي دومره ځله د روژې میاشته لیدلې ده، او موږ ته نده رانصیب سوې، نو ځکه موږ دهغه درجې ته خپل ځان نسو رسولای.

## د پیغمبر ﷺ ترغیب:

په تېرو جمعو کي مي هم داخبره کړېوه: چې یو ځل پیغمبر ﷺ د روژې مبارکي په راتلو سره صحابه کرامو ته وفرمایل:

............أَتَاكُمْ شَهْرُ رَمَضَانَ شَهْرُ بُرُكَةٍ فِيهِ خَيْرٌ يُغْشِيكُمُ اللهُ فَيُنْزِلُ الرَّحْمَةَ وَيَحُطُّ فِيهِ الْخَطَايَا وَيَسْتَجِيبُ فِيهِ الدُّعَاءَ﴾.(۱)

د روژې مبارکه میاشته راغلې ده، چې ډېره د برکت او د خیر میاشته ده، پدي کي الله تعالی ستاسو طرفته متوجه کیږي، او پر تاسو رحمتونه رانازلوي، او ستاسو خطاګاني معافوي، او پدي کي دعاګاني قبلیږي، او الله تعالی ستاسو په خپل مابین کي تنافس ګوري.

"تنافس" دې ته وایي: چې په نیکو اعمالو کي یو د بل څخه دمخه کېدل، ځکه هر بنده دا کوشش کوي: چې زه په دې میاشته کي زیات عبادت وکړم.

لکه په مکتب کي د امتحان زمانه راسي، نو هر بچی دا کوشش کوي: چې زه پوره محنت وکړم، او زه په ښو نمبرو کي راسم، داغه رنګه دروژې په مبارکه میاشته کي باید موږ هر یو دا کوشش وکړو: چې موږ زیات عبادت کونکي جوړ سو، ځکه زموږ د هر یوه د عبادت نګراني الله تعالی کوي، او موږ ته پر ښه عبادت کولو کامیابي رانصیب کیږي.

## په روژه کي د پیغمبر ﷺ معمول:

صحابه کرامو فرمایلي دي: چې کله به پر موږ باندي د روژې مبارکه میاشته راورسېدله، نو موږ به د پیغمبر ﷺ په اعمالو کي په دریو (۳) خبرو کي ډېره اضافه و زیاتوالی محسوس کوئ:

۱........: یو به پیغمبرﷺ په عبادت کې او د الله تعالی په عشق کې او د جنت په شوق کې زیاته ژړا کوله، او هم به ئې عاجزي او عبادت کاوی.
حالانکه د ده مبارک په عامو ورځو کې هم عبادت په داسې شکل وو: چې ددې پښې مبارکې به وپړسېدلې، خو د روژې مبارکې په میاشته کې به دده دغه عبادت او شوق او عشق د مخکې ورځو څخه ډېر زیاتېدی.

## دالله تعالی په عشق کې ژړا کول:

د حضرت عمرؓ لور او زموږ د ټولو مؤمنانو مور حضرت حفصهؓ فرمايي: چې یو ځل پیغمبرﷺ عبادت وکړی، او د خپل ملا د هوسا کولو لپاره حجرې ته راغلی، اوزما پر بستره باندې ارام کوي، او خپله ملا هوسا کوي.
زما ورور عبدالله بن عمرؓ دباندې په غولي کې ناست دی، د قرآن کریم تلاوت کوي، هغه پر دې آیت باندې راغلی:
........﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ﴾.(۱)
مجرمان خلک به د قیامت په ورځ داسې ولاړ وي، چې ددوی او دالله تعالی په مابین کې به حجاب او پرده وي، او دوی به د الله تعالی دیدار نسي کولای.
پیغمبرﷺ چیکله دا آیت واورېدی، نو بې اختیاره ئې ژړا شروع کړه، او اوښکې مبارکې ئې پر مخ رابهېدلې، حضرت حفصه مبارکه وايي: چې د هغه اوښکې زما تر مخه پورې راورسېدلې، نو زه حیرانه سوم، د پیغمبرﷺ مخ ته مې کتل، چې هغه اوښکې ډېر زیاتې ور باندې راتویېدلې.
نو ما پوښتنه ځنې وکړه: اې دالله تعالی رسوله! ایا تاته یو درد او تکلیف دی؟ چې دومره زیاتې اوښکې دې د سترګو څخه راتوییږي؟ دده په جواب کې راته وویل: نه! ما بیا پوښتنه ځنې وکړه: ایا ته د جنت په شوق کې ژړا کوې؟ نو ده راته وویل نه، نو ما ورته وویل: بیا پر څه باندې دا دومره زیات غم کوې، او دومره ډېرې اوښکې تویوې.
ده مبارک په ژړا ژړا کې راته وویل:
........﴿أَنَا مُشْتَاقٌ وَ بِیْ اِشْتِيَاقٌ﴾.

(۱)سورة المطففین: آیت نمبر ۱۵

زه مشتاق يم، زه د الله تعالى عاشق يم، خو د ده په عشق او محبت کي ژړا کوم، ده مبارک دغه الفاظ دوه ځله راوګرځول، نن خو موږ د ده د سنتو د اتباع خبري کوو، کاش! موږ ته د الله تعالى د محبوب ﷺ پر دغه سنت باندي هم يو ځل عمل رانصيب سوی وای.

داغه رنګه يو روايت حضرت عائشه مبارکه هم رانقل کوي: چي پيغمبر ﷺ يو ځل د دې په حجره کي د تهجد لمونځ کوی، چي کله ئې نيت وتړی، نو ئې ژړا شروع کړه:

........دَمْعُهُ عَلَى صَدْرِهِ﴾.

تر دې حده پوري: چي اوښکي مبارکي ئې پر سينه باندي راتوييدلې.

........ثُمَّ رَكَعَ فَبَكَى، ثُمَّ سَجَدَ فَبَكَى ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَبَكَى﴾.

او په رکوع کي ئې هم ژړا کوله، او بيا ئې په سجده کي ژړا وکړه، او چيکله د سجدې څخه راپورته سو، هم ئې اوښکي بهېدلې.

........فَلَمْ يَزَلْ كَذَلِكَ حَتَّى جَاءَهُ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ﴾.

چيکله حضرت بلال حبشي رضي الله عنه د سهار آذان ته راغلی، نو تر هغه وخته پوري ټوله شپه پيغمبر ﷺ په ژړا او عبادت کي تېره کړه.

........فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا يُبْكِيْكَ﴾.

حضرت عائشه مبارکه فرمايي: چي ما پوښتنه ځني وکړه: اې دالله تعالى رسوله! ته پر څه باندي دومره ژړا کوې؟

........وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟﴾.(١)

الله تعالى خو تاته مخکني او وروستني ګناهونه ټول در معاف کړي دي، ده چي کله زما خبره واورېده، نو ئې راته وويل: اې عائشې! که الله تعالى پر ما باندي دومره احسان کړی دی، چي زما مخکني او وروستني ګناهونه ئې ټول را معاف کړي دي.

........أَفَلَا أَكُوْنَ عَبْدًا شَكُوْرًا﴾.

نو ايا زه د الله تعالى شکر ګزاره بنده جوړ نسم، نو د روژې په رارسېدلو سره به د پيغمبر ﷺ په اعمالو کي اضافه راتله، هغه يو داوو: چي د دې مياشتي په رارسېدلو

(١) السيرة الحلبية: باب يذكر فيه صفته ﷺ: صفحه نمبر ۴۷۶

سره به د پیغمبر ﷺ په عبادت کي اضافه راتله او هم به تې دالله تعالی په عشق کي او د جنت په شوق کي الله تعالی ډېر زیاته ژړا کوله، چې صحابه وو به د ده د نورو اعمالو څخه په دغه میاشته کي په دغه عمل کي زیات فرق محسوس کوی.

❷.........او دوهم عمل دا وو: چي پیغمبر ﷺ په دې ورځو کي زیاته صدقه کوله. او د پیغمبر ﷺ به په ډېرو پراخو لاسو سره غریبانو ته هر څه ور کول، حضرت عائشې مبارکې د پیغمبر ﷺ د دې ورځو صدقه د یو تیزي سیلۍ سره مشابه کړېده، چي په دې ورځو کي به د پیغمبر ﷺ صدقه د تیزي سیلۍ په شان وه.

او هم به ئې صحابه کرامو ته د صدقې کولو تلقین کوی، او هغوی ته به ئې ویل:

- ......د قیامت په ورځ چي ترڅو پوري حساب سوی نوي. تر هغه وخته به هر سړی د خپلي صدقې تر سایه لاندي ولاړ وي.
- ......او صدقه د قیامت د ورځي گرمي لیري کوي.
- ......او صدقه د بدۍ اویا دروازې د انسان څخه بندوي.
- .....صدقه د انسان عمر زیاتوي، او بېکاره مرگ د انسان څخه لیري کوي، او د انسان فخر او غرور ختم کوي.

او پیغمبر ﷺ به دا هم ویل: چي د قیامت په ورځ به الله تعالی اعلان وکړي: زما د امت فقیران چیري دي؟ چیکله فقیران د الله تعالی حضور ته پیش سي، نو د الله تعالی لطرفه به حکم ور ته وسي: چي کوم سړي تاسو ته زما د رضا په خاطر یوه گوله هم ور کړېوي، یا ئې یو غړپ اوبه یا شلومبې در کړي وي، یا ئې نوې یا زړه جامه در کړېږي، هغه تر لاس ونیسئ، او د خپل ځان سره ئې جنت ته داخل کړئ، چنانچه فقیران او محتاجه خلک به د خپل ځان سره تعاون کونکی جنت لره بیائي.

پیغمبر ﷺ به ډېر ځله خپل صحابي حضرت زبیر رضي الله عنه ته د الله تعالی په لار کي د صدقې کولو ترغیب ور کوی، او ورته ویل به ئې: اې زبیره! د رزق دروازه تر اوو آسمانو لوړ د الله تعالی د عرش سره قریبه خلاصه ولاړه ده، هغه نه د ورځي بندیږي، او نه د شپې.

الله تعالی د هغه دروازې څخه د هر سړي رزق دنیا ته را استوي، او دغه رزق د هر سړي د صدقې او د نفقې مطابق را استول کیږي.

چي کوم سړی زيات رزق خرڅوي، د هغه لپاره زيات رزق را استول کيږي، چي کوم سړی کم خرڅ کوي، د هغه لپاره کمي په رزق کي کول کيږي، او چي کوم څوک د سپمېدو په شکل رزق استعمالوي، الله تعالی ئې د هغه څخه سپموي.
اې زبيره! پخپله ئې هم خوره، او نورو ته ئې هم ور کوه، تنګي مه جوړوه، ورنه د الله تعالی لطرفه به رزق در باندي تنګ سي، خلګو ته مشقت مه ور کوه، ورنه الله تعالی به تا په مشقت کي واچوي، اې زبيره! د الله تعالی په لار کي صدقه کونکي د الله تعالی ډېر خوښوي، او تنګي کونکي انسانان الله تعالی نه خوښوي.
د پیغمبر ﷺ د ترغيب نتيجه دا وه: چي د حضرت زبير رضی الله عنه په باره کي صاحب د "اصابه" ليکلي دي: چي دده زر (۱۰۰۰) غلامان وو، چي ده ته به ئې د مځکو خراج را جمعه کوي، ليکن بيا به هم د ده په کور کي يو دراهم هم نه پيدا کيدی، بلکه ټول به صدقه کېدل، او چي کله د ده وفات وسو، نو دوويشت لکه (۲۲۰۰۰۰۰) دراهمه دی تر قرضه لاندي وو.

## د امام غزالي رحمة الله عليه وينا:

امام غزالي رحمة الله عليه د حضرت عيسی عليه السلام يو قول رانقل کړی دی: چي کوم سړی دخپلي دروازي څخه سائل محروم او بې نصيبه رخصت کړي، نو تر اوو (۷) ورځو پوري د الله تعالی د رحمت فرشتې هغه کورته نه ور داخليږي.
نودا د صدقې ورځي دي، بايد انسان صدقه وکړي، بيا دې ته نه ګوري: چي دا زما خپل دی يا پردی، او عبادت ګزاره دی، او يا ګناهګاره، نن زموږ په معاشره کي چيکله د صدقې ځای راسي، نو بيا انسانان و دې ته ډېر ګوري: چي دا روژه نيسي، او دا ئې نه نيسي، او دا بد سړی دی، او دا ښه سړی دی.
زه دا وايم: بايد د هر انسان سره انسان خپل وسع مطابق احسان وکړي، که ښه وي، او که بد، ځکه دا دالله تعالی مخلوق دی، د ده ښوالی او بدوالی دا دده او د خپل رب معامله ده، بلکه ما او تاته دا ټول دالله تعالی عيال دی، لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:

............الْخَلْقُ عِيَالُ اللّٰهِ، فَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ مَنْ أَحْسَنَ إِلَى عِيَالِهِ﴾.(۱)

مخلوق د الله تعالی عیال دی، او الله تعالی ته په ټولو انسانانو کې هغه څوک ډېر محبوب دی: چې د الله تعالی د عیال سره احسان کوي.

نو د هر چا سره پدې نیت د احسان معامله کول: چې دا زما د الله تعالی مخلوق دی، زه به د ده سره احسان وکړم، الله تعالی به زما سره احسان وکړي، نو رپه هغه کې دا امتیاز او تفرقه نه کول: چې دا نیک عمله دی، او که بد عمله، زما قریب دی، او کنه.

## د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه:

حضرت عمر رضي الله عنه چیکله په "مدینه منوره" کې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د وفات څخه وروسته د مسلمانانو خلیفه جوړ سو، نو ده به کوشش ډېر کوی: چې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه پر نقشه باندې خپل خلافت جاري وساتي.

نو ټولو ادارو ته به ور تلی، او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د عمل پوښتنه به ئې کوله، او بیا به ئې خپله زندګي د هغه پر نقشه باندي برابروله.

یو ځل "بیت المال" ته راغلی، او د "بیت المال" د مسئولینو څخه ئې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د عمل پوښتنه وکړه: نو هغوی ورته وویل: چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه به همېشه د ورځې یو ځل بیت المال ته راتلی، او بیا به ئې د ځان سره د بیت المال څخه یو څه خورکه واخیستله، او د ځنګله طرفته به تلی، او یوازې به وو، او څوک به ئې د ځان سره نه پرېښووی، او موږ ته به هیڅ معلومات نه کیدی: چې ده هلته څه کول، د لږ وقت تېرولو څخه وروسته به واپس راتلی.

حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه د ځنګله د تک کولو لار ځان ته معلومه کړه، او یو څه نفقه ئې د ځان سره د "بیت المال" څخه واخیسته، او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه پر قدمو هغه د ځنګله پر لار روان سو.

چیکله په ځنګله کې یو څه ولاړی، نو مخته یو د خاشو کوډل ورته راغله، که ګوري: په هغه کې یو بوډا چې په دواړو سترګو ړوند دی ناست دی، او شونډان ئې وچ کلک، او پر مخ باندې ئې د لوږې آثار دي، دی د کوډلي په دروازه کې ورته ودرېدی.

(۱)البر و الصلة لابن الجوزي: حدیث نمبر ۴۲۴

هغه ...دا چې د ده د قدمونو ږغ واورېدی، نو په ډېر غصه کې ئې ورته وویل: ...ې(۳) ورځې کیږي، چې ته نه ئې راغلی، او زه دي د سخت حالت سره مخامخ کړی یم.
د...څه ورته ونه ویل، او ژر ئې هغه خورکه برابره کړه، او دهغه په خوله کې ئې ګوله ور کوله، چې کله هغه یو څه خورکه وکړه، نو ئې ورته وویل: چې یو خو درې(۳) ورځې غیر حاضر روې، او دوهم: ماته د خورکې راکولو هغه طریقه هم هېره کړېده.
حضرت عمر رضی الله عنه چې کله دهغه بوډا خبره واورېدله، نو ډېر ئې وژړل، او ورته ئې ویل: چې زه عمر یم، او کم چا چې تاته مخکې خورکه در کوله، هغه د مسلمانانو خلیفه ابوبکر وو، او دهغه درې(۲) ورځې کیږي، چې د دنیا څخه رخصت سوی دی.
چې کله هغه بوډا دا خبره واورېدله، نو پر خپل ځای یودم ولاړ سو، او وئې ویل: اې عمر! ما ته کلمه ووایه، چې زه مسلمان سم، دوه کاله کیږي، دغه انسان روزانه ماته راتلی، او ماته ئې خورکه راکوله، یوه ورځ ئې هم ماته دا نه وویل: چې زه څوک یم، او نه زه په ده خبر سوم، چې دا څوک دی، نو د ده د دغه اخلاقو په خاطر زه کلمه وایم، او ستا پر لاس ایمان قبلوم.
نو زموږ سلفو چې به کله د چا سره احسان کاوی، هغه ئې په دې نیت کوی، چې دا د الله تعالی مخلوق دی، او د دې سره په احسان کولو باندې الله تعالی ډېر راضي کیږي، هغه بیا ئې دې ته نه کتل: چې دا نیک عمله دی، او که بد عمله، او نه ئې دې ته کتل: چې دا مسلمان دی که کافر، بس چې څه به ئې کول: هغه ئې د الله تعالی د رضا لپاره کول.

## د صدقې په برکت دعاګانې قبلیږي:

نو څرنګه چې د روژې ورځې د دعاګانو د قبلېدو ورځې دي، او د دُعا د قبلېدو لپاره بهترینه طریقه هغه صدقه ده، نو هم به پېغمبر ﷺ پدې ورځو کې په صدقه کې ډېره مبالغه او کوشش کاوی.
په "ریاض الصالحین" کې یو واقعه رانقل سوېده، په "بصره" کې یو شرابي وو، چې ... وخت به ئې د هغه د شرابو محفل روان وو، یو ځل دهغه دوستان او احباب را جمع

وو، او د شرابو محفل تيار وو، هغه خپل غلام ته څلور(۴) دراهمه ور کړل، چې د شرابو چيښلو څخه مخکي زموږ محفل لره ميوه راوړه، چې زما ملګري پر هغه باندي خپله هاضمه صافه کړي.
نو هغه غلام هغه څلور(۴) دراهمه راواخيستل، او په منډه بازار ته روان دی، چې د شرابو محفل ته ميوه راورسوي، د هغه محفل خلک د ده د ميوې راوړلو په انتظار دي.
غلام چې کله روان دی، نو په لاره کي خلک سره را ټول دي، دی چې کله نژدې ورغلی، نو هلته معروف بزرګ: حضرت منصور بن عمار بصري رحمۃ اللہ علیہ ولاړ دی، د يو فقير لپاره د خلګو څخه سوال کوي، او وايي: اې خلګو! دا سړی غريب دی، او د ده بچيان وږي دي، د ده مرسته وکړئ.
که هر چا د غه فقير ته څلور(۴) دراهمه ور کړل، نو زه به هغه ته څلور(۴) دعاګاني وکړم، چې الله تعالی به ئې قبولي کړي.
هغه غلام چې کله د هغه بزرګ خبره واورېدله، نو يو ساعت ئې د ځان سره سوچ او فکر وکړی، خو د هغه بزرګ خبري پر ده باندي ډېر زيات اثر وکړی، او د هغه په وينا ئې هغه څلور(۴) دراهمه هغه فقير ته ور کړل، او د هغه بزرګ څخه ئې د دعاګانو غوښتنه وکړه.
حضرت منصور رحمۃ اللہ علیہ ورته وايي: کومي څلور دعاګاني غواړې؟ چې زه ئې درته وکړم؟ غلام ورته وويل: چې د غه څلور ارمانونه مي دي، ته دعا راته وکړه: چې څلور سره الله تعالی را پوره کړي:

١. يو دادعا راته وکړه: چې الله تعالی ما دغلامۍ څخه خلاص کړي، او زه آزاد شم، نو حضرت منصور رحمۃ اللہ علیہ ده ته هغه دعا وکړه.
٢. او دوهمه دعا دا راته وکړه: چې الله تعالی ماته ددغه دراهمو عوض دنيا او دولت راکړي، هغه بزرګ دغه دعا هم ورته وکړه.
٣. دريمه دا دعا راته وکړه: چې الله تعالی زما سردار ته د توبې کښلو توفيق ورکړي، او د هغه دعاګاني قبولي کړي، نو حضرت منصور رحمۃ اللہ علیہ دغه دعا هم ورته وکړه.

۴. څلورمه دعا: چې الله تعالى زما او زما د سردار او د هغه د ملګرو او ستا او ستا د ملګرو او ددې حاضرو انسانانو ټولو مغفرت نصيب کړي، حضرت منصور رحمة الله عليه دا دعا هم ورته وکړه.

د دعاګانو کولو څخه وروسته هغه غلام خالي لاس خپل سردار ته واپس راغلی، سردار چونکه انتظار کړی وو، نو د ده په ليدلو باندې ئې په غصه کې ورته وويل: چې دا دومره وخت دې چيرې ضائع کړی، او پر موږ دې دومره انتظار تېر کړئ؟

نو هغه غلام د لارې ټوله قصه ورته بيان کړه، نو هغه سردار د غصې او د وهلو پر ځای دده څخه پوښتنه وکړه: چې تا کومې دعاګانې د هغه څخه وغوښتلې؟

غلام ورته وويل: چې يوه خو مې دا دعا وغوښتله: چې الله تعالى ما آزاده کړي: نو سردار پر هغه ځای ورته وويل: ځه! ته زما لطرفه آزاد ئې، دا دعا خو قبوله سوه.

او دوهمه دې کومه دعا غوښتې وه؟

غلام ورته وويل: چې الله تعالى ماته د دغه څلورو(۴) دراهمو عوض په دنيا کې راکړي، سردار ورته وويل: ځه! زما لطرفه تاته څلور زره(۴۰۰۰) دراهم نذرانه دي، او ته د دې مالک سوې، او دا د هغه دراهمو عوض دی.

سردار ورته وايي: چې دريمه دې کومه دعا غوښتې وه؟

غلام ورته وويل: چې الله تعالى تاته د شرابو او د دغه فسق او فجور څخه د توبې کښلو توفيق در کړي، سردار ورته وويل: چې زه اوس ستا په مخکې د ټولو ګناهونو څخه توبه کاږم، نو دا دعا هم قبوله سوه.

ورته وايي: څلورمه دې کومه دعا غوښتې وه؟

غلام جواب ور کوي، چې الله تعالى زما او ستا او ستا د ملګرو او د هغه بزرګ او د هغه د ملګرو او د ټوله حاضر مجلس مغفرت نصيب کړي.

سردار ورته وويل: چې دا خو زما په اختيار کې نه دي، دا به دالله تعالى په حواله کړو.

چيکله شپه راغله، نو هغه سردار ويده دی، په خوب کې يو هاتف غيبي آواز ور باندې کوي: چې کله هغه درې کاره ستا په اختيار کې وو، هغه دې درې سره وکړو، ايا ستا ګمان دی: چې الله تعالى به نو هغه کار نه کوي: چې د ده په اخيتار کې دی، الله تعالى

ستا او ستا د ټوله مجلس او د هغه بزرګ او د هغه د مجلس او د هغه غلام ټولو مغفرت په نصيب کړي، او دوی ته ئې د جهنم څخه آزادي او نجات ور کړی.(١)

نو چونکه صدقه د دعا د قبوليت لويه ذريعه ده، او دا د دعاګانو ورځې دي، نو پيغمبر ﷺ به پدې ورځو کې په صدقه کولو کې ډېر کوشش کاوی.

❸.........او دريم عمل چې به په دې ورځو کې پيغمبر ﷺ ډېر زيات کوی، هغه به دعا مبارکه وه، چې ده به پدې ورځو کې په دعا کولو کې زيات کوشش کاوی، ځکه د پيغمبر ﷺ قول مبارک ديو چې هغه په حقيقت کې د الله تعالی قول دی، چې:

.........إنَّ لِلّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عُتَقَاءَ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ يَعْنِي فِي رَمَضَانَ وَإِنَّ لِكُلِّ مُسْلِمٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ دَعْوَةً مُسْتَجَابَةً﴾.(٢)

الله تعالی په هره ورځ او شپه د رمضان المبارک کې انسانان د جهنم څخه آزادوي، او په هره ورځ او شپه کې الله تعالی د مؤمنانو دعاګاني قبلوي، نو چونکه دا د دعا د قبوليت ورځې دي، نو ځکه پيغمبر ﷺ به زياته دعا کوله.

يو روايت داسې هم راځي، چې د روژې په هره شپه کې الله تعالی يو آواز کونکي ته حکم کوي: چې درې ځله دا آواز کوه:

............هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ نَغْفِرُ لَهُ﴾. ايا يو مغفرت غوښتونکی شته، چې زه بخښنه ورته وکړم؟

.........هَلْ مِنْ تَائِبٍ نَتُوبُ عَلَيْهِ﴾. ايا يو توبه کونکی شته، چې زه د هغه توبه قبوله کړم؟

..........هَلْ مِنْ دَاعٍ نَسْتَجِيبُ لَهُ﴾. ايا يو دعا غوښتونکی شته، چې زه د هغه دعا قبوله کړم؟

..........هَلْ مِنْ سَائِلٍ نُعْطِي سُؤْلَهُ﴾. ايا يو سوال غوښتونکی شته، چې زه د هغه غوښتنه ور پوره کړم؟.(٣)

(١) رياض الصالحين: صفحه نمبر ١٢٠
(٢) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: حديث نمبر ۴۷۸۹
(٣) شعب الايمان: حديث نمبر ۳۳۳۴

او بیا خاص پیغمبرﷺ به د دعا څخه مخکي استغفار په دې ورځو کي ډېر وايي، ځکه د استغفار په ذریعه سره الله تعالی د انسان دعاګانو ته قبولیت ډېر ژر ور کوي.
لکه یو حدیث شریف کي راځي:
............﴿إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي، فَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ﴾.(۱)
چي دی مبارک وايي: چیکله کله زما پر زړه باندي یو وریځ او خړ حالت راسي، نو زه په ورځ کي سل(۱۰۰) واره استغفاره وایم.
محدثینو لیکلي دي: چي په حدیث شریف کي د سلو(۱۰۰) عدد راغلی دی، خو لیکن دغه عدد مقصود ندی، بلکه: د دې څخه مقصود: کثرت دی، چي یعني: زه استغفار په ډېر کثرت سره وایم.
نو چونکه استغفار ویل د دعا د قبولیت ذریعه ده، نو ځکه پیغمبرﷺ به د دعاګانو کولو څخه مخکي استغفار په کثرت سره وايي.

## د استغفار په ذریعه د دعا قبلېدل:

حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د خپل وخت ډېر لوی امام وو، تاریخ پر دې ګواه دی: کچیري په دې امت کي دوه کسان نوای، نن به د مځکي پر مخ د الله تعالی عبادت نه کیدای، لکه د تاریخ الفاظ دي:
............﴿لَوْلَا أَبُوبَكْرٍ لَمَا عَبِدَاللهُ﴾.
کچیري ابوبکر نوای، نن به د مځکي پر مخ د الله تعالی عبادت نه وای، چیکله د منکرینو د زکوٰة مسئله راغله، نو ډېر مشکله مرحله وه، او ده په ښه طریقه د اسلام تدارک وکړی، او هم ئې د الله تعالی دین د دغه فتنې څخه محفوظه کړی.
............﴿لَوْ لَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ لَمَا عَبِدَاللهُ﴾.
کچیري په دې امت کي احمد بن حنبل رحمة الله علیه نوای تېر سوی، نن به د مځکي پر مخ د الله تعالی دین نه وای، ځکه: چیکله د خلق القرآن مسئله راغله، او ډېر مشکله مرحله وه، او ده په ډېر همت او استقامت سره د هغه فتنې مخ نیوی وکړی.

(۱) الزهد و الرقاق لابن المبارک: حدیث نمبر ۱۱۴۰

دحضرت امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ په حالاتو کي لیکلي دي: چي یو ځل پر سفر باندي روان وو، او په یو کلي کي ئې شپه سوه، نو امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ د خوب لپاره د مسجد څخه بغیر بل کوم ځای نکړی پیدا، نو مسجد لره ورغلی، چي هلته شپه تېره کړي، او آرام وکړي.

چي کله ده د خوب اراده وکړه، نو د مسجد یو خادم ورته راغلی، او دی ئې په مسجد کي د شپې تېرولو څخه منعه کړی، ده مبارک چي هغه ته هر څومره قناعت ور کړی، خو هغه د ده خبره نه ور سره ومنله.

امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ ورته وویل: چي خیر دی، زه به د بوټو په ځای کي ویده سم، خادم ئې هغه ساعت خبره و منله، خو چیکله امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ بیده سو، نو خادم ته ئې خوند ور نکړی، او په کشولو ئې د مسجد څخه راویاستی، او سره د دې چي امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ د وقار او عزت مالک وو، او د بزرګۍ نښانې ښکاره ور باندي معلومېدلې.

د مسجد څخه دباندي د یو نانوای غټ ځای او دوکان وو، چي ډوډۍ ئې پکښې پخوله، او بیا ئې خرڅوله.

هغه چیکله پیردار ولیدی، چي یو دعزت او د وقار څخه ډک شخص ئې په داسي بد حالت کي د مسجد څخه په کشلو راویاستی، نو نانوای ږغ ور باندي وکړی: چي داسي مه کوه، او امام احمدبن حنبل رحمۃ اللہ علیہ ته ئې د شپې د تېرولو لپاره ځای ورکړی.

نانوای د احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ ښه اکرام وکړی، او د خوب لپاره ئې ښه ځای ورته برابر کړی، او نانوای د خپلو ورو اخښلو لپاره پخپل کار اخته سو، خو هغه په خپل کار کي استغفار په کثرت سره وایي، که هره زواله جوړوي، او که هره ډوډۍ پر تنور باندي وهي، او یا ئې راباسي، خو دهر عمل سره مسلسل استغفار وایي.

امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ د نانوای دغه کار ته حیران سو، او نانوای ټوله شپه او ټول کار په استغفار کي تېر کړی.

چیکله سهار سو، نو امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ د نانوای څخه د دومره زیات استغفار ویلو په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه ورته وویل: چي زه اوس د استغفار سره عادت ګرځېدلی یم، نو ځکه ډېر ئې وایم.

امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه پوښتنه ځنې وکړه: چې ایا د استغفار دي څه ثمره او ګټه لیدلې ده؟ نو هغه جواب ورکوي: هو! په الله تعالی قسم! چې کومه دعا مې غوښتې ده، هغه دستي قبوله سوېده، خو یوه دعا لا نده قبوله سوې، چې د هغې د قبولیت د ډېر وخت څخه په انتظار یم.
امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه ورته وویل: هغه کومه دعا ده؟ هغه نانوای جواب ورکړی: د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د لیدلو ډېره تمنی لرم، او هم دعاګاني کوم، خو تراوسه مې دغه تمنی نده پرځای سوې.
امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه ورته وویل: زه امام احمد بن حنبل یم، او په الله تعالی قسم! په کشولو دا دی تاته راوستل سوم، تر څو دي الله تعالی د استغفار په برکت دا تمنی هم پوره کړي. نو چونکه استغفار د دعا د قبولیت لپاره بهترینه لاره ده، نو ځکه پېغمبر ﷺ به په دې مبارکه میاشته کي د دعا سره سره استغفار هم په ډېر کثرت سره وایي، او دا د پېغمبر ﷺ په دې میاشته کي عمل وو.

## اعتکاف درې (۳) قسمه دی:

بیا خاص پر موږ او تاسو د روژې آخره عشره راغلې ده، په دې عشره کي د الله تعالی سره د تعلق جوړولو لپاره دوه (۲) لوی عبادتونه زموږ او ستاسو مخته دي، یو د اعتکاف عبادت، او دوهم د لیلة القدر عبادت.
اعتکاف په لغت کي: درېدل، او راګرځېدل، او د شریعت په اصطلاح کي: د روژې په حالت کي په مسجد کي د اعتکاف په نیت باندي ځان پابنده کول.
اعتکاف درې قسمه دی:

۱. اول قسم: واجب دی، مثلاً: یو سړی نذر و مني، او پر ځان ئې لازم وګرځوي، که زما فلانکی کار وسو، نو زه به دومره ورځې په اعتکاف کي کښېنم، که هغه کار وسي، نو دغومره ورځې په اعتکاف کي کښېنستل واجب دي، کنه کښېني، نو ګناهګاره دی.
۲. دوهم قسم: سنت مؤکده دی، د دې میاشتي په آخره عشره کي په اعتکاف کي کښېنستل، دې ته سنت مؤکده ځکه وایي: چې پېغمبر ﷺ به هر کال په دغه

اعتکاف کې کښېناستی، او کفایه هم ورته وايي: کچیرې په ټوله محله کې یو سړی په اعتکاف کې کښېني، نو د ټولو د ذمې څخه د سنت د ترک وبال لیرې کیږي، لیکن ثواب صرف معتکف الله تعالی ور کوي، او که په ټوله محله کې یو سړی هم نه کښېني، نو ټوله د سنتو د ترک په وجه ګناهګاره دي.

۳. دریم قسم: نفل اعتکاف دی، چې کوم وخت هم سړی په مسجد ننوزي، نو د اعتکاف نیت وکړي، چې تر کوم وخته پورې دی په مسجد کې وي، نو د اعتکاف ثواب ور کول کیږي، او د لمانځه او د تلاوت ثواب ئې هم وي.

## د اعتکاف فضائل:

پیغمبر ﷺ د اعتکاف ډېر زیات فضائل بیان کړي دي، حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د پیغمبر ﷺ یو حدیث را نقل کوي:

...قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ: هُوَ يَعْكِفُ الذُّنُوبَ، وَيُجْرَى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا﴾.(۱)

چې پیغمبر ﷺ به د معتکف په باره کې فرمایل: چې هغه د ګناهونو څخه محفوظه وي، او ده ته د نیکو اعمالو کونکو برابر ثواب ور کول کیږي، نو پدې حدیث کې پیغمبر ﷺ د اعتکاف دوې (۲) خاص فائدې بیان کړي دي:

۱. یوه دا: چې د اعتکاف په برکت انسان د ګناهونو څخه محفوظه وي.

۲. او دوهم فائده دا: چې څومره نیک اعمال د اعتکاف په وجه د سړي څخه پاته سي، مثلاً: د جنازې لمونځ یا د ناجوړه پوښتنه، د هغه ثواب د ده د کولو څخه بغیر الله تعالی ور کوي.

په یو بل حدیث کې پیغمبر ﷺ فرمايي: چې حسین بن علی رضي الله عنهما را نقل کړی دی:

.......اعْتِكَافُ عَشْرٍ فِي رَمَضَانَ كَحَجَّتَيْنِ وَعُمْرَتَيْنِ﴾.(۲)

چې کوم چا د روژې په آخره عشره کې اعتکاف وکړی، نو هغه ته الله تعالی جل جلاله د دوو (۲) حجو او د دوو (۲) عمرو ثواب ور کوي.

(۱) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۱۷۸۱

(۲) المعجم الکبیر للطبراني: حدیث نمبر ۲۸۸۸

## د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د اعتكاف واقعه:

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما يو ځل په مسجد نبوي کي په اعتكاف کي ناست وو، يو سړی ورته راغلی، او سلام ئې ورته ووايي، ده مبارک پو ښتنه ځني وکړه: چي ته ماته پرېشانه او غمجن را معلومېږې، څه خبره ده؟ هغه سړي ورته وويل: اې د الله تعالی د رسول د اکا زویه! په دې وجه پرېشانه یم: چي د فلانکي سړي پر ما باندي حق دی، او بیا ئې د پيغمبر صلی الله علیه وسلم وقبر ته اشاره وکړه: او وئي ويل: د دغه قبر والا په عزت دي مي قسم وي، چي د هغه حق پر ادا کولو قادر نه یم.

ابن عباس رضي الله عنهما ورته وويل: ایا زه ستا هغه سړي ته سفارش وکړم، چي ستا سره آساني وکړي، ده ورته وويل: چي ته څنګه مناسب بولې، هغه را سره وکړه، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما چي دا واورېدل، نو خپلي چوټي ئې په پښو کړې، د مسجد څخه را وواتی، هغه سړي ورته وويل: چي حضرت! ستا اعتكاف هير دی، ده ورته وويل: هير مي ندی، بلکه د دغه قبر والا څخه مي اورېدلي دي، او د اورېدلو ډېره زمانه هم نده تېره سوې، په داغه دوران کي د عبدالله بن عباس په سترګو کي اوښکي وې، چي ده به موږ ته فرمایل: چي کم څوک د مسلمان ورور په کار پسي ولاړ سي، هغه ته الله تعالی د لسو (۱۰) کالو د اعتكاف ثواب ور کوي.

او کوم سړی چي د الله تعالی د رضا لپاره د یوې ورځي اعتكاف وکړي، نو الله تعالی د ده او د جهنم په مابين کي درې (۳) خندقه ليري والی راولي، او د يوه خندق مقدرا دومره وي: لکه د ځمکي او آسمان په مابين کي چي څومره فاصله ده.

نو کوم سړی چي لس (۱۰) ورځي په اعتكاف کي کښېني، نو الله تعالی د ده او د جهنم په مابين کي دیرش (۳۰) خندقه فاصله راولي، يعني: د جهنم څخه هغه څوک الله تعالی ډېر زيات ليري کوي، او د اعتكاف لوی مقصد د "ليلة القدر" تلاش وي، هغه سړی نيکبخته دی: چي د ليلة القدر عبادت ئې نصيب سي، ځکه چي د هغه عبادت د زرو (۱۰۰۰) مياشتو د عبادت څخه هم افضله دی، او چي کوم سړی د ليلة القدر د عبادت څخه محرومه پاته سو، هغه د ډېر لوی خير څخه محرومه بلل کيږي. الله تعالی دي دغه مذاکره په خپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي. آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د مرګ یاد، اوله حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ ھ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْـــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿ مُوتُوا قَبْلَ أَنْ تَمُوتُوا وَ حَاسِبُوا قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوا﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کي ما د پېغمبر ﷺ يو حديث مبارک پېش کړی، چي د هغه لفظي ترجمه او معنی دا ده:

چي د مرګ راتللو څخه مخکي مړه سئ، او د قيامت په ورځ چي حساب او کتاب ستاسو څخه اخيستل کيږي، د هغه څخه مخکي په دنيا کي خپل حساب او کتاب د ځان سره وکړئ.

## مرګ يقيني راتلونکی دی:

د دې حديث تعلق د مرګ د راتللو او د مرګ څخه وروسته د حساب او کتاب اخيستلو سره دی.

(١) سورة الملک: آيت نمبر ٢

(٢) بريقة المحموديه فی شرح طريقة محمديه: باب الامل وهو العاشر فی آفات القلب: صفحه نمبر ١٣٠، کشف الخفاء: جلد نمبر ٢، صفحه نمبر ٤٢

مرګ د انسانیت لپاره یو داسي حقیقت دی: چي پر هر انسان باندي راتلونکی دی، او د هغه په راتللو کي هیڅ شک او شبه نسته، او نه د هغه د راتلو څخه چا اختلاف کړی دی، او نه ئې انکار کړی دی.

انکار کونکو (نعوذ بالله) د الله تعالی د وجود څخه انکار کړی دی، او د رسولانو درسالت څخه ئې انکار کړی دی، او د ډېرو ښکاره حقیقتونو څخه ئې انکار کړی دی، مګر د مرګ دراتللو څخه تر اوسه پوري چا انکار ندی کړی.

د حضرت آدم علیه السلام څخه بیا تر اوسه پوري په دنیا کي داسي طبقه نده راغلې: چي هغوی دي د مرګ نه راتللو نظریه دنیا ته پیش کړې وي، او نه تر قیامته پوري داسي ډله راتللای سي، چي هغه دي د مرګ نه راتللو خبره دنیا ته پیش کړي.

بلکه هر څوک دا مني: چي یو سړی دنیا ته راغلی، هغه به یوه ورځ دمرګ راتللو په شکل د دنیا څخه رخصتیږي، ځکه چي د مرګ سبب هغه ډېر ښکاره دی.

د شیخ ابو علی ابن سینا څخه یو چا پوښتنه وکړه: چي د انسان د مرګ سبب څه دی؟ هغه په جواب کي ورته وویل: چي د انسان د مرګ سبب د انسان زندګي ده، چي کم چا ته په دنیا کي ژوندا و زندګي ور کړل سوه، د هغه د مرګ سبب موجود سو، نو ضرور به یوه ورځ ده ته مرګ راځي.

ځکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی:

........مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهِ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ مَنِيَّةً إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتَّى يَمُوتَ. (١)

چیکله ابن آدم دنیا ته راسي، نو دده اړخ ته الله تعالی نه نوي(٩٩) مرګه ورته کښېږدي، یعني؛ د مرګ ډېر اسباب د ده و څنګ ته الله تعالی ور سره پیدا کړي، کچیري د هغه ټولو څخه دی خطا سي، نو آخر یقیني سبب د مرګ: هغه بوډاوالی دی، چي هغه به ئې تر هغه وخته پوري نه پرېږدي، چي تر څو ئې د قبر توري کندي ته رسولی نوي.

(١) سنن ترمذي: حدیث نمبر ٢١٥٠

## د مرګ وخت ندی معلوم:

نو دا په دنیا کي یو منل سوی حقیقت دی: چي انسان لره ضرور مرګ یوه ورځ رائحي، او هيڅ یو انسان په دنیا کي د همېشه لپاره ژوندی نسي پاته کېدلای.

او دوهم منل سوی حقیقت دا هم دی: چي د مرګ وخت ندی معلوم: کیدای سي چي په ورځ کي راسي، په هفته کي راسي، او یوه میاشته او یو کال بعد پر اسان باندي مرګ را ورسیږي.

د یو تحقیق مطابق انسان هره ورځ دمرګ سره یو نیم سل واره نږدې تیرېږي، نا ... ګورئ! چيکله انسان پر یو لاره باندي سفر کوي، نو دده راسته او چپه طرف ... مخ او شاته د ده مرګ ور سره روان او دوان وي.

د انسان راسته او چپه طرفته او مخ او شاته چي کم موټران روان وي، هغه هر وخت زموږ د موټر سره ټکر خوړلای سي، او زموږ د مرګ په شکل پر موږ باندي حمله کولای سي.

یا چي پر کمه لار باندي انسان تیرېږي، هغه لار کښېنستلای سي، او چي پر کم پله باندي انسان روان وي، هغه پل ماتېدلای سي، زموږ د موټروان د غفلت په وجه زموږ موټر د برق په خاده کي لګېدلای سي، او زموږ پر موټر د برق خاده رانړېدلای سي.

او چي په کم کور کي موږ اوسیږو، د هغه چت رانړېدلای سي، او پر هغه باندي زلزله راتللای سي، او هغه کور د همېشه لپاره زموږ قبر جوړېدلای سي.

دا هم یو تحقیق دی: چي انسان کله دنیا ته راسي، نو څلور زره (۴۰۰۰) ناجوړي الله تعالی د ده سره ملګري کړي، هغه ناجوړي یو وخت دی د مرګ خولې ته رسوي، مثلاً زموږ اینه خرابېدلای سي، زموږ پښتورګي او سږي او زموږ دماغ او زړه او اعصابي نظام هم یو وخت کار پرېښوولای سي، زموږ ساه او دساه نظام د کار پرېښوولو په خاطر په ډېر لنډ وخت کي موږ ددې دنیا څخه د آخرت پر لور رخصت کولای سي.

نه معلوم! چي مرګ روزانه څو مره څله زموږ سره نږدې تیرېږي، لیکن په موږ او تاسو کي بعضي خلک داسي وي: چي خپل مرګ ته هیڅ نه متوجه کیږي، او دی شره ورځ کورته رائحي، او پر خپله بستره باندي آرام کوي، او سهار صحیح سلامت راپورته

کيږي، او دا څني هيره وي: چې ټوله شپه زما پر سر باندي زما مرګ راته ګرځېدی، هغه هر وخت پر ما باندي حمله کونکی جوړېدلای سي.
زموږ په دماغ کي دا نه راځي: چي زموږ او د مردګانو په مابين کي څه فرق دی، هغه هم زموږ غوندي د غوښي او پوست څخه جوړ سوي انسانان وو، او موږ هم د هغه غوندي کمزوري او بې وسه إنسانان يو، بس زموږ او د هغه دغه يو فرق دی: چي هغه نن د مرګ منګولو له ور غلل، او شايد سبا يا بل سبا به داغه مرګ پر موږ باندي هم حمله کونکی وي.
په دنيا کي هره ورځ يو نيم لک(۱۵۰۰۰۰) انسانان د ژوند تر ليکه تيريږي، او د آخرت په سفر باندي روانيږي، په هغه کي ډېر داسي انسانان وي: چي خپل ځان د ژوند يو اهم شخصيت بولي، او دا وايي: چي زه په کمه ورځ د دنيا څخه رخصت سم، نو دا ټوله منظر به تاريک وي، او د هغه دا ګمان وي: چي زما څخه وروسته که لمر راوخيږي، خو د هغه به رڼا نه وي، دی غريب په داغه دوکه کي روان وي، چي د مرګ حمله ور باندي راسي، د ده هغه روانه زندګي په مرګ باندي ور بدله کړي، دی د دنيا څخه رخصت سي، خو دنيا هغسي روانه او دوانه وي.
نن چي د چا څخه پوښتنه وکړې: چي څنګه حالت دی؟ نو دی به وايي: چي د دنيا زندګي ده تيريږي، هغه غريب پدې نه پوهيږي: چي زندګي نه تيريږي، بلکه هغه شپه او ورځ او هغه کال او مياشتي به رواني وي، خو زه تر دنيا تيرېږم، ډېر وخت به داسي وي: چي زه به نه يم، او د دنيا نظام به روان وي.
نو دا يو حقيقت دی: چي د مرګ وخت معلوم ندی، نن د سائنس تحقيقات کم ځای ته ورسېدل؟ چي ډېر ځله هغه په لمر او سپوږمۍ او په آسمانونو او د ستورو په نظام کي خبري کوي، ليکن که هغه ته دا ووايي: چي دې انسان ته به مرګ کله راځي، نو بيا د ده سائنس او تحقيق پر هغه ځای باندي ناکامه او ناخبره وګرځي.
نو مرګ يقيني راتلونکی دی، او دا هم يقيني ده: چي د مرګ وخت معلوم ندی: او س که انسان دغسي د غفلت په حالت کي د دنيا څخه رخصت سي، او د قبر و توري کندي ته ور شوه سي، نو هسي نه: چي د مشکلاتو سره مخامخ سي، او د الله تعالی د عذاب

تر ترتيبونو لاندي رانسي، نو پدې خاطر پېغمبرﷺ خپل امت ته دا وصيت او نصحت کوي:

چي تاسو د حقيقي مرګ راتللو څخه مخکي مړه سئ، او س د دې مطلب علماؤو په دوه شکله بيان کړی:

۱. يو مطلب خو دا: چي د حقيقي مرګ راتللو څخه مخکي تاسو خپل هغه خواهشات چي د الله تعالی د حکم په مقابل کي وي، او ستاسو په زړو کي دګناه کولو فکر او سوچ پيدا کوي، هغه مړه کړئ، او هغه ختم کړئ، چي تاسو د الله تعالی د نافرمانۍ څخه خپل ژوند محفوظه وګرځوئ.

۲. دوهم مطلب علماؤو دا بيان کړی دی: چي د حقيقي مرګ راتللو څخه مخکي د خپل مرګ سوچ او فکر کوئ، کله نا کله د ځان سره دا فکر کول: چي يوه ورځ به زه د دې دنيا څخه ځم، او هم به خالی لاس يم، نه به مال او دولت را سره وي، او نه به اولاد را سره وي، او نه به دوستان را سره وي، او دې قبر ته به ور شوه کيږم، او نه معلوم: چي څومره زمانه بيا زه پدې قبر کي پروت يم، او نه معلوم: چي قيامت به کله راځي، چي زه د قبر څخه راپورته سم.

نو د حقيقي مرګ راتللو څخه مخکي د مړه کېدلو يو معنی دا ده: چي د مرګ تصور او فکر کول، او د زکندن حالات په دماغ کي راګرځول، او دعزرائيل علیه السلام د روح اخيستلو د کيفيت احساس کول.

## د حضرت مريم علیها السلام وفات:

حضرت عيسی علیه السلام يو ځل خپلي مور حضرت مريم علیها السلام ته وويل: موري! دغه دنيا فاني ده او ډېره ژر ختم کېدونکې ده، راځه: چي دې غره ته ورسو، او نور عمر په دې غره کي په عبادت کي تېر کړو، حضرت عيسی علیه السلام او د هغه مور غره ته راغلل، شپه او ورځ د الله تعالی عبادت کوي.

حضرت مريم علیها السلام د ورځي روژه نيسي، او د ماښام په وخت کي حضرت عيسی علیه السلام د ځنګله د درختو يو څه پاڼي پرې کوي، او دې ته ئې راوړي، او دا په هغه باندي روژه ماتوي.

یوه ورځ حضرت مریم علیها السلام په غره کي ده، او روژه ئې نیولې ده، حضرت عیسی علیه السلام د مائیګر په وخت کي د هغې د روژمات کولو لپاره د پاڼو راوړلو په خاطر غره ته تللی دی.

چي په کمه کوډل کي دا عبادت کوي، نو د هغې دروازې ته یو سړی راغلی، او ور ته وئې ویل: چي اې ټوله شپه عبادت کونکي! او ټوله ورځ روژه نیونکي بي بي! پر تا دي سلام وي.

دې مبارکي د سلام د جواب ور کولو څخه وروسته پوښتنه ځني وکړه: چي ته څوک ئې؟ چي الله تعالی دي په آواز کي داسي هیبت او بېره ایښې ده، چي ستا د آواز اورېدلو څخه زما زړه سره چاودل کیږي؟

هغه ورته وویل: چي هغه څوک یم: چي بچیان یتیمان کوم، او زناني کونډاني کوم، او منديجري کوم، او زه دلته اوس ستا د روح اخیستلو لپاره راغلی یم.

حضرت مریم علیها السلام ورته وویل: چي ما ته دومره وخت راکړه، چي زما زوی زما د روژمات لپاره د پاڼو د راټولولو په خاطر غره ته تللی دی، هغه راسي، د هغه تر راتللو پوري ما ته مه رانژدې کېږه.

هغه ورته وویل: چي ما ته خو اجازت نسته، چي زه تا ته دومره وخت در کړم، ما ته چي په کم ګړي کي د روح د کښلو حکم وي، زه پر هغه ساه باندي روح اخلم، او د دوهمي ساه اخیستلو وخت نه ور کوم.

د دې وینا کولو څخه وروسته هغه فوراً د حضرت مریم علیها السلام روح واخیستی، او هغه د خپل عبادت په ځای کي پرېوتله، او حضرت عزرائیل علیه السلام چادر ور باندي هوار کړی.

د روژمات پر وخت چي کله حضرت عیسی علیه السلام د خپلي مور د روژمات لپاره د ځنګله د درختو تازه پاڼي راورسولې، که ګوري: نو مور بیده ده، د هغې ویښول ئې مناسب نه وبلل، پخپله پر لمانځه باندي ودرېدی، او پخپله ئې هم روژه ماته نه کړه.

چیکله شپې کافي حصه تېره سوه، نو خپل مور ته نږدې راغلی، او ورته وئې ویل:

............السَّلَامُ عَلَيْکَ يَا اَمَاهُ! قَدْ هَجم اللَّيْلُ وَ اَفْطَرَ الصَّائِمُ وَوَقَفَ العَابِدُوْن فَمَا بَالُکَ لَا تَقُوْمِيْنَ اِلَی عِبَادَةِ الرَّحْمَنِ﴾.

اې موري! پر تا دې سلام وي، د شپې ډېره حصه تېره سوه، د روژه نیونکو روژې ماتي سوې، او عبادت کونکي د عبادت لپاره ولاړ سول. آخر څه وجه ده، چي ته د عبادت لپاره نه راپورته کېږې؟

خو ده چي هر څو مره د هغې د را بېدراه کولو کوشش وکړی، مګر هغه په داسي خوب کي تللې وه: چي د هغه څخه په دنیا کي بیا د را بېداره کېدلو طمعه نه کېدله.

آخر د سهار په وخت کي ده ته وحي راغلې، چي ستا مور وفات سوېده، د هغې د کفن او دفن انتظام وکړه، حضرت عیسی علیہ السلام چي کله دا واورېدل، نو د غره څخه راښوه سو، چي د هغې د کفن لپاره لباس راوړي، او یو څه انسانانو ته ووایي: چي زما سره د مور په کفن او دفن کي مرسته وکړي.

دی د بني اسرائیلو یو ډلي ته راغلی، او د خپلي مور د وفات واقعه ئې ورته بیان کړه، او بیا ئې ورته وویل: چي تاسو زما سره د هغې په کفن او دفن کي مرسته وکړئ، مګر هغوی انکار وکړی، او ورته وئې ویل: چي په دغه غره کي ماران او لړمان ډېر زیات دي، مور ستا سره دغه غره ته نسو تللای.

حضرت عیسی علیہ السلام چیکله د هغوی څخه ناامیده سو، نو واپس د غره پر طرف را روان سو، په لاره کي دوه کسان ناست دي، ده هغوی ته دا واقعه بیان کړه، هغوی چي کله واورېدله، نو د ده سره روان سول، په لاره کي ده پوښتنه څني وکړه: چي تاسو څوک یاست، چي ټوله خلګو زما د مدد کولو څخه انکار وکړی، او تاسو را سره روان سول؟

هغوی په جواب کي ورته وویل: چي موږ جبرائیل او میکائیل یو.

هلته د جنت حوري د حضرت مریم علیہا السلام د غسل کولو لپاره راغلې وې، حضرت عیسی علیہ السلام چي کله راغلی، که ګوري، د هغه د کفن او دفن انتظام سوی دی، او جنازه تیاره ده، نو هغه جنازه ئې قبر ته ور ښوه کړه، او حوري او جبرائیل او حضرت میکائیل څني رخصت سول.

حضرت عیسی علیہ السلام د الله تعالی پ حضور کي عرض پیش کړی: چي یا الله! زما مور چي په کم وخت کي وفات کېدله، نو زه په هغه وخت کي حاضر نه وم، یا الله ته ما ته یو ځل زما مور راژوندۍ کړه، چي زه د هغې سره خبري وکړم، چونکه د مړو را ژوندي

کېدل د حضرت عیسی علیه السلام معجزه هم وه، نو الله تعالی ده ته خپله مور په قبر کي را ژوندۍ کړه.

حضرت عیسی علیه السلام هغه قبر ته کښېنستی، او خپلي مور ته ئې ږغ وکړی: هغې جواب ور کړی، نو ده دستي دا پوښتنه ځني وکړه: موري! د مرګ څکه څنګه وه؟ او ده عزرائیل علیه السلام راتګ تاته په کم شکل وو؟

هغې په جواب کي ورته وویل: بچیه! د مرګ څکه داسي ترخه وه: چي تر قیامته پوري به زما د خولې څخه هغه تلخي ختم نسي، او نه به مي تر قیامته پوري د حضرت عزرائیل علیه السلام هغه د هشت څخه ډک شکل ددماغ څخه لیري سي.

او بیا ئې ورته وویل: چي الله تعالی ستا سره څه معامله وکړه؟ دې په جواب کي ورته وویل:

﴿.........قَدَمْتُ اِلَى رَبِّى فَوَجَدْتُهُ رَاضِيًا﴾.

زه چیکله خپل رب ته پیش سولم، نو هغه ما د رضا او خوشحالۍ په حالت کي پیدا کړی، د دغه وینا څخه وروسته هغه مور ورته وویل: چي ای بچیه! زه تر قیامته پوري نور ستا څخه رخصت اخلم، او ملاقات به د قیامت په میدان سره کوو، د هغه څخه وروسته د قبر څخه هغه آواز راوتل بند سول.(۱)

نو هر انسان ته د زکندن سخت ساعت ګوري، او د حضرت عزرائیل علیه السلام سره ملاقات کول دا دانسان مخته راځي، نو د دغه حالاتو فکر کول، نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حدیث مبارک چي: ﴿....مُوتُوا قَبْلَ اَنْ تَمُوتُوا﴾ معنی دا ده: چي د حقیقي مرګ راتلو څخه مخکي مړه سئ.

## د یو صحابي رضی الله عنه د زکندن حالت:

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو صحابي ناجوړه وو، دی مبارک د هغه د پوښتني لپاره راغلی، چي دی کله کښېناستی، نو هلته عزرائیل علیه السلام هم راورسېدی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته ګوري، نو عزرائیل علیه السلام خپله یوه ګوته د هغه صحابي پر سینه کښېښووله، د هغه صحابي د روح د قبض کېدلو کیفیت شروع سو.

پېغمبر ﷺ ورته وفرمایل:
عزرائیله! یو څه آساني وکړه، هغه په جواب کې ورته وویل: اې د الله تعالی محبوبه! ماته الله تعالی د مخکې څخه لا هم دا حکم کړی دی: چې زما د محبوب د صحابه وو سره به د روح په قبض کېدلو کې د آسانۍ معامله کوې، نو ځکه ما په یوه ګوته سره د دغه صحابي روح قبض کړی، او چې د بل چا روح قبض کوم، نو د هغه په سینه کې خپله مکمله پنجه وهم، او په ډېره سختۍ د هغه روح قبض کوم.

## د زکندن د وخت تکلیف:

د پېغمبر ﷺ حدیث مبارک دی: کچیرې حیوانانو ته د خپل مرګ ستاسو غوندې علم وسې، نو تاسو به چاغ حیوان هم د خورک لپاره پیدا نه کړې.
تاسو ګورئ! چې کله دیو چا ګوته پرېکېږي، نو څومره تکلیف لري، هغه ځکه چې د هغې ګوتې څخه روح وزي، او په نور بدن کې ځای پیدا کوي، اوس که د هغه ګوتې څخه د روح وتلو په خاطر انسان ته دومره تکلیف وي، نو چې د ټول بدن څخه روح وزي، نو په هغه وخت کې به د تکلیف کم حالت وي.
د دې بعضې ځایو کې داسې مثال بیان سوی دی لکه: یو ازغی دار درخته چې د انسان په ټوله بدن کې ځای ونیسي، او یو دم ئې انسان د هغه بدن څخه را باسي، نو د ټوله بدن رګونه او پلې او غوښې سره څیرېږي، نو څومره تکلیف به وي، دا غه رنګه د انسان د بدن څخه د روح وتلو تکلیف د زکندن پر وخت انسان محسوسوي.
یو بل مثال داسې هم بیان سوی دی: چې د مرګ په وخت کې انسان ته دومره تلکیف وي، لکه د ژوندي حیوان څخه چې انسان د ژوند په حالت کې پوست باسي.
حضرت علي رضی الله عنه به چې کله د جهاد خطبه ویله، نو په هغه وخت کې به ئې مجاهدینو ته فرمایل: اې مجاهدینو! د الله تعالی په لار کې د شهادت مرګ پیدا کړئ، نو تاسو ته به هیڅ تکلیف نوي، او که پر کور باندې مرګ درته راسي، نو په غچیانو سره د بدن د پرېکېدلو څخه به تاسو ته زیات تکلیف وي.
او کله به ئې ویل: چې په دېګونو کې او به اشېدلو تېلو کې د کبابېدلو څخه به زیات تکلیف تاسو ته محسوسیږي.

نو ځکه حدیث شریف دی:

........﴿لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ؛ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا﴾.(۱)

تاسو مړو ته بد مه وایاست، ځکه هغوی د خپل عمل سزا ته ورسېدل، د دې څخه دا معلومېږي: چي د مرګ تکلیف ډېر زیات وي، او هغه پر هغوی باندي تیر سول.

بلکه پیغمبر ﷺ به ډېر ځله د مرګ د سختۍ په باره کي دا ویل:

........﴿وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَوْ رَأَيْتُمْ مَا رَأَيْتُ، لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَ لَا تَلَذَّذْتُمْ بِالفُرُوْشَاتِ مَعَ النِّسَاءِ﴾.(۲)

زما دي په هغه ذات قسم وي: چي زما ساه د هغه په قدرت کي ده! کچیري تاسو هغه ووینی چي ما څه لیدلي دي: تاسو به ډېر کم وخاندی، او ډېر زیات به وژاړې، او نه به بیا په خپلو کورو کي د ارام او د راحت زندګي د خپلو زنانو سره تېره کړئ.

حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه به فرمایل: چي کله حضرت عزرائیل علیه السلام د انسان د مرګ پر رګ باندي ګوته کښېږدي، نو په دې وخت کي انسان ته ټول ولد انسانان ناولده سي، او ناولده مخلوق ور باندي راښکاره سي.

د انسان ژبه بنده سي، او د دنیا ټول شیان ځني هیر سي، پدې وخت کي د مرګ دومره زیات تکلیف وي، او انسان د مرګ په نشه کي مستغرق وي، کچیري د مرګ نشه نوای، نو ورته ناست انسانانو ته به دغه انسان داسي معلومېدلای، لکه پر ده چي د تورو ګذارونه کېږي.

## د حضرت فاطمة الزهرا جنازه:

حضرت فاطمة الزهراء چیکله وفات سوه، او د شپې په تیاره کي ئې د دې جنازه قبر ته راوړله، او دا ئې په قبر کي کښېښوو له.

نو حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه د زیات غم په حالت کي په جوش سره قبر ته دا وینا کوي:

(۱) مسند ابن ابی الجعد: حدیث نمبر ۷۴۶

(۲) مسند احمد: حدیث نمبر ۱۳۵۷۱

..............يَا قَبْرُ! اَتَدْرِیْ مَنِ الَّتِیْ جِئْنَا بِهَا اِلَیْکَ هٰذِهٖ بِنْتُ رَسُوْلِ اللّٰهِﷺ هٰذِهٖ زَوْجَةُ عَلِیٌّ الْمُرْتَضٰیؓ هٰذِهٖ اُمُّ الْحَسَنِ وَ الْحُسَیْنِ هٰذِهٖ فَاطِمَةُ الزَّهْرَاءؓ.

اې قبره! تاته در معلومه ده: چي دا دچا جنازه موږ تاته در شوه کړه، دا د رسول اللهﷺ لور مبارکه ده، او دا د حضرت علیؓ زنانه ده، او دا د امام حسن او حسین مبارکانو مور فاطمة الزهراء ده، او دا دجنت د ټولو زنانو سرداره ده.

د قبر لطرفه آواز ور باندي وسو:

..............يَا اَبَاذَر! مَا اَنَا مَوْضِعُ حَسَبٍ وَ لَا نَسَبٍ اِنَّمَا اَنَا مَوْضِعُ العَمَلِ الصَّالِحُ فَلَا يُنْجِ مِنِّیْ اِلَّا مَنْ كَثُرَ خَيْرُهُ وَ سَلِمَ قَلْبُهُ وَ خَلُصَ عَمَلُهُ.[1]

اې ابوذره! زه د حسب او نسب بیانوولو ځای نه یم، دلته د عمل صالح خبره ده، دلته به هغه څوک په آرام وي: چي د هغه عمل نیک وي، او د هغه زړه سالم وي، او د هغه عمل خالص د الله تعالی د رضا لپاره وي.

ځکه د دې ځای متعلق د الله تعالی دا فیصله ده:

..............لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ، إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ.[2]

چي دلته نه انسان ته مال او اولاد فائده کوي، دلته یو شی فائده او نفعه انسان ته رسوي، چي د هغه سره داسي زړه وي: چي هغه د ټولو ګناهونو څخه سالم او صفا وي.

## د حضرت عثمانؓ واقعه:

په حدیث شریف کي راځي: چي حضرت عثمانؓ به چي کله قبر ولیدی، نو ډېر زیات به ئې ژړل.

یو چا پوښتنه ځني وکړه: چي ته د دوږخ او جنت په ذکر اورېدلو سره دومره زیات نه ژاړې، لکه د قبر په لیدلو سره چي څومره ژاړې.

ده په جواب کي ورته وویل: چي قبر هغه خلوت خانه ده، چي هلته اول نظر د الله تعالی پر بنده باندي لګیږي، که په اول نظر کي بنده الله تعالی ته خوښ وګرځېدی، نو بیا به

---

[1] مواعظ ابراهیمي، و اکرم المواعظ: صفحه نمبر ۵۸

[2] سورة الشعرا: آیت نمبر ۸۸

را روانه ټوله زندګي د انسان هوسا او آسانه وي، او کچیري په اول نظر کي انسان د الله تعالی ناخوښه سو، نو بیا خو د هلاکت سره مخامخ ګرځي.
د دې حدیث په مضمون زناني ډېري ښه پوهیږي، هغه دا شان: چي پر ناوې د خپل خاوند نظر په اوله شپه باندي لګیږي، کچیري هغه خاوند ته خوښه سوه، نو د هغې ټوله زندګي به بیا خوشحاله وي، او که په اول نظر کي خاوند ته خوښه نسوه، نو بیا به ئې د زندګۍ ټوله دوران د ستړیا سره مخامخ وي.
لکه حدیث شریف دی:
......... ﴿اِنَّ الْعَبْدَ فِی الْقَبْرِ لَا یَرَی مَالًا وَ لَا وَلَدًا وَ لَا اَهْلًا فَلَوْ لَمْ یَرَی رَبَّهٗ فَالْوَیْلُ لَهٗ قَدْ خَسِرَ الدُّنْیَا وَ الْآخِرَةَ﴾.(۱)
بنده چیکله په قبر کي کښېښوول سي، نو هلته ده ته نه مال ور معلومیږي، او نه به اولاد او د کور انسانان دیویني، کچیري هلته دی خپل رب هم نه ویني، نو د ده لپاره لوی هلاکت او بربادي ده، چي دنیا او آخرت ئې دواړه د لاس څخه ووتل.
نو په دنیا کي زندګي داسي کول: چي دنیا د انسان په لاس کي وي، او زړه ته ئې ور شوه نسي، او د دنیا د بې ثباتۍ فکر کول او خپل مرګ او د قبر حالات همېشه په دماغ کي را ګرځول.
د حضرت علي رضي الله عنه حضورته یو سړی راغلی، او ورته وئې ویل: چي ما د فلانکي سړي څخه یو مکان رانیولی دی، د هغه قباله یعني: بیعنامه راولیکه، ده ورته وویل: چي قلم او کاغذ راوړه، هغه چي ورته راوړل، نو ده په دا شان قباله ور ولیکله:
............ ﴿اِشْتَرَی مَغْرُوْرٌ مِنْ مَغْرُوْرٍ دَارُ الْاَبْقَاءِ لَهَا وَ لِصَاحِبِهَا وَ هِیَ فِی سِکَّةِ الْغَافِلِیْنَ﴾:
............ اَلْحَدُّ الْاَوَّلُ: اَلْمَوْتُ.
............ اَلْحَدُّ الثَّانِیْ: اَلْقَبْرُ﴾.
............ وَ الْحَدُّ الثَّالِثُ: اَلْحَشْرُ﴾.
............ وَالْحَدُّ الرَّابِعُ: غَیْرُ مَعْلُوْمٍ، اِمَّا الْجَنَّةُ وَ اِمَّا النَّارُ﴾.

---
(۱) مواعظ ابراهیمي، و اکرم المواعظ: صفحه نمبر ۵۸

یو دوکه سوي د بل دوکه سوي څخه یو مکان رانیوی، چي هغه مکان او د هغه صاحب هیڅ بقا نه لري، او هغه د غافلینو په کوڅه کي دی، او د هغه څلور طرفه دادي:
اول طرف: د هغه مرګ دی.
دوهم طرف: د هغه قبر دی.
او دریم طرف: د هغه میدان حشر دی.
او څلورم طرف: د هغه نامعلوم دی: جنت به وي، یا دوږخ.
چیکله هغه مسوده خریدار واورېدله، نو ژړا ئې شروع کړه، او په چیغو دهغه ځای څخه ولاړ سو، او دمکان د رانیولو څخه ئې انکار وکړی. (۱)

## د حضرت یوسف علیہ السلام عجیبه واقعه:

نو په دنیا کي چونکه انسان ته د مرګ حادثه ګوري، نو د دنیا زندګي که پر انسان باندي په هر قسم تیره سي، یا تېره سوې وي، نو هغه د خپل یاد څخه غورځول او د خپل مرګ او آخرت او د راروانو منازلو فکر په دماغ کي راګرځول.
د حضرت یوسف علیہ السلام سره ورونو ډېره زیاته جفا وکړه، چي دی ئې په څاه کي واچاوی، او بیا ئې د قافلې پر انسانو خرڅ کړی، او بیا وروسته الله تعالی ده ته بادشاهت او د عزت زندګي ور نصیب کړه، دمصر حاکم او بادشاه الله تعالی جوړ کړی.
په کوم وخت کي چي دی دمصر حاکم وو، نو یوه ورځ یو سړي پوښتنه ځني وکړه: چي ستا سره ورونو څنګه سلوک وکړئ؟ ده په جواب کي ورته وویل: چي دا پوښتنه مه را څخه کوه، چي ورونو څنګه سلوک را سره وکړی، بلکه د دې پوښتنه را څخه کوه: چي نه معلوم: زما رب به زما سره څنګه سلوک وکړي.
یو ځل د ده یو دوست چي د ده سره ډېر بې تکلفه وو، چي هغه وده ته په داسي وخت کي راغلی: چي دی دمصر بادشاه وو، نو ده ته ئې وویل: اې یوسفه! هغه وخت دي یاد دی: چي د غلامۍ ځنځیر دي په غاړه کي وو. او د غلام په شکل د مصر په بازار کي ولاړ وې.

---

(۱) مواعظ ابراهیمي، و اکرم المواعظ: صفحه نمبر ۵۸

ده په جواب کي ورته وويل: د مزري په غاړه کي که څوک ځنځير ور واچوي. نو ايا په هغه سره د زمري په شجاعت کي فرق راځي.
نو هغه ورته وويل: نه.
نو ده ورته وويل: دغه رنګه د يوسف په غاړه کي ځنځير وو، په هغه سره د يوسف په کمالاتو کي کمی نده راغلی.
هغه دوست ورته وويل: چي هغه ورځ در ياديږي: چي ته په څاه کي پروت وې.
ده په جواب کي ورته وويل: چي پر سپوږمی باندي د باران او وريځي په ورځ شپول راوګرځي، او دا پخپل مابين کي راولي، او توره ليکه پر دې باندي شا او خوا راګرځېدلې وي، ايا د دغه ليکي په وجه د شپوږمی په حسن او شائست کي څه کمی راځي؟
هغه ورته وويل: چي نه راځي.
نو ده جواب ورکړی: چي د يوسف په څاه کي لوېدل، او پر هغه باندي د څاه چارديواري راګرځېدل هم دده کمال هيڅ نه کموي.
هغه دوست بيا ورته وويل: چي ته په مصر کي کله خرڅېدل، هغه وخت در ته ياد دی؟
نو ده جواب ور کړی: چي مناسب دغسي وه، چي دنيا ته دا معلومه سي، چي د يوسف غوندي حسين هم قيمت لري، او هم خرڅيږي، که بې قيمته دی، هغه يو ذات دی، چي د هغه دا شان دی:
.........لَيسَ كَمِثلِهِ شَيئٌ﴾.
چي د هغه يو شی هم قيمت نسي کيدلای.
هغه دوست بيا ورته وويل: چي د قيد خانه د قيد وخت درته ياد دی.
ده په جواب کي ورته وويل: چي بچی د مور په نس کي قيد وي، ايا هغه ته څه نقصان رسيږي، بلکه د مور د نس قيد لا هم د ده لپاره د حيات او ترقی ذريعه وي، نو د يوسف د مصر په قيدخانه کي هم د ترقی ذريعه وګرځېدل، چي د هغه څخه دی بادشاهی ته ورسېدی.
د هغه خبرو څخه وروسته ده و هغه دوست ته وويل: چي تا زما لپاره څه تحفه راوړېده، دې وخت کي د هغه دوست سره هيڅ شی قابل د تحفې نه وو، مګر آخر ئې يو هينداره د

حضرت یوسف علیہ السلام و مخته د تحفې په شکل کښېښوول، حضرت یوسف علیہ السلام چې هغه هينداره ته وکتل، او د ده د مخ شکل په هغه هينداره کې راغلی، نو د هغه حسن يو په دوه سو، حضرت يوسف علیہ السلام هغه تحفه واخیستله، او د خپل دوست څخه ډېر خوشحاله سو.

نو زه دا وايم: کچیري الله تعالی د قیامت په میدان کې د خپلو بندګانو څخه د تحفې طلب وکړي، نو مؤمن فوراً خپله زړه چې د هینداري غوندي د ایمان په نور سره روښانه وي، د الله تعالی و حضور ته پیش کړي، دمؤمن د زړه په نور کې چیکله دالله تعالی د ذات جلوه او دیدار راسي، نو به نور علی نور وي.

او ددغه نور سره چیکله مؤمن ته دحساب او کتاب اخیستلو وروسته حکم وسي: چې جنت ته ولاړ سه، نو دی به ووايي: يا الله! د جنت لار چیري ده، نو الله تعالی به و ده ته د جنت لار د جهنم پر سر د پُل صراط په شکل ور ښکاره کړي.

دی چې کله پر پُل صراط باندي راپورته سي، او د ده سره ایماني نور ور سره وي، نو جهنم به ناري کړي:

........عَجِّلْ عَجِّلْ يَا مُؤْمِنُ! فَإِنَّ نُوْرَكَ اَطْفَأَ نَارِیْ﴾.

اې مؤمنه په تلوار سره تير سه، ځکه ستا ايماني نور زما داور لمبې را سړې کړې.

او پدې وخت کې به الله تعالی جهنم ته ووايي: اې جهنمه! خپل دوستان او ستا غوښتونکي انسانان در ونيسه، او زما محبوب انسانان ماته را پرېږده.

جهنم چې کله دا واوري، نو په ده کې به يو سخت ترينه زلزله پيدا سي، چې پُل صراط به پر دا بل مخ واوړي، او بې شماره انسانان به په جهنم کې ولويږي، مګر مسلمانانو ته به دغه زلزله داسي ور معلوميږي: لکه په دنيا کې چې يو يخه هوا د سهار په وخت کې پر انسانانو باندي راځي.

چي د هغه هوا د خوند په وجه به پر هغه انسانانو باندي خوب غالبه سي، او دوی به په دغه وخت کي د ډېر اطمینان په وجه بیده سي، او چیکله د خوب څخه سترګي را روښي کړي، نو دوی به جنت ته رسېدلي وي.

لکه دا د الله تعالی فیصله ده:

............وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا، ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾.(۱)

په تاسو کي هیڅ څوک داسي نسته: چي هغه دي د جهنم پر سر تېر نسي، بیا چي کوم خلک تقوی لري، هغه به محفوظه وي، او چي کوم خلک ظالمان دي، هغه به د پُل صراط څخه په جهنم کي پړ مخي لوېږي.

په یو روایت کي داسي هم راځي: چي د حشر په میدان کي به بعضي کاملینو ته الله تعالی خپل دیدار ور کړي، او دوی به پر سجده پرېوزي، او چیکله دسجدې څخه سر راپورته کړي، نو که ګوري: د حشر میدان به ټول ختم سوی وي، دوزخیان به دوږخ او او جنتیان به جنت ته رسېدلي وي.

نو دوی به هم د هغه ځای څخه والوزي، او جنت ته به ورسیږي، نو د دوی په یوه سجده کي به ټوله د حشر میدان ختم سي.

حالانکه عام خلک به په ډېر سخت حالت کي وي، او د ...رَبِّیْ نَفْسِیْ رَبِّیْ نَفْسِیْ﴾ نارې به وهي، مګر د الله تعالی د عاشقانو به یوه سجده هم پای ته نوي رسېدلې.

په آخر کي زه تاسو د حضرت پیران پیر شیخ محی الدین جیلانی رحمۃ اللہ علیہ یو مقوله پیشوم:

............فَكَمْ مِنْ كَفَنٍ مَغْسُوْلٌ وَ صَاحِبُهُ فِی السُّوْقِ مَشْغُوْلٌ﴾.

(۱) سورة مريم: آيت نمبر ۷۱

ډېر کفن اغوستونکي انسانان تر اوسه پوري په بازارو کي په خريد او فروخت باندي مشغوله وي، او دخپله مرګ څخه غافله وي.

.........وَ كَمْ مِنْ قَبْرٍ مَحْفُوْرٍ وَ صَاحِبُهُ بِالسُّرُوْرِ مَغْرُوْرٍ﴾.

د ډېرو خلګو قبرونه تيار ولاړ وي، مګر په هغه کي د دفن کېدونکي انسانانو په غفلت سره خپلي خوشحالۍ جوړوي.

.........وَ كَمْ مِنْ فَمٍ ضَاحِكٍ وَ هُوَ عَنْقَرِيْبُ هَالِكٌ﴾.

ډېر خلګ خنداګاني کوي، او حال دا دی: چي په لنډ وخت کي به دوی د خپل مرګ سره مخامخ سي.

.........وَ كَمْ مِنْ مَنْزِلٍ كَمِلَ بِنَائُهُ وَ صَاحِبُهُ قَدْ اَزِفَ فَنَائُهُ﴾.

ډېر محلات او مکانونه اوس نوي نوي تيارېدونکي دي، چي د هغه د مالکانو د مرګ وخت رانږدې سوی دی.

نو دنيا عارضي او فاني او ژر ختم کېدونکې ده، نو چې انسان ته حقيقي مرګ راځي، نو په کار دادی: چي د هغه څخه مخکي انسان د خپل مرګ فکر او سوچ کوي.
او خپل زندګي د مرګ په تياري کي تېره کړي، بيا به په راتلونکو منازلو کي انسان ته پرېشاني او پښېماني نوي.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو په دماغو کي د مرګ فکر راکړي، او الله تعالی دي په را روانو منازلو کي موږ او تاسو د هر قسم پرېشانۍ او پښېمانۍ څخه محفوظه کړي.

او الله تعالی دي دغه مختصره مذاکره په خپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي.

آَمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآيه)

# د مرګ ياد، دويمه حصه

(بيان)


مولوى اطيع الله صاحب

استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ٹاؤن) چمن



مکتبه سلطانيه الهاشميه

کانسی روڈ کوئٹه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ قُلْ فَادْرَءُوا عَنْ أَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : ﴿اللّٰهُمَّ اجْعَلْ لَنَا فِي الْمَوْتِ رَاحَةً وَرَوْحًا وَمُعَافَاةً﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو ! الله تعالی انسان ته په دنيا کي زندگي ور کړېده، خو دانسان د زندگۍ مقصد د الله تعالی بندگي او عبادت دی، او هم د آخرت فکر او د آخرت لپاره تياري کول دي، انسان لکه څنگه چي د دنيا په زندگي کي د د نيا لپاره محنت کوي، نو مناسب دا وي: چي د هغه څخه زيات د آخرت لپاره محنت وکړي، څکه زموږ د بزرگانو به همېشه خپلو متعلقينو ته دا وصيت وو:

.........اعْمَلْ لِلدُّنْيَا بِقَدْرِ بَقَائِكَ فِيهَا , وَلِلْآخِرَةِ بِقَدْرِ بَقَائِكَ فِيهَا﴾.(٣)

تاسو د دنيا لپاره دومره کوشش کوئ، چي څومره مي ژوند په دنيا کي وي، او د آخرت لپاره بيا دومره کوشش کوئ: چي څومره ژوند مي په آخرت کي وي.

---

(١) سورة آل عمران: آيت نمبر ١۶٨

(٢) الزهد لاحمد بن حنبل: حديث نمبر ١۶۶٣

(٣) حلية الاولياء و طبقات الاصفياء: باب سفيان ثوري و منهم الامام المرضی: صفحه نمبر ۵۶

## د آخرت د ژوندي مثال:

امام غزالي رحمة الله عليه د آخرت د ژوندي مثال داسي بيان کړی دی: کچيري يو انسان په خپله لفه کي د وړدنو داني راواخلي، نو په هغه کي به د زرو په تعداد را ځي، کچيري هغه انسان خپله لمن په هغه دانو ډکه کړي، نو يقيناً به د لکونو په تعداد کي وي.
او کچيري په ټوله دنيا کي هغه د وړدنو داني داسي سره وغوړوي: چي پورته تر آسمانه پوري ورسيږي، د شرق څخه بيا تر غرب د جنوب څخه بيا تر شمال دغه ټوله فضا د دغه دانو څخه ډکه سي.
او بيا يو مرغه زر(۱۰۰۰) کاله بعد د هغه څخه يوه دانه پورته کوي، زر(۱۰۰۰) کاله بعد دوهمه دانه او بيا زر کاله بعد دريمه دانه پورته کوي، نو يو وخت به راسي: چي هغه داني به ټولي ختم سي، مګر د انسان د آخرت ژوندي هيڅکله نه ختم کيږي.
نو مناسب دا ده: چي انسان د آخرت ژوندي او مهلت يو غنيمت وبولي، او په ښه استقامت سره د آخرت تياري وکړي، د کم انسان په زړه کي چي د آخرت ياد وي، نو هغه د دغه شان کوچنيو کوچنيو خبرو څخه هم عبرت اخلي.
نو چي کله يو نوجوان سهار را کښيني، نو دستي د خپل کار او ژوند او د تجارت او دوکانداري په فکر کي وي، چي کله انسان د هغه نوجوان څخه د دغه کار او تجارت پوښتنه وکړي، نو دی به جواب ور کوي: چي زما ژوندي او زما ژوند بغير د دغه کسب او تجارت څخه نه آسانه کيږي.
نو کچيري د قيامت په ميدان کي الله تعالی د ده و مخته د جنت نعمتونه ښکاره کړي، او بيا د ده څخه د هغه لپاره د محنت پوښتنه وکړي، او د ده سره هيڅ نو وي، بيا به څومره د پرېشاني او پښېماني حالت وي.
خو دا رنګه چيکله يو زنانه سهار راکښيني، نو دا فکر ورسره وي: چي د بچيانو لپاره ناشته برابره ول، او د خپل کور صفائي کول، پردې او جامې وينځل، نو هغه په دغه کارو کي په ساعتو ساعتو مشغوله او مصروفه وي.
کچيري د دغه زناني څخه يو څوک پوښتنه وکړي: چي دغه دومره محنت ولي کوې؟
نو دا به ووايي: چي بيا به خلک زما متعلق وايي: چي دا څومره ګنده او ناپاکه زنانه ده، نو د خلکو په نظر کي د خپل ځان ښه راوستلو لپاره دا څلور او پنځه ساعته وخت

لگوي، کچیري د قیامت په میدان کي الله تعالی ورته وایي: چي ای زما بنده! ستا زړه خو هم زما کور وو، ستا سره د هغه د صفا کولو لپاره لس(۱۰) دقیقې وخت نه وو، د استغفار ویلو لپاره وخت نه وو، او نه زما پر محبوب باندي د درود ویلو ستا سره وخت وو، نو بیا به هلته موږ د الله تعالی په حضور کي څه جواب پیشوو.

نو زندگي موږ او تاسو ته الله تعالی د مرگ د تیاری لپاره راکړېده، او د مرگ تیاري کول زموږ او ستاسو د زندگۍ اهم مقصد هم دی، او زندگي د یو څو ورځو خبره ده، یو وخت ماشوموالی وي، چي انسان مخ راګرځوي: هلک والی راورسیږي، او د هغه ځخه وروسته ځواني ده، او بیا بوډاوالی او بیا مرگ دی.

نو په زندگي کي د خپل مرگ او د قبر او د حشر او نشر او د الله تعالی و حضور ته د پېښېدلو فکر کول او خپل ژوند د دغه حالاتو په تیاري کي تېرول.

## د قیامت بیره:

په کتابو کي راځي: چي یو ځل د حضرت عیسی علیه السلام حواریینو ده ته وویل: چي موږ پر تا هغه وخت ایمان راوړو، چي ته و موږ ته یو معجزه را ښکاره کړې، ده ورته وویل: چي تاسو څه معجزه غواړئ؟ دوی دا غوښتنه وکړه: چي یو مړی زموږ و مخته را ژوندی سي، او موږ ته د آخرت حالات بیان کړي.

حضرت عیسی علیه السلام دوی یو قبر ته راوستل، او هلته ئې د قبر و مړي ته آواز ورو کړی: چي: قم باذن الله، د الله تعالی په اذن او اجازه سره راپورته سه.

د حضرت عیسی علیه السلام معجزه وه، الله تعالی ده ته هغه مړی د څه وخت لپاره را ژوندی کړی، نو که ګوري: یو نوجوان پخپل قبر کي ودرېدی، چي د بدن ټوله ویښتان ئې سپین وو، مګر د هغه چهره او مخ ځوانانو غوندي وو.

حضرت عیسی علیه السلام یو ښتنه ځني وکړه: چي ته څوک ئې؟ هغه ورته وویل: چي زه د حضرت نوح علیه السلام نیک عمله زوی یم، د حضرت نوح علیه السلام یو زوی کنعان وو، چي هغه په اوبو کي غرق سو، او دري(۳) زامن ئې نور وو، چي د هغه نمونه: حام، سام، یافث وو، چي انسانیت ټوله د دغه درو نسل بلل کیږي.

حضرت عیسی علیه السلام پوښتنه ځني کوي: چې په دغه قبر کې دي څومره وخت کیږي؟ هغه په جواب کې ورته وویل: چې په دې قبر کې مې څلور زره (۴۰۰۰) کاله پوره سول.
حضرت عیسی علیه السلام د قبر د زندګۍ پوښتنه ځني کوي: نو دی په جواب کې ورته وایي: چې د قبر زندګي خو سخته وه، لیکن چیکله ماته د قم باذن الله امر وسو، نو زما دا ګمان سو: چې قیامت راورسیدی، نو د قیامت د بیري زما د بدن ټوله ویښتان تک سپین سول، او زما دا ګمان وو: چې شاید زه د قیامت لپاره راپورته کیږم.
او د قیامت به داسي ورځ وي: چې الله تعالی په قرآن کریم کې وایي:
.........﴿يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا﴾.(۱)
د هغه ورځي د سختۍ څخه ځان وګورئ، ځکه چې هغه داسي ورځ ده: چې بچیان به د هغه ورځي د وحشت څخه بوډاګان کیږي، چې کم چا زندګي د آخرت په فکر کې تېره کړېوي، نو پر هغه باندي به دغه ورځ بیا آسانه وي.

## د نعمتونو واپسي:

نو په ځواني باندي او په قوت باندي او د دنیا په زندګي باندي نه مغروره کېدل، او نه د دنیا په نعمتونو دوکه کېدل، ځکه: دا ځواني د یو ځپې په شان په دریاب کې راځي، بیرته کرار کرار آرامیږي، او دغه نعمتونه ټوله د قرض او د پور مال دی، د څه وخت استعمالولو څخه وروسته د انسان څخه بیرته اخیستل کیږي.
حضرت سعدي رحمة الله علیه یو ځل په سفر کې پر یو لاره باندي روان دی، نو په هغه لاره کې یو دوست په مخه ورغلی، هغه پوښتنه ور باندي کوي: چې څنګه حال دی؟ ده د هغه په جواب کې یو عجیبه خبره ورته وکړه:
چې د الله تعالی نعمتونه مې خوړل خوړل غاښونه مې زاړه او مات سو، لیکن ژبه مې د هغه د ناشکرۍ کولو څخه را منعه نه سوه.

(۱) سورة الشعراء، آیت نمبر ۱۷

## د نعمتونو قدرداني:

موږ ته دغه نعمتونه د يو څه وخت استعمالولو لپاره را کول سوي دي، او زموږ څخه د قيامت په ورځ د دغه نعمتونو د استعمال پوښتنه کيږي.
کچيري موږ د دغه نعمتو صحيح استعمال وکړو، نو الله تعالی به د قيامت په ورځ په دغه نعمتو کي موږ ته نوره اضافه راکوي.
لکه په دنيا کي چي موږ ته الله تعالی سترګي د نظر کولو لپاره راکړي دي، خو د هغه د استعمال طريقه ئې داسي را ښوولې ده:
............﴿يَا ابْنَ آدَمَ جَعَلْتُ لَکَ عَيْنَيْنِ وَ جَعَلْتُ عَلَيْهِمْ الْغِطَاءَ فَانْظُرْ بِعَيْنَيْکَ مَا اَحْلَلْتُهُ لَکَ وَ اِلَّا فَاجْعَلْ عَلَيْهِ الغِطَاءَ﴾.
اې د آدم زويه! ما تا ته سترګي در کړي دي، او هم پر هغوی باندي مي پرده لګولې ده، نو ته پدې سترګو حلال شيان وينه، کچيري حرام مخ ته در ته راغلو، نو پر سترګو باندي هغه پرده راغوړوه.
اوس که انسان په دنيا کي د خپل نظر حفاظت وکړي، نو په آخرت کي به په دغه سترګو د الله تعالی دذات ديدار کوي، او هم به د انبياء کرامو او د اولياؤو زيارت کوي.
دغه رنګه سر او تندی الله تعالی د سجدې لپاره راکړی دی، چي دا به د عاجزی په شکل د الله تعالی پر قدمو باندي لګيږي، څکه حديث شريف دی:
............﴿السَّاجِدُ يَسْجُدُ عَلَی قَدَمَيِّ الرَّحْمَن﴾.
چيکله يو څوک سجده کوي، نو ظاهراً د ده تندی پر مځکه باندي وي، ليکن په حقيقت کي هغه تندی د الله تعالی پر قدمو باندي لګيږي.
کچيري په دنيا کي او د ځوانۍ په زمانه کي د خپل عزت او عصمت حفاظت انسان وکړي، نو چيکله د الله تعالی و حضور ته ورسي، او قيامت ورځ وي، او لمر ډېر زيات ګرم وي، او ټوله انسانان پخپله خوله کي غرق وي، او ډېر د پرېشانۍ عالم وي.
نو الله تعالی به ورته وايي: ای زما بنده! چي تا په ځواني کي نيک عمل کوی، او هم دي د خپلي ځوانۍ حفاظت کاوی، نو راسه! زما د عرش تر سايه لاندي کښېنه، بيا به هلته هغه انسان دومره په راحت کي وي: چي ده ته به دا معلومه نسي: چي ګرمي سته او کنه.

او کچيري انسان د نيک عملی زندګي اختيار کړي، نو د قيامت ورځ چي د پنځوس زره کاله سره برابره ده، پر عامو انسانانو به ډېر اوږده وي، ليکن دغه انسانان به الله تعالی د مشک غونډيو ته ور واستوي، چي دوی کله دهغه خوشبوئي بويوي، نو د قيامت ورځ به تېره سي، ځکه حديث شريف دی:
چي پر نيک عمله انسانانو د قيامت ورځ په دومره وخت تيريږي: لکه په دنيا کي چي د يو ږُغولانځه لوښل کيږي.
کچيري انسان د الله تعالی دنعمتو استعمال په صحيح طريقه وکړي، او خپل رب د ځان څخه راضي کړي، او دی په داغه کي دالله تعالی حضور ته ورسي، نو الله تعالی به ورته ووايي: اې زما بنده! ستا دبدن وربښتان دايمان په حالت کي سپين سول، اوس چي زه ستا څخه د زندګی حساب اخلم، نو ماته حيا راځي، نو دغه رنګه بنده به الله تعالی بغير دحساب او کتابه جنت ته رسوي.
ليکن افسوس! چي اوس پر انسانانو زندګي ډېره د غفلت په حالت کي تيريږي، حضرت علی رضی الله عنه يو ځل د سهار لمونځ ادا کړی، او دخپل محراب څخه راسته طرفته په صف کي کښېناستی، او دده پر مخ باندي د پرېشانی آثار ښکاره وه، د لمر راختلو پوري پر هغه ځای باندي ناست وو، د هغه څخه وروسته ئې خپل لاسونه د افسوس په شکل يو په بل پوري موړل، او دا ئې ويل:
د الله تعالی په ذات دي مي قسم وي: چي ما د پيغمبر صلی الله عليه وسلم صحابه کرام ليدلی ول، نن يو خبره هم د هغوی سره مشابه نه وينم، هغوی به په داسي حالت کي سهار کاوی، چي وربښتان به ئې سره خواره واره ول، او موخان به ئې ژړ ول، او پر مخانو به ئې د بې خوبی اثرات ښکاره ول، ټوله شپه به ئې د الله تعالی و مختته په سجده کي يا په ولاړه کي تېروله، قرآن کريم به ئې وايي، کله به ئې پر يوه پښه او کله به ئې پر بله پښه باندي تکيه کوله، خو چيکله به ئې د الله تعالی ذکر کاوی، نو د خوند او مزې څخه به داسي سره ښوريدل: لکه درخته چي په هوا کي سره ښوري.
او د الله تعالی دبيري او شوق څخه به د هغوی د سترګو څخه دومره اوښکي تويېدلې، چي د هغوی لباسونه به همېشه په اوښکو باندي لانده ول، اوس زه هغه حالت نه وينم، بالکل د انسانانو شپې په غفلت کي رواني دي.

نو حضرت علي ﷛ چي د کمي زمانې پر خلګو د افسوس اظهار کوي، په هغه زمانه کي صحابه کرام موجود دي، او د تابعينو زمانه ده، نو زموږ او ستاسو په موجوده دور کي به کم حالت وي، الله تعالی دي زموږ او ستاسو پر حالاتو باندي رحم وکړي.

## يقيني خبره:

په يو کتاب کي ليکلي دي: د يو کنډي زناني يو زوی وو، چي هغه وفات سو، نو د هغې زړه د هغه و تجهيز او تکفين ته په هيڅ شکل باندي تيار نه وو، او نه ئې په زړه کي د زوی مرګ راتلی، او نه د هغه و منلو ته تياره وه.
پر هغه ځای باندي چي کم ملا يا طبيب ولاړ دی، نو هغه ته وايي: چي ته کوشش وکړه، چي زما زوی بيرته راژوندی سي، هغه چي هر څومره دې ته تسلي ورکوي، چي ستا زوی و فات سو، هغه بيا نه راژوندی کيږي، خو دا د هغه و خبري اورېدلو او منلو ته تياره نه وه، آخر هغه ورته وايي: چي موري! ستا زوی وفات سو، او هيڅکله په دنيا کي بيا ژوند نسي پيدا کولای.
ليکن چونکه د دې په دماغ کي هغه خبره نه راتله، نو هغه د دې د تسلۍ لپاره ورته وايي: چي په يوه نسخه باندي ستا زوی را ژوندی کيږي، هغه دا: چي ته په دې محله او کلي کي د داسي چا د کور څخه اوبه راوړه: چي په هغه کي څوک وفات سوی نوي، زه به هغه اوبه د ده په خوله کي ور واچوم، دی به را ژوندی سي.
هغه بوډۍ په منډه روانه سوه، کور په کور ګرځي، او اوبه غواړي، په هر کور کي چي دا پوښتنه کوي، نو هغه ورته وايي: چي په دې کور کي زموږ انا يا نيکه يا ورور يا مور وفات سوېده، خو غرض دا: په ټوله کلي کي ئې داسي کور نکړی پيدا: چي په هغه کي څوک نوي وفات سوی، واپس نااميده راغله، نو هغه طبيب او ملا ته ئې وويل: چي ما خو دغه شان کور پيدا نکړی، نو هغه ورته وايي: چي موري! په ټول کلي کي دا سي کور نسته: چي په هغه کي څوک نوي وفات سوی، نو ستا کور هم دغسي نسي پاته کېدلای، چي پدي کي دي څوک نه وفات کيږي.
نو چي دنيا ته انسان راسي، نو ضرور به يوه ورځ وفات کيږي، او قبر ته به ور شوه کيږي، خو دغه زندګي الله تعالی د دغه مرګ او د قبر د تياري لپاره راکړېده.

## د مرګ یاد او د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه واقعه:

صاحب د تذکرة الاولیاء د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه په حالاتو کي لیکلي دي: چي دی په ابتداء کي د جواهرو او د قیمتي ملغلرو تاجر وو، تجارت به ئې کوی، او ډېرو غټو بادشاهانو ته به ئې جواهرات په تحفه کي ور وړل.

یو ځل ئې یو څه جواهرات هرقل ته چي د روم بادشاه وو، په تحفه کي راوړل، اول ځل ئې د وزیر سره ملاقات وکړی، او بیا ئې و بادشاه ته د تحفې پیشولو حال پیش کړی، وزیر ورته وویل: چي صبا خو بادشاه ډېر زیات مصروفه دی، او سبا ورځ هغه هیڅ فرصت او وخت نه لري، چي ته ملاقات ور سره وکړې، ځکه سبا د بادشاه د زوی د مرګ کال پوره کیږي، او د هغه کلنی رسم دی، که ته غواړي، نو په هغه کي شرکت کولای سې، او هغه په سترګو لیدلای سې.

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه هم پخپله د هغه رسم د لیدلو خواهش ښکاره کړی، وزیر دی د ځان سره یو میدان ته ور وستی، چي په هغه کي یوه لویه خیمه قائمه وه، او په هغه کي دننه اعلی درجه فرش او غالیـ هواري وې، د هغه تناونه د وربښمو وو، او پخپله هغه خیمه هم د وربښمو څخه جوړه سوې وه، د هغه تمبې د سپینو زرو څخه وې، او د هغه میخونه د سرو زرو څخه وو، چي نهایت قابل دید وو.

وزیر حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د خیمې په یو کنج کي ودراوی، او ورته وئې ویل: چي بس اوس دغه تماشا ته ګوره، د هیڅ چا څخه پوښتنه مه کوه، زه په آخر کي د هغه ټولو معلومات درکوم.

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه په هغه خیمه کي ولاړ دی، هغه خیمه په حقیقت کي د هِرقل بادشاه د یو ګران زوی پر قبر باندي جوړه وه، او نن د هغه عُرس او کلنی رسم وو، او بادشاه پخپله د هغه رسم ادا کولو لپاره هلته حاضر وو.

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه که ګوري: نو د ټولو څخه مخکي یوه ډله د عیسائي راهبانو خیمې ته راغلل، او قبر ته ودرېدل، او څه ئې ویل، او هم ئې ژړل بیرته د خیمې څخه ووتل.

بیا یوه ډله د طبیبانو چي د هغوی سره یو قیمتي دواګاني ور سره وي، پر قبر را وګرځېدل، دا خلک هم لڅ سر او لڅي پښي ول، او قبر ته ئې ژړا وکړه، د هغه ځخه وروسته ووتل.

بیا یوه ډله د عسکرو چي د هغه توري په لاس کي وې، خیمه ته راغلل، سلامي ئې ورته وکړه، د یو ساعت درېدلو ځخه وروسته ووتل.

یوه ډله د خوبصورته زنانو چي د هغه د سر ییښتان سره خلاص ول، د هغوی په لاس کي ډېر زر او جواهر ول، پر قبر ئې طواف وکړی، او یو ساعت ئې وژړل، دا هم د خیمې ځخه ووتل.

د هغه ځخه وروسته د ټولو په آخر کي بادشاه په خپله خیمې ته راغلی، او قبر ته ودرېدی، او وئې ویل: ای بچیه! ته در ټولو ماته ګران او خوښ انسان وې، پردې افسوس چي ته وفات سوې، کچیري ماته معلومه سي: چي کم چا ستا روح اخیستی دی، هغه د دغه راهبانو او عبادت کونکو په سفارش او د هغوی ددعا په برکت ستا روح تاته واپس کوي، نو خو دغه لوی لوی راهبان او عابدان ستا حضور ته حاضر دي، مګر زه ښه پدې پوهیږم: چي د هغوی په دعا هیڅ نه کیږي.

که ماته دا معلومه سي: چي د طبیبانو په دوا ستا روح بیرته تاته راګرځي، ګو د طبیبانو دغه لویه ډله ستا قبر ته راغله، او ستا د روح د راګرځېدلو تدبیر ئې په دواګانو سره وکړی، مګر زه پدې پوهیږم: چي ستا روح یو داسي زور ور ستا ځخه اخیستی دی، چي د هغه و مخته یو تدبیر هم کارګر نسي کیدای.

ای بچیه! کچیري ماته دا معلومه سي: چي کم چا ستا روح اخیستی دی، هغه د عسکرو د بیري ځخه ستا روح بیرته واپس کوي، نو دا دومره عسکر توري په لاس ستا د روح د خلاصولو لپاره ستا قبر ته ولاړ دي، لیکن چي کم چا ستا روح قید کړی دی، هغه داسي زور ور ځوک دی: چي هیڅ یو ځوک دهغه مقابلې ته نسي را وړاندي کیدلای.

او که ماته دا معلومه سي: چي کم چا ستا ځخه روح اخیستی دی، هغه د ښائسته زنانو شوقي دی، او د هغه زنانو په وجه تاته روح بیرته در کوي، نو د دغه ښائسته زنانو ډله هم ستا قبر ته حاضره ده، مګر د هغه هم په وسع او طاقت کي هیڅ نه راځي، او که مال

او دولت ستا روح واپس کولای سوای، نو هغه هم د هغه زنانو سره موجود دی، مګر د دې ټولو سره ماته دا معلومه ده: چې ستا روح په هیڅ شکل بیا تاته نه واپس کیږي.
نو ځکه زه بیا یو ځل د یو کال لپاره ستا څخه رخصت اخلم، او روان یم، د دې ویلو سره هرقل د خیمې څخه را وواتی، او ټول خلګ د قبر څخه سره ولاړل.
حضرت حسن بصري رحمة الله علیه فرمایي: چې د دغه واقعې د لیدلو څخه زما پر مزاج ډېر زیات بوج راغلی، او دا حقیقت مي دماغ ته شوه سو: چې مرګ په هیڅ شکل د انسان څخه نه ګرځي، نو زما زړه د دنیا څخه مات سو، او وروسته ما د دنیا جواهرات او ملغلري خرڅول پرېښوول، او د آخرت د جواهراتو خریدار مي د ځان څخه جوړ کړی، چې د هغه نتیجه دا وه: چې په لږ زمانه کي حضرت حسن بصري رحمة الله علیه ته د دې امت په لوی اولیاؤو کي الله تعالی ځای ور کړی.(۱)

## د سکندر باچا عجیبه واقعه:

حیاة الحیوان کتاب کي لیکلي دي: چې کم وخت سکندر رومي ملکونه فتحه کول، او د فتوحاتو په ترتیب کي روان وو، نو د چین ملک ته راورسېدی، پدې وخت کي د چین حکومت د یو زناني سره وو، چې هغه د خپل پلار د وفات څخه وروسته پر هغه حکومت باندي حاکمه ګرځېدلې وه.
د چین هغه شهزادۍ خپلو جاسوسانو ته ویلي وو، چې تاسو مالره یو ځل د سکندر رومي تصویر او عکس په پټه راورسوئ، هغوی ورته را رسولی وو، نو دې ښه په دقیق نظر هغه عکس کتلی وو، نو دې د مخه لا سکندر رومي پېژندی، او د هغه شکل او تصویر د دې په مغزو کي پروت وو.
سکندر رومي د چین د ښهر څخه د باندي خپل لښکر واړاوی، یوه ورځ ئې د فقیر لباس واغوستی په داسي شکل چې څوک ئې نه پېژني، پدې نیت چې د ښهر معلومات ځان ته وکړي، او د بادشاه محل ځان ته معلوم کړي، نو په هغه ناولده لباس کي راغلی، په ښهر کي وګرځېدی، آخر د بادشاه محل ته د یو فقیر په شکل د سوال کولو لپاره را حاضر سو.

(۱) اکرم المواعظ، مواعظ ابراهیمي: صفحه نمبر ۶۱

هغه د چین شهزادۍ چیکله ده ته وکتل، چي د فقیر په لباس کي دی، نو دستي ئې وپېژندی، چي دا خو سکندر رومي بادشاه دی، نو ئې خپلو عسکرو ته حکم وکړی: چي دغه فقیر ونیسئ، او درې(۳) ورځي ئې په قید خانه کي واچوئ، یوه ذره خورک او اوبه مه ور کوئ، د هغه څخه وروسته ئې ماته راولئ.
عسکرو چي کله دی قید کړی، او درې(۳) ورځي ئې مسلسل په قید کي په لوږه او تنده باندي تیري کړلې، د هغه څخه وروسته عسکرو دی د هغه شهزادۍ و حضور ته حاضر کړی.
د چین هغه شهزادۍ دی و خپل مخته کښېناوی، او ډېر زیات ملغلري او جواهرات ئې د هغه و مخته کښېښوول، او ورته وئې ویل: چي ته خو ډېر وږی ئې دا و خوره، مګر سکندر د لوږي د شدت په وجه بلکل هغه ته و نه کتل.
د هغه څخه وروسته ئې د وربشو یو څه ډوډۍ د سکندر و مخته کښېښووله، هغه دا ډوډۍ و خوړله، او اوبه ئې ورپسي و چیښلې.
هغه شهزادۍ ده ته وویل: چي ددغه قیمتي جواهراتو و طرفته تا بلکل ونه کتل، صرف د درو (۳) ورځو قید خانې ستا و مخته د ټولي دنیا مال او دولت او جواهرات او ملغلري بې کاره کړل، حالانکه اوس خو ستا ژوند هم پاته دی، او بې شماره فوجونه هم درسره دي.
ته ماته دا ووایه: چي د مرګ څخه وروسته به دغه لعل او جواهرات او مال او دولت تالره په څه ښه درسي، نو بادشاه! د داسي بېکاره شیانو لپاره ولي د دنیا انسانان قتل کوې، او د انسانانو زندګي تباه کوې، ولاړ سه، نوره زندګي په قناعت او صبر سره تېره کړه، هغه به هر ځای تاته سکون او اطمینان در کوي.
سکندر چي کله د هغه شهزادۍ زناني نصیحت او د عبرته ډکه وینا واورېدله، نو دستي ئې د چین د وطن څخه د جنګ کولو څخه بغیر خپل عسکر او فوجیان پر شا کړل.
تاسو ګورئ! د درو (۳) ورځو د قید خانې تکلیف هغه قیمتي جواهرات د ده په حضور کي بېکاره کړل، صرف د اوربشو یوه ټکړه ډوډۍ ده لره په ښه ورغله، لیکن تاسو دا یاد ساتئ! چیکله د قبر قید خانې ته انسان ورسي، نو هلته به هر څه بې کاره سي، هلته

د اوربشو يوه ټکړه ډوډۍ هم انسان ته په ښه نه ورځي، هلته صرف نيک عمل د انسان سره پاتېږي، نو ځکه مسلمان بايد په دنيا کي د نيک عمل د ټولو څخه زيات کوشش وکړي.(١)

## د حضرت دانيال عليه السلام واقعه:

حضرت دانيال عليه السلام يوه ورځ په ځنګله کي روان وو، ده ته يو ګنبده په نظر ورغله، د هغه ګنبدي څخه پر ده باندي آواز وسو: چي اې دانياله! دلته راسه، حضرت دانيال عليه السلام چي هغه ګنبدي ته ورغلی، نو دا ور معلومه سوه: چي دغه ګنبده پر يو قبر باندي ولاړه ده.

چي دی کله هغه ګنبدي ته ورغلی، او قبر ته ورننژدې سو، نو که ګوري! هغه يو ډېر لوړ او عمده عمارت دی، او د عمارت په درميان کي يو ډېر لوړ تخت جوړ سوی دی، او پر هغه باندي يو ډېر لوی جسد پروت دی.

پر ده باندي بيا آواز وسو: چي اې دانياله! تخت ته راپورته سه! حضرت دانيال عليه السلام چي کله تخت ته ور پورته سو، نو يو ډېره اوږده او لويه توره د هغه مړي و اړخ ته پرته ده، چي پر هغه باندي دا عبارت ليکلی وو:

چي زه د قوم عاد يو بادشاه وم، الله تعالی ماته ديارلس سوه(١٣٠٠) کاله عمر را کړی، دوولس زره(١٢٠٠٠) مي ودونه وکړل، او اته زره(٨٠٠٠) مي زامن وو، او بې شماره خزاني مي درلودلې، د دې دومره نعمتونو سره هم زما نفس د الله تعالی شکر ادا نکړی، بلکه د هغه برعکس به ئې کفر کوی، او د خدائي دعوه به ئې کوله.

چي الله تعالی موږ ته يو پېغمبر د هدايت لپاره راواستوی، هغه چي به موږ ته هر څومره د هدايت خبره کوله، موږ به هغه نه اورېدله، او نه به مو عمل په کوی، آخر کار هغه پېغمبر موږ ته ښرا وکړه، او زموږ د قوم څخه ووتی.

الله تعالی پر موږ باندي او زموږ پر وطن باندي د هغه پېغمبر په ښرا قحط سالي مسلطه کړله، چيکله زموږ په ملک کي هيڅ نه پيدا کيدل، نو موږ نورو ملکو ته

(١) حياة الحيوان: و تفسير روح البيان بحواله مواعظ ابراهيمي: صفحه نمبر ٦٢

حکمونه او پیغامونه سره واستول، چې زموږ لپاره د غلې او د خوړکې بندوبست وکړي.

هغه خلګو چې به موږ ته هر قسم غله او خوړکه راواستوله، د الله تعالی فیصله وه، چیکله به هغه د غلې او خوړک قافله زموږ ملک ته راورسېدله، او زموږ د وطن حدودو ته به راداخله سوه، نو فوراً به په خاورو بدله سوه، او زموږ هغه محنت به ټوله ضائع سو، او یوه دانه به هم موږ ته راپاته نسوه.

په دغه شان پر موږ باندې اوه(۷) ورځې تیرې سوې، چې زما د قلعې ټوله زنانې او غلامان او بچیان په تېښته ولاړل، زه تنها په قلعه کې پاته سوم، د لوږې بغیر زما سره نور هیڅ نه ول، زندګي مې ډېره تنګه روانه وه.

یوه ورځ د زیاتې مجبورۍ او د لوږې د ډېر شدت او تکلیف په وجه د قلعې دروازې ته راغلم، هلته ما یو سړی ولیدی، چې د هغه په لاس کې یو څه د خوړکې دانې ولې، چې هغه ئې خوړلې، او روان وو.

ما هغه تلونکي انسان ته وویل: چې زما څخه د سرو زرو او جواهراتو او ملغلرو یو غټ لوښی واخله، خو دغه یو څو دانې د خوړک د هغه په عوض کې ماته راکړه، مګر هغه نه زما خبره واورېدله، او نه ئې پر هغه غوږ ونیوی، او نه ئې ماته څه توجه راکړه، هغه خپلې دانې ئې خوړلې، او زما څخه تیر سو.

دهغه انجام داسو: چې د هغه لوږې د تکلیف څخه ماته مرګ راغلی، نه سرو زرو او نه ملغلرو او نه جواهراتو ماته هیڅ ګټه وکړله، او دغه زما سرګزشت دی: چې کم څوک دا واوري، نو هغه دې زما د حال څخه عبرت واخلي، هیڅ کله دې د دنیا په فریب او دوکه کې نه راځي.

مسلمانانو! څومره دغور ځای دی: چې دیارلس سوه(۱۳۰۰) کاله عمر او د دیارلس سوه کالو بادشاهت او دوولس زره(۱۲۰۰۰) زنانې او اته زره(۸۰۰۰) زامن او بې شماره خزانې هغه سړي ته هیڅ په ښه ور نغلې، نو بیا به دنیا څه حقیقت ولري: چې اوس هم انسانان د هغه په دوکه کې ژوند تېروي، او د خپل مرګ څخه غافله وي.

حالانکه الله تعالی بار بار دوی ته دا اعلان کوي:

.........يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ﴾.(١)

اې انسانانو! د دنیا ژوند مې دوکه نکړي، او د خپل مرګ څخه مو غافله نه کړي، مرګ هیڅ څوک نه پرېږدي، امیر وي که فقیر بادشاه وي، او که ګدا، نیک عمله وي، او که بد عمله، نو همېشه دا فکر کول: چې یوه ورځ به مرم، او یوه ورځ به د دنیا څخه رخصت اخلم، او د الله تعالی په حضور کي به پیشېږم، او د دنیا د ټولو کړنو حساب به هلته پیشوم، په دغه فکر کي خپله شپه او ورځ او د دنیا ژوند سبا کول.

## د غافله انسان په پرېشانیو کي اضافه:

کچیري انسان په دنیا کي د غفلت زندګي تېره کړي، او د خپل نفس د خواهشاتو تابع وي، کله ئې زړه غواړي، نو لمونځ کړی، او کله بیا قضا کړی، چیکله لږ بهانه ورته پیدا سي: نو بیا د دین اعمال څني پاته سوي، او ډېر ځله پر سنت طریقه باندي د عمل کولو پر ځای په رسمونو او رواجونو کي مبتلا سي.
کچیري په دغه قسم غفلت کي انسان زندګي سر ته ورسوي، نو بیا خو به په قبر کي پرېشانه وي، او هم به په حشر کي پرېشانه وي، او را روان هر منزل به د ده لپاره پرېشاني وي، او په هر منزل کي به د ده په پرېشانیو کي اضافه او زیاتوالی راځي.
نو نن ورځ د زندګۍ ډېر اهم وخت دی، د هغه څخه نفعه اخیستل او دخپلو را روانو منزلونو غم خوړل. او هغه د ځان لپاره د خوشحالۍ منزلونه جوړول.

## د زندګۍ قدر:

نیک عمله انسانان دغه زندګي داسي بولي: لکه الله تعالی چي د انسان په لاس کي جواهر او ملغلري ور کړي وي، او عام طور انسان ملغلري او جواهر په ډېر احتیاط سره خرڅوي، هغه خپل وخت نه ضائع کوي، هغه بې ځایه خبري او یو طرف او بل طرف غیبت نه اوري، او نه ئې کوي.
هغه چانته تکلیف نه رسوي، او د بدن اندامونه ټول د ګناه څخه محفوظه ساتي، او د الله تعالی د یاد څخه دومره د بل عمل فرصت او وخت نه لري.

(١) سورة فاطر: آیت نمبر ٥

او د الله تعالی دغه فرمان همېشه د دوی و مخته وي:

﴿........مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى﴾.

چي کوم څوک نیک عمل کوي، هغه نارینه وي، او که زنانه، خو دا شرط دی:

﴿........وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾.

چي دی به ایمان والا وي.

﴿........فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾.(۱)

نو الله تعالی به ده ته پاکه زندګي ور کوي، دا د الله تعالی رب العزت رحمتونه دي، چي هغه خپلو بندګانو ته داسي زندګي ور کوي: چي هغوی ته په دنیا کي هم عزتونه ور کول کیږي، او په آخرت کي ئې عزت د دې څخه هم اضافه وي.

## د پنځو شیانو قدر:

نو ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي:

﴿........اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ﴾:

پنځه شیان د پنځو شیانو څخه مخکي غنیمت و بوله، او د هغه قدر وکړه، هسي نه: چي هغه نعمتونه در څخه واخیستل سي، او ته بیا د افسوس لاسونه پر له مږې، او لاس لره هیڅ نه در ځي.

﴿........شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ،﴾. د ځوانۍ قدر د بوډاوالي د راتلو څخه مخکي کوه.

﴿........وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ،﴾. او د صحت قدر د بیمارۍ څخه مخکي کوه.

﴿........وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ،﴾. او د غنا او خوشحالۍ قدر د تنګدستۍ څخه مخکي کوه.

﴿........وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ،﴾. او د فراغت قدر د مشغولیت څخه مخکي کوه.

﴿........وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ﴾.(۲) او د ژوند قدر د مرګ څخه مخکي کوه.

محترمو داسل په سله کي رشتونې خبره ده: چي کم څوک د دغه پنځو (۵) نعمتو قدر د هغه په موجودګي کي نه کوي، نو بیا خو د هغه په مقابل کي د دغه پنځو (۵) آفتو سره ضرور مخامخ کیږي.

---

(۱) سورة النحل: آیت نمبر ۹۷

(۲) الزهد و الرقائق لابن المبارک: حدیث نمبر ۲

نو د نن څخه باید انسان دا اراده وکړي: چي د دې پنځو (۵) نعمتو استعمال به دالله تعالی د رضا د حاصلولو لپاره کوم، او دا یاد وساتئ: چي کم څوک دغه پنځه نعمتونه د الله تعالی د رضا لپاره استعمالوي، هغه په حقیقي معنی سره عقل مند او هوښیار انسان بلل کیږي.

او دا هم یو حقیقت دی: لکه دانا خلګ ئې همېشه ذکر کوي: چي د جاهل پر ژوند او د عاقل پر مرګ باندي دنیا اوښکي تویوي.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو په دماغو کي په حقه طریقه د آخرت فکر راکړي، او هم دي ژوند د آخرت په تیاري کولو کي رانصیب کړي، او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلّٰی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

بسم الله الرحمن الرحیم

لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# دنیا دار العمل دی، اوله حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : ﴿الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! ستاسو په حضور کي ما د قرآن کریم یو آیت پیش کړی، په دې آیت مبارک کي الله تعالی د دنیا د زندګۍ او د دنیا د مال او دولت تشبیه د اوبو سره ور کړې ده، لکه الله تعالی پیغمبر ﷺ ته فرمايي:

............وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾.

اې پیغمبر! خپل امت ته دا خبره بیان کړه: چي د دنیا د ژوند او د دنیا د مال او دولت مثال داسي دی:

............كَمَاءٍ أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ﴾.

لکه هغه اوبه: چي موږ ئې د آسمان څخه مځکي ته راشوه کړو.

پدې آیت کي الله تعالی د دنیا د زندګۍ مثال د اوبو سره ور کړی دی، د دنیا د زندګۍ او د اوبو په مابین کي یو څو شیان مشترک معلومیږي: پدې باره کي زه ستاسو حضور ته یو څو مثالونه پیشوم:

(١) سورة البقره: ایت نمبر ۱۸۳
(٢) مصنف ابن ابي شبيه: حدیث نمبر ۳۴۷۲۲

## اول قدر مشترک:

د اوبو خاصيت دا دى: چې هغه پر يو ځاى باندې نه دريږي، او نه استقامت لري، بلکه چې څنګه د بهېدلو لار و رته برابره سي، نو دوى د هغه ځاى څخه بهيږي، بل ځاى ته ځان رسوي.

او د دنيا مال او دولت هم دسږي سره استقامت او دوام نلري، هر انسان لره ورځي، او بيا د هغه سره وفا نه لري، د هغه څخه بيرته د بل انسان طرف ته روانه وي.

دنيا د ډېرو انسانانو سره تعلق پيدا کوي، بلکه زه دا وايم: چې دډېرو انسانانو سره نکاح کوي، مګر هغه ټوله رخصتوي، او دا دکونډي په شان پاتيږي.

يو بزرګ يو ځل دنيا په خوب باندي وليدله، چې هغه د يو نوجواني او نه واده سوي پېغلي زناني په شکل وه، نو هغه بزرګ پوښتنه ځني وکړه: چې تا خو د بېشماره انسانانو سره نکاح کړې ده، د هغه باوجودته ولي داسي، نوجوانه او بې واده غوندي معلوميږې؟

هغې په جواب کي ورته وويل: چې کم چا زما سره نکاح وکړه، او زما سره ئې تعلق پيدا کړى، هغه نارينه نه وو، او چې کم څوک نارينه وو، هغه زما سره نکاح کولو او تعلق جوړولو ته اماده نه وو.

## د دنيا مکر:

د حضرت عيسى عليه السلام په زمانه کي درې(۳) کسان په سفر کي روان دي، يو ځاى پر خزانه پيښ سول، په هغه ډېر خوشحاله سول.

نو دوى په خپل مابين کي يو ملګرى په مشوره سره ښار ته د نفقې راوړلو لپاره واستوى.

چيکله هغه ولاړى، نو دوى په خپل مابين کي مشوره وکړه، چې کله دى راسي، نو موږ به ئې قتل کړو، او خزانه به موږ ته راپاته سي.

هغه بل سړي چې کله د بازار څخه نفقه را واخيسته، نو په هغه کي ئې زهر واچول، پدې نيت چې زما دوه ملګري به ئې وخوري، او دوى به مړه سي، او خزانه به يوازي ماته

چیکله هغه نفقه راوړه، نو هغه دوو ملګرو دی اول قتل کړی، د هغه څخه وروسته ئې هغه نفقه وخوړله، چونکه په هغه کي زهر وو، نو هغه دوه کسان هم پر هغه ځای مړه سول.

حضرت عیسی علیه السلام چیکله د خپلو حوارییـنو سره پر هغه لار تیرېدی، نو هغه انسانان ئې په دغه حالت کي مړه ولیدل، او خزانه د ټولو څخه دغسي پاته سوې وه، نو ده خپلو حوارییـنو ته وویل: دغه د دنیا مکر او فریب دی، چي دغه درې(۳) سره انسانان ئې ترځان تېر کړل، او دا دغسي پاته سوه.

نو چي کم څوک د الله تعالی نیک بندګان وي، نو هغه دنیا ته د محبت په نظر نه ګوري د هغوی په نظر کي مطلوب حقیقي د الله تعالی ذات وي، او د هغه و طرفته ددوی توجه وي، هغه دآخرت دلذتونو خواهش خو لري، لیکن چیکله هغه لذتونه دوی پیدا کړي، نو بیا ډېر په وهم کي وي، چي هسي نه: زموږ دنیکو اعمالو اجر دآخرت پر ځای په دنیا کي د دغه نعمتونو په شکل کي موږ ته راکول نسي.

## دوهم قدر مشترک:

په یو تفسیر کي د دې آیت څخه لاندي لیکلي دي: چي الله تعالی د دنیا مشابهت د اوبو سره ځکه ور کړېدی: اوبه چیکله ډېري وي، نو پاکي وي، خو د هغه شرط دادی: چي د هغې خوند او رنګ او بوی به خراب سوی نوي، کچیري د هغه خوند یا رنګ او بوی خراب سي، نو هغه اوبه ټولي ناپاکه ګرځي.

فقهاؤ لیکلي دي: چي د کمو اوبو خوند او رنګ اوبوی خراب سوی نوي، هغه اوبه پخپله هم پاکي وي، او بل شی هم پاکوي.

## علمي نکته:

په او داسه کي د مخ پرېولل فرض او ضروري دي، حالانکه: د هغه څخه مخکي د انسان یو ځل لاس مینځي، او په خوله به اوبه رغړوي، او هم به پزه په اوبو مینځي، او دا ټوله سنت اعمال دي.

دلته د يو چا په دماغ کي يو علمي سوال پيدا کيږي: چي د اوداسه په ترتيب کي سنت ولي پر فرضو باندي مقدم دي؟ حق خو دا وو: چي پر سنتو باندي فرض مقدم واي، او سنت بيا وروسته واي.

فقهاؤو د دې دغه جواب ور کړی دی: چي کله يو څوک په اوبو سره اودس کوي، نو هغه به اول د لاس پرېوللو لپاره په لاس کي اوبه را اخلي، او دی په سترګو ور ته ګوري، چي د هغه د رنګ معلومات ورته وسي، چي خراب سوی خو به نوي.

او چيکله خوله مينځي، نو د اوبو د خوند معلومات ورته کيږي، او چي پزه مينځي، نو د اوبو د بوی معلومات هم ورته وسي، نو پدې طريقه سره چيکله د ده تسلي وسي، چي د اوبو رنګ او خوند او بوی ټوله برابر دي، نو بيا دی: د شريعت د حکم مطابق په هغه اوبو باندي خپل مخ مينځي.

دغه رنګه چي د يو چا سره هر څومره مال وي، که د حرام په وجه د هغه خوند نوي خراب سوی، يا د مشتبهاتو په وجه د هغه رنګ نوي بدل سوی، او يا د زکوة نه ادا کولو په وجه د هغه بوی نوي خراب سوی، نو د هغه دغه ټوله مال پاک بلل کيږي.

خو د دې علامه د انسان د ژوند تېرولو څخه انسان ته دستي ور معلوميږي، ځکه چي د چا په مال کي حرام يا اشتباه وي، نو په هغه کي ضرور تکبر او نافرماني او سرکښي پيدا کيږي، نو دا د دې علامه وي: چي د دې سړي مال حرام او مشتبه ګرځېدلی دی.

## دريم قدر مشترک:

دريم قدر مشترک دا دی: چي اوبه کله د ضرورت مطابقي وي، نو انسان د هغه څخه نفعه اخيستلای سي، او که تر ضرورت زياتي سي، نو د نقصان سبب ګرځي.

دغه رنګه دنيا چي هم د ضرورت مطابقه وي، نو د بنده لپاره د نفعې ذريعه او سبب وي، او چيکله تر ضرورت زياته سي، نو انسان ته نقصان رسول شروع کړي.

د اوبو چيکله سيلاب راسي، نو بند هم ماتوي، او بيا کلي وړي، او باغونه خرابوي، او انسانانو ته ډېر زيات نقصان ور رسوي، داغه رنګه دنيا چيکله تر ضرورت زياته سي، نو انسان د الله تعالی د نافرمانۍ کولو په شکل د شريعت حدود ماتوي.

تاسو ګورئ! چي کوم خلک د ضرورت څخه زيات مال او دولت لري، په هغه کي ډېر داسي هم وي: چي په یوه شپه کي په لکونو او په زرونو پيسې او مال او دولت پر خمار باندي بايلي، او د دې هيڅ پرواه ور سره نوي.
نو مال او دولت انسان ته هلته نفعه رسوي، چي د ضرورت مطابق وي، او د ضرورت څخه زياته مال او دولت انسان په ديني لحاظ خرابوي.
پیغمبرﷺ به په مختلفو طريقو د صحابه کرامو و دماغ ته دا خبره رسوله، او کوشش به ئې کوی: چي د صحابه وو توجه د دنيا څخه آخرت طرفته راوګرځي، او د دوی په دماغونو کي د دنيا د ډېر والي محبت ځای پيدا نکړي.

## د بحرين څخه د مال راتلل:

د پیغمبرﷺ په دور کي حضرت عبيده بن جراح ؓ د بحرين والی وو، هغه ته دا کار ور سپارل سوی وو: چي د هغه علاقې د کفارو او مشرکينو څخه به ټيکس او جزيه را جمعه کوي، او بيا به ئې مدينې منورې ته را رسوي.
چنانچه یو ځل هغه د جزيې مال د بحرين څخه مدينې منورې ته راوړی، هغه مال د نغدو په شکل کي به هم وو، کله به د جامو په شکل کي وو، د پیغمبرﷺ معمول دا وو: چي هغه د جزيې مال به ئې د صحابه وو په مابين کي تقسيموی.
یو څه انصارو صحابه وو ته دا معلومه سوې وه: چي حضرت عبيده د بحرين څخه مال راوړی دی، نو هغه انصار صحابه د سهار لمانځه ته د مدينې د اطرافو څخه مسجد نبوي ته راغلل، پیغمبرﷺ چيکله د سهار د لمانځه څخه فارغه سو، واپس خپل کورته تلی، نو هغه انصار صحابه کرام به د پیغمبرﷺ مخته راغلل، د ده سره به ئې مصافحه وکړله، او په ژبه به ئې هيڅ نه ويل.
خو مخته د راتللو څخه ئې مقصد دا وو: چي د بحرين څخه چي کم مال راغلی دی، هغه دي موږ ته را تقسيم سي، دا هغه زمانه وه: چي صحابه کرام زيات مسکينان وو، چي څو څو وخته به ئې په لوږه تېرول، او ډېر ځله به ئې د بدن لپاره لباس او جامې نه در لودې، انتهائي د تنګئ او مسکنت زمانه وه.

چیکله پیغمبر ﷺ هغه صحابه کرام ولیدل، چي هغه دا رنګه زما مخته راځي، نو ده به تبسم وکړی، او دی مبارک پوه سو: چي دغه حضرات د مال د تقسیم مطالبه لري، وروسته پیغمبر ﷺ هغوی ته وفرمایل: چي زما خیال دادی: چي تاسو ته معلومه سوې ده: چي عبیده بن جراح رضی الله عنه د بحرین څخه یو څه مال راوړی دی، هغوی په جواب کي ورته وویل: چي هو، موږ خبر سوی یو، اې د الله تعالی رسوله!.

پیغمبر ﷺ اول دوی ته وویل: چي زه تاسو ته دا زیری در کوم: چي تاسو په کوم شي خوشحاله کیږئ، هغه به اوس ستاسو په مابین کي تقسیم سي.

لیکن پیغمبر ﷺ دا محسوسه کړه: چي د صحابه وو دا رنګه را تلل، او د مال او دولت لپاره خپل ځان پېشول، او د هغه د تقسیم انتظار کول، هسي نه: چي د دوی دغه عمل د دوی په زړو کي د دنیا محبت پیدا نکړي، نو ده دوی ته د زیري ور کولو وروسته دستي دا خبره هم وکړه:

په الله تعالی دي مي قسم وي: زما پر تاسو باندي د فقر او لوږي بېره نسته، یعني د دې خبري څخه زه نه وېرېږم: چي تاسو به په لوږه او مسکنت کي مړه سئ، ځکه: چي اوس خو زمانه داسي راتلونکې ده: چي انشاء الله پر مسلمانانو به ډېره پراخي وي.

دا یو حقیقت دی: چي د امت د حصې ټوله لوږه او مسکنت پخپله د پیغمبر ﷺ په زمانه کي تېر سو، چنانچه حضرت عائشه مبارکه فرمایي: چي تر درو درو میاشتو پوري به زموږ په کور کي اور بل نسو، او په دې وخت کي به زموږ خورکه صرف دوه(۲) شیان وه: یو خورما، او بل اوبه.

او پیغمبر ﷺ په خپل ټوله ژوند کي هیڅ کله دوه وخته په ماړه نس د وربشو ډوډۍ نه وخوړله، غنم خو بالکل نه پیدا کېدل، د وربشو د ډوډۍ دا حال وو، نو لوږه او مسکنت دا اکثریت د پیغمبر ﷺ په زمانه کي تېر سول.

## دصحابه وو د زمانې حالت:

حضرت عائشه مبارکه فرمایي: چي په هغه زمانه کي زموږ دا حال وو: چي یو ځل زموږ کور ته یو نقش داره کپړه په تحفه کي راغله، چي پر هغه باندي یو خاص قسم

نقش او ګولان جوړ وو، او ښائسته معلومېدله، او په حقیقت کي ډېره زیاته قیمتي کپړه هم نه وه.

لیکن په ټوله مدینه کي چي به کله د یو چا واده وو، او یو زنانه به ناوې جوړېدله، نو په هغه وخت کي به ماته هغوی دا فرمایش کوی: چي دغه ښائسته کپړه عاریتاً موږ ته راکړه، چي موږ ئې خپله ناوي ته ور واغوندو، نو هغه کپړه به د واده پر موقع همېشه ناوي ته ور اغوستل کېدله.

وروسته دا مبارکه فرمایي: چي نن سبا هغه کپړه په بازارو کي خرڅیږي، کڅیري یو څوک ئې یو مینځي ته ور کړي، نو هغه به سر په هوا ونیسي، او وایي به: چي زه دغه کپړه نه اغوندم.

نو د دې څخه انسان ته معلومات کیږي: چي د پیغمبر ﷺ په زمانه کي څومره تنګي وله، او اوس پر انسانانو باندي الله تعالی څومره پراخي راوستلې ده.

نو څکه پیغمبر ﷺ هغه صحابه وو ته وایي: چي راتلونکې زمانه اولاً خو پر دې امت د لوږي او مسکنت نه ده، چیکله انسان د مسلمانانو پوره تاریخ وګوري، نو دا به ښکاره سي: چي د پیغمبر ﷺ د زمانې څخه وروسته پر دې امت تنګي نه ده راغلې، بلکه د پراخۍ دور را روان دی.

او ده مبارک دا هم ورته وفرمایل: کڅیري پر مسلمانانو باندي لوږه او تنګي راهم سي، نو د هغه څخه زه نه وېرېږم، خو صرف دا به وي: چي د نیوي تکلیف به وي، لیکن د انسانانو د ګمراه کېدلو وېره ور سره نسته.

البته وېره د دې خبري ده: چي پر تاسو به دنیا داسي په کثرت او ډېر والي سره راسي: لکه پر نورو امتو چي راغلې وه، او په دې وخت کي به تاسو یو د بل سره مسابقې کوئ، او یو د بل څخه به په دنیاکي د مخته کېدلو کوشش کوئ، او دا به مي سوچ او فکر وي: چي د فلانکي د کور غوندي دي زما کور هم وي، او د فلانکي د سوارلۍ غوندي دي زما سوارلي هم وي، بلکه تاسو به د هغه څخه د لا زیاتولو کوشش او خواهش کوئ، چي د هغه نتیجه به داوي: چي دا دنیا به تاسو داسي هلاک کړي: لکه مخکني امتونه چي ئې هلاک کړي وو.

په يو بل روايت كي راځي: چي يو ځل پيغمبر ﷺ ناست وو، او صحابه كرام ورباندي راګرځېدلي وو، چي د هغوى زيات د مسكنت حالت وو، د چا پر بدن باندي پوره لباس او جامه نوه، چي خپل ستر ئې په كامله طريقه پټ كړى واى.
ده مبارک ورته وفرمايل: چي هغه وخت به ستا سو څه حالت وي؟ چي: تر تاسو لاندي غالۍ هواري وي.
صحابه كرامو د پيغمبر ﷺ پر دې خبره باندي ډېر زيات تعجب وكړى، چي غالۍ خو ډېره ليري خبره ده، موږ ته د ناستي لپاره د كجورو د پاڼو څخه جوړه سوې چټائي هم ميسره نده، او موږ لڅ بدن پر خاورو باندي اكثره پراته يو، نو غالۍ به چيري وي، او موږ به چيري يو.
نو پيغمبر ﷺ په جواب كي ورته وويل: كه څه هم نن ستاسو سره غالۍ نسته، ليكن هغه وخت را روان دى: چي تاسو به پر غاليو باندي ناست ياست.[١]
نو ځكه پيغمبر ﷺ وفرمايل: چي زه پر تاسو باندي د لوږي څخه نه بېرېږم، ليكن زما سره د هغه وخت وېره ده: چي تاسو پر غاليو باندي ناست ياست، او ستاسو سره د دنيا ساز او سامان په كثرت سره وي، نو په هغه وخت كي هسي نه: چي تاسو الله تعالى هير كړئ، او پر تاسو باندي دنيا غلبه ونكړي.

## د جنت دسمال د دې څخه ښه دئ:

په حديث شريف كي راځي: چي يو ځل پيغمبر ﷺ ته د شام څخه يوه د ورېښمو كپړه راغله، هغه داسي وه: چي صحابه كرامو د دې څخه مخكي نوه ليدلې، نو صحابه كرام به د شا د صفونو څخه لاسونه راځغول، او هغه كپړه به ئې په لاسو باندي كتله، او د هغه د نرم والي صفت به ئې كوى.
پيغمبر ﷺ چيكله وليدل: چي صحابه كرام د دغه كپړې ځومره زيات شوق ښكاره كوي، او ځومره تعجب او خوښي كوي، نو ده مبارک فوراً ورته وفرمايل:
.........فَوَاللَّهِ لَمَنَادِيلُ سَعْدٍ فِى الْجَنَّةِ أَحْسَنُ مِمَّا تَرَوْنَ﴾.(٢)

(١) بخاري شريف: حديث نمبر ٣۶٣١
(٢) السنن الكبرى للبيهقي: حديث نمبر ۶٣٢٢

د صحابه وو! په دغه کېږدو ته ډېر خوښ شوي؟ او تاسو دې په دغه خبره باندې تعجب کوئ؟

په دې په ته قسم وي: چې حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه چې هغه په دې وخت کې ترې شهيد شوى وو (ته چې الله تعالى په جنت کې کوم دسمالونه ور کوي. هغه دې ځخه ډېر زيات خوبصورت او ښائسته دي.

بوګوت: د مبارک فور د صحابه کرامو توجه د دنيا ځخه وګرځوه او د دوی ټول د آخرت طرف ته متوجه کړل. هغه په دې نيت چې هسې نه: دوی په زړونو کې د دنيا محبت پيدا شي. او هغه دوی د وکه نکړي، او د آخرت د نعمتونو ځخه شا نه شي.

او همدا رنګه پيغمبر ﷺ د صحابه وو ذهنونو ته دا خبره ور شوه کوله: چې د دنيا بې حقيقته ده، او د دنيا لذتونه او نعمتونه فاني دي. او د انسان د پاره د دنيا د زړه لګولو ځای نه دی.

په يو حديث کې پيغمبر ﷺ صحابه ته ووېل:

......ولو كانت الدنيا تزن عند الله جناح بعوضة ما أعطى كافرا منها شربة من ماء (١)

يعني: که د دنيا حقيقت د الله تعالى په حضور کې د غوماشې د وزر برابر هم وی، نو يو کافر ته به الله تعالى د دنيا ځخه يو غړپ هم نه وی ور کړی. ليکن تاسو ګورئ: چې د دنيا دولت کافرانو ته الله تعالى تر مسلمانانو زيات ور کوي، او هغوی په دولت کې ډېرې مزې کوي، د هغه باوجود چې د الله تعالى نافرماني هم کوي.

د هغه وجه دا ده: چې دنيا د الله تعالى په حضور کې بې حقيقته ده، د ټولې دنيا حيثيت د غوماشې د يو وزر سره هم برابر نه دی، کچيرې د دې حيثيت د غوماشې د وزر سره برابر هم وای، نو الله تعالى به کافر ته يو ذره هم نه وی ور کړې.

يو ځل پيغمبر ﷺ د صحابه وو سره پر يو ځای تېرېدې، په لاره کې يې وګوري: د بزې بچی مردار شوی دی، او غوږونه يې پرې شوي دي، او پر ... باندې پروت دی، چې بدبويي ځني ولاړېږي.

(١) المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية: حديث نمبر ٣١٧٤

پېغمبر ﷺ د صحابه وو څخه پوښتنه وکړه: چي په تاسو کي څوک د بُزي دغه مردار سوی بچی په یو درهم باندي رانیسي؟ صحابه کرامو ورته وفرمایل: اې د الله تعالی رسوله! دغه د بُزي بچی که ژوندی هم سي، لا هم هیڅ څوک د ده په یو درهم سره اخیستلو ته نه تیاریږي، ځکه دا عیب جن دی، او غوږونه ئې پرې سوي دي، اوس چي دا مړ دی، او بدبوئي هم ځني ولاړیږي، نو دا به څوک څه کوي، چي په درهم ئې رانیسي؟

پېغمبر ﷺ ورته وفرمایل: چي ټوله دنیا او د هغه مال او دولت د الله تعالی په نزد د دې څخه زیات بې حقیقته او بې حیثیته دی، لکه څومره چي د بُزي دغه مردار سوی بچی ستاسو په نزد بې حقیقته دی.

پېغمبر ﷺ د صحابه وو زړو ته دغه خبره ور شوه کړه: چي دنیا ته په زړه کي ځای مه ور کوئ، او د دنیا سره د رغبت اظهار مه کوئ، د ضرورت په وخت کي دنیا ضرور استعمالوئ، لیکن د دنیا سره محبت مه کوئ، بلکه دنیا ته د یو "بیت الخلا" حیثیت ور کوئ.

چي کله د دنیا محبت د صحابه کرامو د دماغو څخه وواتی، نو بیا الله تعالی ټوله دنیا د دوی غلامه کړله.

د قیصر او کسری ټوله مالونه او دولتونه د دوی ښارو ته راغلل، او د دوی په مسجدانو کي به تقسیم کېدل، او د هغوی لوښي به په قطارونو کي ولاړي وې، او د مېنځو په شکل به دوی ته ور تقسیم کېدلې، او هغوی به د دوی د کورو بسترې ور هوارولې، لیکن دوی پخپله زندګي کي هیڅکله هم د دنیا و مال او دولت ته د شوق او رغبت په شکل نه وکتل.

## د شام والی حضرت عبیده بن جراح رضی الله عنه:

د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کي حضرت عبیده بن جراح رضی الله عنه د شام والی جوړ سو، هغه ځکه: چي د شام اکثره علاقه ده فتحه کړېوه، په هغه وخت کي شام یو ډېره غټه علاقه وه.

چي نن سبا د هغه شام په علاقه کي څلور ملکونه دي، يعني: شام، فلسطين، لبنان، أردن، په هغه وخت کي دا څلور سره يو ځای د اسلامي رياست يو ولايت وو، حضرت عبيده رضي الله عنه د هغه والی وو.

او د شام علاقه ډېره زرخيزه او اباده وه، د مال او دولت کثرت وو، او دا د "روم" ډېره ښائسته علاقه وه، حضرت عمر رضي الله عنه د مدينې منورې څخه د ټوله اسلامي رياست واګي په لاس کي در لوولې.

ده يو ځل د شام په دوره باندي راغلی، حضرت عبيده رضي الله عنه د ده مخته ورغلی، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل: اې ابو عبيده! زما زړه داغواړي: چي زه د خپل ورور کور ووينم، يعني چي په کوم ځای کي ته اوسيږې، هغه په خپلو سترګو ووينم.

د حضرت عمر رضي الله عنه په ذهن کي دا وه: چي حضرت عبيده رضي الله عنه د دومره لوی او آباد ولايت والی دی، او دلته مال او دولت ډېر زيات دی، نو ځکه د ده کور به ووينم، چي ده څنګه کور جوړ کړی دی، او په هغه کي ئې څه راجمعه کړي دي؟.

## د شام د والي کور:

حضرت عبيده رضي الله عنه په جواب کي ورته وويل: اې امير المؤمنينه! ته زما د کور ليدل څه کوې؟ ته که چيري زما کور ووينې، نو د سترګو څخه د اوښکو تويولو څخه بغير به نور هيڅ و نکړې.

خو حضرت عمر رضي الله عنه پر دې باندي اصرار وکړی: چي زه ستا کور ليدل غواړم، چنانچه حضرت عبيده رضي الله عنه امير المؤمنين د ځان سره روان کړی، او په ښار کي تيرېږي، روان دي، چيکله د ښار آبادي ختمه سوه، نو حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه ځني کوي: ته ما چيري بيائې.

حضرت عبيده رضي الله عنه جواب ور کوي: چي بس! زما کور اوس نژدې دی، چنانچه د "دمشق" هغه آباد ښار چي په رنګارنګ روڼاګانو ښائسته وو، ټوله تير سو، نو آخر يو ځنګله ته سره ورسېدو، په ځنګله کي د خورما د درختو د پاڼو څخه يو کوډل جوړه ده، حضرت عمر رضي الله عنه ئې ورته ودراوی، چي اميرالؤمنين! دا زما کور دی، او زه پدې کي اوسېږم.

حضرت عمرؓ چي کله هغه کوډلي ته ور داخل سو، څلور طرفه ئې کي وکتل، هلته د يوې مصلې څخه ما سوا بل شی ئې نه وليدی.

حضرت عمرؓ دستي پوښتنه ځني وکړه: چي اې عبيده! ته چي په دې کور کي اوسېږې، دلته خو هيڅ د استوګني بندوبست نسته، نه يو لوښی سته، او نه د خورک او څيښلو څه انتظام سته، ته دلته څنګه ګذاره کوې؟

حضرت عبيدهؓ ورته وويل: چي امير المؤمنين! الحمدلله! زما د ضرورت سامان ټوله دلته پوره دی، دا مصله ده، د لمانځه په وخت کي لمونځ پر کوم، او چي شپه راسي، پر دې باندي ويدېږم، او بيا ئې خپل لاس د کوډلي سر ته يووړی، او د هغه ځای څخه ئې يو پياله راواخيستله، چي ظاهراً نه معلومېدلې، نو ئې وويل: چي امېر المؤمنين! دا زما لوښی دی، زه پدي کي خورک او څيښل کوم.

حضرت عمرؓ چي کله هغه لوښي ته وکتل، نو هغه د اوبو ډک دی، او يو څو سړې ګولې د ډوډۍ کي پرتي دي.

حضرت عبيدهؓ ورته وفرمايل: امير المؤمنينه! زه شپه او ورځ د حکومت په کارو کي مصروفه يم، د خورک او څيښلو د انتظام کولو فرصت را سره نوي، يوه زنانه زما لپاره د دوو دريو ورځو ډوډۍ پر يوه ځای را پخوي، زه چي هغه کښېږدم، نو بيا هغه وچه سي، زه چي سهار ځم، نو هغه ډوډۍ په اوبو کي واچوم، او د شپې چي راسم، هغه وخورم، او اوبه وريسي وڅيښم.(۱)

حضرت فاروق اعظمؓ چي کله دا حالت وليدی، نو په سترګو کي ئې اوښکي راغلې، حضرت عبيدهؓ ورته وفرمايل: اې اميرالؤمنينه! ما مخکي لا هم دا درته ويلي وو: چي زما د کور د ليدلو وروسته به ته د اوښکو تويولو څخه بغير بل څه ونه کړې.

حضرت فاروق اعظمؓ ورته وفرمايل: اې عبيده! د دنيا د مال او دولت کثرت موږ ټوله بدل کړل، مګر په الله تعالی دي مي قسم وي: ته پر هغه حال ئې، چي څنګه د رسول اللهﷺ په زمانه کي وې، دغه دنيا پر تا باندي هيڅ اثر نه دی کړی.

## د حضرت داؤد طائي رحمة الله عليه زهد:

په تاريخ ابن خلكان كي د حضرت داؤد طائي رحمة الله عليه په حالاتو كي ليكلي دي: چيكله محمد بن قحطبه د كوفې حاكم جوړ سو، او كوفې ته راغلی، نو د خلګو څخه ئې پوښتنه وكړه: چي ماته د خپل اولاد لپاره د يو داسي معلم ضرورت دی: چي د قرآن كريم حافظ وي، او د حديثو عالم وي، او فقاهت هم الله تعالى ور كړی وي، د علم النحو تعليم هم كولای سي، او د شعر او شاعرۍ شوق هم ور سره وي.

خلګو ورته وويل: چي د دغه صفاتو مالک صرف حضرت داود طائي رحمة الله عليه معلوميږي، كچيري هغه دغه خدمت قبول كړي، نو بيا ستا توقع ځني پوره كېدلای سي.

د كوفې حاكم فوراً د لسو زر(۱۰۰۰۰) دراهمو تيلۍ د حضرت داود طائي رحمة الله عليه خدمت ته ور واستوله، چي دا پيسې په خپلو ضرورتونو كي صرف كړه، مګر هغه دغه پيسې ورته را واپس كړې، دوباره د كوفې حاكم دوې(۲) تيلۍ چي هغه كي سل زره(۱۰۰۰۰۰) دراهم د دو(۲) غلامانو سره ور واستول، او غلامانو ته ئې وويل: كچيري تاسو په يو تدبير سره دغه پيسې په حضرت داود طائي رحمة الله عليه باندي قبولي كړلې، نو زه به تاسو د هغه په عوض كي آزاد كړم.

هغه دواړو غلامانو هغه پيسې د ده خدمت ته حاضري كړې، خو ده د هغه د اخيستلو څخه انكار وكړی، هغه غلامانو په ډېره عاجزي دا عرض ورته پيش كړی: چي حضرت! كچيري ته دغه پيسې قبولي كړې، نو موږ دواړه به د غلامۍ د قيد څخه آزاد سو، نو ته پر موږ احسان وكړه، او دا پيسې قبولي كړه.

په جواب كي حضرت داود رحمة الله عليه ورته وفرمايل: اَه اَه! د پيسو په قبولولو كي تاسو د غلامۍ د قيد څخه آزاديږئ، او كه زه چيري دا پيسې قبولي نه كړم، نو د دوږخ څخه به آزاد سم، ځئ! پر خپل مخ ولاړ سئ، او پيسي مي در سره واخلئ، زه هرګز د دې و اخيستلو ته تيار نه يم.

## د حضرت داود طائي رحمۃ اللہ علیہ بله واقعه:

حضرت ابو ربيع رحمۃ اللہ علیہ وايي: يوه ورځ د حضرت داود طائي رحمۃ اللہ علیہ كورته راغلم، د ده سره ناست يم، د كور لطرفه ده ته ډوډۍ راغله، چي په هغه كي صرف يو څو سرې د ډوډۍ ټكرې وې، ده ډوډۍ خوړله، ما هم ور سره خوړله، پدې وخت كي زه تږى سوم، د اوبو د چيښلو لپاره ولاړ سوم، كه ګورم: په لوښي كي ګرمي اوبه پرتي دي، هغه مي او چيښلې.

نو وروسته مي ورته وويل: الله تعالى دي پر تا رحم وكړي! كاش! كچيري ستا سره يو ښه منګى وايي، چي په هغه كي يخي اوبه واى، او اوس به موږ د هغه څخه نفعه اخيستې واى.

ده په جواب كي راته وويل: كچيري زموږ دا حالت وي: چي همېشه يخي اوبه چيښو، او د خوند خوركه خورو، او نرم او عمده لباسونه اغوندو، نو بيا ته راته ووايه: چي موږ د آخرت لپاره څه پرېښوول، ګويا: د جنت ټوله خوندونه مي په داغه دنيا كي ختم كړل.

تاسو ګورئ! داغه حالت د پيغمبر ﷺ هم وو، چي هيڅ كله به ئې د خوركې خاص اهتمام نه كوى، د ده نفقه به اكثره د وربشو څخه وه، چي هغه به ئې د اوبو په زور تر ستوني تېروله.

او همېشه به ئې د وړيو لباس اغوستى وو، نو زموږ بزرګانو چي څه كول، هغه د پيغمبر ﷺ دسنتو اتباع وه، ليكن افسوس! چي پر موږ باندي زندګي د نفس او شيطان په اتباع كي تېره سوه، او د بزرګانو د حالاتو څخه محروم او بې نصيبه پاته سو.

حضرت داود طائي رحمۃ اللہ علیہ ته يو مينځي وويل: چي زه به نن ستا لپاره د غوښو سالن پوخ كړم، ځكه ډېره زمانه دي څه خوړلي نه دي، او په بدن كي دي ډېر نقاهت او ضعف او كمزوري معلوميږي، نو ده ورته وويل:

زما هم زړه غواړي. ته ورسه! د غوښو سالن پوخ كړه، او ماته ئې راوړه، هغه مينځي د نهايت عمده غوښو څخه سالن پوخ كړى، بيا ئې ده ته راوړى، چي كله د ده و مخته د غوښو سالن كښېښوول سو، نو ده هغه مينځي ته وويل: چي د فلانكي كور يتيمان

بچي چيري دي؟ هغې په جواب کي ورته وويل: چي دلي دي، نو ده دستي هغه مينځي ته وويل: چي ورسه! دا غوښې ټول هغوی ته ور وړه، چي هغه ئې وخوري.

هغه مينځي ورته وويل: چي ما ستا لپاره په ډېر ناز يخ کړي دي، ته هم يو څه څني وخوره، ځکه چي ډېره زمانه سوېده، تا د غوښو څکه نده کړې.

نو ده په جواب کي ورته وويل: چي ګوره! که زه دا پخپله وخورم، نو د خورک کولو څخه يو څه وروسته به دا د نجاست په شکل پر انبار باندي زما د بدن څخه جلا کيږي، او که ئې چيري هغه يتيمان وخوري.

نو دا خورکه به دستي د الله تعالی عرش ته رسيږي، او هلته به زما لپاره خوندي کيږي، اوس ته دا راته ووايه: چي د دې خورکې پر انبار باندي غورځول بهتره دي، او که د الله تعالی عرش ته رسول؟
نو زموږ د بزرګانو ددنيا سره دغه شان ګذاره وه، او دنيا ئې په داسي احتياط باندي استعمالوله.

نو قرآن کريم کي د دنيا مثال د اوبو سره ور کول سوی دی: لکه اوبه ډېر ځله بقا نه لري، نو دنيا هم بقا نه لري، او لکه اوبه چي تر حد ډېري راسي، نو هغه د هلاکت او تباهی ذريعه جوړيږي، داغه رنګه د دنيا مال او دولت چي تر ضرورت ډېر سي، نو دا هم د انسان لپاره د هلاکت ذريعه جوړيږي.

الله تعالى دي زموږ او ستاسو په دماغو کي د دغه خبرو حقيقت راولي، او الله تعالى دي مي په زړه کي د دنيا د محبت پر ځای د زهد په شکل زندگي کول راکړي، الله تعالى دي دا ټو خبري پخپل دربار کي قبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# دنیا دار العمل دی، دویمه حصه

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْــــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ وَمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿ثَلَاثٌ مِنْ نَعِيمِ الدُّنْيَا وَإِنْ كَانَ لاَ نَعِيمَ لَهَا : مَرْكَبٌ وَطِيءٌ , وَالْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ , وَالْمَنْزِلُ الْوَاسِعُ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهید:**

محترمو حاضرینو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي زندګي ور کړېده، خو د انسان زندګي الله تعالی لهو او لعب یعني: "بازی او میلې" بللې ده.

لکه الله تعالی په قرآن کریم کي فرمایي:

..........وَمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾.

د دنیا زندګي نده، مګر لهو ده، "لهو" په عربي کي هغه بازیو ته ویل کیږي: چي په هغه کي ګټل او بایلل نوي، یعني: صرف بې مقصده بازی وي.

او لعب ده، "لعب" بیا هغه بازیو او میلو ته ویل کیږي: چي په هغه کي مسابقه او ګټل او بایلل وي.

---

(١) سورة العنکبوت: آیت نمبر ۶۴

(٢) اتحاف الخیره المهرة: حدیث نمبر ۲۱۲۴

نو د دنیا زندګي ته الله تعالی لهو او لعب ویلي دي، او د آخرت زندګي همېشه پاته کېدونکې ده، کاش! چي انسانان په دغه حقیقت باندي پوهېدلای.
په دې آیت کي چي د دنیا زندګۍ ته میله او تماشه ویل سوي دي، د هغه مفسرینو مختلف وجوهات لیکلي دي:
زه ستاسو و حضور ته د هغه یو څه وضاحت کوم، الله تعالی دي ماته د صحیح وضاحت کولو توفیق رانصیب کړي، او هم دي موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندي د عمل کولو توفیق رانصیب کړي. آمین

## اوله وجه:

..........په دنیا کي د ټولو څخه ژر ختمېدونکی شی میله او تماشه ده، څو مره میلې او تماشې چي دي.
دا د لږ وخت لپاره وي، که انسان هغه د سکرین پر مخویني، او که ئې د غسي په یو میدان کيویني، نو هغه یو څه ساعت وي، بس دستي ختمیږي.
الله تعالی هم د دنیا د زندګۍ د میلو او تماشو سره څُکه تشبیه ور کړېده: چي انسانانو ته دا معلومه سي: چي دنیا هم د یو څو ساعتو معامله ده، داغه وجه ده: چي کله انسان په قبر کي ډېره زندګي تېره کړي، او د قیامت اوږده ورځ وویني، نو بیا چي کله د ده څخه د دنیا متعلق پوښتنه وسي، نو دی به وایي:
..........﴿مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ﴾.(۱)
دنیا خو نه وه، مګر یو ساعت او یو ګړی وو، حتی: چي بعض انسانان به دا وایي:
..........﴿لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا﴾.(۲)
موږ خو په دنیا کي نور وخت ندی تېر کړی، مګر د سهار یو څه وخت یا د ماښام یو څه وخت.

(۱) سورة الروم: آیت نمبر ۵۵
(۲) سورة النازعات: آیت نمبر ۴۶

چي کوم ځا ته الله تعالی په دنیا کي سل(۱۰۰) کاله ژوندگي ور کړی وي، نو هغه ته به هم دا ور معلومه سي: چي صرف یو خوب وو، چي ما ولیدی. یا یو افسانه وه، چي ما واورېدله.

حضرت نوح علیه السلام ته الله تعالی د زر(۱۰۰۰) کالو څخه زیات عمر ور کړی وو، نه نیم سوه(۹۵۰) کاله خو ده تبلیغ وکړی، بیا د اوبو طوفان راغلی، او شپږ(۶) میاشتي دی د اوبو پر سر په کښتۍ کي گرځېدی، او د طوفان د عذاب څخه وروسته هم شپېته(۶۰) کاله ژوندی وو.

په روایاتو کي راځي: چي کله د ده وفات وسو، نو الله تعالی پوښتنه ځني وکړه: چي زما نبي او رسوله! تا د دنیا ژوندگي څنگه محسوسه کړه؟ ده په جواب کي ورته وویل: یا الله! ماته داسي محسوسه سوله: لکه د یو کوډلي چي دوې دروازې وي، زه په یوه باندي را داخل سم، او د هغه بلي دروازې څخه ووزم، نو چي کله هغه ته زر(۱۰۰۰) کاله ژوندگي داسي محسوسه سوله، نو بیا د دنیا سل(۱۰۰) کاله ژوندگي څه حیثیت لري.

چي کوم څوک وفات سي، هغه ته دا ور معلومېږي: چي د دنیا ژوندگي ډېره مختصره بلکه د یو ساعت خبره وه.

تاسو خپله تجربه وکړئ! تاسو ته به در معلومه سي! تاسو لږ د خپل ماشوموالي زمانه دریاده کړئ! انسان ته به داسي معلومېږي: لکه د پروند ورځي خبره چي وي، حالانکه پر ده باندي به پنځوس(۵۰) کاله زمانه تېره سوې وي.

## دوهمه وجه:

............د دنیا ژوندگي ته د میلې او تماشې ویلو دویمه وجه دا مفسرینو لیکلې ده: چي عام طور د بازیو او میلو د کتلو څخه وروسته بنده ته اکثره وخت افسوس پیدا کیږي: او د ځان سره دا وایي: چي بس پیسي مي هم ضائع کړې، او وخت مي هم ضائع کړی.

اکثره د میلو لیدونکي چي کله میله ویني، نو د هغه څخه وروسته وایي: چي بس موږ هسي ورغلو، خپل ضروري کارونه مي پرېښوول، نو چي د کوم سړي عمر د دنیا په را

جمعه کولو کي تېر سي، نو د خپل مرګ پر وخت به دي افسوس کوي، او بلکل به ئې دغه حالت وي: او د ځان سره به وايي: چي ما خو هسي خپله قيمتي زندګي ضائع کړله، او ضروري چي د آخرت تياري وه، هغه را څخه پاته سوه.
حالانکه د انسان د مرګ څخه وروسته د داسي ذات سره مخامخ کېدل دي: چي هغه د انسان څخه د زندګۍ دد هري لمحې او د هر عمل پوښتنه کوي، او انسان چي په دنيا کي هر څه کړي وي، هغه د ده مخ لره راځي، ځکه الله تعالى فرمايي:
..........﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ، وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾.(١)
انسان که د خير کار په دنيا کي د يو ذرې مقدار وکړي، هم به د ده و مختهٔ راځي، او که ئې د شر کار يوه ذره وکړی، هم به د ده و مختهٔ راځي، او د ده څخه به د هغهٔ پوښتنه کيږي، نو الله تعالى د قرآن کريم په ډېرو آيتو کي موږ ته د دې خبري ترغيب راکوي: چي ستاسو اصل کاميابي پر دين باندي په تک کولو کي ده.
د دنيا په زندګي کي مال او دولت را جمعه کړئ، خو د هغه په وجه خپل آخرت د دماغ څخه مه ليري کوئ، ورنه بيا به خپل ژوند ضائع و بولئ، او هم به پر هغه باندي افسوسونه کوئ.

## د دنيا مثال:

علماؤ ليکلي دي: چي د دنيا مثال د دوکان او کارخانې دی، او د آخرت مثال د کور دی، دنيا داره انسان په دوکان او کارخانه کي ګټه د خپل کور د آبادۍ لپاره کوي، او هغه ګټه پر خپل کور باندي خرڅوي، نو کور ئې هم آباد وي، او بچيان ئې خوشحاله وي، او ژوند ئې د کاميابۍ او عزت په شکل روان وي.
ليکن کچيري دنيا داره د کور پر ځاى په دوکان کي ژوند تېرول شروع کړي، کور ته نه راځي، د دوکان ګټه په دوکان کي خرڅوي، او کور د دماغ څخه وباسي، نو د هغه کور به هم برباد وي، او ژوند به ئې پرېشانه وي، او د بچيانو زندګي به ئې خرابه وي.

(١) سورة الزلزلة: آيت نمبر ٧-٨

داغه رنګه دنيا دوكان دی، او آخرت كور دی، چي كوم سړی په دنيا کي د آخرت د آبادۍ لپاره محنت كوي، نو د هغه به قبر آباد وي، آخرت به ئې آباد وي، او جنت به ئې ځای وي.
ليكن چي كوم سړی د دنيا زندګي د دنيا پر ګټه ولګوي، او د دنيا ژوند په دماغ کي ونيسي، او قبر او آخرت د دماغ څخه وباسي، نو د هغه به قبر هم خراب وي، او آخرت او د آخرت ټول منازل به ئې د بربادۍ سره مخامخ وي.

## د دنيا نتيجه دوكه ده:

په حديث شريف کي راځي: چي پيغمبر ﷺ فرمايي:
د دنيا ابتدا هم انسان ته دوكه ور كوي، او انتهاء ئې هم دوكه وي، پيغمبر ﷺ د حضرت عيسى عليه السلام يو واقعه بيانوي:
چي د حضرت عيسى عليه السلام يو يهودي خادم وو، دی به د حضرت عيسى عليه السلام سره ګرځېدی، او د هغه د ضرورت سامان به ئې تر يو ځايه پوري ور سره وړی.
حضرت عيسى عليه السلام چونكه يوه مور درلوده، چي كله هغه وفات سوه، نو نو نه د ده كور وو، او نه ئې اولاد وو، او نه ئې زنانه وه، نو كلي پر كلي به د دعوت او تبليغ لپاره ګرځېدی، لكه نن سبا زموږ او ستاسو په كلو کي تبليغي حضرات مسجد پر مسجد ګرځي، او خلګو ته د دين دعوت كوي.
يو ځل حضرت عيسى عليه السلام يو كلي ته راغلی، په هغه كلي کي يو چا د كور څخه ده ته دري(۳) ډوډۍ راوړې، ده مبارک هغه يهودي خادم ته ور كړې، چي دا خوندي كړه، چيلكه ضرورت پيښ سي، يعني وږي سو، بيا ئې را واخله.
هغه يهودي په هغه ډوډيو کي خيانت وكړی، او يوه ډوډۍ ئې په پټه باندي وخوړله، دويمه ورځ چي حضرت عيسى عليه السلام ډوډۍ طلب كړه، ده چي ورته راوړله، نو په هغه کي يوه ډوډۍ كمه وه، نو ده د هغه يهودي خادم څخه پوښتنه وكړه: چي هغه ډوډۍ چيري ده؟ نو هغه په جواب کي ورته وويل: چي "لَا اَدْرِيْ" يعني: ماته نده رامعلومه، او دا ئې وويل: چي تا خو ماته دوې(۲) ډوډۍ را كړي وې، په دريمه ډوډۍ زه نه يم خبر، چي تا ماته را كړېوه، او كنه.

حضرت عیسی علیه السلام به هغه خادم ته ډېري معجزې ښکاره کړي، د دې لپاره چي دغه سړی چي د دنيا په کومه دوکه کي راغلی دی، او د يوې ډوډۍ په خاطر ئې خپل آخرت برباد وي، دهغه دوکې څخه خلاص سي.

حضرت عیسی علیه السلام د هغه يهودي په مخ کي ځنګله ته آواز ور وکړی: چي زما يوې هوسۍ ته ضرورت دی، نو يوه هوسۍ د ځنګله څخه راووتله، او عیسی علیه السلام ته راغله، ده په خپل لاس سره ذبحه کړه، او د هغه غوښي ئې کباب کړې، پخپله ئې هم وخوړلې، او يهودي ته ئې هم ور کړلې.

د هغه څخه وروسته ئې هغه يهودي ته د نصيحت په خاطر وويل: چي ګوره! رزق د الله تعالی په قدرت کي دی، هوسۍ د ځنګله يو وحشي حيوان دی، ليکن چي کله الله تعالی وغوښتل نو هغه موږ لره په منډه راغله، او موږ ذبحه کړله، او د هغې غوښي مي وخوړلې، اوس ته دا راته ووايه: چي هغه دريمه(٣) ډوډۍ څه سوله؟ هغه يهودي خادم بيا په "لَا اَدْرِيْ" سره جواب ورکړی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: چي حضرت عیسی علیه السلام بله معجزه ور ښکاره کړه، او ورته وئې ويل: چي ته ګوره! رزق په خوړک کولو سره نه ختميږي، دغه هوسۍ چي اوس موږ وخوړله، ته هغه ته ګوره! ده د هغه هوسۍ هډوکي سره را جمعه کړل، او بيا ئې پر هغه باندي ږغ وکړی، چي: "قُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ" د الله تعالی په امر سره هغه هوسۍ بيرته جوړه سوه، او پر بدن ئې غوښي او هډوکي ټوله سره برابر سول، او په منډه بيرته د ځنګله طرفته ولاړه.

حضرت عیسی علیه السلام د دغه معجزې د ور ښکاره کولو څخه وروسته بيا دهغه خادم څخه د ډوډۍ متعلق پوښتنه وکړه: چي هغه څه سوه؟ نو هغه خادم بيا په "لَا اَدْرِيْ" سره جواب ورکړی، يعني: چي زه د ډوډۍ په حال خبر نه يم.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: چي حضرت عیسی علیه السلام د ځنګله څخه وواتی، او مخته درياب ورته راغلی، او کښتۍ او نور څه اسباب هم نسته، نو هغه يهودي ئې تر لاس ونيوی، او د اوبو پر سر باندي روان سول، بغير د کښتۍ څخه تر درياب واوښتل.

د دغه معجزې د ور ښکاره کولو څخه وروسته بيا حضرت عیسی علیه السلام هغه خادم ته وويل: ګوره! زموږ ژوند په ډوډۍ کي نه دی، دا اوس موږ پر درياب راتېر سولو، دا د

الله تعالى قدرت ولو، چي موږ ئې په خوشحالي او سلامتيا سره را تېر کړلو، نو زه تاته دا وايم: چي ډوډۍ خپل ژوند مه بوله، چي کله مرګ راورسيږي، ډوډۍ به هر څومره درته پرته وي، ليکن ته به ځني رخصت سې.

د دې نصحيت او معجزې ښکاره کولو څخه وروسته ئې بيا د هغه ورکي ډوډۍ پوښتنه ځني وکړه: خو هغه په هيڅ شکل د هغه ډوډۍ معلومات ور کولو ته تيار نه وو.

چي کله دوی دواړه يو صحرا ته راغلل، نو هلته درې(۳) ډبري وې، حضرت عيسى عليه السلام هغه خادم ته وويل: دغه درې(۳) سره ډبري راپورته کړه، هغه چي کله راوړلې، نو عيسى عليه السلام دعا وکړه، الله هغه ډبري په سرو زرو باندي بدلي کړلې.

نو عيسى عليه السلام يهودي ته نصحيت شروع کړی، ورته وايي: ګوره! ډوډۍ به څه وي؟ چي په هغه موږ ځان دوکه کوو، زموږ رب داسي مهربانه ذات دی: چي کله د هغه څخه غوښتنه وکړو، نو د صحرا ټوله خاوري به راته سره زر کړي، اوس نو راته ووايه: هغه ورکه ډوډۍ څه سوه؟

خو چي حضرت عيسى عليه السلام هر څومره کوشش وکړی، هغه يهودي خادم د هغه ورکي ډوډۍ و منلو ته په هيڅ شکل تيار نه وو.

حضرت عيسى عليه السلام په آخر کي د ده سره د هغه ښتو تقسيم شروع کړی، ورته وايي: دغه د سرو زرو يوه ښته به زما وي، او دويمه به ستا وي، او دريمه به د هغه چا وي: چي کوم چا هغه دريمه ورکه ډوډۍ خوړلې ده، يهودي خادم چي دا واورېدل، نو دستي ئې اقرار وکړی: چي هغه دريمه ډوډۍ ما خوړلې ده، نو ځکه د دغه ښتي مستحق هم زه يم.

نو پېغمبر صلى الله عليه وسلم به فرمايل: چي په ابتدا کي هم هغه خادم د يوې ډوډۍ په خاطر ګمراه سو، او په انتهاء کي هم د سرو زرو يوې ښتي ګمراه کړی، نو دنيا که په اول کي دوکه او ګمراهي ده، نو په آخر کي هم دوکه او ګمراهي ده، خو په دې شرط چي د دين څخه ليري وي.

هو که د دنيا سره دين هم ملګری وي، بيا خو پېغمبر صلى الله عليه وسلم د هغه لپاره دعا کړېده: لکه حديث شريف دی:

............ نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ﴾.(۱)

صَالح سړي ته چي الله تعالى حلال مال او دولت ور کړي، نو بيا خو د هغه لپاره د الله تعالى فضل او احسان دى، پيغمبر ﷺ به فرمايل: چي هغه دنيا څومره ښه ده: چي د آخرت لپاره توښه وي، نو دا معلوميږي: چي ټوله دنيا بې كاره نه ده، ځكه چي كوم مال د آخرت د آبادولو ذريعه جوړ سي، هغه بيا د انسان سره د الله تعالى نعمت بلل كيږي.

بلكه زه خو دا وايم: چي په نن دور كي مال د انسان د حفاظت لويه ذريعه ده، ځكه د پيغمبر ﷺ حديث دى:

............كادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْراً﴾.(۲)

ډېره قريبه ده: چي مسكنت به انسان و كفر ته ورسوي، تاسو يقين و منئ! چي ډېر خلگ موږ ليدلي دي: چي هغه د مسكنت په وجه د څو پيسو په خاطر د مسلمانۍ نوم د ځان څخه ليري كوي، او د كفارو نوم خپلوي.

ځكه: دا ډېر لوى امتحان وي: چي د انسان په كور كي مسكنت وي، او لوږه وي، او د انسان ضروريات نه پوره كيږي، او بل طرفته د كفارو موسيسې او پروګرامونه انسان ته پيسې مخته مخته كوي، او د مياشتي د ده او د ده د كور لپاره وظيفه مقرره وي، نو ډېر ځله انسان دې ته مجبوره كړي: چي د مسلمانۍ دين د عيسائيت په دين بدل نه كړي.

خو دا به وايو: چي يا الله! د عافيت او د آسانۍ معامله را سره وكړه: او د مسكنت او د سختۍ څخه به پناه غواړو، او چي كوم چاته الله تعالى ښه د راحت ژوند ور نصيب كړى دى، نو پر هغه باندي بايد هغه سړى د الله تعالى شكر ادا كړي.

پيغمبر ﷺ وفرمايل: چي حضرت عيسى عليه السلام هغه سړي ته په غصه سو، او ورته وئې فرمايل: چي سړيه! ما تاته ډېري معجزې در ښكاره كړې، او تا يوه هم نه و منله، او نه دي د هغه وركي ډوډۍ حال ماته ښكاره كړى، اوس چي د سرو زرو د يوې خبنتي مسئله مابين ته راغله، نو ټوله حال در څخه ښكاره سو، د دې څخه دا معلوميږي: چي ستا په زړه كي د الله تعالى او د هغه د رسول محبت نسته او د هغه د نبي د معجزاتو

(۱) الاداب للبيهقي: حديث نمر ۷۹۱

(۲) شعب الايمان: حديث نمبر ۶۶۱۲

عظمت نسته، د دنيا په محبت كي دي ځان د ايمان څخه خلاص كړی دی، او د يوې ښځې و مختته هر څه در څخه ښكاره سو.
بس ته اوس زما سره نور د تګ كولو لائق نه ئې، دغه درې (۳) سره ښځې د سرو زرو ئې ستا زه در څخه ولاړم، د الله تعالی په آمان!، نو حضرت عيسی عليه السلام ځني روان سو، هغه سړی ئې د هغه ښځو سره هلته پرېښوو ی.
نو پيغمبر ﷺ و فرمايل: چي دنيا د دين څخه بغير هلاک كونكې ده، او د انسان لپاره زهر قاتل ده.
حضرت عيسی عليه السلام چي كله ولاړی، نو هغه يهودي خادم په دې انتظار كي ناست دی، چي دا ښځې به د ځان سره ورم، او پدې به ځان لره مال او دولت برابروم، مځكي به رانيسم، او پر هغه باندي به باغونه لګوم، نوره به زندګي د عيش او عيشرت تېروم.
چي كله دی هلته ناست نو پر لاره باندي دوه (۲) مسافر تيريږي، د لاري د پوښتني لپاره ده ته راوګرځېدل، چي دا د ځنګله اوسېدونكی دی، د لاري پوښتنه به ځني وكړو.
هغوی چي كله وكتل، نو ده ته درې (۳) د سرو زرو ښځې پرتي دي، د هغوی نيتونه ور ته خراب سول، چي دی به مړ كړو، او دا به ځني يوسو، دی چي كله په ځان پوه سو: چي دا خلک مي وژني، نو ئې ورته وويل: چي زما د وژلو څه ضرورت دی، راسئ! تقسيم سره وكړو، يوه ښځه دي يو واخلي، او هغه بله دي دا بل واخلي، او دغه يوه ښځه دي و ماته راكړي.
د هغوی په ذهن كي هم دا خبره راغله: نو ئې د ځان سره فكر وكړی: چي يوه ښځه د سرو زرو په لاس رائحي، خامخا د بدنامۍ او د بل د قتل ذمه واري پر سر اخيستل څه ضروري خو نده، نو هغه كسان په دغه تقسيم سره راضي سول.
پيغمبر ﷺ فرمايي: چي هغوی ته چونكه دېر غټ مال په مفته كي په لاس ورغلی، نو ئې سره وويل: چي اول به ډوډۍ وخورو د هغه څخه وروسته به دا مال سره تقسيم كړو.
نو ئې پخپل مابين كي قرعه اندازي سره وكړه، چي د كوم چا نوم راپورته سو، هغه به ځي: د بازار څخه به ډوډۍ راوړي، هغه نور به دلته ورته ناست وي، او د دغه مال به حفاظت كوي، خو اتفاقاً په قرعه اندازي هغه د حضرت عيسی عليه السلام د ملګري نوم

راپورته سو، هغه بازار ته ولاړی، هغه دوه کسان خښتو ته ناست دي، د هغه سړي په بازار کي نيت خراب سو، چي زه ولي خښتي دوی ته ورتقسيم کړم، زه به په دغه خورک کي زهر ورواچوم، دوی به مړه سي، او دغه ټولي خښتي به ماته راپاته سي.
مګر هغه هم د خپل تقدير ځخه ناخبره وو، چي کله ئې خورکه راوړه، د ده د تللو ځخه وروسته هغه نورو دوو ملګرو هم مشوره ورته کړېوه: چي کله دی راسي، نو به ئې قتل کړو، او خښتي به موږ دوه پخپل مابين کي سره تقسيم کړو.
دی چي کله راورسېدی، نو هغه دوه کسان د اول ځخه لا ورته تيار وو، چي ځنګه ده خورکه کښېښوولو، هغوی پر ده باندي حمله وکړه، او دی ئي قتل کړی، نو اوس په آرام سره ورته کښېنستل، هغه خورکه ئي وخوړله، مګر چونکه په هغه کي زهر وو، نو د خورک کولو ځخه وروسته دوی دواړه هم مړه سول، هغه دري(۳) سره جسدونه هلته پراته دي، او خښتي هم ورته پرتي دي، حضرت عيسی علیہ السلام واپس پر هغه لار را روان دی، چي کله ئې وليدل: نو ئې وويل: اې دنيا! ستا حرص ځومره زيات دی، ته پر هغه ځای پرته ئې، او دغه بدبختان دي، و کوم ځای ته ورسول.
نو ځکه پېغمبر صلی اللہ علیہ وسلم فرمايلي دي: د دين ځخه بغير دنيا زهر قاتل دی، هو! که د دنيا سره مال او دولت ور سره وي، نو بيا خو د انسان لپاره دعزت او د دنيا او آخرت د راحت ذريعه وي.

## دنيا د خواهشاتو پوره کولو ځای نه دی:

زموږ بزرګان به همېشه د دنيا د لذتو او خواهشاتو پوره کولو ځخه ليري تښتېدل، هغوی به دا ويل: که موږ په خواهشاتو پسي روان سو، نو د هغه خو بيا هيڅ حد نسته.
دايو مسلّم حقيقت دی: چي د ضرورياتو لپاره حد وي، او د خواهشاتو لپاره هيڅکله حد نه معلوميږي.
نو ځکه د الله تعالی فرمان دی: چي تاسو په دنيا کي خپل ضروريات پوره کړئ، ستاسو د خواهشاتو د پوره کولو لپاره ما جنت جوړ کړی دی، لکه الله تعالی فرمايلي دي:

........وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾.(١)
ستاسو لپاره په جنت کي هغه څه دي: چي ستاسو زړه ئې غواړي، او هم هغه دي: چې ستاسو نفسونه ئې اشتهاء لري.
نو دا خبره باید مسلمان په ذهن کي کښېنوي، چي د خواهشاتو پوره کولو ځای جنت دی، نو په دنیا کي خپل ضروریات پوره کول، او د دنیا څخه خپل زندګي په استغناء کي تېرول.

## د خواجه ابو الحسن خرقاني رحمۃ اللہ علیہ استغناء:

زموږ د مشائخو دا طریقه وه: چي دوی به همېشه دا لله تعالی په یاد کي مشغوله وو، د دوی په نظر کي به د انسان عظمت د هغه د دینداری په وجه وو، د دنیا په وجه د دوی په حضور کي د انسان عظمت نه وو.
خواجه ابو الحسن خرقاني رحمۃ اللہ علیہ د نقشبندیه سلسلې د لوړو بزرګانو څخه وو، ظاهراً خو یو فقیر انسان وو، لیکن الله تعالی ده ته قبولیت عامه ورکړی وو، چي د ده خانقاه ته به هر وخت امیران او د وخت حاکمان راتلل.
یو ځل ده خپلو خادمانو ته وویل: تاسو نن د خانقاه صفائي وکړئ، هغه زمانه د فرشونو د سیمنټو خو نه وه، بلکه کچه خاوري وي، د جمعې ورځ وه، نو بعضي مریدان د جمعې د لمانځه لپاره غسلونه کوي، او بعضي بیا د خانقاه په صفائي کي مصروفه سول، د ده د سر وربښتان ډېر اوږده ول، ځکه د ده په مزاج کي د سنت طریقې سره زیات محبت وو، چونکه د پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم ښتان به هم اوږده ول، نو ده هم خپل سر د هغه پر طریقه باندي جوړ کړی وو.
د ده په وربښتانو کي خارش پیدا سو، عام طور خارش په سر کي کله کله د خسمانانو یعني: سپږو په وجه وي، او کله د انسان ډېره زمانه خپل سر نه پرېمنځي، نو هم خارش کي پیدا کیږي.

(١) سورة فصلت: آیت نمبر ٣١

چي کله ده ته د سر خارش محسوس سو، نو ده یو خپل خادم ته وویل: چي ته یو ځل زما په دې ورېښتانو کي وګوره: چي زما په سر کي خوبه سپږي پیدا سوي نوي، نو هغه خادم ورته کتنباستی، او د ده په سر کي ور ګوري.

دباندي مریدان د خانقاه په صفائي باندي اخته دي، او د ټولو جارو په لاس کي دی، او په خانقاه کي د ننه زیاتي دوړي او ګرزا او غبار جوړ دی.

د الله تعالی شان وو، چي عین په داغه وخت کي سلطان محمود غزنوي د ده د ملاقات لپاره خانقاه ته را ورسېدی، مریدانو چي کله ولیدی، چي بادشاه راغلی، نو هغه ټوله وراخطا سول: چي دلته دوړي دوړېږي، او بل طرفته بادشاه راغلی، نو هغه مرید په منډه راغلی، چي حضرت ته د بادشاه د راتللو اطلاع ور کړئ، هغه چي کله حجرې ته راغلی، نو عجیبه کیفیت دی: چي حضرت سر د مرید پر زنګانه ایښی دی، او هغه د حضرت په سر کي سپږي ور ګوري.

هغه مرید هغه خادم اشاره وکړه: چي بادشاه راغلی، چي کله هغه ته معلومه سوه: نو هغه خادم هم وارخطا سو، او په داغه حالت کي ور ته وایي: حضرت! حضرت! ده مبارک چي کله سر را پورته کړی، نو هغه مرید بیا د وارخطائی په شکل ورته وایي: بادشاه راغلی، حضرت چي کله د ده خبره واورېدله، نو ورته وایي: اوه هو! زما ګمان خو دا وو: چي ستا لاس لره سپږه درغله، نو زه ډېر خوشحاله سوم، او هغه ته راته وایي: چي بادشاه راغلی، تاسو اندازه ولګوئ: چي د هغه انسانانو په زړو کي د دنیا حقیقت په کومه درجه وو.

چي کله سلطان محمود غزنوي حضرت ابوالحسن خرقاني رحمة الله علیه ته راغلی، نو حضرت د غسي ناست وو، هغه ورته را پیش سو، او د ده سره ئې مصافحه وکړه، د هغه څخه وروسته ئې یو څه پیسې بطور هدیه حضرت ته پیش کړې، مګر حضرت د هغه د قبلولو څخه انکار وکړی، هغه بیا هغه پیسې را پیش کړې، د حضرت و مخته په دې وخت کي یو څه وچه ډوډۍ پرته وه، ده د هغه پیسو په بدله کي هغه وچه ډوډۍ سلطان محمود غزنوي ته پیش کړه، او ورته وایي: ته دا وخوره.

سلطان چي کله ډوډۍ په خوله کي واچوله، لیکن هغه وچه ګوله وه، د بادشاه تر ستوني نه تېرېدله. بلکه هغه ګوله د هغه په ستوني کي ودرېدله.

حضرت چي کله وليدله، چي دبادشاه په ستونکي کي ګوله ودرېدله، نو پوښتنه ځني وکړه: چي څه پيښه سوه؟ ګوله دي نر ستوني نه شوه کيږي، هغه ورته وويل: هو! بلکل تر ستوني مي نه تېرېږي، نو حضرت هغه بادشاه ته وويل: ستا دغه پيسې هم دغه رنګه زما د ستوني څخه لاندي نه شوه کيږي، نو ده پر هغه موقع باندي بادشاه ته دغه شان نصيحت وکړی.

بادشاه چي کله په محفل کي يو ګړی ناست وو، نو د حضرت خبرو پر ده باندي ډېر زيات اثر وکړی، چي کله واپس ئې رخصت اخيستی، نو حضرت د ده سره دخانقاه تر دروازې پوري د اکرام کولو لپاره ولاړی، او دی ئې رخصت کړی.

وروسته يو مريد د حضرت څخه پوښتنه وکړه: چي کله بادشاه راغلی، نو ته ناست وې، هيڅ فکر دي په هغه کي بند نه کړی، او چي کله هغه تلی، نو ته تر دروازې پوري ورسره ولاړې، او اکرام دي ئې وکړی، پدي کي څه راز وو؟

حضرت په جواب کي ورته وفرمايل: بادشاه چي کله مالره راغلی، نو ځان ته ئې د بادشاه په نظر کتل، په زړه کي ئې تکبر وو، نو ځکه زه چي پر کوم ځای ناست وم، هغسي کښېنستم، د ده مي څه پرواه نه وساتله.

بيا زما په خبرو د ده د تکبر علاج وسو، او يو ګړی چي زما سره کښېناستی، د ده په زړه کي د الله تعالی د نيکو بندګانو محبت پيدا سو، چي د هغه په وجه په ده کي عاجزي راغله، او زه د عاجزۍ د قدر کولو په خاطر د خانقاه تر دروازې پوري ورسره ولاړم، او هلته مي دی رخصت کړی.

## د سومنات بت فتحه:

په دې ملاقات کي بادشاه حضرت خواجه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه ته وويل: چي زما پر سومنات (بت) باندي د حملې کولو اراده ده، د دښمن تعداد ډېر زيات دی، او مقابله سخته ده، ته دُعا راته وکړه: چي الله تعالی کاميابي رانصيب کړي.

چي کله سلطان محمود غزنوي ددُعا لپاره عرض وکړی، نو د حضرت سره يو چپنه پرته وه، هغه ئې ورکړه، او ورته وئې ويل: چي دا د ځان سره واخله، چي کله تا

ضرورت محسوس کړی، نو دغه چپنه ومخته کښېږده، او د الله تعالی څخه په دغه شان دُعا وغواړه.

چي: یاالله! که به چیري د دغه چپني والا ستا په دربار کي څه قدر لري، د ده په برکت باندي زما دغه مشکل را حل کړه، او زما مدد وکړه، هغه ورته وویل: ډېره ښه ده، هغه چپنه ئې څني واخیستله، او رخصت سولو.

چي کله سلطان محمود غزنوي د پوره تیاری سره پر سومنات باندي حمله وکړه، په دې وخت کي هندوان او د نورو مذهبو انسانانو ټولو د مسلمانانو خلاف د جنګ کولو اراده وه، او ټوله د مسلمانانو خلاف جنګ ته راووتل، د کفارو تعداد ډېر زیات و.

محمود غزنوي چي کله د خپلو لښکر کمزوري محسوسه کړه، نو دستي هغه چپنه په یاد ورغله، نو هغه ئې و مخته کښېښووله، او د الله تعالی څخه ئې دعا وغوښته، چي اې زمار به! کچیري د دې چپني والا ستا په حضور کي څه مقام وي، او ستا د خوښو بندګانو څخه وي، نو ماته د سومنات فتحه رانصیب کړه، چنانچه الله تعالی د جنګ نقشه دستي بدله کړه، او ده ته ئې د سومنات فتحه ور نصیب کړه.

د سومنات د فتحي څخه یو څه زمانه بعد محمود غزنوي د ځان سره فکر وکړی: چي زه به ورسم، د ابو الحسن خرقاني رحمۃ اللہ علیہ به شکریه ادا کړم، او هم به د فتحي زیری ور باندي وکړم، چنانچه دی راغلی، او خواجه صاحب ته ئې ټوله واقعه بیان کړه.

خواجه رحمۃ اللہ علیہ د ده څخه پوښتنه وکړه: چي تا کله چپنه و مخته کښېښووله، نو دي د الله تعالی څخه څنګه غوښتنه وکړه؟ بادشاه ورته وویل: حضرت! ما دا دعا وغوښته: یا الله! که به چیري د دغه چپني والا ستا په حضور کي څه مقام وي، نو ما د سومنات فاتح جوړ کړه.

حضرت چي کله دا واورېدل، نو ئې ورته وویل: تا خو ډېره ارزانه سودا کړېده: کچیري تا دا دُعا غوښتې وای: چي یا الله! د دغه چپني والا په برکت ما د ټولي دنیا فاتح جوړه کړه، لا به هم الله تعالی ته د ټولي دنیا فاتح جوړ کړی وای.

نو زه دا وایم: چي د نیکو بندګانو د الله تعالی په حضور کي یو مقام وي، چونکه هغه انسانانو ژوند په تقوی او په نیکو اعمالو کي تېر کړی وي، نو د دوی د خولې څخه چي کوم الفاظ ووزي، الله تعالی د هغه ډېر لحاظ ساتي.

## د خانقاه د خاورو ادب:

سلطان محمود غزنوي د وفات څخه وروسته یو چا په خوب ولیدی، چي په جنت کي ګرځېدی، نو هغه ورته وویل: چي ته خو د دنیا بادشاه وې، او په آخرت کي د دنیا د بادشاهانو ډېر بد حال وي، او تا زه په جنت کي وینم، الله تعالی په کوم عمل دلته راوستې؟

هغه په جواب کي ورته وویل: چي زما یو کوشنی عمل وو، لیکن الله تعالی ته هغه دومره خوښ وګرځېدی، چي د هغه په وجه الله تعالی زما مغفرت وکړی.

هغوی پوښتنه ځني وکړه: چي هغه کوم عمل وو؟ ده په جواب کي ورته وویل: یو ځل زه د ابو الحسن خرقاني رحمۃ اللہ علیہ خانقاه ته ورغلم، هلته خلګو خانقاه جارو کوله، چي د هغه ګرز او غبار ولاړېدی، او زه تېرېدم، هغه زما پر بدن ولګېدی، او ما هغه پر خپل بدن پوري پدې نیت باندي وموښلې: چي دا د الله تعالی د نیکو بندګانو د کپړو او بسترو خاوري دي، دا به د برکت څخه خالي نوي.

نو الله تعالی ما ته وویل: چي زما په بندګانو کي کوم فقیران دي، تا د هغوی د خاوري قدر وکړی، د هغه په ذریعه ما ستا پر بدن باندي د جهنم اور حرام کړی، ته زما لطرفه آزاد ئې، نو الله تعالی زما مغفرت او بخښتنه وکړه.

## د حضرت سالم رحمۃ اللہ علیہ استغناء:

زموږ پر بزرګانو باندي داسي واقعات راغلي دي، چي هغوی ته د وخت بادشاهانو ډېر غټ پېشکشونه کړي دي، مګر هغوی هغه دخپل ذات لپاره هیڅ کله قبول کړي نه دي.

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ لمسی حضرت سالم رحمۃ اللہ علیہ د "بیت الله" په طواف کي روان دی، د طواف کولو په دروان کي د ده دوخت د بادشاه "هشام بن عبد الملک" سره ملاقات

وسو، هشام د سلام ویلو څخه وروسته ده ته وویل: چي حضرت! که یو ضرورت وي، ته ماته ووایه: چي زه ئې در پوره کړم، او زه ستا خدمت وکړم.

ده په جواب کي ورته وویل: هشامه! د "بیت الله" په حرم کي دننه د الله تعالی د کور په طواف کي د الله تعالی څخه سوا د بل چا څخه خپل حاجت غوښتل ماته شرم درېږي، ځکه د ادب الهی تقاضا دا ده: چي دلته به انسان صرف د هغه و مخته لاس پورته کوي.

هشام لا جوابه سو، چي کله ئې طواف ختم کړی، نو راغلی د حرم د دروازې څخه دباندي انتظار ور ته کوي، چي کله حضرت سالم رحمۃ اللہ علیہ دباندي راوواتی، ده ولیدی، نو نژدې ورته راغلی، او ورته وئې ویل: حضرت! اوس یو خدمت راته ووایه: چي در پوره ئې کړم.

ده ورته وویل: هشامه! د دنیا غوښتنه در څخه وکړم، او که د دین؟ هشام جواب ورکړی: چي حضرت! د دین به زما څخه ته څه غوښته وکړې؟ ځکه د دین په میدان کي خو ستا شمار د وخت په ډېرو لویو علماؤو کي کېږي، نو زما څخه د دنیا متعلق یو څه غوښتنه وکړه.

ده دستي ورته وویل: اې هشامه!

............وَاللهِ! مَاسَئَلْتُهُ مَنْ يَمْلِكُهُ فَكَيْفَ مَنْ لَا يَمْلِكُهُ﴾.

په الله تعالی دي مي قسم وي: چي دنیا ماد هغه چا څخه تر اوسه پوري نده غوښتې: چي کم څوک د دې ټولي دنیا مالک او متصرف دی، نو د هغه چا څخه به ئې سنګه وغواړم: چي هغه د دنیا مالک هم ندی.

هشام چي کله دا واورېدل، نو ډېر حیران سو، او د ده څخه ئې رخصت واخیستی، او پر خپل سخ ولاړی.

## د اعتدال لار:

خو بهر حال زه په آخر کي دا درته وایم: چي زموږ لپاره د اعتدال لار خپلول مناسب وي، د هغه شکل دادی: چي مؤمن به همېشه د حلال رزق کوشش کوي، او نوره به معامله پر الله تعالی باندي سپاري.

کچيري الله تعالى ده ته ډېر څه ور کړل، نو د الله تعالى به شکر ادا کوي، او که الله تعالى پر ده باندي د رزق تنګي راوسته، نو صبر به کوي، شکر کونکی انسان هم جنتي وي، او صبر والا هم جنت ته ځي، نو د مؤمن لپاره په دواړو طرفو کي جنت دی.
خو دا ياد ساتئ: نتائج زموږ په اختيار کي نه دي، دا د الله تعالى تقسيم دی، الله تعالى فرمايي:
........نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ﴾.(۱)
موږ د انسانانو په مابين کي رزقونه ور تقسيم کوو.
نو موږ او تاسو بايد همېشه د الله تعالى په تقسيم باندي راضي اوسو، ځکه په حديث شريف کي راځي: چي کم بنده ته الله تعالى په دنيا کي رزق کم ور کړي، او دی د هغه باوجود د الله تعالى څخه راضي وي، نو الله تعالى د قيامت په ورځ ده ته وايي: اې زما بنده! ته زما پر ورکړه، او زما پر لږ رزق راضي وې، نن زه ستا پر لږ عملو باندي هم راضي يم، نو به الله تعالى ده ته جنت ورکړي.
ځکه کچيري الله تعالى ده ته رزق پراخ ور کړی وای، نو ده به شکر ادا کړی وای، او کچيري ئې رزق تنګ وای، نو ده به صبر کړی وای.
داسي نه: چي د رزق د تنګۍ په صورت کي دی درواغ شروع کړي، او انسانانو ته دوکې ور کوي، او د بل مال په غلطه طريقه خپل لاس ته رسوي، او کچيري مال زيات ور کړي، نو بيا الله تعالى څني هير وي، او دی د سرکښۍ پر لار روان سي.
ګورئ! اسلام انسان ته عجيبه د اعتدال لار ښيانوي: چي د انسان سره به مال او دولت هم وي، او د هغه سره به د عاجزۍ طريقه د خپل ژوند څخه نه ليري کوي، او خپل ژوند به په عاجزي کي روان ساتي.
الله تعالى دي زموږ او ستاسو په دماغو کي د اسلام د احکامو محبت او پر هغه باندي د ژوند تېرولو ترتيب راولي، او الله تعالى دي زموږ او ستاسو سهارونه او ماښامونه او د زندګۍ ټول ترتيبات پر اسلام باندي برابر کړي.

(۱) سورة الزخرف: آيت نمبر ۳۲

او الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلّی اللّٰهُ تَعَالی عَلی خَیْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآيه)

# د مسنونو دعاګانو اهمیت، اوله حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنّ مُحَمّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشّيْطَانِ الرّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرّحْمَنِ الرّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنّي فَإِنّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿الدُّعَاءُ مُخُّ العِبَادَةِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِكَ مِنَ الشّاهِدِيْنَ وَالشّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! د الله تعالى ډېر كرم او احسان دى، چې الله تعالى زموږ او ستاسو د هدايت او رهنمائي لپاره پېغمبر ﷺ د يو نبي الرحمة په شكل مبعوث وګرځاوى، چې د هغه په هر قول او فعل او عمل كې زموږ او ستاسو لپاره هدايت او لارښوونه ده.

هسې خو انسانيت ټوله پخپله زندګۍ كې په هر عمل او فعل كې د الله تعالى و طرفته محتاجه دى، خو د خپلې كم علمۍ په خاطر د الله تعالى څخه نه د خپل حاجت غوښتلو طريقه ور معلومېږي، چې زه د الله تعالى څخه څه وغواړم؟ او څنګه ئې وغواړم؟ او زما د غوښتلو به څه طريقه وي.

خو دغه د غوښتلو طريقه د پېغمبر ﷺ څخه انسانيت ټوله اخلي، او د ده مبارك پر دې امت باندې عظيم احسان دى، چې پر قدم قدم باندې ئې انسانيت ته د غوښتنې طريقه ښكاره كړې ده، چې دغه د الله تعالى څخه د غوښتلو طريقه ده، او دغه ئې

(١) سورة البقره: آيت نمبر ١٨٦

(٢) سنن ترمذي: حديث نمبر ٣٣٧١

زمانه او د غوښتني شکل دی، چې هغه زموږ او ستاسو و مخته د مسنونو دعاګانو په شکل پرته ده:

چې د ژوند په څلرویښت(۲۴) ساعته کې په هر عمل کې د پیغمبر ﷺ مسنونه دعا او د الله تعالی څخه غوښتنه زما او ستا و مخته ښکاره ده.

چیکله انسان سهار راکښېني، نو د هغه خپله دعا ده، او چیکله "بیت الخلاء" ته ورځي، نو هم خپله مسنونه دعا ده، چې کله اودس کوي، نو د هر اندام د وینځلو په وخت کې جلا دعا ده، او چیکله مسجد ته ورځي، یا د مسجد څخه واپس کورته راځي، نو د هر عمل لپاره د پیغمبر ﷺ سنت دعا زموږ و مخته پرته ده.

## د زیات ذکر کولو حکم:

در حقیقت د پیغمبر ﷺ دغه مسنوني دعاګاني د الله تعالی سره زموږ د تعلق پیدا کولو یو نسخه اکسیر ده، ځکه د الله تعالی سره د تعلق او رابطې پیدا کولو آسان ترینه او مختصر ترینه لار دا ده: چې انسان هر وخت د الله تعالی یاد په زړه کې ولري، او پر ژبه ئې د الله تعالی ذکر وي، او د الله تعالی څخه د خپل حاجت او ضرورت او حفاظت لپاره یو څه غواړي.

لکه الله تعالی په قرآن کریم کې موږ ته دا حکم کړی دی:

............﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾.(۱)

اې مؤمنانو! د الله تعالی ذکر او یاد په کثرت سره کوئ، پر هر عمل باندې په دماغ کې د الله تعالی فکر او په زړه کې د الله تعالی یاد او پر ژبه باندې د الله تعالی ذکر جاري ساتئ.

پیغمبر ﷺ ته یو صحابي راغلی، او دا پوښتنه ئې کوي: اې د الله تعالی رسوله! د ټولو څخه افضل عمل کوم دی؟

پیغمبر ﷺ په جواب کې ورته فرمایي:

........﴿لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ﴾.(۲)

---

(۱) سورة الاحزاب: آیت نمبر ۴۱

(۲) الزهد و الرقاق لابن المبارک: حدیث نمبر ۹۳۵

يعني: چي ستا ژبه به هر وخت د الله تعالى په ذکر سره نوده وي، يعني: ستا پر ژبه به د الله تعالى ذکر په يو طريقه نه طريقه سره جاري وي، لهذا په کثرت سره د ذکر کولو حکم الله تعالى په قرآن کريم کي هم کړى دى، او پېغمبر ﷺ هم د هغه فضيلت بيان کړى دى.

## الله زموږ ذکر ته ضرورت نه لري:

اوس د فکر خبره دا ده: چي الله تعالى چي و موږ ته د زيات ذکر کولو کم حکم کړى دى، ايا هغه حکم د دې لپاره را ته کوي، چي "العياذ بالله" زموږ په ذکر کي الله تعالى ته څه فائده رسيږي، او زموږ د ذکر په خاطر د الله تعالى په عظمت او جلال کي اضافه راځي.

دا خو ښکاره خبره ده: چي د کم چا سره د الله تعالى د ذات او صفاتو څه نا څه معرفت وي، او پر الله تعالى باندي ايمان لري، هغه د دې خبرو تصور هم نسي کولاى.

ځکه زموږ دا عقيده ده: که ټوله کائنات په يوه پلا په هر وخت او هره لمحه کي د الله تعالى ذکر کوي، نو د الله تعالى په عظمت او کبريا او د هغه په جمال او جلال کي يوه ذره اضافه نسي کولاى.

او کچيري ټوله کائنات "العياذ بالله" دا فيصله وکړي: چي موږ به د الله تعالى ذکر نه کوو، او د الله تعالى ياد به د دماغ څخه باسو، او د ذکر څخه به غافله زندګي تېروو، او هم به د ګناهونو ارتکاب کوو، نو هم د الله تعالى په عظمت او جلال کي يوه ذره کمي نه واقع کيږي.

ځکه الله تعالى داسي بې نيازه ذات دى: چي هغه "صمد" دى، نه هغه زما او ستا عبادت او ذکر ته ضرورت لري، بلکه هغه زموږ د سجدو او لمنځو څخه بې نيازه دى، زموږ د تسبيحاتو او عباداتو څخه هم بې نيازه دى، هغه ته زموږ د ذکر کولو څخه هيڅ فائده نه رسيږي.

## د الله تعالی په ذکر کولو کي زموږ فائده ده:

لېکن دغه و موږ ته چي دا حکم را کول کیږي: چي د الله تعالی ذکر په کثرت سره کوئ، په دې کي داغه زموږ فائده ده، هغه دا ده: چي نن سبا په دنیا کي څومره جرائم او نافرمانۍ کیږي، د هغه ټولو جړ د الله تعالی څخه غفلت دی.

چي کله د انسان د دماغ څخه د الله تعالی فکر ختم سوي، او زړه ئې د الله تعالی د یاد څخه غافله سي، او د ژبي څخه ئې د الله تعالی ذکر لیري سي، نو بیا انسان لوئي هم کوي، او تکبر هم کوي، او په خپله زندګي کي د یوې ګناه څخه هم مخ نه راګرځوي.

کچیري د الله تعالی یاد د هغه په دل او دماغ پوري پیوست سي، او د هغه ذکر د ده پر ژبه جاري وي، نو به د ده سره دا احساس همېشه ملګری وي: چي زه یو یوه ورځ مرم، او د دنیا څخه رخصت کېږم، او د الله تعالی و حضور ته به پیشېږم، او د خپلي زندګۍ د ټولو اعمالو حساب به د اقوامو د عالم په مخ کي د الله تعالی و حضور ته پېشوم، نو بیا خو هیڅ کله هغه انسان ګناه نسي کولای.

لکهٔ د پېغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

چي غل چیکله غلا کوي، نو په دې وخت کي دی مؤمن نوي، یعني: خپل ایمان ده ته حاضر نوي، او دی د الله تعالی د یاد څخه غافل وي، او کچیري دی غافل نوای، بیا ده هیڅکله غلا نه کوله.

او زناکار چیکله زنا کوي، نو پدې وخت کي هم دی، د الله تعالی د یاد څخه غافله وي، کچیري د الله تعالی ذکر د ده پر ژبه او د الله تعالی یاد د ده په زړه کي حاضر سي، نو بیا هیڅکله دی زنا نه کوي، لکه د حدیث شریف الفاظ دي:

............لاَ يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَسْرِقُ السَّارِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾.(۱)

یعني: چي کم وخت دی زنا کوي، نو هغه وخت ده ته خپل ایمان حاضر نوي، د دې دا مطلب دی: چي ده ته د الله تعالی یاد مستحضر نوي، او نه د الله تعالی ذکر د ده پر ژبه باندي وي، کچیري هغه مستحضر وای، نو بیا به هیڅکله ده دا عمل نوای کړی.

(۱) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۵۵۷۸

نو د ټولو بد اخلاقیو او ظلمونو چې په دنیا کې کیږي، لوی سبب: د الله تعالی د ذکر څخه غفلت دی، نو ځکه الله تعالی موږ ته د ډېر ذکر کولو حکم کوي.

## ډېر ذکر به انسان څنګه کوي؟

اوس سوال دا دی: چې انسان به د الله تعالی ډېر ذکر څنګه کوي؟ ځکه هغه خو همېشه د دنیا په ضرورتونو او کارو کې اخته وي.

پېغمبرﷺ پخپلو مسنونو دعاګانو سره دا طریقه ډېره آسانه ښوولې ده: چې باید پر انسان باندې هر نوی حالت راسي، نو دی د الله تعالی ذکر وکړي، او د هغه څخه خپل حاجت وغواړي.

مثلاً: د خوب څخه راکښېنستل، او "بیت الخلاء" ته ورتلل، او اودس کول، او مسجد لره تلل، دا ټوله نوي اعمال بلل کیږي، نو د دې هر عمل سره د پېغمبرﷺ مسنونه دعا د ذکر په شکل ویل.

چیکله انسان دا معمول جوړ کړي: نو کرار کرار به د ده په زړه کې د الله تعالی یاد کښېني، او دی به د الله تعالی و طرفته د رجوع کولو عادي جوړ سي، او هم به د الله تعالی د ذات سره تعلق پیدا سي.

## دغه دعاګانې د پېغمبرﷺ معجزه وه:

پېغمبرﷺ چې کمې دعاګانې غوښتې دي، هغه خو یقیناً د علومو یو دنیا ده، کچیري انسان صرف د پېغمبرﷺ غوښتلې دعاګانې په غور سره ووایي، نو دستي به ئې د پېغمبرﷺ پر صداقت باندې ډېر پوخ یقین جوړ سي.

ځکه دا دعاګانې بذات خود د پېغمبرﷺ د رسالت یو دلیل دی، او د ده معجزه ده، ځکه هیڅ یو انسان هم د خپل عقل او سوچ پر بنیاد باندې هیڅکله داسې دعاګانې نسي غوښتلای، لکه پېغمبرﷺ چې غوښتې دي، او خپل امت ته ئې د هغه تلقین کړی دی، یو یوه دعا داسې ده: چې انسان به پر هغه باندې خپل ځان قربان کړي.

پدې کې هیڅ شک نسته: چې دغه دعاګانې د الله تعالی لطرفه د الهام په شکل د پېغمبرﷺ په زړه کې وراچول سوي دي، چې ته زما څخه په دغه شکل دعا غواړه.

د الله تعالى عجيب شان دی: چي ور کونکی ذات هم دی پخپله دی، او بنده ته د دعا کولو د طريقې ور ښوونکی ذات هم دی دی، او دغه د دعا ور ښوولو طريقه زموږ د جد امجد حضرت آدم عليه السلام څخه را روانه ده.

## حضرت آدم عليه السلام ته دعا ور ښوول:

حضرت آدم عليه السلام ته الله تعالى په جنتونو کي زندګي ور کړېوه، او بطور امتحان ئې د يو درختي څخه منعه کړی وو، ليکن الله تعالى د خپل حکمت په خاطر جنت ته شيطان ور دننه کړی، او شيطان حضرت آدم عليه السلام ته د هغه دانې د خوړلو وسوسه ور واچوله، او حضرت آدم عليه السلام د شيطان په وسوسه د هغه دانې خورک و کړی، الله تعالى دی د جنت څخه راوايستی.

د رواياتو څخه معلوميږي: چي حضرت آدم عليه السلام درې سوه کاله په دنيا کي ګرځېدی، او د خپلي غلطۍ احساس ورته وسو، او پر خپله غلطي باندي ئې ډېره زياته ژړا وکړه، چي د مځکي پر مخ څومره اوښکي توی سوي دي، په هغه کي نه حصې د حضرت آدم عليه السلام اوښکي دي، او يوه حصه د باقي انسانيت اوښکي دي.

حضرت آدم عليه السلام د هغه غلطۍ څخه د توبې کښلو په تلاش کي وو، ليکن دا نه ورمعلومېدله، چي زه د هغه معافي د الله تعالى څخه څنګه وغواړم، او نه د هغه طريقه ئې په دماغ کي راتلله، چنانچه الله تعالى پخپله ده ته هغه طريقه ور وښووله، لکه د قرآن کريم آيت دی:

............فَتَلَقَّى آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ﴾.(۱)

يعني: آدم عليه السلام د خپل رب څخه يو څه کلمات ازده کړل، او الله تعالى ده ته هغه کلمات ور وښوول، چي ماته داسي ووايه، او د خپل عمل څخه په دغه الفاظو توبه وکاږه، لکه هغه کلمات دا دي:

............قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾.(۲)

---

(۱) سورة البقره: آيت نمبر ۳۷

(۲) سورة الاعراف: آيت نمبر ۲۳

یا الله! ما د خپل ځان سره ظلم کړی دی، کته زما معفرت نه وکړې، او پر ما رحم و نه کړې، نو زه به یقیناً د نقصان کونکو څخه سم.
چي کم ذات د ده توبه قبلوله، او هم ئې معافي ورته کوله، هغه په خپله دغه الفاظ و ده ته ور ښووله، چي ته په دغه الفاظو زما څخه بخښنه وغواړه، زه به تاته بخښنه وکړم.
نو ما مخکي هم دا خبره ښکاره کړه: چي الله تعالی داسي ذات دی: چي د کم چا دعا قبلوي، ډېر ځله د هغه د دعا د قبلولو رهنمائي او ښوونه پخپله وکړي.

## د هارون رشید بادشاه د زماني یوه واقعه:

په نزهة المجالس کي لیکلي دي: چي د هارون رشید بادشاه د حکومت په زمانه کي په بغداد کي غلا وسوه.
چیکله هارون رشید خبر سو، نو دستي ئې د هغه د گرفتارۍ حکم وکړی، په ډېر کمه زمانه کي هغه غله ټوله گرفتاره سول، ده یو څه عسکر د هغوی پر حفاظت باندي مأمور کړل، تر هغه وخته پوري چي قاضي پر دوی باندي خپل قضاوت کوي.
اتفاقاً په هغوی کي یو غل وتښتېدی، د بادشاه عسکرو چي هر څومره تلاش وکړی، خو هغه لاس لره بیرته نه ورغلی، آخر عسکرو د بادشاه د بیري څخه د هغه غلو د شمار پوره کولو لپاره یو ناولده مسافر چي پر لار روان وو، گرفتاره کړی، او د هغه غلو په ډله کي ئې کښېناوی.
چیکله هغه غله قاضي ته پیش سول، نو د هغوی ټولو متعلق په جیل او بند کي د اچولو حکم صادر سو، چونکه دا خلک خاص د بغداد استوگن وو، نو یو څه زمانه بعد د هارون رشید بادشاه لطرفه د دغه غلو متعلق دا فرمان جاري سو: چي د کم غله یو نیک عمله انسان سفارش وکړي، او د هغه ضمانت وکړي، چي بیا به داسي نه کوي، او هم ئې ذمه واري واخلي، موږ به هغه غل د جیل څخه آزادوو.
چیکله بادشاه دا حکم صادر کړی، نو د ټولو غلو قریبان راغلل، او د ځان سره ئې ضمانت نامې راوړې، او خپل خپل قریبان غله ئې ټوله پخپلو ضمانتونو سره آزاد کړل.

مگر هغه بې کس او بې بس مسافر غریب الوطن په جیل خانه کې یو ازې پاته سو، ځکه د الله تعالی د ذات څخه سوا د ده بل هیڅ څوک غمخوار نه وو، د لیرې وطن مسافر وو، هیڅ چا نه پېژاندی، او نه د ده پر صداقت او وینا باندې د چا اعتماد راتلی، او نه څوک د ده و ضمانت او کفالت کولو ته تیار ېدی.

چیکله هغه انسان په جیل کې ډېر تنګ سو، نو الله تعالی پخپله ده ته د خلاصون حیله ور وښووله، نو هغه د الله تعالی په ښوونه داسې وکړل: چې د ډېر فریاد او زارۍ او بې قرارۍ څخه وروسته ئې د کاغذ پر یو پرچه باندې دا ولیکل:

........مِنَ العَبْدِ الذَّلِيْل اِلَى الرَّبِ الْجَلِيْل قَدْ شَفَعَ كُلُّ وَاحِدٍ فِىْ صَاحِبِهٖ وَ لَيْسَ لِىْ صَاحِبٌ سِوَاكَ فَاِنِّى اَسْتَشْفِعُ بِكَ يَا مَوْلَانَا﴾.

د بنده ذلیل لطرفه و رب جلیل ته دا عرض پیشوم: چې د هر قیدې شفاعت د هغه قریبانو وکړی، او هغه ئې خلاص کړی، او زما مسافر دلته څوک نسته، سوا ستا د ذات څخه یا الله! ته زما سفارش وکړه، او ما د قید څخه خلاص کړه، او دغه مضمون ئې پر یو کاغذ ولیکی، او د قید خانې پر چت ئې په هوا کې والوزوی.

چیکله شپه راغله، نو هارون رشید بادشاه خوب وینې، چې یو ډېر لوی دربار قائم دی، او الله تعالی پخپله حاضر دی، او دا ئې وفرمایل: چې رشیده! هر سړې د خپلو قریبانو ضمانت وکړی، او د قید څخه ئې خلاص کړل، د دغه غریب د ضمانت لپاره هیڅ څوک نه وو، نو د ده ضمانت زه کوم، دی د قید څخه آزاد کړه.

هارون رشید چیکله د خوب څخه بیدار سو، نو بدن ئې د خوف او اضطراب په خاطر په بلګ کې دی، او په شپه شپه کې ئې هغه قیدې د قید څخه راوستی، او بیا ئې سهار و خپل دربار ته را طلب کړی، او یو شاهې لباس ئې ور واغوستی، او لس زره دراهم ئې د کفارې په شکل ور کړل.

او پر خپل خاص آس ئې سپور کړی، او شاهې چوکیداران ئې ور سره کړلو چې هغوی به په ښار کې دا اعلان کاوی: اې خلکو! تاسو ورته ګورئ! دا هغه مبارک انسان دی: چې د هغه و ضمانت ته هیڅ مخلوق تیار نه وو، الله تعالی پخپله د ده ضمانت وکړی، او د قید څخه ئې آزاد کړی.

نو زموږ د ټوله شریعت او طریقت خلاصه دغه یوه خبره ده: چې کم څوک د الله تعالی سو، او د هغه شخه ئې سوا بل څوک د ځان خپل نه وبالی، نو الله تعالی ضرور د هغه مشکلات حل کوي، او د مشکلاتو د حل لاره هم الله تعالی ورته برابروي.(١)
لکه یو شاعر فرمایي:

لِذْ بِالْإِلٰهِ وَ لَا تَلِذْ بِسِوَاهُ
مَنْ لَاذَ بِاللهِ الْجَلِيْلُ كَفَاهُ

چې کم څوک د الله تعالی په ذات پناه وغواړي، او د الله تعالی شخه سوا بل چاته متوجه نسي، نو بیا خو الله تعالی د ده د پناه غوښتولو لپاره کافي ذات دی.

## د یو بزرګ واقعهٔ:

لکه الله تعالی پخپله هم د دې تذکره کوي:
......﴿أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ﴾.(٢)
ایا داسي څوک سته: چې د یو مجبور او پرېشانه فریاد واوري، او د هغه شخه تکلیف او مصیبت لیري کړي، سوا د الله تعالی شخه.
نو الله تعالی د انسانانو مشکلات هم لیري کوي، او هم پخپله هغه ته د مشکلاتو د لیري کولو ترتیب په دماغ کي ور اچوي، خو شرط دا دی: چې د انسان به د الله تعالی پر ذات باندي توکل وي.
په "روض الریاحین" کي د یو بزرګ واقعه رانقل سوېده: چې هغه د خپلي تندي په حالت کي سلواغه او رسۍ راواخستله، د اوبو د راکښلو لپاره څاه ته راغلی، چیکله ئې سلواغه ور شوه کړه، او د اوبو ډکه سوه، او ده د هغه رسۍ را کش کړه، خو هغه رسۍ پرې سوه، او سلواغه و څاه ته ولوېده.
ده چې هر څومره کوشش وکړی: هغه سلواغه په هیڅ شکل د څاه شخه نه راوختله، نو دی آخر مجبور او لاچار د تندي په حالت کي د هغه څاه شخه روان سو.

(١) نزهة المجالس بحواله احسن المواعظ: صفحه نمبر ۱۹۲
(٢) سورة النمل: آیت نمبر ۶۲

که ګوري: د هوسيو يو قطار راغلی، چي د ځاه پر غاړه و درېدل: هغه هوسيو ټولو د آسمان طرفه ته يو ځل خولې وازي کړلې، بيا ئې په ځاه کي وکتل، نو فوراً د ځاه اوبه په جوش کي راغلې، او د ځاه د خولې څخه وبهېدلې، هغه هوسيو ځانونه په اوبه کړل، او ولاړې، او اوبه بيرته په ځاه کي لاندي شوه سوې.

هغه بزرګ د الله تعالی په حضور کي عرض پيش کړی: يا الله! زما مرتبه ستا په حضور کي د دغه هوسيو څخه هم ډېر کمه ده: چي زه د تندي په حالت کي ځاه ته راغلم، نو رسۍ مي وشلېدله، او سلواغه په ځاه کي ولوېدله، او هوسۍ چي کله ځاه ته راغلې، نو اوبه پخپله د دوی لپاره د ځاه خولې ته راغلې، او دوی خپل ځانونه په هغه باندي اوبه کړل.

د الله تعالی لطرفه يو هاتف غيبي ږغ ورباندي وکړی: اې بنده! ستا اعتماد پر خپله رسۍ او سلواغه باندي وو، چيکله ته د اوبو چيښلو لپاره ځاه ته راتلې، او هغه هوسۍ صرف زما د ذات په اميد باندي ځاه ته راغلي وې، نو ځکه د هغوی مراد پوره سو، او ته نامراده د ځاه څخه روان سوې.

نو دا يو حقيقت دی: چي دا ترتيبونه ټول د الله تعالی پر ذات باندي د اعتماد کولو سره سره توکل هم غواړي، لکه الله تعالی فرمايي:

............﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾.(١)

چيکم څوک د الله تعالی پر ذات باندي توکل ولري، نو الله تعالی د هغه د ټولو ضرورياتو پوره کولو لپاره او د ټولو مشکلاتو د حل لپاره کافي او شافي ذات دی.

## دمسنونو دعاګانو حيثيت د يو فارم دی:

تاسو ګورئ! ډېر ځله داسي وي: چي يو څوک په يو حکومتي اداره کي يو درخواست ورکوي. نو د هغه لپاره خپل فارم چاپ سوی وي، او دا اعلان هم ليکلي وي: چي پر دغه فارم باندي درخواست راکړئ، پر هغه فارم باندي درخواست قبلونکي پخپله الفاظ ليکلي وي. او د هر څه لپاره ئې خپل خانې متعيني ګرځولي وي، د دې لپاره چي درخواست پيشونکي ته آساني وي.

دغه رانګه دغه مسنوني دعاګاني په حقیقت کي د درخواست ور کولو یو فارم دی، چي الله تعالی د نبي کریمﷺ په ذریعه موږ ته رابنوولی دی، چي تاسو همېشه چي زما څخه غوښتنه کوئ، نو په دغه شکل ئې کوئ: لکه څنګه چي زما نبي او محبوبﷺ کړېده.

## د بنده په غوښتنه الله تعالی خوشحاله کیږي:

د الله تعالی دربار داسي دربار دی: چي د هغه څخه څومره شیان غوښتل کیږي، او د دعاګانو په ذریعه د الله تعالی څخه څومره حاجتونه انسانان غواړي، الله تعالی نه په هغه سترى کیږي، او نه ناراضه کیږي.

بلکه ډېر ځله الله تعالی د هغه چا څخه ډېر ناراضه وي: چي د الله تعالی څخه غوښتنه نه کوي، لکه حدیث شریف کي پېغمبرﷺ فرمایي:

.........مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللّٰهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ﴾.(۱)

چي کوم څوک د الله تعالی څخه غوښتنه نه کوي، الله تعالی د هغه څخه ناراضه وي.

دا قانون دی چي په دنیا کي که یو سړی هر څومره سخي وي، که یو څوک د ده څخه د سهار په وخت کي غوښتنه وکړي: بیا یو ساعت بعد بیا غوښتنه وکړي، او دریم ځل د هغه کور ته ور پسي ور سي، او غوښتنه ځني وکړي، نو هغه سخي سړی دستي تنګیږي، او دا به وایي: چي ته څه په ما پسې ئې، چي یو ځای هم نسم در څخه خلاصېدلای.

لیکن د الله تعالی معامله د خپلو بندګانو سره داسي وي: چي بنده څومره زیاته غوښتنه د الله تعالی څخه کوي، په هغه درجه الله تعالی د هغه څخه راضي وي، او که د الله تعالی د ذات څخه بغیر د بنده توجه بل چاته سي، بیا خو الله تعالی ناراضه کیږي.

## دوربڅو آوازونه: عجیبه واقعه:

په تاریخ کامل کي لیکلي دي: چي د حضرت عمرؓ په دور خلافت کي په(۱۸ھ) کي په ټوله جزیره عرب کي زیاته کاختي راغله، چي د خورک او چیښلو لپاره په هیڅ

شکل څه نه پیدا کېدل، د لوږي د زیاتوالي په وجه انسانانو د حجاز مقدس څخه هجرتونه شروع کړل، او مرغان او حیوانان هم د مدینې منورې علاقه پرېږدي، او بل طرفته روان دي.
حضرت عمر رضي الله عنه په دې وخت کي پخپلو جنګي لښکرونو استولو او د فتوحاتو په راتللو باندي زیات مصروفه وو، نو د استسقاء و طرفته ئې پام نه وو، نو ده د کاختی څخه د وتلو لپاره داسي وکړل: چي د مصر والي حضرت عمرو بن العاص ته ئې خط ولیکی:
چي په حجاز مقدس کي بالکل غله نسته، او ماته دا معلومه سوې ده: چي په مصر کي فراخي ده، لهذا: د مدینې د خلګو لپاره دهغه ځای څخه د خورک د اسبابو بندوبست وکړه.
خط چیکله مصر ته راورسېدی، نو حضرت عمروبن العاص د خط پر شا جواب ورته ولیکی.
اې امیر المؤمنینه! ته مطمئن اوسه! زه به د غلې داسي قافله دېر ژر در روانه کړم: چي د هغه اول اوښ به مدینې ته در رسیږي، او آخرنی او ښ به ئې د مصر څخه در وزي.
حالانکه د مصر او حجاز په مابین کي د یوې میاشتي لار وه، چي په هغه زمانه کي به خلګو د اوښانو په ذریعه پرې کوله، یعني: چي دا لار به ټوله د غلې د اوښانو ډکوم.
چنانچه دغومره زیاته غله د مصر څخه مدینې منورې ته راورسېده، او په اطرافو کي اعلانونه وسول، چي د کم چا ضرورت وي، هغه دي راسي، د حضرت عمر رضي الله عنه پر دسترخوان باندي دي خورک وکړي، او چي کم څوک خپل کور ته هر څومره غله وړلای سي، د هغه هم ورته اجازت دی.
چنانچه په زرونو خلک راغلل، د حضرت عمر رضي الله عنه پر دسترخوان باندي ئې خورک وکړی، او هم ئې د خپلو کورو ضرورتونه د هغه ځای څخه پوره کړل.
د مدینې منورې په اطرافو کي په یو ځنګله کي یو بوډا صحابي اوسېدی، چي کاختي ډېر زیات زیلی وو، او په کور کي هیڅ ورپاته نه وو، هغه ته هم د لاري د خلګو څخه دا ور معلومه سوه: چي مدینې منورې ته غله راغلې ده، او هلته تقسیم کیږي.

نو کورته راغلی، په دې نيت کې چې مدينې منورې ته به ځم، او د حضرت عمر رضي الله عنه د دربار څخه به غله راوړم، په کوډل کې يو د بُزې بچی چې هغه هم قحط سالی بد حال ته رسولی دی، ولاړ دی، ده د ځان سره دا فکر وکړی: که زه ولاړ سم، نو دغه حيوان يوازي پاته کيږي، د هغه د خورک د بندوبست کولو لپاره هيڅوک نسته، نو دا فکر ئې وکړی: چي د غه حيوان به ذبحه کړم، او غوښه به ئې راسره واخلم، او پر لاره به ئې خورم، چي زما په بدن کي څه طاقت پيدا سي، او مدينې منورې ته ځان ورسوم.

نو هغه حيوان ئې ذبحه کړی، د هغه د رګو څخه يو ځاځکی وينه هم نه راووتله، هغه صحابي چيکله دا منظر وليدی، چي يا الله! موږ کم حال ته ورسېدو، او زموږ حيوانان کم حال ته ورسېدل، نو دا خپل سر ئې په لاس ونيوی، او ډېر زيات ئې پر خپل حال او د حيوانانو پر حال ژړا وکړه، او په هغه ژړا ژړا کي خوب ور باندي غالبه سو، دغسي په ناسته باندي بيده سو.

چي څنګه ئې سترګي تر لره تيري سوې، نو پيغمبر صلی الله علیه وسلم په خوب کي ورته راښکاره سو، او ورته وايي: چي عمر ته ورسه، او زما سلام ورته وايه، او ورته ووايه: چي ته خو ډېر عقلمند انسان وې، ستا په عقل باندي څه وسول، چي نن د هغه په خاطر پر ټوله مدينه باندي سخت حالت دی.

هغه صحابي چيکله د خوب څخه راپېدا ره سو، نو په منډه د مدينې منورې پر طرف را روان سو، د ډېرو مزلو او لوږو او ستړو څخه وروسته مدينې منورې ته راورسېدی، او د حضرت عمر رضي الله عنه د دربار دروازې ته ورغلی، او په زور سره ئې نعره کړه: چي اې امير المؤمنين! د رسول الله قاصد را غلی يم، او د هغه پيغام مي راوړی دی.

حضرت عمر رضي الله عنه چيکله دغه آواز واورېدی، نو لڅي پښې په منډه د خپل دربار څخه راوواتی، او هغه سړی ئې تر لاس ونيوی، او ورته وئې ويل: چي د رسول الله دي کم پيغام راوړی دی؟

هغه هغه خپله د خوب قصه ټوله ورته بيان کړه، حضرت عمر رضي الله عنه چيکله واورېدله، نو ډېر په خوف او بېره کي مبتلا سو، او دا ئې ويل: زما څخه ضرور يو غلط عمل سوی

نو ئې د مدينې منورې اهل الرأيه خلګ ټول راجمعه کړل، او په خپله د مسجد نبوي پر منبر وخاتی، او خلګو ته ئې وويل: چې ماخو په اوله ورځ تاسو ته ويلي وو: کچيري زما څخه يو غلطي وسي، نو ما تر لاس نيسئ، او ماته تنبيه راکوئ، اوس زما څخه غلطي سوېده، تاسو ولي ماته تنبيه نده راکړې، زما سردار رسول الله ماته د قبر څخه پيغامونه رااستوي، تاسو ماته زما غلطي پر لاس راکړی، چې زما څخه کمه غلطي سوېده.

صحابه کرامو ورته وويل: چې زموږ په دماغو کي خو ستا هيڅ غلطي نه راځي، نه معلوم: چې ستا پر کم عمل د پيغمبر ﷺ دغه پيغام تاته راغلی دی، ټول صحابه کرام پرېشانه دي، او په مسجد نبوي کي د غم کيفيت دی، د هيڅ چا په دماغ کي د حضرت عمر رضی الله عنه غلطي نه ورځي.

آخر د مجلس په پای کي يو صحابي ولاړ سو، او عرض ئې پيش کړی: چې اې امير المؤمنين! زما په دماغ کي يوه خبره راځي: چې دا به شايد ستا غلطي وي، هغه دا: چې کله پر مسلمانانو باندي مشکل راسي، نو د ټولو څخه مخکي د مسلمانانو د امير به دا عادت وي، چې الله تعالی به ته متوجه کيږي، او د هغه حل به د الله تعالی څخه غواړي.

کچيري قحط سالي راغله، نو د هغه لپاره به د استسقاء کولو په شکل ميدان ته راوزي، او د خپلي غلطۍ معافي به پيشوي، او د الله تعالی څخه به د رحمت او باران غوښتنه کوي.

مګر پر موږ چې قحط سالي راغله، نو د الله تعالی څخه د غوښتني پر ځای تا خپل حاجت د مصر والي ته پيش کړی، او هغه ستا غوندي يو انسان وو، تا د هغه څخه د خپل حاجت پوره کول غوښتل، نو دا غلطي وه.

حضرت عمر رضی الله عنه چيکله واورېدل، نو وئې ويل: واقعتاً دا غلطي ده، او ټولو صحابه کرامو هم دغه عمل غلطي و بلله، نو حضرت عمر رضی الله عنه په مجلس کي د ټولو و مخ ته د خپل دغه عمل څخه توبه وکښله، او د الله تعالی څخه ئې معافي وغوښتله، او صحابه کرامو هم پر دغه خطا باندي معافي و غوښتله، او د هغه څخه وروسته حضرت عمر رضی الله عنه د ټولو په مخکي د الله تعالی څخه د باران غوښتنه وکړه.

يو صحابي قسم اخلي، چي د حضرت عمرﷺ د دعا غوښتولو څخه وروسته زه د باندي راووتلم، د آسمان په فضا کي وريځي يو د بل سره مسابقې کوي، او د مديني طرفته منډي راوهي، او هره وريځ د هغه بلي څخه د رامخته کېدلو کوشش کوي، او د وريځو څخه دا آوازونه راځي: درځئ! مديني لره حضرت عمرﷺ په مدينه کي ستاسو طلب کړی دی.(١)

نو د الله تعالی عادت مبارک داسي دی: چي هغه د انسان په غوښتنه باندي خوشحاله کيږي، نو انسان لره مناسب دا دی: چي هر وخت د الله تعالی څخه غوښتنه کوي، کوچنی شی وي، او که لوی شی، هغه د الله تعالی څخه غواړي، او د هغه غوښتولو يو بهترين شکل دا دی: چي د هر عمل کولو په وخت کي مسنوني دعاګاني وايي.

زما اراده دا ده: چي زه ستاسو په حضور کي د پيغمبرﷺ يو څه هغه دعاګاني پيش کړم: چي پر مختلفو مواقعو پيغمبرﷺ غوښتي دي، او هم د هغه دعاګانو يو څه وضاحت وکړم.

## دخوب څخه د راپورته کېدلو دعا:

د ټولو څخه مخکي هغه دعا چي د پيغمبرﷺ څخه د خوب څخه د راپورته کېدلو پر وخت باندي را نقل سوېده، هغه دا ده:

......... ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ﴾.(٢)

ټوله تعريفونه دي الله تعالی لره وي، چي هغه موږ ته د مرګ څخه وروسته بيا زندګي راکړه، او د داغه الله و طرفته بيرته ورځو.

په دې دعا کي يو طرفته خو پر دې خبره شکر ادا کول دي: چي د مرګ څخه وروسته دوباره ژوند راکول سو، کيدای سي: چي د خوب په حالت کي انسان پسي مړ سي، لکه ډېر انسانان چيکله ويده سي، نو په داغه خوب کي مرګ ور باندي راورسيږي، ليکن الله تعالی تا موږ ته د مرګ څخه وروسته ژوند راکړی.

(١) تاريخ کامل: جلد نمبر ٢، صفحه نمبر ٢٣٥

(٢) الآدب لابن ابي شيبه: حديث نمبر ٢٣٦

دوهم طرفته د دې خبري استحضار کول: چي کم ژوند موږ ته راکول سو، هغه هم د همېشه لپاره ندی، بلکه يو وخت موږ ضرور د الله تعالی و طرف ته ورځو.

چيکله يو سړی سهارا کښېني، د ټولو کارو څخه مخکي چي نه ئې اودس کړی وي، نه ئې د چا سره خبره کړېوي، اول کار دغه وکړي، چي د دغه په ذريعه سره د خپل رب سره تعلق او رابطه وساتي.

## د فرشتې او د شيطان مقابله:

حديث شريف کي راځي: چي کله بنده سهار راکښېني، او الله تعالی ده ته يو فرشته راواستوي، او د هغه سره شيطان هم ځان راورسوي، شيطان دا غواړي، چي د دغه سړی پخپل قابو کي راولي، او د خپل امر ئې تابع کړي، او د ده ورځ زما په غوښتنه باندي تېره سي، او فرشته دا غواړي: چي د دغه سړی د الله تعالی د حکم مطابق ورځ تېره کړي.

بيا د دواړو پخپل مابين کي مقابله وي، چي د دغه سړی اوس د چا خبره مني، نو پيغمبر ﷺ وايي: کچيري په دغه وخت کي بنده الله تعالی ياد کړي، او د الله تعالی ذکر وکړي، نو د شيطان طمعه وخيږي، چي اوس خو دی زما په قابو کي نه راځي، ځکه ده د خپل رب سره تعلق جوړ کړی، نو شيطان ځني ولاړ سي، او دی د فرشتې په حواله ور کول سي.

داغه رنګه کچيري بنده د خوب اراده وکړي، او پر بستره باندي پرېوزي، نو په دې وخت کي هم د ده حضور ته يوه فرشته او يو شيطان راسي، د شيطان کوشش دا وي: چي زما ملګری سي، او که په دغه شپه کي ده لره مرګ راسي، نو زما سره د ده ځای په جهنم کي جوړ سي.

ليکن کچيري په هغه وخت کي هم بنده د خوب والا دعا ووايي، او د الله تعالی سره رابطه قائمه وساتي، نو شيطان نااميده سي، چي اوس خو پر دغه بنده زما هيڅ امر نه چليږي.

دا خبره پېغمبر ﷺ په حديث شريف کي فرمايلې ده، نو د بنده لپاره مناسب عمل دا وي: چي د راپورته کېدلو څخه وروسته اول کار دا وکړي: چي خپل رب ياد کړي، او د پېغمبر ﷺ مسنونه دعا ووايي.

## د سهار دعا:

هغه د الله تعالى بنده چي سهار د ټولو څخه مخکي خپله رابطه د الله تعالى سره قائمه کړه، نو هغه بيا دورځي هر کار د الله تعالى پر نامه باندي کوي، او د هغه په ابتدا کي مسنونه دعا وايي، نو بايد د سهار په وخت کي دا دعا ووايي:

........اللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ﴾.(۱)

اې الله! چي کم سهار دی، دا هم ستا په قدرت راغلی، کچيري ستا رحمت او قدرت نه وائی، نو پر موږ سهار بيا د کمي خوا راتلی.

تاسو لږ غور وکړئ! چي په دې الفاظو کي څومره عظيمي معناګاني پټي دي، ځکه چي د ورځي سهار کېدل، د انسان په طاقت کي نوي، چي انسان د سهار رڼا راولي، کچيري الله تعالى داغه شپه اوږده کړي، بيا به رڼا څوک راولي، لکه الله تعالى په قرآن کريم کي فرمايي:

........قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَأْتِيكُمْ بِضِيَاءٍ﴾.(۲)

يعني: که الله تعالى دائمي طور پر انسانانو شپه مسلطه کړي، نو څوک به وي، د الله تعالى څخه ما سوا؟ چي بيا به رڼا راولي.

او داغه رنګه د دعا په آخر کي دې طرفته هم اشاره ده: چي انسان هر څومره په دنيا کي پاته سي، خو آخر به يوه ورځ د الله تعالى پر طرف باندي ورځي.

بهر حال: پېغمبر ﷺ چي کم اذکار او دعاګاني موږ ته راښوولي دي، د هغه اهتمام کول په خپله هم يادول، او خپلو بچيانو ته د ماشوموالي په وخت کي د دغه اذکارو د

(۱) الآدب المفرد بالتعليقات: حديث نمبر ۱۱۹۹

(۲) سورة القصص: آيت نمبر ۷۱

ويلو عادت ور جوړول، او کله کله د دغه دعاګانو پر ترجمه او معنی باندي غور کول، د دې په معناګانو کي عجيبه اسرار پټ پراته دي.
الله تعالی دي موږ او تاسو ته پخپل فضل سره د مسنونو دعاګانو د اهتمام کولو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالی دي زموږ او ستاسو همېشه د خپل رب سره رابطه جاري او ساري ولري، او الله تعالی دي دغه څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د مسنونو دعاګانو اهمیت، دویمه حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿ إِنَّ هَذِهِ الْحُشُوشَ مُحْتَضَرَةٌ، فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ: أَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهید:**

محترمو حاضرینو! ستاسو په حضور کي په تېره جمعه کي ما دا خبره کړې وه: چي دانسان لپاره په زندگي کي اهم عمل د مسنونو دعاگانو اهتمام کول دي، چي پخپله به مسنوني دعاگاني يادوي، او پر خپلو مواقعو به هغه وايي، او پخپل اولاد به هم مسنوني دعاگاني يادوي، او هم په د ويلو ترغيب ور کوي.

ځکه چي مسنوني دعاگاني دا د الله تعالی ذکر او ياد دی، او د الله تعالی ذکر او ياد په زړه کي کښېنول، دا د الله تعالی سره تعلق پيدا کول دي، ځکه د الله تعالی سره تعلق د هغه چا وي: چي د زندگی په هره لمحه کي او په هر وخت کي ئې په زړه کي د الله تعالی ياد وجود لري.

(١) سورة غافر: آيت نمبر ٦٠

(٢) مسند ابي داود الطيالسي: حديث نمبر ٧١٤

صوفياء کرام چي پخپلو سلسلو کي څومره رياضتونه او مجاهدې او وظيفې کوي، د هغوی ټولو حاصل او خلاصه او مقصود صرف يو شی دی، هغه دغه چي د الله تعالی سره خپل تعلق مضبوطه جوړول.
ځکه چيکله د الله تعالی سره د انسان تعلق جوړ سي، نو بيا د انسان څخه ګناه نکيږي، او هم انسان د الله تعالی عبادات په ډېر محبت سره ادا کولای سي، او د انسان په زندګي کي د اخلاقو رذيله وو څخه تخلی راځي، او هم په اخلاقو فاضله وو سره انسان خپله زندګي ښائسته کولای سي.

## هر وخت غوښتنه کول:

د دغه تعلق مع الله د حاصلولو لپاره صوفياء کرام ډېري اوږدې مجاهدې کوي، او هم چولې باسي، او شپې روڼې تېروي، او ډېر تکليفونه پر خپل ځان راولي.
ليکن د حضرت اشرف علي تهانوي رحمۃ اللہ علیہ خليفه مجاز حضرت ډاکټر عبدالحی رحمۃ اللہ علیہ فرمايلي دي: چي د دغه تعلق مع الله د حاصلولو لپاره زه تاسو ته يو مختصره او آسانه لار ښيم.
هغه دا: چي پر هر وخت او هره لمحه کي د الله تعالی څخه غوښتنه کول، او د غوښتني عادت پخپل مزاج کي پيدا کول، چيکله پر انسان باندي هر قسم پرېشاني او مشکل راسي، که د انسان په نفس کي وي، يا د انسان په کور او عيال کي وي، په الله تعالی سره د هغې څخه پناه غوښتل.
يا انسان ته يو ضرورت او حاجت ور پيدا سي، نو هم د الله تعالی څخه غوښتنه کول، مثلاً چيکله پر انسان باندي لوږه راسي. نو د الله تعالی څخه خورک غوښتل، چيکله انسان کورته ننوزي، نو دا دعا کول: چي يا الله! د ښه خير او عافيت سره مي مخامخ کړه، يا يو شی را نيسي، نو دعا کول: چي يا الله! په مناسب قيمت ئې ماته راپيدا کړه.
نو غرض دا: چي د هر عمل په وخت کي د الله تعالی سره د غوښتني په ذريعه خپله رابطه جاري ساتل.
ظاهراً خو دا يو معمولي خبره ده: ځکه دا کار دومره آسانه دی: چي د هغه هيڅ حد نسته، نو ځکه زموږ سره ئې قدر هم زيات نسته، ليکن که يو څوک په دغه نسخه

باندي عمل وکړي، او هر وخت د خپل رب سره په رابطه کي سي، نو بیا به انسان ته دا ورمعلومه سي: چي د هغه آسانه او کوچني عمل په ذریعه الله تعالی زما سره څومره آساني وکړه، او زه ئې د کم حالت څخه و کم حالت لره راورسولم.

## د مسنونو دعاګانو لپاره څه شرط او قید نسته:

او بیا دا خبره هم ده: چي کمي مسنوني دعاګاني د پیغمبر ﷺ څخه موږ ته راپاته سوي دي، الله تعالی په هغه کي زموږ سره ډېره آساني کړېده، چي پر هغه باندي ئې هیڅ قید او شرط ندی لګولی.

بلکه: چي پر انسان باندي هسي یو حالت وي، بس په هغه حالت کي د مسنونو دعاګانو په ذریعه د الله تعالی څخه غوښتنه کول، نه د اودا سه شرط سته، نه د قبلې و طرفته د مخ اړولو شرط سته، حتی: چي د جنابت په حالت کي هم دعا غوښتل منعه ندي، که څه هم په دغه حالت کي انسان ته د قرآن کریم تلاوت کول، جائز ندي، لیکن انسان دعا کولای سي.

بالفرض: کچیري انسان په قضاء حاجت یعني د بولو کولو په حالت کي وي، هم په دې وخت کي که څه هم دی په ژبه دعا او ذکر نسي کولای، لیکن په زړه کي د ده لپاره د ذکر کولو څخه هیڅ مانع نسته.

نو بهر حال: الله تعالی زموږ لپاره پدې باره کي ډېره د آسانۍ معامله کړېده: نو باید انسان په هیڅ حالت کي هم د دغه دعاګانو د ویلو څخه غافله پاته نسي.

حکیم الامت حضرت تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چیکله یو سړی د سوال کولو لپاره راسي، او ماته وایي: چي حضرت! زه ستا څخه د یوې خبري پوښتنه کوم: نو زه فوراً په دې خپل زړه کي د الله تعالی و طرفته متوجه سم: او دا دعا کوم: چي یا الله! نه معلوم: چي دا سړی به څه پوښتنه کوي، خو ته د ده د پوښتني صحیح جواب زما په زړه کي راواچوه، او دا مي همېشه د خپل ځان معمول جوړ کړی دی.

نن زموږ په معاشره کي انسانان د مختلفو پرېشانیو سره مخامخ دي، کله د کاختي او د بارانو د کمښت پرېشاني وي، او کله د ګرانۍ او د رزق د کمېدو پرېشاني وي، داسي نده: چي د الله تعالی په دریابو او خزانو کي کمی راغلی دی.

بلکه کمي ټوله زموږ د معاشرې د انسانانو په عمل کي راغلې ده، چي هغه نده د الله تعالی ځخه غوښتنه کوي، او نه د غوښتني په طریقه باندي پوهیږي، او نده د غوښتني وخت او طریقه ور معلومیږي، حالانکه پیغمبرﷺ د الله تعالی یو حدیث قدوسي رانقل کوي: چي الله تعالی فرمایي:

......وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ، وَجِنَّكُمْ وَإِنْسَكُمْ، وَصَغِيرَكُمْ وَكَبِيرَكُمْ﴾.

کچیري ستاسو اول او آخر انسانان او جنات، مشران او کشران.

......قَامُوْا فِي صَعِيْدٍ وَاحِدٍ ثُمَّ سَأَلُونِي﴾.

په یو میدان کي سره ټول سي، او ټول زما ځخه پخپلو ژبو غوښتنه وکړي:

......فَأَعْطَيْتُ لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ مَسْأَلَتَهُ﴾.

او زه د هر انسان ټولي غوښتني او سوالونه ور پوره کړم، چي هر ځه ئې زما ځخه غوښتي وي، هغه غوښتني ئې ټولي و منم.

......لَمْ يَنْقِصْ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي شَيْئًا، كَرَأْسِ الْمِخْيَطِ يُغْمَسُ فِي الْبَحْرِ﴾.(۱)

د دې ټولو غوښتنو او سوالونو پوره کولو پخاطر زما په خزانو کي دومره کمی هم نه راځي: لکه یو ځوک چي د ستني سر په دریاب کي د ننه کړي، او بیا ئې راوباسي، لکه: دغه د ستني د سر د نوډېدو پخاطر چي په دریاب کي ځومره کمی راځي، دومره کمی د دغه غوښتنو پوره کولو په وجه زما په خزانو کي نه راځي.

نو هر انسان د الله تعالی ځخه غوښتنه کولای سي، او هر انسان د الله تعالی سره قرب او رابطه جوړولای سي.

- که نارینه وي، او که زنانه.
- که عالم وي، او که غیر عالم.
- او که مشر وي، که کشر.

خو صرف شرط دا دی: چي په اخلاص سره او په صفا نیت سره او د عاجزۍ په طریقه سره د الله تعالی ځخه غوښتنه وسي، او هم د الله تعالی سره د رابطې جوړولو کوشش وسي.

## دتابعينو د دور يو واقعه:

په يو كتاب كي مي يوه ورځ يو واقعه وليدله، هغه دا: چي محمد ابن المنكدر رحمة الله عليه دا تابعي دی، ځکه دی اکثر راوايات د حضرت جابر رضي الله عنه څخه بالذات رانقل کوي.

دی وايي: چي د تابعينو په دور کي يو ځل په مدينه منوره کي زياته کاختي راغله، او په دې وخت کي مدينه منوره اکثره د نيکانو خلګو ډکه وه، خو اکثره طبقه د تابعينو وه، ليکن يو دانه دانه صحابي هم وجود درلودی.

نو د باران د غوښتني لپاره دغه نيکو خلګو په مدينه منوره کي استسقاء وکړه، ليکن د الله تعالی اراده د باران نوه سوې، نو باران نه کيدی، د مدينې په خلګو کي يو د تشويش او پرېشانۍ کيفيت جوړ وو.

يوه ورځ د تهجد په وخت کي مسجد نبوي ته راغلم، چي هلته يو ستنه او تنبه ته ما خپل ځای معلوم کړی وو، نو دوه رکعته لمونځ مي وکړې، او هغه تنبه ته مي ځان واچاوی، او ذکر مي کاوی.

که ګورم: د تنبې و شاته يو سړی په لمانځه ولاړ دی، او حالات ئې ټول داسي خسته او خراب معلومېدل، چي ډېر ځله به زما پر هغه باندي د ليوني شک راتلي، چيکله هغه سړي لمونځ و کړی، نو لاسونه ئې د دعا لپاره پورته کړل، دعا کوي، زما ور باندي غوږ دی، نو دی وايي: يا الله! ټول خلک پرېشانه دي، باران غواړي، خوستا اراده د باران نده سوې، نن به زما د غوښتني په خاطر پر دې خلګو ضرور باران کوې، چي تر کمه وخته باران نوي سوی، زه د دې ځای څخه نه ولاړېږم.

محمد ابن المنكدر وايي: زما په الله تعالی قسم! چي د هغه سړي د دعا ختمېدل وسول، نو دستي په هغه ګړي باندي د وريځو په آسمان کي ږغ پيدا سو، او دغسي متصل باران شروع سو، چي هغه دومره زيات وو: چي د مسجد نبوي چت راڅڅېدی، نو ما د هغه تنبې و اړخ ته پناه واخيسته.

او په دغه سړي کي مي ډېر سوچ بند وو، او دا مي يقين سو: چي دا ډېر نيک انسان دی، ده چي کم ناز پر الله تعالی باندي وکړی، او الله تعالی د هغه په خاطر پر مدينه منوره باندي باران وکړی.

چيكله جماعت ودريدى، نو دى د مخ صف ته ورغلى، زما هم پده كي نظر دى، او د ده وشاته په جماعت كي ودريدلم، د جماعت څخه د فراغت وروسته دى راغلى، د پيغمبر ﷺ روضې مباركې ته ئې سلام ووايي، ما هم سلام ووايي.
چيكله دباندي راووتلم، نو زما كوشش دا دى: چي دى را څخه ورک نسي، دباندي چونكه اوبه پر مځكه ډيري ولاړي دي، نو يو ځاى د اوبو يو ګړى ولاړه ده، ما خپلي جامې را پورته كړې، او پښو ته ګورم، او كوشش كوم: چي تر هغه ګړې په سلامت تېر سم.
چي تر هغه اوبو را تير سوم، شاو خوا مي وكتل، هغه سړى مي تر سترګو رانغلى، چي هر څومره مي تلاش وكړى، خو دى راڅخه ورک سو.
خو د ځان سره مي وويل: چي خير دى، دوهمه شپه به بيا هغه ځاى ته راسي، چيكله دوهمه شپه راغله، نو زه په انتظار يم، هغه سړى بيا هغه ځاى ته راغلى، او لمونځ ئې وكړى، او جماعت و دريدى، او زه په جماعت كي د ده و شاته ودريدلم، او دا مي كوشش دى، چي هر څه كيږي، خو نن به زه د ده معلومات ضرور ځان ته كوم.
د لمانځه څخه د فراغت وروسته هغه سړى د مسجد نبوي څخه دباندي روان سو، زه هم ليري ور پسې يم، خو دى په يو مكان ننواتى، او زه دباندي و دريدم، چيكله مي د همسايګانو څخه يو څوک پيدا كړى، نو پوښتنه مي ځني وكړه: چي د امكان د چا دى؟ او په دي كي څوک اوسيږي؟
هغه همسايه راته وويل: چي پدي كي يو موچي اوسيږي، او تيوله ورځ چوتې او بوټونه ګنډي، او د ده څخه ما سوا په دې مكان كي بل څوک نسته.
محمد بن المنكدر وايي: چي زه هغه مكان ته ور ننوتلم، كه ګورم: د ده په لاس كي سندان او نيره ده، دى چوتې ګنډي، چي زه ئې وليدم، نو مخته را ولاړ سو، راته وايي:
.........تَعَال يَا مُحَمَّد ابن الْمُنْكَدِرْ اُحْذُوا نَعْلَک﴾.
محمد ابن المنكدر! راسه! زه تاته چوتې در وګنډم، خو زه ور سره كښېنستم، لږ ګړى بعد مي عاجزي ورته وكړه: او د دعا درخواست مي ځني وكړى.
دى چيكله پدې پوه سو: چي پر ده باندي زما حقيقت ښكاره سوېدى، نو په ډېر غصه كي ئې چيغې كړې، او نعرې ئې كړې:

.........رح رح﴾.

ولاس ئې راته وغورځاوی، چې زما د مکان څخه ووزه. ما چيکله د ده نعرې او شر او
نور وليدی، نو زما سره دا بېره پيدا سوه: چې اوس به يو څوک راسي، او ماته به
ووايي: چې ته خو لوی عالم ئې او د لوی نامه خاوند ئې، دلته څه کوې؟ چې د دې
او چې سره په جګړه باندي اخته ئې، نو د هغه ځای څخه راووتلم، د هغه څخه وروسته
مي چې بيا هر څو مره په هغه سړي پسي وکتل، په نظر رانغلی.(١)

تاسو ګورئ! د يو سړي ټوله ورځ کار د بل چوټي ګنډل وي، ليکن چيکله ئې د الله
تعالی سره رابطه جوړه وه، نو بيا د هغه دعا الله تعالی په دغه شکل قبلوله، او هم ئې د
ناز هيڅکله پر مځکه نه اچوی.

## د الله تعالی سره د تعلق مطلب:

نو د الله تعالی سره تعلق جوړول، يقيناً هم د انسانانو د ټولو مشکلاتو حل دی، خو يو
د انسان تعارف دی، او بل تعلق دی.

د تعارف معني دا ده: چې يو سړی بل سړی پيژني، او د ده او د هغه تعلق صرف د سلام
تر حده پوري وي، نور د دوی په مابين کي هيڅ واسطه او قرابت نوي.

او د تعلق معنی دا ده: چې د دوو کسانو په مابين کي دومره زياته رابطه جوړه سي: چې
کله هر يو د هغه بل دروازې ته د يو څه غوښتني لپاره ورسي، نو هغه چې ئې د غسي
ناميده رخصتوي، ده ته حيا دربېږي.

نو بنده هم بايد د الله تعالی سره دغه شان تعلق جوړ کړي، ځکه حديث قدوسي دی:
چې الله تعالی وايي:

.........إنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيمٌ، يَسْتَحْيِي إِذَا رَفَعَ الْعَبْدُ إِلَيْهِ يَدَهُ أَنْ يَرُدَّهَا صِفْرًا حَتَّى يَجْعَلَ فِيهَا خَيْرًا﴾.(٢)

(١) سمعته من استاذی فی دوران المجلس.
(٢) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ١٩۶۴٨

ستاسو رب ډېر حیا داره او ډېر سخي ذات دی، هغه ته د دې څخه حیا دریږي، چیکله یو بنده و ده ته د خپل حاجت لپاره لاس پورته کړي، او دی هغه لاسونه خالي را واپس کړي، او په هغه کې هغه بنده ته د ده د غوښتني خیر نه ور واچوي.

## د حضرت مالک ابن دینار رحمة الله علیه واقعه:

حضرت مالک بن دینار رحمة الله علیه یو ځل په بغداد کې په کښتۍ کې سپور سو، د دریاب د بو سر څخه هغه بل سر ته ورځي.

نو په کښتۍ کې ټول صاحب ثروت او مالداران خلک ناست دي، نو دی د یو غریب او مسکین طالب په شکل چي معمولي لنګوټه ئې پر سر باندي تړلې، د کښتۍ په یو کنج کي د ناستي ځای پیدا کړی.

کښتۍ چیکله یو څه سفر وکړی، نو په هغه کې یو سړي نعرې کړې، چي زما یو بېش قیمته غمی ورک سو، چي په دغه کښتۍ کي یو چا زما څخه غلا کړی، نو په کښتۍ کي ئې شا وخوا وکتل، نو ټوله مالداران خلک دي، آخر ئې وده ته لاس ونیوی، چي دغه په کنج کي ناست طالب زما غل دی، او پر ده باندي زما د غلا شک راځي.

په کښتۍ کي حضرت ذوالنون مصري رحمة الله علیه چي د علاقې معروف بزرګ وو، هغه هم ناست دی، نو هغه هغه خلګو ته وویل: چي تاسو لږ صبر وکړئ، دغه طالب زما د جنس دی، زه به یو ځل د ده سره په نرمه لهجه خبره وکړم، کچیري ده اخیستی وو، نو تاسو ته به ئې در کړي.

حضرت ذوالنون مصري رحمة الله علیه چیکله د ده سره د هغه غمي متعلق خبره شریکه کړله، نو دی دا نه ورته وایي: چي زه غل نه یم، تاسو زما تلاشي واخلئ، یا زما په جیب کي وګورئ، یا زما سامان تلاشي کړئ، بلکه ده صرف: "فَنَظَرَ نَظْرَةً اِلَى السَّمَاء" ده به آسمان ته وکتل.

حالانکه مالک ابن دینار هغه انسان وو: چي د دې څخه لږ زمانه مخکي به ئې ټوله ورځ په شراب کي مستۍ تېروله، بیا الله تعالی ده ته هدایت وکړی، او د توبې کښلو توفیق ئې ور کړی.

چیکله ده آسمان ته وکتل، نو هغه ماهیانو د څلورو طرفو څخه پر کښتۍ باندي راوګرځېدل، او هر ماهي په خوله کي یو غمی راپورته کړی.

مالک ابن دینار هغه خلګو ته وویل: تاسو د دغه ماهیانو څخه خپل غمي واخلئ، او زما او ستاسو نوره ملګرتیا په کښتۍ کي نسي سره کیدای، ذ کښتۍ څخه د دریاب په مابین کي شوه سو، او لڅي پښې د اوبو پر سر روان سو، او تر دریاب واوښتی.(١)

ځکه د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک دی:

..........لَوْكَانَ لِابْنِ آدَم حَبَّة الشَّعِيْر مِنَ اليَقِيْن اَنْ يَمْشِي عَلَى الْمَاءِ﴾.

کچیري د بنده په زړه کي د الله تعالی پر ذات باندي د یوې اوربشي مقدار یقین جوړ سي، نو بیا خو به د اوبو پر سر باندي روان وي، او پښې به ئې په اوبو نه لندیږي.

## د ام سعد رضي الله عنها د الله تعالی سره تعلق:

په البدایه و النهایه کي یو واقعه رانقل سوېده: چي یو صحابیه زنانه ده، چي نوم ئې: ام سعد دی، د مکې مکرمې څخه د حجرت په شکل مدینې منورې ته راغله، چي د هغې سره یو بچی ور سره وو، چي غالباً د هغه بچي نوم ئې: انس وو.

د څو ورځو په تېرېدلو سره هغه بچی ناجوړه سو، او وفات سو، د پیغمبر ﷺ خادم خاص حضرت انس رضي الله عنه وایي: چي زه د پیغمبر ﷺ سره ملګری وم، چي هغه د هغه زناني کورته راغلی.

که ګورو: نو هغه بچي ته خپلي مور غسل ور کړی دی، او په کفن کي ئې پېچېلی دی، او د کور په مابین کي پر کټ باندي پروت دی، زه او پیغمبر ﷺ د هغه کټ و سر ته ودرېدلو، او مور ئې و پښو ته ولاړه ده.

پیغمبر ﷺ ته هغه زنانه هیڅ نه وایي، نه دا ورته وایي: چي ته دعا وکړه: چي الله تعالی زما بچی را ژوندی کړي، نه بله خبره ورته کوي، د کټ و پښو ته هغه زناني د دوه رکعته لمانځه نیت وتاړی، د سلام ګرځولو څخه وروسته هغه زنانه لاس پورته کوي، او دا وایي:

..........اَمَنْتَ بِکَ طَوْعًا وَ هَاجَرْتَ اِلَيْکَ رَغْبَتًا فَلَا تُشْمِت بِی الْاَعْدَاء﴾.

يا الله! ستا په محبت کي مي کلمه ويلې ده، او ستا په محبت کي مي کلی او کور او وطن پرې ايښی دی، او ستا د حبيب کورته راغلې يم، او تا زما څخه بچی واخيستی.
يا الله! ته ما د دښمنانو مسخره مه جوړوه، چي هغه به په ما پسي وايي: چي د پلار او نيکه دين ئې پرېښووی، او زموږ د بوتانو آزار ووهله، يو زوی ئې درلودی، هغه هم څني ولاړی.
يا الله ته زما د عزت خيال وساته، صرف دومره ئې وويل، چي زما دښمنانو ته پر ما باندي د خندا کولو موقع مه ور کوه.
حضرت انس رضي الله عنه فرمايي: زما دي د الله تعالی په ذات قسم وي: چي د هغه زناني دغه الفاظ لا پوره سوي نه وو، چي هغه بچي بيا په کفن کي پښې سره وښورولې، او مور ئې د کفن غوټه ور خلاصه کړه، او دی په هغه کټ کي جګ کښېناستی.(۱)
او س دغه تعلق موږ هم د الله تعالی سره جوړولا سو، تاسو ګورئ! هغه زنانه ته د الله تعالی رسول مخامخ ولاړ دی، هغه ته دا نه وايي: چي ته دعا وکړه، حالانکه: د يو مسلمان د بل مسلمان لپاره دعا کول سنت عمل دی، او د مسلمان څخه د دعا طلبول هم سنت عمل دی.
ليکن زموږ په معاشره کي يو رواج جوړ سوی دی: چي انسان پخپله هيڅ نه کوي، صرف دا ئې ازده کړي دي: چي ته و ماته خصوصي دعا کوه، حالانکه خصوصي دعا د هغه چا وي: چي زړه ئې درد مند وي، او د دردمند زړه څخه آه پورته کېدل، خصوصي دعا بلل کيږي.
د دې خو مثال داسي دی: لکه يو سړی چي په تکليف وي، او په بدن کي ئې درد وي، او دی ماته وايي: چي ځګېروی ته را سره کوه، دا هيڅکله نسي کېدلای.
بلکه: په کار خو دا ده: چي انسان ژوند داسي تېر کړي: چي د ده په ليدلو سره د بل په زړه کي دعا ورته جوړه سي، مثلاً اولاد د مور او پلار سره داسي ژوند تېر کړي: که دی ووايي، او کنه، د هغوی په زړه کي دعا ورته وي، يا شاګردان د استاد مخته داسي ژوند تېر کړي، چي د استاد په زړه کي خودبخود د دوی لپاره دعاګاني راسي.

(۱) البدايه و النهايه: جلد نمبر۲، صفحه نمبر ۱۵۴، بحواله: بکهری موتی: جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۹۴

په حديث شريف کي راځي: چي د پيغمبر ﷺ دري شاګردان وو، د درو سره وو نوم: عبدالله وو، هغوی به د پيغمبر ﷺ ومخته داسي ښه زندګي تېروله، چي پيغمبر ﷺ به د تهجد په لمانځه کي دوی په نامه يادول، او د دوی لپاره به ئې دعاګاني غوښتې.
د هغه نتيجه داوه: چي هغه درو سره وو په دنيا کي د هر لوی عزتونه پيدا کړل.

- عبدالله ابن عباس امام المفسرين جوړ سو.
- عبدالله ابن عمر امام المحدثين جوړ سو.
- او عبدالله ابن مسعود امام الفقهاء جوړ سو.

چي دا ټوله د دوی د ښې زندګی وجه وه، او د پيغمبر ﷺ د دوی په هکله د تهجد د لمانځه د دعا برکت وو.(١)

## د يو صحابي د الله تعالی سره تعلق:

نو زه بار بار دا وايم: چي د الله تعالی سره تعلق چي د کم چا راسي، نو بيا خو الله تعالی پر هر مقام باندي د غيبي خزانو څخه دده مدد کوي.
د يو صحابي په باره کي راځي: چي ټوله ورځ ئې په مسجد نبوي کي د پيغمبر ﷺ په مجلس کي تېره کړه، ماځيګر چي کورته راغلی، نو وږی دی، ځکه ټوله ورځ ئې د شي څکه نده کړې، نو د کور زناني ته وايي: چي په کور کي څه سته؟ هغه زنانه چونکه پخپله هم وږې وه، او څه ئې نه وو خوړلي.
نو په يو څه سخته لهجه ئې ده ته جواب ور کړی: چي ته ټوله ورځ په مسجد کي ئې، نو موږ لره به چا د خورک څه راوړي وي.
هغه صحابي چيکله د زناني جواب واورېدی، نو په کور کي نسي کښېنستی، دباندي راوواتی، د دروازې سره کښېناستی.
هغه زنانه چونکه بيا هم صحابيه زنانه وه، نو ځان ئې ملامت کړی، چي خاوند دي دومره عبادت ګوزاره انسان دی، تاهسي بېځايه دی زهير کړی، نو په دې نيت چي همسايګان زموږ په لوږه خبر نسي، ژرنده ئې پر لره وګرځوله، او په تناره کي ئې اور بل کړی، چي د هغه دود زموږ د کور څخه پورته سي، نو د همسايګانو به دا يقين سي:

(١) خطبات فقير: جلد نمبر ٢٥، صفحه نمبر ١٧٦

چي د دوی په کور کي نفقه سته، چي دا ده په تناره کي ئې اور بليږي، او ډوډۍ پخيږي.
او دا پر لمانځه ودرېدله، دوه رکعته لمونځ ئې وکړی، او د هغه څخه وروسته ئې دا دعا وکړه:
............اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا﴾.
اې الله! موږ ته رزق راکړه.
صرف دا غه يوه جمله دې ادا کړه: چي کله ئې الفاظ ختم سوي لا نه وو، په تناره کي د ډوډيو خوشبوئي راپورته سوه، دا ورغله، او خاوند ئې تر لاس ونيوی، کورته ئې را دننه کړی، چيکله ئې په تناره کي وکتل، نو هغه د پخو ډوډيو ډک ولاړ دی.
او ژرندي لره هم ورغله، که ګوري: د هغه څخه اُوړه را تويېدل، چي څومره د کور لوښي ئې ول، هغه ئې ټوله په ډک کړل، نو آخر دوی دې ته حيران سول: چي دا اُوړه د کمي خوا راځي، د ژرندي پل ئې پورته کړی، چي وئې کتل: نه غنم سته، نه نور څه، د پل په پورته کېدلو سره هغه اُوړه ختم سول.
سهار دوی دواړه د پيغمبر ﷺ خدمت ته راغلل، او هغه واقعه ئې ورته پيش کړه، نو پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: چي ستاسو د نصيب قسمت او کمي وه، کچيري تاسو هغه پل نوای پورته کړی، نو تر قيامته پوري به هغه ژرنده چلېدلای، او تاسو ته به ئې اُوړه درکولای. (۱)
نو چيکله د انسان په دغه شان تعلق د الله تعالی سره جوړ سي، نو بيا:

- په سودا کي د دړواغو ويلو څه ضرورت دی؟
- او د خپلي سودا د عيب پټولو څه ضرورت دی؟
- او بيا په تجارت کي د رشوت ورکولو ضرورت څه دی؟
- او بيا به انسان پخپل مال او دولت کي سود کولو ته ولي مجبوره وي؟

(۱) الله کو اپنا بنالو: صفحه نمبر ۲۱۱

نو د الله تعالى سره تعلق جوړول، او د الله تعالى څخه غوښتنه کول، د الله تعالى په ذات قسم: پدي کي هغه طاقت پروت دی: چي بیا د انسان د غوښتني لپاره همېشه د الله تعالى د عرش دروازې خلاصي ولاړې وي.

**مقصد ته اعاده:**

نو په تېره جمعه کي ما دا خبره کړېوه: چي د پیغمبر ﷺ مسنوني دعاګاني دا د الله تعالى څخه د غوښتني بهترینه طریقه ده، او هم د الله تعالى سره د تعلق جوړولو ښه ضابطه ده.

نو ما دا خبره هم کړېوه: چي کله انسان د خوب څخه را کښېني، دا دعا دي وایي:

........﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ﴾.(۱)

ما دې په تېر وعظ کي ستاسو و مخته په کافي تفصیل سره وضاحت پیش کړی.

نن بیا زه دوهمه دعا دا وایم: چي کله انسان د خوب څخه راپورته سي، نو عام طور د خپل حاجت پوره کولو لپاره دانسان د "بیت الخلاء" طرفته د تللو حاجت وي.

چیکله انسان "بیت الخلاء" لره ورځي، نو د پیغمبر ﷺ دا مسنونه دعا دي وایي:

........﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾.(۲)

اې الله! زه د خبیث مذکر مخلوقات څخه او د خبیث مؤنث مخلوقاتو څخه ستا په ذات باندي پناه غواړم.

زموږ د دین دا امتیاز دی: چي پر کمو ځایو باندي انسان د ذکر کولو څخه شرمیږي، هلته هم پیغمبر ﷺ د انسان لپاره د یو دعا او د یو ذکر تلقین کړی دی، چي پر هغه موقع باندي هم د انسان د خپل رب سره رابطه قائمه وي.

---

(۱) الادب لابن ابي شیبه: حدیث نمبر ۲۳۶

(۲) مسند ابن الجعد: حدیث نمبر ۱۴۲۶

## د خبيثو مخلوقاتو څخه د پناه غوښتلو حکمت:

په دې دعا کي پېغمبر ﷺ د خبيث مذکر او خبيث مؤنث مخلوقاتو څخه پناه غوښتې ده، د هغه حکمت پېغمبر ﷺ په يو بل حديث کي پيش کړی دی، لکه پېغمبر ﷺ فرمايلي دي:

......... إِنَّ هَذِهِ الْحُشُوشَ مُحْتَضَرَةٌ، فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾.(١)

هغه مقامات چي انسان د تقاضا حاجت لپاره ورځي، د شيطان د استوګني ځايونه دي، ځکه شيطان يو ګنده مخلوق دی، نو همېشه پر ناپاکه ځايو باندي اوسيږي، نو چي تاسو کله هغه ځايو ته ورځئ، نو ځانونه د الله تعالى په پناه کي راولئ، ځکه هغه شيطانان ډېر ځله تاسو ته نقصان رسوي.

## د شيطانانو جسماني نقصان رسول:

اوس سوال دادی: چي دغه شيطانان انسان ته څه نقصان ور رسوي، د دې تفصيل خو دلته پېغمبر ﷺ ندی بيان کړی.

ليکن د نورو رواياتو څخه معلوميږي: چي شيطان انسان ته جسماني او روحاني دواړه قسمه نقصان رسوي.

جسماني نقصان دا رنګه رسوي: چي د انسان په دماغ کي فکرونه او غفلت ور واچوي، نو ظاهري طور د انسان بدن يا لباس په نجاست باندي ور ولړي، او د انسان جسم او لباس ناپاکه سي.

او بعضي اوقات انسان په جسماني تکليف هم اخته کوي، چنانچه په تاريخ کي داسي ډېري واقعاتي راغلي دي: چي شيطانانو په دغه ګنده ځايو کي باقاعده پر انسان باندي حملې کړي دي، او انسان ئې د مرګ تر خولې پوري رسولی دی.

او انسان ته ډېر ځله د صحت په حواله هم نقصان رسوي، بعضو علماؤ دا ليکلي دي: چي د ناجوړی جراثيم د انسان په جسم کي ابتداءً د دغه ځای څخه شيطان اچوي، چي

بیا وروسته هغه جراثیم د انسان په جسم کي سرایت وکړي، او انسان د غټو او لویو بیماریو سره مخامخ سي.

## روحاني نقصان رسول:

د دې څخه علاوه شیطان انسان ته روحاني نقصان هم رسوي، ځکه عام طور په دغه ځایو کي انسان د ستر لڅوالي په حالت کي وي، نو شیطان د انسان په زړه کي فاسد خیالات اچوي، او غلط قسم خواهشات د انسان په زړه کي پیدا کوي، چنانچه په دغه رنګه ځایو کي د انسان سفلي جذبات او خواهشات زیات په زور کي وي.

چونکه دا حالت د انسان د ستر د لڅوالي په وجه د بې حیائي حالت وي، نو چي بیا انسان دباندي څو مره د بې حیائۍ کارونه کوي، د هغه ابتدا او ابتدائي خواهشات هم د دغه حالت څخه شیطان د انسان دماغ ته رسوي.

نو ځکه پېغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي بیت الخلا ته انسان ورځي: نو باید اول خپل ځان د الله تعالی په پناه کي ورکړي، او دا وایي: یا الله! زه یو داسي ځای ته ورځم: چي هلته د شیطانانو اجتماع ده، او هغه ماته د ضرر را رسولو کوشش کوي، یا الله! ستا د پناه په خاطر د شیطان د شر څخه حفاظت غواړم، نو د دې دعا یوه فائده خو دا ده: چي ته به د الله تعالی په پناه کي راسې.

## د دعا دوهمه فائده:

د دغه دعا دوهمه فائده داده: چي د انسان رابطه به د الله تعالی سره جوړه وي، او په دغه ګنده حالت کي به هم انسان د الله تعالی سره په رابطه کي وي، چي د هغه په نتیجه کي به انسان پخپله زندګي کي د ګناهونو او د غلطو کارو څخه محفوظه وي.

## چپه پښه دمخه کول:

او پېغمبر ﷺ دا سنت هم بیان کړی دی: چیکله انسان بیت الخلا ته ورننوزي، نو اول دي چپه پښه دننه کړي، او دننوتلو څخه مخکي دي دغه مذکوره دعا ووایي:

## د بیت الخلاء څخه د راوتلو د وخت دعا:

بیا چیکله انسان فارغه سو، نو د بیت الخلا څخه دباندي راوزي، نو پیغمبرﷺ دا دعا بیان کړېده: چي راسته پښه به راوباسي، او بیا به دا دعا ووايي:

.........غفرانک الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّي الْأَذَى وَعَافَانِي﴾.(١)

غفرانک د دې معنی داده: یا الله! زه ستا څخه مغفرت او بخښنه غواړم.

اوس سوال دادی: چي انسان په دې وخت کي د چه شي مغفرت غواړي؟ ظاهراً خو انسان هیڅ ګناه کړې نده.

د دې جواب دادی: چي پر دې موقع انسان د دوو خبرو مغفرت غواړي: یو د دې خبري: چي په دېوخت کي زه په داسي حالت کي وم: کیدای سي: زما څخه یو غلطي سوې وي، نو زه د هغه بخښنه او مغفرت غواړم.

او دوهم د دې خبري: چي اې الله! تا پخپل فضل او کرم سره پر ما باندي څومره زیات نعمتونه کړي دي، زما د هغه نعمتو شکر لا نه ادا کړی، چي یو بل نعمت هم و ماته حاصل سو.

ځکه د بدن څخه نجاست جلا کېدل، دا ډېر لوی نعمت دی، چي د انسان د زندګۍ دار او مدار پر هغه باندي دی.

## د الله تعالی د نعمتونو قیمت:

په یو کتاب کي لیکلي دي: چي هارون رشید بادشاه یو ځل تږی سو، نو اوبه ئې طلب کړې، خادمانو اوبه ورته راوړې، یو د الله تعالی نیک بنده هلته ناست وو، ورته وئې ویل: بادشاه سلامت! د اوبو چیښلو څخه مخکي زما یوه خبره واوره.

کچیري ته زیات تږی سې، او په ټوله دنیا کي د دغه ګلاس اوبو څخه ما سوا نوري هیڅ اوبه نوي، او دغه د اوبو والا ستا څخه د اوبو قیمت غواړي، او ته د تندي څخه مرګ ته قریب ئې، نو دغه ګلاس اوبه به په څومره قیمت رانیسې؟ بادشاه ورته وویل: چي خپل نیم سلطنت به ور کړم، او دا اوبه به ځني رانیسم، او بیا به ئې وچیښم.

---

(١) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۳۰۱

هغه بزرګ بيا ورته وويل: چي کله دي اوبه وچيښلې، او هغه ستا په بدن کي بندي سي، او د بولو په لار ستا د بدن څخه نه وزي، او ته ډېر زيات په تکليف کي مبتلا ئې، ځکه چي د کمو انسانانو بولي بندي سي، نو هغه په ډېر بد حالت کي وي، او د درد څخه داسي غورځي: لکه ماهی چي د اوبو څخه راوکاږې.

نو ستا دغه حالت وي، او په ټوله دنيا کي د يو طبيب سره دوا وي، چي د هغه په وجه ستا بولي په آسانه د بدن څخه وزي، نو ته راته ووايه: چي څومره قيمت به ور کړې، او دا دوائي به څني رانيسې؟ بادشاه ورته وويل: چي هغه بل نيم سلطنت به هم ور کړم، او دغه دوائي به څني واخلم.

نو هغه نيک انسان ورته وويل: چي د دې خبري څخه خو زما په دماغ کي دا راغله: چي ستا ټوله سلطنت د اوبو د يو ګلاس قيمت لري، او ته د ځان سره فکر وکړه: چي تا به څومره ځله دغه اوبه چيښلي وي، او د الله تعالى د څومره نعمتو استعمال به دي کړی وي، ايا دا فکر کولای سې: چي د څومره نعمتو به دي شکر ادا کړی وي؟

نو دا يو حقيقت دی: چي موږ د سر څخه تر پښو پوري د الله تعالى په نعمتونو کي مستغرق يو، بلکه ډېر ځله د هغه نعمتونو موږ ته استحضار بالکل نوي، چي هغه کم کم نعمتونه دي؟ چي موږ د هغه شکر ادا کړو.

نو چي کله د انسان بولي د انسان د بدن څخه جلا سي، نو دا هم د الله تعالى لوی نعمت دی، نو پر دې نعمت باندي شکر ادا کول ضروري دي، نو انسان به دا وايي: چي يا الله! ما خو د دغه نعمت شکر ادا نه کړی، نو پر دې باندي زه ستا څخه مغفرت او بخښنه غواړم.

د بخښني غوښتلو څخه وروسته به دا دعا وايي:

............الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّي الْأَذَى وَعَافَانِي﴾.(۱)

يعني: د الله تعالى شکر دی: چي هغه زما څخه دغه نجاست ليري کړی، او ماته ئې عافيت رانصيب کړی، کچيري په دغه دعا کي انسان غور وکړي: نو دا به ور معلومه سي: چي په دغه مختصره دعا کي پېغمبر ﷺ د معناګانو څومره عظيم کائنات بيان کړي او جمعه کړي دي.

الله تعالى دي موږ او تاسو ته د پېغمبر ﷺ پر مسنونو دعاګانو باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي، او هم دي زندګي د پېغمبر ﷺ پر نقشه باندي د تېرولو همت او طاقت راکړي، او الله تعالى دي دا ټول خبري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلّٰى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایہ)

# قیامت او میدان محشر، اوله حصه

(بیان)


مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿الدِّينُ النَّصِيحَةُ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! ستاسو په حضور كي ما د قرآن كريم د يو آيت تلاوت وكړی، چي په هغه كي الله تعالى د قيامت د ورځي څه حالات بيان كړي دي، او بيا خاص چي د قيامت په ورځ د "صور شپیلی" اسرافيل عليه السلام پوه كوي، د هغه ذكر دی.

د محقيقنو علماؤو په نزد د "صور شپيلی" دوه(۲) ځله پوه كيږي:

۱. اول ځل: چي كله شپيلی پوه سي، د ټولو انسانانو هوش به ختم سي، چي كم څوك ژوندي دي، هغه به مړه سي، او چي كم څوك مړه دي، د هغوی پر روحانو به بې هوښي راسي.

۲. دوهم ځل: چي كله شپيلی پوه سي، نو د ټولو مردگانو روحان به د هغوی د بدنو او جسمو و طرفته واپس راسي، او چي كم څوك بې هوښه دي، هغه به په هوښ كي راسي.

(۱) سورة الزمر: آيت نمبر ۶۸

(۲) اتحاف الخيره المهره: حديث نمبر ۱۵۷

په دې وخت کې به د محشر په میدان کې عجیب او غریب د حیرته ډک منظر وي، چې ټول انسانیت به حیران او سرګردانه یو طرف او بل طرف ته سره ځغلي.

## میزان عدل او سوال او جواب:

د قیامت په ورځ به د الله تعالی په دربار کې ټول انبیاء او د هغوی امتونه را حاضر سي، او د عدل میزان او ترازو به قائم کړل سي، د ټولو په مابین کې به د عدل او انصاف معامله کیږي، چې د هغه ذکر الله تعالی په دغه شکل باندې په قرآن کریم کې کړی دی:

............﴿وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾.(۱)

الله تعالی به د اعمالو کتاب او عمل نامه کښېږدي، او ټول انبیاء او ټول ګواهان به را حاضر کړي، چې د انسانانو په مابین کې د عدل او انصاف فیصله وسي.

په بخاري شریف کې د حضرت ابوسعید خدري ؓ څخه روایت دی: چې حضرت نوح علیه السلام او د هغه امت به د الله تعالی په دربار کې حاضر کړل سي، الله تعالی به د نوح علیه السلام څخه پوښتنه وکړي: چې تا خپل امت ته د دین خبره رسولې وه، او کنه؟

حضرت نوح علیه السلام به جواب ورکړي: چې اې زما ربه! نه نیم سوه (۹۵۰) کاله د طوفان نوح څخه مخکې زما د نبوت دور وو، او په دغه دور کې زما د امت ډېر نسلونه تېر سول، لیکن زما پر دعوت باندې چا لبیک نه وواییی، او ټولو زما د خبرې څخه انکار وکړی.

آخر زه مجبوره سوم، ښرا کولو ته، چې د هغه په نتیجه کې تا زما پر قوم د طوفان عذاب نازل کړی.

بیا به الله تعالی د حضرت نوح علیه السلام د امت څخه پوښتنه وکړي: چې تاسو ته زما د دین دعوت رسېدلی وو، او کنه؟ نو د نوح علیه السلام قوم به د قیامت په میدان کې د الله تعالی په حضور کې درواغ ویل شروع کړي، او وایي به: چې موږ ته هیڅ قسم د دین دعوت نه دی راغلی، نه ده حشر او نشر او د جنت او جهنم او د حساب او کتاب خبره موږ ته چا کړېده.

الله تعالى به حضرت نوح علیہ السلام ته ووايي: چي ته خو مُدعِي سوې، او ستا امت مدعى عليه سو، لهذا: د خپلي دعوې د ثبوت لپاره ګواه پيش کړه.
نو نوح علیہ السلام به په ګواهي کي محمد ﷺ او د هغه امت پيش کړي، نو د نوح علیہ السلام قوم به پر هغه باندي جرح کوي، چي محمد ﷺ او د هغه امت ته زموږ په باره کي څه معلومات سته، ځکه چي هغه زموږ څخه په زرونو کلونه وروسته دنيا ته راغلي دي.
نو به د محمد ﷺ امت داشاهدي اداکړي: چي اې الله! ستا ريښتونی پيغمبر ﷺ موږ ته راغلی وو، او ستا کلام زموږ سره موجود وو، ستا پيغمبر او کلام هيڅ کله دروا غجن نسي کېدلای.
ستا پيغمبر موږ ته ويلي وو، او ستا په کلام کي هم موږ ته ذکر سوي وو: چي نوح علیہ السلام نه نيم سوه(۹۵۰) کاله خپل امت ته د ايمان خبره پيش کړه، لکه الله تعالى د "سورة البقره" په آيت کي هم فرمايلي دي:
............وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾.(١)
داغه رنګه موږ تاسو يو د عدل او انصاف والا امت جوړ کړي واست، چي تاسو پر نورو خلګو ګواهي ادا کړئ، او رسول به ستاسو لپاره ګواه وي. (٢)

## په ميدان محشر کي د لمر ګرمي:

په بخاري او مسلم او ترمذي کي په يو طويل حديث کي د ميدان محشر د منظر ذکر دی، چي د هغه خلاصه دا ده: چي کله ټول انسانان د قيامت په ميدان کي حساب او کتاب ته را حاضر سي، نو پدې وخت کي به الله تعالى د دوی پر سرو باندې لمر زيات را نژدې کړي.
په بعضو روایاتو کي راځي: چي لمر به د دوی د سر څخه صرف يو يا دوه ميله پورته ولاړ وي، هر سړی به په خپله خوله کي غرق وي، د بعضو انسانانو خوله به تر بجلکو

(١) سورة البقرة: آيت نمبر ۱۴۳
(٢) بخاري شريف: حديث نمبر ۴۳۰۲

پوري وي، او د بعضو دا به تر زنګنو پوري وي، او دبعضو خوله به تر سينې پوري وي، او بعضې انسانان به داسې هم وي: چې پخپله خوله کي به غوټې وهي.
په دغه ېرونکې او پرېشانه کونکي حالات کي به خلګ د شفاعت لپاره حضرت آدم عليه السلام ته ورسي، چې زموږ شفاعت وکړه، هغه به عذر وکړي، بيا به حضرت نوح عليه السلام، بيا به حضرت ابراهيم عليه السلام، او بيا به حضرت موسى او عيسى عليهما السلام ته را سي، او ټول انبياء به د الله تعالى و حضور ته د شفاعت کولو لپاره د پېشېدلو څخه عذر پيش کړي.
په آخر کي به ټوله د قيامت انسانان د پېغمبر ﷺ و خدمت ته را حاضر سي، او دا عرض به پيش کړي: چې الله تعالى خو ستا د مخکيني او وروستني ګناهونه د معاف کولو وعده کړېده، او په دنيا کي ئې لا تاته دا وعده در کړېده: چې نن به ستا سره هيڅ د سوال او جواب خطره نه وي لکه دنورو انبياؤو سره چې ستهـ،نو به د شفاعت کولو سوال ځني وکړي.
د هغه څخه وروسته به پېغمبر ﷺ د ټوله اهل قيامت شفاعت کوي، او الله تعالى به د قيامت د انسانانو سره حساب او کتاب شروع کوي. (١)

## د عرش تر سايه لاندې به څوک وي؟

د قيامت په ميدان کي د محشر په ورځ به انسانان په سخته ګرمي د حساب او کتاب ور کولو لپاره ډېر زيات کلونه ولاړ وي.
ليکن په دغه سترې ورځ به الله تعالى اوه(٧) کسانو ته د خپل عرش په سايه کي ځای ور کوي، چې د هغوی ژوند به هلته ډېر هوسا وي، او دوی به د حساب او کتاب اخيستلو منظر ګوري، زه ستاسو په حضور کي د هغه اوو کسانو يو څه تفصيل پيشوم.
الله تعالى دې ماته د صحيح تفصيل پېشولو توفيق او هم دې الله تعالى موږ او تاسو ټولو ته پر دغه ويناګانو د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

(١) ترمذي شريف: حديث نمبر ٢٤٢١

## اَلْاِمَامُ الْعَادِلُ: حاكمِ عادل:

عادل حاکم ته به د عرش په سایه کي ولي ځای ور کول کیږي؟ د هغه وجه دا ده: چي حاکم پر خپل رعیت باندي پوره اختیار لري، کچیري دی پر هغه باندي ظلم کوي، هم د ده څخه پوښتنه نسي کولای، د دغه دومره اختیار سره چي کله حاکم صرف د الله تعالی د ییري په وجه پر خپل رعیت ظلم نه کوي، او نه د هغوی سره د بې انصافۍ معامله کوي، نو الله تعالی د دغسي حاکم څخه ډېر راضي او خوشحاله وي، نو ځکه ده ته د خپل عرش په سایه کي د میلمه په شکل ځای ور کوي.

## د حضرت عمر رضی الله عنه عدالت:

دې امت ته الله تعالی عجیبه حاکمان ور کړي وو، چي د هغه حالات انسان اوري نو د انسان دماغ ورته حیرانیږي، او انسان ته د اوس پر حاکمانو باندي افسوس دریږي.
د حضرت عمر رضی الله عنه عدل او انصاف د ټولي مځکي په کره کي مشهوره وو، د ده د عدالت څخه د دنیا لوی لوی حکومتو د عدل او انصاف قانون اخیستی وو، مګر د عمر بن عبدالعزیز څخه سوا وروسته راتلونکو یو حاکم هم د حضرت عمر رضی الله عنه غوندي په عدل او انصاف کولو کي کامیابه نه سو، او نه په یو حاکم کي د خپل رعیت لپاره هغه درد په زړه کي پیدا سو: چي کم درد د حضرت عمر رضی الله عنه په زړه کي د خپل غریب رعیت لپاره وو.
زه ستاسو حضور ته د حضرت عمر رضی الله عنه یو دوې(۲) واقعې پیشوم:

## واقعه نمبر(۱):

په بخاري شریف کي د حضرت عمر رضی الله عنه آزاد کرده غلام: د حضرت زید بن اسلم پلار حضرت اسلم رضی الله عنه فرمایي: چي زه د حضرت عمر رضی الله عنه سره ملګری وم، د مدینې منورې بازار ته ورغلم.
هلته یو نوجوانه زنانه راغله، حضرت عمر رضی الله عنه ته ئې وویل: اې امیر المؤمنین! زما خاوند وفات سوی دی، او زما کوچني کوچني بچیان دي، او زه د حضرت خفاف بن ایماء غفاري رضی الله عنه چي د حدیبیې د شریکو صحابه وو څخه وو، لور یم.

ده مبارک د هغه تړوله وینا په ډېر اطمینان سره واورېدله، او دستي ئې یو بهترین اوښ او پر هغه باندي دوې (۲) بوجۍ د ژوند د ضروریاتو ساز او سامان ور برابر کړل، او هغه زنانه ته ئې ور کړل.
او د دې کار لپاره هغه هیڅ یو خپل خادم ته هم حکم نه وکړی، بلکه دغه خدمت هغه تړوله پخپله سرته ورساوی، او هغه زنانه ته ئې تسلي ور کړه. (۱)
د خپل رعیت سره داسي د نرمۍ او د عدل او انصاف معامله د دنیا په لویو او کوچنیو حاکمانو کي تر اوسه چا نه اورېدلې، او نه لیدلې ده.

## واقعه نمبر (۲):

علامه عزالدین ابن الاثیر رحمة الله علیه په خپل کتاب: "اسد الغابه فی معرفة الصحابة" کي را نقل کړي دي: چي د حضرت عمر رضي الله عنه خادم او آزاد کرده غلام حضرت اسلم رضي الله عنه فرمايي:
چي یو ځل یوه شپه حضرت عمر رضي الله عنه د مدینې منورې په آبادی کي د شپې ګرزېدی، زه هم ور سره وم، چي د ښار په یو کونج کي یو کنډي زناني اور بل کړی وو، او پر هغه باندي ئې لوښی باندي کړی وو، او بچیان شا او خوا پر را ګرځېدلی د لوږي څخه ورته ژاړي.
حضرت عمر رضي الله عنه چي هلته ورغلی، نو پوښتنه ئې ځني وکړه: چي دا بچیان ولي ژاړي؟ او په دغه لوښي کي پر اور باندي څه باندي دي؟
هغه زناني په جواب کي ورته وویل: چي دغه بچیان وږي دي، ما د دوی د آرامولو لپاره پر اور باندي صرف اوبه ایښي دي، چي دوی د سالن د پخېدو انتظار وکړي، او بیده سي، ځکه زما په کور کي نن د دوی د خورک لپاره هیڅ نسته.
حضرت عمر رضي الله عنه چیکله د هغه زناني خبره واورېدله، نو پر هغه ځای باندي کښېناستی، او خپل سر ئې په دواړو لاسو ونیوی، او ډېر زیات ئې وژړل.

---

(۱) بخاري شریف: حدیث نمبر ۴۰۱۰

او بیا په ډېره تلوار د صدقاتو بیت المال ته ئې ځان ورساوی، او یوه بوری د خورک سامان او د ضرورت شیان ئې سره را ټول کړل، او خپل خادم اسلم ﷺ ته وویل: چې دا زما پر شا را بار کړه.
خادم ډېر اصرار وکړی: چې حضرت! ماته اجازت وکړه: زه به ئې را واخلم. حضرت عمر رضی الله عنه هغه ته وویل: چې د قیامت په ورځ ستا څخه د دغه بچیانو سوال نه کیږي. سوال خو زما څخه کیږي، نو زه به ئې پر خپله ملا باندي ور وړم.
چنانچه حضرت عمر رضی الله عنه پخپله هغه سامان پر خپله ملا باندي ور ورسوی، او هغه زنانه ته ئې ور حواله کړی، او په دغه وخت کي حضرت عمر رضی الله عنه پخپله پخپل لاس سره هغه خورکه ور پخه کړه، او هغه زنانې او بچیانو ته ئې کښېښووه.
حضرت اسلم، چې د حضرت عمر رضی الله عنه خادم وو، هغه فرمایي: چې د حضرت عمر رضی الله عنه ږیره ډېره ګڼه وه، چې ده به کله د هغه سالن لپاره اور پوه کوی، نو دود به ئې په ږیره مبارکه کي داسي ننواتی، چې د انسان به دا خیال سو: چې دغه ږیري اور اخیستی دی، او ما پخپلو سترګو د ده دغه حالت ولیدی. (۱)
الله اکبر........ ذغه دی، د عادل حاکم معامله، چې د خپل ادنٰی رعیت سره دی څومره حسن سلوک کوي، او د هغه څومره خیال ساتي، چې د ده څخه وروسته په نورو زمانو کي داسي حاکم لیدل انسان ته ګرانه خبره وي.

## د اسلام (۲) عادل حاکم: عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ:

د اسلام دوهم عادل حاکم حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ دی، چې د حضرت عمر رضی الله عنه څخه وروسته ئې په دنیا کي د عدالت حکومت وکړی، د ده د خلافت مده خو ډېر زیاته نوه، تقریباً دو نیم کاله د ده د خلافت مده وه، د هغه څخه وروسته ده ته پخپله پخپل خاندان "بنوامیه" کي یو چا زهر ور کړل، او شهید ئې کړی، او اوس په "حمص" کي د ده قبر دی.
د ده د خلافت دور د عبرت او نیک نامی څخه یو عبارت وو، زه ستاسو په حضور کي د ده د خلافت یو څو واقعات را نقل کوم، انشاء الله د فائدې څخه به خالي نوي.

(۱) اسد الغابه فی معرفة الصحابه: جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۶۶۲

**واقعه نمبر (۱):**

حضرت امام اوزاعي رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي حضرت عمر بن عبدالعزيز چيکله خلافت ته ورسېدی، يو ځل د ده پر کور د "بنو اميه" د خاندان يو څه کسان د دې لپاره راجمعه سول: چي د ده د قرابت په وجه به و دوی ته يو منصب ور کول سي.
حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه ټولو ته دا جواب ور کړی: چي زما په نزد ستاسو ټولو قريبانو او د يو ادنٰی مسلمان په مابين کي هيڅ فرق نسته.
ده چونکه دعدل او انصاف پر طريقه باندي نظام قائم کول غوښتل، نو ځکه د "بنو اميه" ټول ظالمان حاکمان ئې معزوله کړل، او د ټولو مسلمانانو په مابين کي ئې يو عادل حکومت قائم کړی، او کمه د محافظينو ډله چي د ده د حفاظت لپاره مقرره وه، هغوی ته ئې وويل: چي زه دعامو مسلمانانو غوندي يو مسلمان يم، زما د حفاظت لپاره د دومره انسانانو مصروفه کولو ته هيڅ ضرورت نسته، دغه حالات چي د "بنو اميه" خاندان وليدل، نو ټول د ده څخه ناراضه سول.
ده يو ځل په خطبه کي دا اعلان وکړی: کچيري د عدل او انصاف په قائم کولو کي زما د خاندان د خلګو و ذبحه کولو ته مجبوره سم، نو ټول به ذبحه کړم، خو ليکن بې انصافي ته به هيڅکله غاړه نه کښېږدم.

**واقعه نمبر (۲):**

په ترمذي شريف کي حضرت ابو سلام حبشي رضي الله عنه څخه روايت دی، دی فرمايي: چي حضرت عمر رضي الله عنه ته چيکله معلومه سوه: چي حضرت ثوبان رضي الله عنه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه د حوض کوثر حديث مرفوعاً رانقل کوي، نو ده د دغه حديث د حضرت ثوبان رضي الله عنه د ژبي څخه د اورېدلو په خاطر هغه را طلب کړی، هغه دغه حديث د ده و مخته بيان کړی.
حضرت ثوبان رضي الله عنه ورته وفرمايل: چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم به فرمايل: چي زما حوض د عدن د ښار څخه بيا تر عمان پوري دومره به ئې مسافت وي، او د هغه اوبه به تر شيدو سپيني وي، او تر شهدو به زياتي خوږې وي، او د قيامت په سخته ګرمي کي چي کم څوک د هغه څخه يو ځل چيښل وکړي، بيا به د جنت تر داخلېدلو پوري تږی نسي.

او د دغه حوض څخه به د ټولو څخه مخکي مهاجرينو او داسي فقراؤو ته او به چيښل نصيب کيږي: چي د هغه جامې زړې وي، او د هغه وربښتان د مشقت په وجه خواره واره وي، چي هغوی به د عيش او عشرت والا زنانو سره واده نه کوي، او نه به هغوی ته مالداري او سرداري ور نصيب کيږي.

حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه چيکله دا حديث واوريدی، نو په ډېر افسوس او فرياد سره ئې ژړا شروع کړه، او ويل به ئې: چي زما جامې خو زړې ندي، او ما خو د زيب او زينت والا زناني عبدالملک بن مروان د لور فاطمې سره نکاح سوېده، او بادشاهي هم زما په لاس کي ده.

بيا به ئې قسم خواړی: چي زه به تر هغه وخته پوري غسل نه کوم، چي تر څوري زما وربښتان خواره واره نسي، او د بدن جامه به تر هغه وخته پوري نه وينځم، چي تر څو پوري خرابه او زړه نسي. (۱)

چنانچه عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه د خپل خلافت ټوله دوره د يو ادنی فقير او مسکين غوندي خپله زندگي تېره کړه.

## واقعه نمبر (۳):

حضرت ابوبکر بن شبيبه رحمة الله عليه رانقل کړي دي: چي کله حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه وفات سو، او دی ئې د قبر په ډوری کي کښېښووی، نو يو تيزه هوا راغله، او د آسمان لطرفه ئې يو ورقه را وړه، چي پر هغه باندي دا عبارت ليکلی وو، او د ده پر سينه و موښته:

.........بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ بَرَاءةٌ مِنَ اللهِ لِعُمَرِ بْنِ عَبْدُ العَزِيْزِ مِنَ النَّارِ، فَأَدْخِلُوْهَا بَيْنَ أَكْفَانِهِ وَدَفْنُوْهَا مَعَهُ﴾. (۲)

د الله تعالی لطرفه د عمر بن عبدالعزيز لپاره د جهنم څخه د برأت او خلاصی اعلان دی، نو هغه ورقه ئې د ده د کفن په مابين کي کښېښووله، او د ده سره ئې په قبر کي ښخه کړه.

---

(۱) البدايه و النهايه: جلد نمبر۹، صفحه نمبر۲۰۲

(۲) البدايه و النهايه: جلد نمبر۹، صفحه نمبر۲۱۰

**واقعه نمبر (۴):**

حضرت امام حماد بن زید د موسی بن ایمن الراعي څخه را نقل کوي: چي موسی بن ایمان الراعي د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ د خلافت په دور کي د ایران په مشهوره علاقه کرمان کي د محمد عیینه پسونه کتل، او د هغه شپانه وو.
دی فرمایي: چي په یوه څراګاه کي پسونه او لیوان یو ځای سره ګرځېدل، هیڅکله هم یو لیوه پر پسه باندي حمله نه کوله، ځکه چیکله ظلم د انسانانو څخه ختم سي، نو بیا حیوانان او درندګان هم ظلم ته زړه نه ښه کوي.
مګر په کمه ورځ چي عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ د دنیا څخه رخصت سو، عیناً هغه وخت یو لیوه پر پسه باندي حمله وکړه، پدې وخت کي موسی بن ایمن الراعي په ژړا سو، او ډېر زیات به ئې: انا لله ... ویل، او ویل به ئې: چي د الله تعالی د یو کامل ولي وفات یا هلاکت را غلی دی، ورنه هرګز داسي نسي کیدای: چنانچه وروسته معلومه سوه: چي بعینه پدا غه وخت کي د عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ وفات سوی وو. (۱)
پېغمبر ﷺ د دغسي حاکمانو او بادشاهانو متعلق دا زیری بیان کړی وو: چي د قیامت په میدان کي دوی ته هم د الله تعالی د میلمه په شان د عرش په سایه کي ناسته ور نصیب کیږي.

## عادل حاکم د شیطان دښمن وي:

فقیه ابو اللیث سمرقندي رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب: تنبیه الغافلین کي د وهب بن منبه څخه یو روایت رانقل کړی دی، چي په هغه کي دارا غلي دي: چي پېغمبر ﷺ د شیطان څخه پوښتنه وکړه: چي اې لعینه! ستا څومره دښمنان دي؟
شیطان په جواب کي ورته وویل: چي ته او ستا د امت څخه پنځلس(۱۵) کسان زما دښمنان دي:

- ❖ ............اَوَّلُهم: اَنْتَ﴾. د ټولو څخه مخکي دښمن مې ته ئې.
- ❖ ............اِمَامٌ عَادِلٌ﴾. عادل بادشاه.

- ❖ ..........غَنِيٌّ مُتَوَاضِعٌ﴾. عاجزي کونکی مالدار.
- ❖ ..........تَاجِرٌ صَادِقٌ﴾. رشتیا ویونکی تاجر.
- ❖ ..........عَالِمٌ مُتَخَشِّعٌ﴾ عاجزي کونکی عالم.
- ❖ ..........مُؤْمِنٌ نَاصِحٌ﴾. خیرخواهي کونکی مؤمن.
- ❖ ..........مُؤْمِنٌ رَحِيْمُ الْقَلْبِ﴾. هغه مؤمن چي زړه ئې د رحمته ډک وي.
- ❖ ..........تَائِبٌ ثَابِتٌ عَلَى التَّوبَةِ﴾. پر توبه ثابت قدمه پاته کېدونکی.
- ❖ ..........مُتَوَرِّعٌ عَنِ الْحَرَامِ﴾. د حرامو څخه پرهيز کونکی.
- ❖ ..........مُؤْمِنٌ يَدِيْمُ عَلَى الطَّهَارَةِ﴾. همېشه پاک اوسېدونکی مؤمن.
- ❖ ..........مُؤْمِنٌ كَثِيْرُ الصَّدَقَةِ﴾. زيات صدقه کونکی مؤمن.
- ❖ ..........مُؤْمِنٌ حَسَنُ الْخُلْقِ مَعَ النَّاسِ﴾. د خلکو سره ښه اخلاق کونکی، مؤمن.
- ❖ ..........مُؤْمِنٌ يَنْفَعُ النَّاسَ﴾. خلکو ته نفعه رسونکی مؤمن.
- ❖ ..........حَامِلُ الْقُرْآنِ يَدِيْمُ عَلَى تِلَاوَتِهِ﴾. د قرآن همېشه تلاوت کونکی.
- ❖ ..........قَائِمٌ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ﴾. او د شپې عبادت کونکی. (۱)

## ظالم حاکم د شيطان دوست وي:

دغه رنګه فقيه ابو الليث رحمة الله عليه دا هم رانقل کړي دي: چي پېغمبر ﷺ د شيطان څخه دا هم معلومه کړه: چي زما په امت کي ستا دوستان څوک او څوک دي.؟ نو شيطان په جواب ورته وويل: چي ستا په امت کي لس قسم انسانان زما دوستان دي:

- ❖ ..........سُلْطَانٌ جَائِرٌ﴾. ظالم بادشاه.
- ❖ ..........غَنِيٌّ مُتَكَبِّرٌ﴾. متکبر مالداره.
- ❖ ..........تَاجِرٌ خَائِنٌ﴾. درواغ ويونکی تاجر.
- ❖ ..........شَارِبُ الْخَمْرِ﴾. شراب چيښونکی.
- ❖ ..........الْقَتَّاتُ﴾. چغلی کونکی.

- ............صَاحِبُ الزِّنَا﴾. زناکاره نارینه او زنانه.
- ............آكِلُ مَالِ الْيَتِيْمِ﴾. د يتيم مال خړونکی.
- ............اَلْمُتَهَاوِنُ بِالصَّلٰوةِ﴾. په لمانځه کي سستي کونکی.
- ............مَانِعُ الزَّكٰوةِ﴾. زکوة نه ور کونکی.
- ............اَللّٰذِىْ يَطِيْلُ الْاَمَلَ﴾. اوږده اميدونه ساتونکی.

............فَهٰؤُلَاءِ اَصْحَابِى وَ اَخْوَانِى﴾. دا زما ملګری او دوستان او ورونه دي.
دغه لس قسمه هغه خلک دي: چي دشيطان دوستان او ورونه دي، په هغوی کي د ظالم حاکم نوم د ټولو په سر کي راځي.

## د نيک او بد حاکم پيژندل:

پيغمبرﷺ فرمايلي دي: چي بهترين حاکم هغه دی: چي تاسو د هغه سره محبت کوئ، او هم د هغه لپاره دعاګاني کوئ، او دی هم ستاسو سره محبت لري، او تاسو ته دعاګاني کوي.
او بدترين حاکم هغه دی: چي دی ستاسو سره بغض او عناد لري، او تاسو د ده سره بغض او عناد لرئ، هغه پر تاسو باندي لعنت وايي، او تاسو پر هغه باندي لعنت واياست. (۱)

## (۲) شَابٌ نَشَأَ فِى عِبَادَتِ رَبِّه:

د محشر په ميدان کي په سخترينه ګرمي کي چي کم اوه(۷) کسانو ته د الله تعالی د عرش په سايه کي ځای ور کول کيږي: په هغوی کي دوهم هغه نوجوان دی: چي هغه د خپل ځوانی زمانه د الله تعالی په عبادت کي تېره کړې وي.
په ځواني کي عبادت کول، الله تعالی ډېر خوښ وي:

*در جوانی توبه کردن شیوه پیغمبریست*
*وقت پیری گرگ ظالم میشود پرهیزگار*

په ځواني کي عبادت کول، او د ګناه څخه توبه کښل، د پیغمبرانو عادت او طریقه وه. ځکه د بوډا والي په زمانه کي خو ظالم لیوه هم پرهیزګاره او متقي جوړېږي.

## د یو مجاهد نوجوان واقعه:

فقیه ابو اللیث رحمۃ اللہ علیہ پخپل کتاب کي د عبدالواحد بن زید رحمۃ اللہ علیہ بیان رانقل کړی دی.

چي د هغه خلاصه دا ده: چي عبدالواحد بن زید فرمایي: چي د رومیانو سره د مقابلې لپاره موږ تیاري کوله، او د دوشنبې ورځ د هغوی د مقابلې لپاره د روانېدلو مقرره سوه.

خو پدې دوران کي یو پنځلس(۱۵) کلن نوجوان چي مور او پلار ئې وفات سوي ول، او د هغه څخه ده ته په وراثت کي زیات مال او دولت ورپاته سوی وو.

یو سړي د هغه نوجوان و مخته د قرآن کریم دا آیت تلاوت کړی:

............﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾.(۱)

بېشک! الله تعالی د مؤمنانو څخه د هغوی جان او مال پدې شرط رانیولي دي: چي هغوی ته به په بدله کي جنت ورکول کېږي.

چیکله هغه نوجوان دغه آیت کریمه واورېدی، نو ماته ئې وویل: چي اې عبدالواحده! ته ګواه اوسه! ما خپل ځان او ټوله دولت د الله تعالی پر ذات خرڅ کړی دی، چي ماته به جنت را کول کېږي.

نو هغه نوجوان د جنت په میدان کي په ډېره زیاته جوانمردي سره د دښمنانو مقابله وکړه، چي پر یو ځای ئې د څو کسانو د قتل کولو څخه وروسته د دښمن وار پر ده باندي ولګېدی، او دی د خپل آس څخه را ولوېدی زخمي سو.

چیکله ئې روح د بدن څخه رخصت اخیستی نو زه هلته ور ورسېدم، نو که ګورم: پخپلو وینو کي لت پت پروت دی، او پر شونډانو ئې خندا ده، او دغسي د خندا کولو په حالت کي د دنیا څخه رخصت سو.(۲)

---

(۱) سورة التوبه: آیت نمبر ۱۱۱

(۲) تنبیه الغافلین: صفحه نمبر ۵۰۰

## د یو نوجوان غلام واقعه:

امام غزالي رحمة الله عليه په "مکاشفة القلوب" کې د یو ځوان غلام واقعه رانقل کړېده: چې یو سړي یو ځوان غلام رانیوی، نو غلام پر ده باندې یو څو شرطونه ولګول.

۱. اول: چې کله د فرض لمانځه وخت سی، نو ته ما د لمانځه کولو څخه نسي راګرځولای.

۲. زه ستا کار صرف په ورځ کې کوم، د شپې به زه د کار کولو څخه فارغه یم.

۳. ته به ما ته دلې ذاستوګنې لپاره یو جلا حجره را کوي، چې په هغه کې به زما څخه علاوه بل څوک نه اوسیږي.

مالک هغه درې(۳) سره شرطونه و منل، او غلام ئې کور ته بوتلی، او ورته وئې ویل: چې زما په کور کې وګوره، چې کمه حجره ستا خوښه ده، هغه ستا د استوګنې لپاره ده.

هغه غلام په کور کې په ټولو حجرو کې یو خرابه حجره چې هغه و ډېر کارکولو ته محتاجه وه، د ځان لپاره خوښه کړه.

مالک ورته وویل: چې داسې خرابه حجره ته سه کوې؟ دا خو قابله د استوګنې نده، غلام په جواب کې ورته وویل: چې د الله تعالی په حضور کې خرابه او ویرانه حجره یو باغ او باغیچه ده.

اوس هغه غلام د ورځې د خپل مالک خدمت کوي، او د شپې په هغه حجره کې په خلوت کې د الله تعالی عبادت کوي.

یو د شپه مالک دا فکر وکړ: چې ته راسه ورته وګوره، چې دی په دغه حجره کې څه کوي. نو چې کله ئې ورته وکتل، هغه نوجوان په سجده کې پروت دی، او د هغه پر سر باندې د آسمان او مځکې په مابین کې د نور یو څراغ را ځړېږي، او دی دا وایي: اې زما ربه! کچیرې د مالک خدمت پر ما لازم نه وای، نو ما به شپه او ورځ ستا په عبادت کې تېرولای.

نو مالک خپله زنانه هم راوبلله، چې ته دغه غلام ته وګوره: چې دی څه کوي، او څه وایي؟ نو مالک او زناني ددغه منظر په لیدلو زیات وژړل، او غلام ته ئې وویل: چې د

الله تعالى لپاره موږ ته آزاد کړی ئې، چې ته خپل ټول وخت د خپل رب په عبادت کې تېر کړې.
هغه نوجوان چې دا واورېدل، نو فوراً ئې د آسمان طرفته لاسونه پورته کړل، او د الله تعالى څخه ئې دادعا وغوښتله: اې الله! دا خو زما او ستا په مابين کې يو راز وو، اوس چې دا راز ښکاره سو، نو د هغه څخه وروسته زه پر مځکه باندې نور ژوند کول نه غواړم.
........﴿يَا صَاحِبَ السِّرِّ! اِنَّ السِّرَّ قَدْ ظَهَرَ وَ لَا اُرِيْدُ حَيَاتِي بَعْدَ مَا اشْتَهَرَ﴾.
اې په اسرارو باندې عالم ذاته! اوس خو هغه اسرار ښکاره سول، او د اسرارو ښکاره کېدلو څخه بعد زه نور ژوند کول نه غواړم.
اې زما ربه! نو رما ته مرګ را کړې، چې زه د دې دنيا څخه په راحت سم، چنانچه په هغه ګړي باندې هغه غلام پر هغه ځای باندې وفات سو، او د دنيا څخه رخصت سو. (۱)

## د صالح انسان څلور علامې:

امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ رانقل کړي دي: چې د فضيل ابن عياض رحمۃ اللہ علیہ څخه يو مريد پوښتنه وکړه: چې د انسان د نيک او صالح کېدلو کوم شرائط وي؟
ده په جواب کې ورته وويل: چې څلور خبرې د هغه لپاره لازمي دي:

- ............﴿اِذَا كَانَ النَّصِيْحَةُ فِي نِيَّتِهِ﴾. د نيت خير خواهي.
- ............﴿وَ الْخَوْفُ فِي قَلْبِهِ﴾. په زړه کې د الله تعالى وېره.
- ............﴿وَالصِّدْقُ فِي لِسَانِهِ﴾. د ژبې رېښتيا والى.
- ............﴿وَالعَمَلُ الصَّالِحُ فِي جَوَارِحِهِ﴾. د اندامو نيک عمل. (۲)

## (۳) رَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ:

دريم هغه انسان به د قيامت په ورځ د عرش تر سايه لاندې د الله تعالى ميلمه وي، چې د هغه زړه هر وخت د عبادت لپاره په مسجد پورې معلق او تړلی وي.

(۱) مکاشفة القلوب، امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ، صفحه نمبر ۳۹

چي کله په مسجد کي يو لمونځ په جماعت سره ادا کړي، نو د دوهم لمانځه انتظار کوي، چي کله به د لمانځه وخت را ورسيږي، او څه وخت به اذان کيږي؟ چي زه مسجد ته ځان ورسوم، په صف اول کي په تکبير اولی سره په اطمينان خپل لمونځ ادا کړم.

په بخاري شريف کي د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی: چي په جماعت سره د يوه لمانځه کولو فضيلت د يوازيني او ويشت(۲۷) لمنځو سره برابر دی. (۱)

دغه رنګه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه هم يو روايت رانقل سوی دی: چي په جماعت سره د يوه لمانځه فضيلت د يوازي کولو پنځويشت(۲۵) لمنځو سره برابر دی.

او بعضو صحابه وو لا دا حديث هم رانقل کړی دی، چي پيغمبر ﷺ به فرمايل: چي کم سړی په ښه طريقه سره اودس وکړي، او د لمانځه په اراده مسجد لره ورسي، د ده پر هر قدم باندي الله تعالی يوه درجه ور کوي، او يوه ګناه ور معافوي، او چي کله په مسجد کي په لمانځه کي شريک سي، نو تر کومه وخته پوري چي د لمانځه پر ځای باندي دی قائم وي، تر هغه وخته پوري د رحمت ملائکي د ده لپاره د رحمت دعاګاني کوي. (۲)

او دا حديث غالباً په بخاري شريف کي اوه ځای موجود دی، چي د هغه حواله په حاشيه کي ليکلې ده.

داغه رنګه په بخاري شريف کي د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه يو روايت رانقل سوی دی، دی مبارک فرمايي: چي د ماختن د لمانځه وروسته به د پيغمبر ﷺ سره يو څه صحابه کرام د لږ وخت لپاره کښېنستل.

او يوه شپه داسي تياره غوړېدلې وه: چي انسان د خپل لاس ګوتي هم سمي نه سوې ليدلای.

په دغه سخته تياره کي حضرت اسيد بن حضير رضي الله عنه او حضرت عباد بن بشر رضي الله عنه خپلو خپلو کوروته روان سول، او دواړه ډېر نيک انسانان وو، د الله تعالی په قدرت سره د دواړو مخته يو داسي غيبي د نور رڼا روانه وه، لکه د انسان په لاس کي چي يو څراغ او بتی وي.

(۱)بخاري شريف: حديث نمبر ۶۳۶

(۲)بخاري شريف: حديث نمبر ۶۳۸

او چي كله د دواړو لار سره جلاكېدله، نو د هغه ځاى ځخه به د الله تعالى په قدرت سره هغه رڼا دواړو طرفو ته سره ولاړه، او د دواړو لار به ئې ورته روښانه كړه، او دوى دواړه به چي تر كومه وخته خپلو كورو ته رسېدل، هغه رڼا به تر هغه وخته پوري ور سره موجوده وه.(۱)

## په تياره كي د مسجد پر تللو بشارت:

حضرت ابوهريره رضي الله عنه او حضرت انس بن مالک او حضرت بريده اسلمي رضي الله عنهم او حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه دا ټوله مباركان د پېغمبر صلى الله عليه وسلم يو حديث را نقل كوي: چي ده مبارک به فرمايل:

........بَشِّرِ الْمَشَّائِيْنَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّوْرِ التَّامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾.(۲)

چي د شپې په تياره كي مسجد لره تلونكو ته د قيامت په ورځ د كامل نور بشارت او زيرى وركړه.

او په ترمذي شريف كي يو روايت دى: چي پېغمبر صلى الله عليه وسلم به فرمايل:

........أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ ؟﴾.

ايا زه و تاسو ته يو داسي عمل نه در وښيم: چي په هغه سره الله تعالى ګناهونه بخښي او درجات د أنسان بلندوي؟

صحابه كرامو ورته وويل: اې د الله تعالى رسوله! ضرور ئې راوښيه، ده مبارک ورته وفرمايل:

- إِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ﴾. د مشقت او يخ سره په كامله طريقه اودس كول.
- وَكَثْرَةُ الْخُطَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ﴾. او مسجد ته د تللو لپاره زيات قدمونه اخيستل.
- وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ﴾. او د يو لمانځه ځخه تر بل لمانځه پوري انتظار كول.

........فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ﴾.(۳) دا اعمال د ګناهونو د مغفرت ذريعه ده، او دا د جهاد فى سبيل الله سره برابر دي.

(۱)بخاري شريف: حديث نمبر ۴۶۰
(۲)سنن ابن ماجه: حديث نمبر ۷۸۱
(۳)سنن ترمذي: حديث نمبر ۵۱

**خلاصه:**

چي کوم خلک د یو لمانځه څخه تر بل لمانځه پوري انتظار کوي، او د زیات یخ په زمانه کي د اوبو د یخ والي سره هر اندام درې ځله وینځي، او هم ئې زړه همېشه په مسجد پوري نړلی وي، او په تاریکو شپو کي د لمانځه لپاره مسجد ته ورځي، دا به ټوله د قیامت په ورځ د عرش تر سایه لاندي وي.

نو کم کسان چي د قیامت په میدان کي د هغوی په نصیب د عرش سایه د الله تعالی میلمستیا وي، هغه اوه(۷) کسان دي، په هغه اوو کي د درو(۳) کسانو ما تاسو ته تفصیل وکړی:

۱. چي یو عادل حکمران دی.

۲. او دوهم هغه ځوان: چي زندګي د الله تعالی په عبادت کي تیره کړي.

۳. او دریم هغه سړی دی: چي زړه ئې همېشه په مسجد پوري تړلی وي.

وخت چونکه مختصر دی، که زندګي د هغه نورو څلورو(۴) انسانانو به په را روانه جمعه کي تفصیل وړاندي کوو، الله تعالی دي دغه مذاکره قبوله کړي، او هم دي ئې الله تعالی زموږ د نجات ذریعه وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ الْعَالَمِیْن

وَصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الاية)

# قیامت او میدان محشر، دویمه حصه

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿الْمُتَحَابُّونَ فِي جَلَالِ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ يَغْبِطُهُمُ النَّبِيُّونَ وَالشُّهَدَاءُ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! تېره جمعه کي مي ستاسو په حضور کي د قيامت د ورځي يو څه مذاکره کړې وه، او د هغه سره مي دا خبره هم ياده کړې وه: چي بعضي نيک بخته انسانان به د قيامت په ميدان کي د الله تعالى د ميلمنو په شان د عرش تر سايه لاندي د نور پر منبرونو باندي ناست وي، چي په هغه کي:

١. اول: عادل حاکم دی.

٢. دوهم: هغه نوجوان چي زندګي ئې د الله تعالى په عبادت کي تېره کړې وي.

٣. دريم: هغه څوک دی: چي زړه ئې همېشه په مسجد پوري تړلی وي.

(١) سورة النساء: آيت نمبر ٨٧

(٢) کنز العمال: حديث نمبر ٢۴۶۶٩

د دې درو (۳) کسانو متعلق په تېره جمعه کي ستاسو په حضور کي ما تفصيلاً مذاکره کړېوه، الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته پر هغه مذاکره باندي د عمل کولو توفيق را نصيب کړي.

## (۴) وَرَجُلانِ تحَابَا فِی الله:

څلورم انسان: چي هغه ته به هم د قيامت په ميدان کي د محشر په سخته ګرمي کي د الله تعالی د عرش په سايه کي کښېنستل ور نصيب کيږي، هغه به هغه نيکبخته انسان وي: چي د يو مسلمان سره صرف د الله تعالی په خاطر محبت کوي، او چيکله د هغه سره ملاقات کوي، نو په هغه ملاقات کي ئې مطلوب د الله تعالی رضا وي، او چيکله د هغه څخه جلا والی اختياروي، هم د الله تعالی د رضا لپاره وي.
د مثال په طور زه ستاسو په حضور کي يو څو احاديث د دې موضوع متعلق را نقل کوم، تاسو ئې په توجه باندي واورئ، په هغه کي زموږ او ستاسو لپاره ډېر لوی حکمتونه او عبرتونه پراته دي، خو پدې شرط: کچيري موږ او تاسو هغه په خپل عمل کي راولو، زما دا يقين دی: چي الله تعالی به ئې زموږ او ستاسو د نجات ذريعه وګرځوي.

## چي د کم چا سره دي دوستي وي، هغه ته ويل:

حضرت مقدام بن معديکرب ﷺ يو روايت را نقل کوي: چيکله د يو سړي د بل مسلمان سره محبت او دوستي جوړه سي، نو هغه ته دا ويل: چي زه ستا سره محبت لرم، په دې سره د دواړو طرفو محبت نور هم سره زياتيږي.
حضرت يزيد بن نعامه الضبي ﷺ څخه روايت دی: چي پېغمبر ﷺ به فرمايل:
﴿......إِذَا آخَى الرَّجُلُ الرَّجُلَ فَلْيَسْأَلْه عَنْ اِسْمِهِ وَاِسْمِ أَبِيْهِ وَمِمَّنْ هُوَ فَإِنَّهُ أَوْصَلَ لِلْمُوَدَّةِ﴾.(۱)
چيکله د يو مسلمان د بل مسلمان سره اخوت او دوستي راسي، نو هر يو دي د هغه بل سره په کامله طريقه تعارف کوي، يعني: نوم، نسب، او خاندان د دې ټولو معلومات دي کوي.

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۳۹۲

ځکه چي د دې ځخه د انسان په تعلقاتو کي نوره هم اضافه کیږي، او بیا به دواړه یو د بل لپاره معاون او مدد ګاره جوړیږي، او هم به دا ور معلومه وي: چي زما د چا سره دوستي ده.

## ښه دوست، او بد دوست:

په بخاري شریف کي د حضرت ابو موسی اشعري ﷛ ځخه یو روایت رانقل سوی دی: چي پیغمبر ﷺ به فرمایل:

چي د ښه دوست او بد دوست مثال داسي وي: چي ښه دوست د مشکو او عنبرو او د خوشبوئي خرڅونکی غوندي دی، د هغه ځخه به انسان د درو فائدو ځخه یوه ضرور پیدا کوي:

١. یا به ته د هغه ځخه خوشبوئي رانیسې.
٢. یا به هغه تا ته په تحفه کي عطر او خوشبوئي در کوي.
٣. او یا چي ته د هغه سره کښېنې، نو ضرور به پر تا باندي دخوشبوئي بوی مُبنلي، او ته به د هغه ځخه نفعه اخلې.

او د بد دوست مثال د بټۍ د لوهار او چیټک وهونکی په شان دی، کچیري ته د هغه سره کښېنې، نو د دوو (٢) نقصانو ځخه به یو ضرور در رسیږي:

١. یا به د اور بڅرکي درباندي مبنلي، او جامې به در سوځي.
٢. یا به د اوسپینو پخېدلو او تکېدلو او د هغه بد بوئي به ضرور تا ته تکلیف در کوي. ([1])

نو انسان باید د ښو انسانانو سره دوستي او تعلق جوړ کړي، او د هغوی صحبت او مجلس د خپل ځان لپاره غنیمت وبولي.

*ای برادر! دور باش از یار بد    یار بد بدتر شود از مار بد*

اې وروره! د بد دوست ځخه خپل ځان لیري ساته، ځکه بد او بې کاره دوست تر بې کاره مار هم بد تر دی.

([1]) بخاري شریف: حدیث نمبر ۲۰۵۴

صحبت صالح تر صالح کند صحبت طالح ترا طالح کند

دنیکو انسانانو صحبت د انسان څخه نیک انسان جوړوي، او د بدو خلکو صحبت انسان بدي ته رابولي.

## انسان د قیامت په میدان کي د چا سره وي؟

حضرت انس رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ څخه یو حدیث مبارک رانقل کوي، چي یو سړي د پیغمبر ﷺ څخه سوال وکړی: چي قیامت به کله راځي؟

پیغمبر ﷺ هغه سړي ته جواب ورنه کړی، او د لمانځه لپاره ولاړ سو، خپل لمونځ ئې شروع کړی.

چیکله د لمانځه څخه فارغه سو، نو ئې وفرمایل: چي د قیامت په باره کي چا زما څخه پوښتنه وکړه؟ نو هغه پوښتنه کونکي انسان ورته وفرمایل: چي ما وکړه.

پیغمبر ﷺ هغه سړي ته وویل: چي د قیامت لپاره دي څه تیاري کړې ده؟ هغه په جواب کي ورته وویل: اې د الله تعالی رسوله! نه مي زیات لمنځونه کړي دي، او نه مي ډېري روژې نیولي دي، بس صرف دومره خبره ده: چي زما په زړه کي د الله تعالی او د الله تعالی د رسول ﷺ سره محبت دی، نو پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل:

.........أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ﴾.(۱)

ستا حشر به د قیامت په میدان کي د هغه چا سره وي، چي ته دکم چا سره په زړه کي محبت لرې.

چیکله د پیغمبر ﷺ دغه وینا صحابه کرامو واورېدله، نو ټول صحابه کرام دومره زیات خوشحاله سول: چي حضرت انس رضي الله عنه فرمایي: ما د دې څخه مخکي په صحابه کرامو کي دومره زیاته خوشحالي هیڅکله نوه لیدلې.

---

(۱) بخاري شریف: حدیث نمبر ۷۱۵۳

## د قیامت په میدان کي د نور پر منبرونو:

په ترمذي شریف کي د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه یو حدیث رانقل سوی دی: چي د هغه عبارت په مسند احمد کي ډېر اوږد او مفصل موجود دی، زه تاسو ته د هغه مختصره خلاصه پیشوم، هغه دا:

چي د الله تعالی لپاره محبت کونکی دوه(۲) کسان به د قیامت په ورځ چي ډېره زیاته ګرمه ده، د الله تعالی د عرش په سایه کي وي، چي هلته به د عرش د سایې څخه علاوه به بله هیڅ سایه نوي، او د قیامت په دغه وېرونکي حالت کي به دوی د نور پر داسي منبرونو باندي کښېنول سي، چي د هغه شان او شوکت ووینې، نو ټوله انبیاء او صدیقین او شهداء به په هغه باندي غبطه کوي.

خو دا یوه خبره باید په ذهن کي کښېنول سي: چي پدې احادیثو کي چي کوم د محبت ذکر راغلی دی، هغه محبت مراد دی: چي د الله تعالی د رضا لپاره وي، هر قسم محبت او دوستي مراد نه ده.

په مدرسو کي یا په مکتبونو کي چي د طالبعلمانو په مابین کي کومه دوستي او محبت وي، کڅه هم د دوی په مابین کي یو ناپاکه او بې حیا حرکت نوي، بیا هم علماؤ لیکلي دي: چي مناسب نوي، ځکه: چي د هغه تعلق په خاطر د دوی تعلیم ته خلل رسیږي، بیا چي په سبق ویلو کي کوم محنت ضروري وي، هغه محنت دوی نسي کولای.

حضرت مولانا یحی رحمة الله علیه چي د شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمة الله علیه پلار دی، فرمایلي دي: چي په کوم طالب العلم کي د دوستۍ او تعلق جوړولو مرض وي، هغه که هر څومره ذهین وي، یوه ورځ د دعلم د دولت څخه محروم ګرځي، او چي په کوم طالب العلم کي د دوستۍ او د تعلق جوړولو مرض نوي، هغه که هر څومره غبي وي، خو بیا به هم پخپل محنت سره څه نا څه خپل لاس ته راوړي.

## (۵) رَجُلٌ طَلَبَتهُ ذَاتُ مَنصَبٍ وَ جَمَالٍ:

پنځم انسان چي د قیامت په سخته ورځ به د عرش تر سایه لاندي وي، هغه هغه نیکبخته انسان دی، چي د یوازوالي په حالت کي یو ښائسته زنانه د خپل خواهش پوره کولو لپاره ورته راسي، چي د هغه د حسن او جمال سره سره لوړ خاندان هم وي.
مګر په دغه حالت کي دغه د الله تعالی نیک بنده هغه زناني ته دا جواب ور کړي:
......اِنِّیْ اَخَافُ اللّٰهَ﴾.
زه د الله تعالی څخه بېرېږم، دا داسي موقع وي: چي د خواهش پوره کولو لپاره دالله تعالی څخه ما سوا بل هیڅ مانع نه وي.
مګر دالله تعالی هغه نیک بنده ایمان او یقین دومره کامل وي، چي د الله تعالی د بیري خپل ټوله خواهشات قربانوي، او د خپل ځان د ګناهونو څخه حفاظت کوي، نو الله تعالی به د دغه په عوض کي ده ته د خپل خاص میلمه په شکل د عرش په سایه کي ځای ور کوي.

## د انبیاؤو صفت:

د تنهائی په حالت کي د الله تعالی د ویري څخه د خوبصورت او ښائسته زنانو د منګولو څخه ځان خلاصول د پیغمبرانو صفت دی، هم د الله تعالی غیبي نصرت دی.
چي کله زلیخا حضرت یوسف علیه السلام ولیدی، نو ډېره بې قابو سوه، نو د غلطي ارادې په خاطر حضرت یوسف علیه السلام و خپل ځان ته د راڼډې کولو لپاره دې خپل ځان نهایت ښائسته جوړ کړی، او د حضرت یوسف علیه السلام وحضور ته پیش سوه.
د حضرت یوسف علیه السلام سره د الله تعالی غیبي نصرت وو، او هم ئې په زړه کي د انبیاؤو صفت وو، نو سمدستي ئې وویل: "مَعَاذَ اللّٰهِ" زه په الله سره پناه غواړم.
بعضو مفسرینو لا دا هم لیکلي دي: لَوْلَا اَنْ رَّاٰی بُرْهَانَ رَبِّهٖ" کي د برهان څخه مراد دا دی: چي د حضرت یعقوب علیه السلام مثالي صورت د ده و مخته راغلی، او ده ته د هغه څخه حیا ودرېدله.
بهر حال: د الله تعالی غیبي نصرت او د حضرت یعقوب علیه السلام مثالي صورت او د پیغمبرانو صفت دا ټوله هغه امور وو، چي پر حضرت یوسف علیه السلام باندي غالبه سول،

او الله تعالی پخپله فرمایي: كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاءَ" مونږ دغه رنګه د ده څخه بدي او فحش عمل لیرې کړی، او ده ته مي د هغه څخه نجات ور کړی.
چنانچه حضرت یوسف علیه السلام یو رنګه دروازه خلاصه کړه، او منډي ئې کړې، او هغه زناني د شا د خوا د ده قمیص ونیوی، مګر حضرت یوسف علیه السلام د هغه زنانيې د منګولو څخه د الله تعالی په مدد سره په تېښته کي کامیابي حاصله کړه.
زما مقصد چونکه د حضرت یوسف علیه السلام واقعه بیانول ندي، بلکه زه صرف دا خبره ښکاره کوم: چي په داسی حالت کي د ښائسته زنانو د منګولو څخه خپل عصمت او عفت محفوظه کول لوی ازمائش او امتحان دی، او چي په دغه حالت کي کوم چا کامیابي حاصله کړه، هغه به الله تعالی د پېغمبرانو په صفت کي شامله کړي، او د قیامت په ورځ به د محشر په سخته ګرمي کي د الله تعالی د عرش سایه ور نصیب سي.

## د کِفل واقعه:

په بني اسرائیلو کي د کِفل په نامه یو سړی وو، چي الله تعالی هغه ته ډېر مال او دولت ور کړی وو، او په هره ګناه او معصیت کي به ئې خپل مال او دولت خرڅوی.
یوه ورځ یو غریبه زنانه ده له د قرض غوښتلو لپاره راغله، نو ده ورته وویل: چي زه پدې شرط و تا له شپېته دیناره در کوم: چي ته به زما سره زنا کوې، او ما ته به د بد کارۍ موقع را کوي.
هغه زنانه مجبوره سوه، و زنا کولو ته اماده سوه، چي کله کِفل د هغه زنانيې سره د زنا کولو لپاره نژدې سو، نو د هغه زنانيې لاس او پښنو او ټوله بدن لرزا او بلک واخیستی.
کِفل هغه زنانيې ته وویل: چي ما خو ستا سره څه زور او زبردستي کړې نده، او ته پخپله رضا و دغه کار ته تیاره سوې ئې، بیا پر تا ولي داسي خوف او وېره راغله؟
هغه زنانيې ورته وویل: چي ما په ټوله زندګي کي دغه عمل ندی کړی، لیکن د دغه پیسو په خاطر نن زه مجبوره سوم، زما بچیان د لوږي څخه ما ته ټوله شپه ژاړي، زه د هغوی په خاطر و دغه عمل ته اماده سوم.

کفل چي کله دغه خبره واورېدله، نو فوراً ئې هغه زنانه پرېښووله، او د خداى وېره پر ده باندي غالبه سوه، هغه زناني ته ئې وويل: چي دغه زما پيسه د ځان سره دغسي په مفته باندي يوسه، او د خپلو بچيانو ضرورت په پوره کړه.

او پخپله ئې د همېشه لپاره د ګناه څخه توبه وکښه او د ځان سره ئې دا فيصله وکړه: چي را روان ژوند به هيڅکله بيا دغه ګناه نه کوم.

په دغه واقعه کي کِفل خاص د زنا پر وخت خپل نفس قابو کړی، هغه هم صرف د الله تعالى د ويري، او دا دېر لوی امتحان وو، چي په هغه کي کِفل کاميابه سو.

اتفاقاً په داغه شپه باندي کِفل وفات سو، او د ده د کور پر دروازه باندي سهار په نوراني خط سره دا ليکلي وه: چي الله تعالى د کِفل د زندګی د ټولو ګناهونو څخه مغفرت وکړی. (١)

## د يو نوجوان دبدن د خوشبوئي واقعه:

حضرت علامه عبد الله بن اسعد يافعي رحمة الله عليه د تصوفو په فن کي يو کِتاب ليکلی دی: چي د هغه نوم: "الترغيب و الترهيب" دی، په هغه کي ده د يو نوجوان واقعه رانقل کړېده.

چي زموږ په علاقه کي يو نوجوان وو، چي د هغه څخه به همېشه د مشکو او عنبرو خوشبوئي پورته کېدله، د هغه متعلق يو چا د ده څخه پوښتنه وکړه: چي اې ځوانه! ته چي همېشه دومره معطره او خوشبويه زندګي تېروې، ستا پر دغه خوشبوئي ستا څخه څومره مال خرڅيږي؟

هغه نوجوان په جواب کي ورته وويل: ما په ټوله ژوند تر اوسه پوري خوشبوئي نده رانيولې، او نه مي پر بدن باندي لګولې ده.

نو هغه سړي ورته وويل: بيا دغه خوشبوئي د کوم طرف څخه ده؟ چي ستا د بدن څخه پورته کيږي؟ نو جوان ورته وويل: چي دا يو راز دی، د ويلو ندی، هغه سړي خواست ورته وکړی: چي ته ئې راته ووايه: شايد د هغه څخه موږ ته هم يو فائده ورسيږي.

---

(١) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۴۹۶

هغه نوجوان خپله واقعه ورته بيان کړه: چي زما پلار تاجر وو، د کور د ضرورت سامانونه ئې خرڅول، زه د هغه سره پر دوکان ناست وم، يو بوډۍ زنانه راغله، سامان ئې رانيوی، او زما پلار ته ئې وويل: ته دغه هلک زما سره واستوه: چي د ده په لاس زه تاته د سامان قيمت او پيسې راواستوم.

زه خپل پلار د هغه بوډۍ زناني سره واستولم، نو د هغې سره يو نهايت خوبصورته کور ته ورغلم، په هغه کي يو ډېره ښائسته حجره وه، چي ما سر ورښکاره کړی، پر کټ باندي يو ښائسته زنانه ناسته وه، هغې چي څنگه زه وليدم، زما طرفته متوجه سوه، څکه چي ماته هم الله تعالی ډېر حسن او ښائست را کړی وو.

ما د هغه زناني د خواهش پوره کولو څخه انکار وکړی، مگر هغې زه په زبردستي سره ځان ته مجبوره کړم، نو الله تعالی زما په زړه کي دا خبره راواچوله:

چي ما ورته وويل: زما د قضا حاجت لپاره بيت الخلا ته د تللو ضرورت دی، ماته د هغه لپاره يو ځه موقع راکړه، دې دستي خپلو خادمانو ته وويل: تاسو ژر بيت الخلا د ده لپاره صفا کړئ او دی ور ولئ.

زه چي کله بيت الخلا ته داخل سوم، نو خپل نجاست مي پر خپل بدن او کپړو پوري و موږی، او دغسي په نجاست لړلی د بيت الخلا څخه راووتلم، چي کله هغه زناني زه پدې حالت کي وليدم، نو هغې دستي خادمانو ته وويل: دا زما د کور څخه وباسئ، داخو ليونی دی، نو په دغه شکل د دغه کور څخه راووتلم.

زما سره يو درهم وو، په هغه مي ژر صابن رانيوی، او يو نهر لره ورغلم، غسل مي وکړی، او خپل جامې مي صفا کړې، او دغه راز مي هيڅ چا ته ښکاره نه کړی.

د شپې چي زه بيده سوم، نو خوب وينم، چي يو فرښته راغله، او ماته ئې وويل: چي د الله تعالی لطرفه تاته د جنت زيری دی، او د گناه څخه د بچاوېدلو لپاره چي تا کوم تدبير اختيار کړی، د هغه په بدله کي موږ تاته دا خوشبوئي پېشو و.

چنانچه په هغه خوب کي هغه فرښتې زما پر بدن هغه خوشبوئي راولگوله. چي د هغه بوی اوس هنېشه زما د بدن او د جامو څخه ولاړيږي، او تر نن ورځي پوري ئې خلک محسوسوي..."وَ الْحَمْدُلله رَبِّ العَالَمِين".(١)

(١) الترغيب و الترهيب لليافعي: صفحه نمبر ١٣٥

## د ګناه څخه د توبه کولو عجيبه طريقه:

علامه يافعي رحمة الله عليه پخپل کتاب کي دا واقعه هم رانقل کړېده: چي يو نوجوان نهايت بد کاره وو، ليکن چي کله به ئې ګناه وکړه، نو هغه به ئې همېشه په يو کتابچه کي ليکله.
يوځل يو زنانه چي ډېره غريبه وه، او د هغه درې(۳) بچيان وږي ول، هغې د خپلو بچيانو لوږه نسوه برداشت کولای، نو ئې د خپل همسايه څخه يو عمده د ورېښمو جامه خواست کړه، او د هغې د اغوستلو څخه وروسته دباندي راووته.
چي کله هغه نوجوان وليدله، نو ئې ځان ته راوبلله، چي کله ئې د هغې سره د بدکارۍ کولو اراده وکړه، نو هغه زناني ژړا شروع کړه، او په لرزاخته سوه، او هغه نوجوان ته ئې وويل: چي زه فاحشه او زناکاره نه يم، مګر د خپلو بچيانو د پرېشانۍ په وجه دغه رنګه راوتلې يم.
او چي تا کله ځان ته راوبللم، نو زما په زړه کي ستا څخه د خير اميد پيدا سو، هغه نوجوان دې ته يو څه دراهم او پيسې ورکړې، او دا ئې پرېښووله، او پخپله په ژړا اخته سو.
او راغلی، خپلي مورته ئې ټوله قصه وکړه، او د هغه مور به دی همېشه د ګناه څخه را منعه کوی، چي نن ئې دا خبره د ده څخه واورېدله، ډېره خوشحاله سوه، او ورته وئې ويل: بچيه! تا په زندګي کي دغه يو نيک عمل کړی دی، دا پخپله کتابچه کي د ځان سره وليکه.
هغه نوجوان هم د کتابچې پر يو حصه وليکله، او ډېر پرېشانه وو، خوب ورغلی، چي کله د خوب څخه را پورته سو، نو که ګوري: د کتابچې ورقي ټوله سپيني او صفا کاغذان دي، چي کوم ګناهونه ده پر ليکلي وه، هغه ټول صفا سوي دي، يوشی هم پر هغه باندي ليکلی نسته، صرف هغه واقعه چي ده نن کړېوه، هغه پر ليکلې وه، او د کافۍ پر سر په ښکاره تورو دا آيت ليکلی وو:
............إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾.(۱)

---

(۱) سورة هود: آيت نمبر ۱۱۴

د هغه څخه وروسته هغه نوجوان د همېشه لپاره توبه وکړه، او هغه بیا وفات سو.

## د کم عمره هلکانو سره اختلاط نه کول:

زموږ بزرگانو به په دې باره کي عجیبه احتیاط کوی، او هم به ئې خپلو متعلقینو ته په دې باره کي د احتیاط کولو په کلکه هدایات کول.

❖ حضرت امام حسن بن زکوان رحمة الله علیه فرمایلي دي: تاسو د مالداره هلکانو سره مه کښېنئ، تاسو ته به داسي صورتونه او شکلونه در ښکاره سي، چي هغه به بعینه د خوبصورته زنانو شکلونه او صورتونه وي، لهذا د هغوی سره اختلاط او ناسته کول د زنانو د اختلاط څخه زیات د فتنې سبب جوړېدلای سي.

❖ حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه یو حمام ته د ضرورت لپاره ورغلی، د ده خدمت او د غسل او به برابرولو والا یو کم عمره لغړ زني والا هلک وو، نو ده خپلو شاگردانو ته وویل: د دې ځای څخه فوراً در ووزئ، ځکه: زه په سترگو وینم: چي د زناني سره یو شیطان وي، او د دغه شان هلکانو سره دوولس(۱۲) یا دیارلس(۱۳) شیطانان گرځي.

❖ حضرت امام عامر شعبي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي د پیغمبر ﷺ خدمت ته د عبدالقیس قبیلې یو وفد راغلی، په هغه وفد کي یو لغړ زنی او ښائسته هلک هم وو، ده مبارک دستي وویل: چي دا هلک و شاته کښېنوئ، ځکه چي د حضرت داؤد علیه السلام په زمانه کي د هغه قوم د دغه شان هلکانو په فتنه کي مبتلا سو.

دا ډېره د فکر خبره ده: چي سید الاولین و الاخرین ﷺ چي د هر قسم گناه څخه معصوم او پاک وو، هغه په کوم قدر اهتمام سره هغه هلک و شاته کښېنوي، او امت ته د تربیت په خاطر یو تنبیه ورکوي.

❖ د حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه حضورته یو سړي لغړ زنی هلک د ځان سره راوستی، نو ده مبارک ورته وویل: دا دي ولي د ځان سره راوستلی دی، آئنده چي بیا دا زما حضورته رانه ولې، خلگو د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه

څخه پوښتنه وکړه: چي په دومره اهتمام سره دي هغه سړی منعه کړی، دهغې وجه څه وه؟ ده په جواب کي ورته وویل: چي ما ته خپلو مشایخو داوصیت کړی دی: چي باید هیڅکله ستا مجلس ته لغړ زنی هلک رانه سي.

❖ امام موصلي رحمۃ اللہ علیہ فرمایلي دي: چي تقریباً تر اویا(۷۰) پوري داسي مشایخو زه د دغه شان انسانانو د ناستي څخه منعه کړی یم: چي هغه مشایخ ټوله د قطب او ابدال په درجه کي وو.

## (۶)رَجُلٌ تَصَدَّقَ اِخفَاءً:

شپږم هغه انسان چي د قیامت په ورځ به د عرش په سایه کي وي، هغه هغه نیکبخته انسان دی: چي په داسي پټه طریقه باندي صدقه کوي: چي په راسته لاس ئې ور کړي، چپه لاس لا هم خبر نسي، یعني: چي څومره ده ته قریب انسانان دي، هغه ته هم د ده د صدقې ور کولو خبر نوي، الله تعالی ته دغه شان خفیه صدقه ډېره خوښه وي.

## د مرګ څخه بعد صدقه جاریه:

په یو حدیث شریف کي راغلي دي: چي کله انسان وفات سي، د هغه د نیکو اعمالو سلسله ختم سي، لیکن دري(۳) قسمه نیک اعمال داسي دي: چي دهغه سلسله جاري وي:

۱. صدقه جاریه: مثلاً: یو جا مسجد یا مدرسه جوړه کړه: چي تر کومه وخته په هغه کي د لمانځه او د تعلیم سلسله جاري وي، نوثواب ئې هم هغه مرده ته رسیږي، یا یو چا د خلګو لپاره د اوبو بندوبست وکړی: چي تر کومه وخته پوري هغه اوبه خلګ چیښي، نو ئې هم ثواب ده ته رسیږي، داغه رنګه یو غریب طالب العلم ته خرچه ور کول، او په هغه سبق ویل، چي تر کومه وخته پوري هغه د دین خدمت کوي، یا په مدرسو کي د طلباؤ او علماؤ لپاره دیني کتابونه رانیول، چي تر کومه وخته پوري هغه کتابونه درسیږي، هم ئې ثواب د مرګ څخه بعد هغه رانیونکي ته رسیږي.

۲. عمل نافع: چي یو سړی علم حاصل کړي، بیا هغه خپلو شاګردانو ته ورسوي، د ده د مرګ څخه بعد هغه شاګردان هغه علم ژوندی وساتي، او سلسله تر

سلسله هغه علم جاري وي، لكه امام ابو حنيفه رحمة الله عليه، امام مالك رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه، امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه د شاګردانو په ذريعه دهغوى علوم دديارلس، څوارلس سوه كاله څخه جاري دي، او انشاء الله تر قيامته پوري به جاري وي، يا يو چا كتابونه وليكل: چي تر څوري خلګ د هغه كتابو څخه نفعه اخلي، هم به ئې ثواب ده ته رسيږي، لكه امام بخاري او امام مسلم چي د حديثو مقبول ترين كتابونه ليكلي دي، او فقهاؤو هم د فقه مقبول كتابونه ليكلي دي، چي په مدارسو كي درسيږي، او ثواب ئې دوى ته رسيږي.

۳. نيک او صالح اولاد: چي د هغه د مرګ څخه وروسته د ده لپاره دعاګاني كوي. (۱)

## الله تعالى ته درې انسانان خوښ، او درې ناخوښه دي:

د ترمذي شريف حديث دی: چي الله تعالى د درې(۳) قسمه انسانانو سره زيات محبت لري، او د درې(۳) قسمه انسانانو څخه ناراضه وي، چي كومو درو(۳) كسانو سره محبت لري، او هغه ته د محبوبيت درجه ور كوي:

۱. رَجُلٌ أَتَى قَوْمًا فَسَأَلَهُمْ بِاللهِ وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ بِقَرَابَةٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ فَمَنَعُوْهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْقَابِهِمْ فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللهُ وَالَّذِي أَعْطَاهُ﴾.

يو سړی يو قوم ته د خپل ضرورت لپاره راسي، ددغه سړي او د هغه قوم په مابين كي څه تعلق او قرابت او شناخت هم نه وي، او هغه سړی د هغه قوم څخه د الله تعالى په واسطه دخپل ضرورت سوال وكړي، خو ټوله خلګ د ده څخه انكار وكړي، مګر په هغه قوم كي يو داسي د الله تعالى نيک بنده هم وي: چي هغه د ټولو خلګو څخه جلا سي، هغه سائل ته نهايت په پټه طريقه سره ځان ور سوى، او د هغه ضرورت ور پوره كړي، چي د سائل او د الله تعالى څخه سوا بل چاته معلومه نسي.

---

(۱) مسلم شريف حديث نمبر ۱۶۳۱

۲. وَقَوْمٌ سَارُوْا لَيْلَتَهُمْ حَتَّى إِذَا كَانَ النَّوْمُ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِمَّا يَعْدِلُ بِهِ نَزَلُوْا فَوَضَعُوْا رُؤُوْسَهُمْ فَقَامَ أَحَدُهُم يَتَمَلَّقُنِي وَيَتْلُو آيَاتِي﴾.

او هغه سړی چي ديو قوم سره په سفر کي ملګری او ټوله شپه سفر وکړي، چي کله د شپې آخره حصه راورسيږي، نو ټول خلګ د ستړيا په وجه يو ځای د آرام لپاره خپله قافله واړوي، او ټول خلګ دستړيا په وجه په خواږه خوب بېده سي، مګر هغه سړی د خوب پر ځای شپه په دعا کي تېره کړي، او د خپل رب سره په رابطه کي وي، او د قرآني آيتو په تلاوت کي مشغوله وي.

۳. وَرَجُلٌ كَانَ فِيْ سَرِيَّةٍ فَلَقِيَ العَدُوَّ فَهَزَمُوا وَأَقْبَلَ بِصَدْرِهِ حَتَّى يُقْتَلَ أَوْ يُفْتَحَ لَهُ﴾.

او هغه بهادر انسان چي په يو جنګي سريه او لښکر کي وي، او د دښمنانو سره ئې مقابله راسي، چي په هغه کي د ده ملګري ټوله ماتې وخوري، او د تيښتي لاره اختيار کړي، او ځله وتيښتي، او دغه بهادر انسان خپله سينه د دښمن غشو ته سپر کړي، او د دښمن مقابله ته ودريږي، تر هغه وخته: چي يا شهادت پيدا کوي، او يا الله تعالی فتحه ور نصيب کوي.

دا هغه دري (۳) انسانان دي: چي د دوی سره الله تعالی ډېر محبت کوي، نو په هغه کي يو هغه سړی هم دی: چي په پټه طريقه صدقه کوي، او داسي انسانانو ته الله تعالی ذ قيامت په ميدان کي د عرش سايه ور کوي، بلکه در حقيقت د ده صدقه د ده د سر سائوان وي، چي دی به د هغه تر سايه لاندي ناست وي.

او هغه دري (۳) کسان چي د هغوی څخه الله تعالی سخت ناراضه وي، او الله تعالی د هغوی څخه نفرت کوي:

۱. اَلشَّيْخُ الزَّانِيُّ﴾.

بوډا زنا کاره: يعني چي انسان د زندګی انتها ته ورسيږي، د هغه د بدن هډوکي او اعصاب ټوله کمزوري سي، مګر هغه بدبخته بيا هم د زنا عادت نه پرېږدي، د دغه شان بوډا څخه الله تعالی زيات نفرت کوي.

۲. وَالفَقِيْرُ اَلْمُخْتَالُ﴾.

متکبر فقير: يعني: چي هغه هيڅ هم نه لري، بيا ئې هم دماغ پر آسمان باندي وي، او ځان خوښي کوي، او د تکبر والا انسانانو په شان ژوند تېروي، د دغه شان فقير څخه هم د الله تعالى زيات نفرت وي.

۳. ﴿وَالغَنِيُّ الظَّلُوْمُ﴾.(۱)

ظالم مالداره: الله تعالى ده ته دولت ور کړی وي، مګر د خپل دولت په زور د خلګو سره ظلم کوي، د دغه شان مالدارانو څخه هم د الله تعالى نفرت وي.

## (۷) "رَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا":

اوم انسان چي د قيامت په زياته ګرمي کي به هغه ته هم د الله تعالى د عرش سايه ور نصيب وي، هغه هغه نيکبخته انسان دی، چي دی په تنهائي کي د الله تعالى ذکر کوي، او د الله تعالى د ويري څخه يا د الله تعالى په عشق کي د ده تر سترګو اوښکي توی سي.

ځکه په تنهائي کي د الله تعالى د ذکر سره اوښکي تويول، د دې مطلب دا وي: چي د دې سړي په محبت کي يا د الله تعالى په خوف او وېره کي هيڅ قسم رياکاري نسته.

او چي په کوم عبادت کي د الله تعالى رياکاري نه وي، هغه په حقيقت کي د الله تعالى لپاره بهترين عبادت بلل کيږي، او هغه عبادت صرف د الله تعالى لپاره وي، او الله تعالى په هغه عبادت باندي ډېر خوشحاله کيږي.

لکه يو شاعر وايي:

*ميان عاشق و معشوق رمزيست کرام الکاتبين را هم خبر نيست*

د عاشق او معشوق په مابين کي داسي تعلق او رابطه وي، چي ډېر ځله کرام الکاتبين ملائکي هم په هغه خبري نه وي.

نو چي د چا د سترګو څخه د الله تعالى په عبادت کي، او په حالت د خلوت او تنهائي کي اوښکي رائحي، د دې څخه زيات بيا د الله تعالى مخلص بنده څوک کېدلای سي؟.

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۵۶۸

## پر دریو سترګو جهنم حرام دی:

حضرت امام طبراني رحمة الله علیه د معجم کبیر په نامه یو کتاب لیکلی دی، چي په هغه کي ده (۲۱۶۰۸) حدیثونه رانقل کړي دي، او هغه کتاب په پنځویشت(۲۵) جلده کي دی، او د هغه په نوولسم جلد کي(۱۰۰۳) نمبر حدیث د پیغمبر ﷺ رانقل سوی دی، چي په هغه کي ده مبارک دا فرمایلي دي: چي پر درو(۳) سترګو د جهنم اورحرام دی

۱. عَيْنٌ حَرَسَتْ فِي سَبِيْلِ اللهِ﴾.

یو هغه سترګه چي د الله تعالی په لاره کي د حفاظت او نګرانی لپاره ویښه پاته سي، او چوکیداري کوي، یعني: د مسلمانانو د لښکر د حفاظت یا د مسلمانانو د سرحد د حفاظت لپاره پیره کوي، پر دغه سترګه د جهنم اور حرا دی، او هم به دغه انسان د جهنم د اور څخه محفوظه وي.

۲. وَعَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ﴾.

او هغه سترګه: چي د الله تعالی دویري څخه د هغه څخه اوښکي تویېږي، دا عمل عام طور په داسي انسانانو کي ډېر وي، چي په تنهائي او خلوت کي د الله تعالی عبادت کوي، او د خپل حقیقي رب سره په پټه طریقه خپل تعلق ساتي.

۳ وَعَيْنٌ كَفَتْ عَنْ مَحَارِمِ اللهِ﴾.

او هغه سترګه: چي د غیر محرم او بې پرده زنانو څخه خپل ځان راګرځوي، یعني: هغه انسان د بد نظری څخه د خپل ځان حفاظت کوي، کچیري اتفاقي د ده نظر پر غلط ځای ولګیږي، نو دی خپل نظر ښکته کوي، او داغه رنګه د ناجائزو تصویرونو او د سینما او ټیلفون د فحش پروګرامونو څخه د خپل نظر حفاظت کوي.

دا هغه دري(۳) سترګي دي: چي پر دوی باندي د جهنم اور حرام دی، حکیم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه لیکلي دي: چي کله سترګه د جهنم د اور څخه محفوظه وي. نو الله تعالی ټوله مخ د جهنم څخه محفوظه کوي، او چي کله مخ د جهنم څخه محفوظه سي، نو د الله تعالی د رحمت څخه بعیده ده: چي پر مخ دي اور حرام وي، او نور بدن دي په جهنم کي وي.

داغه رنګه په ترمذي شريف كي دا روايت هم رانقل سوى دى:
چي پيغمبر ﷺ به فرمايل:
............لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَي مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُوْدُ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيْلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ﴾.(۱)
هغه سړى هرګز جهنم ته نه ورځي، چي د الله تعالى د بيري څخه د ده د ستر ګو څخه اوښکي جاري سي، او ده مبارک به دا هم فرمايل: چي د غولانځي څخه راوتلي شودې بيرته غولانځي ته ننوتل ممكن دي، مګر د دغه شان سړي جهنم ته ننوتل ممكن نه دي.
او دا به ئې هم فرمايل: چي د الله تعالى د لاري ګرز او د جهنم دود يو ځاى نه سره جمعه کيږي، يعني هغه سړى چي د دين په خاطر د الله تعالى په لاره کي وي، هغه که د علم په طلب کي وي، يا د جهاد په سفر کي وي، يا د ديني دعوت لپاره وتلى وي، يا د يو شيخ كامل صحبت ته روان وي، دا ټول په هغه کي شامل دي.

## دوه څاڅکي او دوه اثره، الله تعالى ته ډېر محبوب وي:

په يو حديث شريف کي پيغمبر ﷺ فرمايي:
............لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ﴾.
الله تعالى ته دوه څاڅکي او دوه اثره ډېر زيات محبوب وي، چي د هغه په شان بل يو شى هم الله تعالى ته داسي محبوب نه دى.
............قَطْرَةُ مِن دُمُوْعٍ فِي خَشْيَةِ اللهِ وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهْرَاقُ فِي سَبِيْلِ اللهِ﴾.
يو دا اوښکو څاڅکي د الله تعالى دويري څخه د سترګو څخه راووزي، نو الله تعالى ته ډېر خوښ وي.
او بل د وينو هغه څاڅکى چي د الله تعالى په لار کي د يو مجاهد او غازي او شهيد د بدن څخه توى سي، لکه مولانا روم رحمة الله عليه فرمايلي دي:

*که کند شاه مجيد اشک را در وزن باخون شهيد*

او هغه دوه اثره چي الله تعالى ته هغه هم ډېر محبوب دي:

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۱۶۳۳

.......أثرٌ فِي سَبِيْلِ اللهِ وَأثرٌ فِيْ فَرِيْضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللهِ﴾.(١)

يو هغه اثر دى: چي د الله تعالى په لار كي پر انسان باندي ښكاره سي، يعني د دين د دعوت يا د جهاد يا د علم په طلب كي انسان مسافر وي، او تګ كوي، او د زيات تګ كولو څخه د انسان پر پښو باندي اثر ښكاره سي، لكه: تناكي راسي، يا پښې ډېر سيړي.

او هغه اثر چي د الله تعالى د فرائضو په ادا كولو كي د انسان پر بدن باندي ښكاره سي، يعني: د انسان پر مخ باندي د سجدو اثار وي، يا په ډېر زيات يخ كي په يخو اوبو باندي د اودس كولو په وجه د انسان لاس او پښې وچاودل سي، نو دا هم الله تعالى ډېر خوښ او محبوب وي.

الله تعالى دي زموږ او ستاسو زندګي په هغه انسانانو كي وګرځوي، چي هغوى ته د عرش تر سايه لاندي ناسته ور نصيب كيږي، او الله تعالى دي زموږ په زندګي كي موږ ته دداسي اعمالو توفيق را نصيب كړي: چي موږ هم د قيامت په ورځ په دغه او ه(٧) قسمه انسانانو كي شمار سو، او الله تعالى مي د خپل تر سايه لاندي د كښېنولو مستحق وبولي.

الله تعالى دي د اڅو خبري پخپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

(١) سنن ترمذي: حديث نمبر۱۶۶۹